

دقو مو نو اوقبايلو دچارو وزارت

# دجرگو وطن

د ۱۳۶۱ کال د سنبلې نهمه

فروشگاه کتاب فرهاد
FARHAD BOOK STORE
مکروریان سوم-کابل

دقو مو نو اوقبايلو دچارو وزارت

# دجرګووطن

دلو مړی بر خی ليکوا ل : محمد ابراهيم (عطائی)

د دوهمی برخی مدون : سليم (سلامت)

PROPERTY OF ACKU 6383

دتبليغا تو او نشريا تو درياست له‌خوا

د۱۳٦۱ کال دسنبلی۹

# فهرست

لومړۍ برخه

ځنې یادونه

په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې

دافغانستان دزیار کښو پرګنو درنځونو ډک ژوند

د میرویس دجرګو قبیلوي خصوصیتونه

قبیلوي ټولنه

احمدشاهي دولت

دخانانو جنګونه

په دربار کې چاودنه

خانان

شهزادګان

فیوډالي خصوصیتونه

جاګیرداري

دسوداګرۍ بټه

دانگر یز یر غل او د افغا نانو مبار زه

داستعمار چپاو

د(اك لیند ـ میکناتن ـ بر نس ) نا کامه طرح

دافغان او انگلیس پر لو مړی جنگ یو ځغلند نظر

دافغان او انگلیس دو هم جنگ

امپریالستی طرح (تحمیلی معاهد ات)

د کابل جنگ (پر سیاسی او نظامی‌جر یا ناتو یوه تحلیلی کتنه)

دمیو ندو جنگ

امیر عبدالر حمن او انگر یز ا ن

شلمه پیړی

افغانستان په‌نیمه مستعمر ه مو قف کی

په افغانستان کی‌دمشر و طی نهضت

استقلال‌او ر یفو ر م

دار تجاع یر غل

دمستبد و سر دار ا نو حکو متونه

و ر و ستی پر ده (داستبداد انفجار)

دانگر یز په‌خدمت کی‌دمعر و فو جاسو سانو لنډه بیو گر افی

۱)دفساد شبکی

۲)دار مینو س و امیری اعتر افات

۳)سیاغلام محمد فقیر

۴)سیدتاش کلا

۵)سیداغاحسن (مو هن‌لال)

۶) ملانسو
۷) ایلډر پاتنجر
۸) لو تېنگر
۹) الکساندر برنس
۱۰) شیر محمد خان (میستر کیمپل)
۱۱) قاضی قادرو
۱۲) ملامحمد علی
۱۳) ملا رحمت الله مشهدی او ملا رمضان
۱۴) ملامنهاج الدین
۱۵) ملاعمادالدین
۱۶) ملاعبدالعلیم ـ ملانور علی ـ ملانعمت الله
۱۷) پیر کرمشا (کرنیل لارنس)

## دوهمه برخه

دثور انقلاب

۱ ـ دارتجاع او امپریالیزم په خلاف یو بریالی غورځنګ .
۲ ـ دثور انقلاب ولس او وطن ته د هغه ښیګنې.
۳ ـ پلار وطنه ملی جبهه، دخلکو پرګنی سره یو کوی .
۴ ـ دا.د.ج او شوروی اتحاد ترمنځ ددوستی او ښه ګا ونډیتوب تړون .
۵ شوروی اتحاد ته دملګری کارمل دلومړی سفر په پای کښی دد واړو هیواد و ترمنځ دګډی وینا متن.
۶ ـ دتاریخ اراده نه ماتیږی .

مشت نمونهٔخروار

دامپریالیزم او دورانکارو لاس وهنی.

۷-دا.د.ج دبهرنیو چارو وزارت احتجاجیه لیک .

۸-دسی ' آی ،ای جاسوس یی رسوا کوی .

۹-بیاهم جاسوسان دخبریالانو پهجامه کی .

۱۰-دضد انقلاب دبی‌ننگی کارنامه.

سوله‌زمو پشعار دی

۱۱-دافغانستان ددموکراتیک جمهور حکومت اعلامیه.

۱۲-دافغانستان ددموکراتیک جمهوری حکومت اعلامیه.

۱۳-دافغانستان ددموکراتیک جمهوری حکومت اعلامیه.

۱۴-دافغانستان ددموکراتیک جمهوری حکومت اعلامیه.

۱۵-دافغانستان ددموکراتیک جمهوری حکومت اعلامیه .

۱۶- دافغانستان ددموکراتیک جمهوری دولت دبهرنیو چارو وزارت اعلامیه.

۱۷-دحقیقت انقلاب‌ثور داستازی سره دملگری کارمل مرکه .

۱۸-دنړی زیارا یستونکو مسلمانانو ته پیغام .

۱۹- دافغانستان خلکو ته پیغام .

۲۰-د.ا.خ.د.گ‌دمرکزی کمیتی داوم پلنیوم مصوبه

۲۱-تولو قومونو او قبایلو ته دا.خ.د.گ دمرکزی کمیتی‌او دا.د.ج ددولت‌پیغام.

۲۲- دافغانستان خلکوته دا.خ.د.گ دسرترسری کنفرانس پیغام .

۲۳-سرو ازی لیک .

۲۴- دم.م‌دسرمنشی داستازی سره مرکه .

۲۵-دم.م دسرمنشی داستازی سره کتنه.

۲۶-په‌ژنیوکی دافغانستان او پاکستان دخبرولومړی پړاو پاتی ته‌ورسید.

# د جرگو وطن

۲۷- جرگه زموږ دخلک مثبت ملی دود .

۲۸-ملګری کارمل. دنورستان زړورخلک دخپل خاوری څخه دفاع وکړی

۲۹- ملګری کارمل :

زموږدودونه یودی ، زموږکوریودی اوګډی غوښتنی لرو

۳۰-ملګری کارمل:

یوازی دوا کمنی او په خلکو باندی باداری اوظلم کول خیانت دی .

۳۱- ملګری کارمل:

زموږاوستاسی وظیفه داده چی سره یولاس شو .

۳۲-ملګری کارمل:

موږ ځانونه دخلکوبچیان بولو .

۳۳-ملګری کارمل:

وزیرستان زموږتینګه کلاده

۳۴- ملګری کارمل:

افغانستان سرلوړی ، آزاد اوخپلواکه هیواد دی

۳۵-ملګری کارمل :

قومی جرګه زموږښه دود دی.

۳۶-ملګری کارمل .

موږبا ید دټولو ستونزو اوکړاونو په‌علت پوه شو.

۳۷-په هیوادکې داسلام ټول فرایض اوسنن جاری دی .

۳۸-ملګری کارمل:

په هیواد کې باید سوله او امنیت ټینګ شي .

۳۹ـ ملګرې کارمل:

د دښمنانو دسیسې به عملي نه شي.

۴۰ـ ملګرې کارمل:

ټولې مسالې په جرګه حل کوو .

۴۱ـ ملګر کارمل :

ستاسو له ستونزو او دردونو څخه خبر یم.

۴۲ـ ملګرې کارمل :

زموږ خلک د تل لپاره له ظلم څخه خلاص شول .

۴۳ـ دقومونو او قبایلو دچارو وزیر دهیواد په ولایاتو کې دخلکو سره خبرې کوي .

۴۴ـ دري جرګې او دشوراګانو دهیواد داسیایي جمهوریتونو کتنه.

۴۵ـ دملګرې کارمل او د خان عبدالولي خان خبرې .

۴۶ـ بي بي سي ' له نماینده سره دعبدالولي خان مرکه .

۴۷ـ دافغانستان دخواوشاسیاله دامریکا امپریالیزم ' دعربو ارتجاع او د چین او ـ
پاکستان په مرسته را منځ ته شوې ده .

۴۸ـ دپښتنو سترمشر خان عبدالغفار خان پېښور ته لاړ

۴۹ـ دپښتنو سترمشر خان عبدالغفار خان کابل ته راغی .

۵۰ـ ماخذونه

# یادداشت:

همدا اوس چې د ثور انقلا ب په خپل دوهم پړاو کې دامپر یالیزم او ارتجاع پر دسیسو بر شـوی دی او وطن لکه توفان ځپلی بیړی د آزادی په دی سره سباوون کې د نیکمرغۍ رو ڼ ساحل ته رسیږی ، باید زموږ خلك هیر نه کړی چې د ثـور د انقلاب بین المللی دښمنان او د هغوی په سر کې د امریکا متحده ایا لا ت د پاکستان د نظامی رژیم په وجـود کې لګیا دی او زموږ خلکو ته داوړاووینو نوی بستر لټوی .

پاکستان د پیوړنه دجعلی کـرغیړنی کر ښی هغه خـوا داشرارو کمپونه په نوی ډول او پرا خـه پیمانه نظامی کوی او په دی توګـه سرحدی پټاره بیا په تیـره د پښتنو او بلوڅو سیمه د منطقـی دامنیت پرضد دتهدیـد او تشنـج په دایمی منبع بدلوی .

دثور د انقلاب دشمنان په دی توګه پخپلو کې د پښتنو د جنګولو او د افغانی ملی هویت اود ثور دانقلا ب دماهیت د مسخ کولو پرو ګـرا م تعقیبوی .

باید پښتانه او بلوڅ خلك چـی له نورو افغانی تپو او پرګنو سره یو سر نوشت لری ، د دغی سـتری دسیسی مقابلی ته چمتو شی .
انقلابی افغانستان به د خپلـو خلکو اود پښتنو او بلوڅو دامنیت دساتلو اود امپریا لیستی د سیسود شنډولو لپاره خپل توان او تو ـ فیق ونه سپموی او خامخا به دسولی لی، آزادی او دمو کراسی د بسیا کولو لپاره ، په سیمه کی د امپـریالیـزم جنګ غو ښتو نکی پـرو ـ ګرامونه او له هغی جملی نه دضیاءدرژیم په وجود کی دریمو ګرا مـی ګډ ژوند اوسولی دکوششو نو پرضد دسیسه ، بر بنډه او شنـډه کړی.

سلیمان لایق

۲۹ـ ۵ـ ۱۳۶۱

# لنډه یادونه:

دافغانستان په‌تاریخ کی اتلسمه‌اونولسمه‌پیړی‌دځپلو ټولو‌ځصوصیاتو په‌مجموع کی‌ددی سیمی دډیرو لویو پیښو یوه مهمه مجموعه‌ده.

په‌اتلسمه پیړی کی‌ددی ځای‌قبیلوی سازمانونه وروورو د ځپل انکشاف په‌سیر کی دی مرحلی ته‌ورسیدل‌چی دفیوډالی دولت سازمان منځ ته راولی اودانو ددغی‌سیمی‌په فیوډالی ځصوصیاتوکی‌دقبیلوی خانی هغه‌مرحله تمثیلوی چی‌دارستوکراسی عنصر یی‌ټولنیز مشین په‌حرکت‌راوستلی‌ؤ .

داولسمی پیړی په‌پای‌کی دهغه‌وخت دوی مستبدی امپراطوری (داصفهان‌صفوی دربار) او (دډهلی کورګانی دربار) دفساد په‌منجلاب‌کی ډوب شول اوداتلسمی پیړی په‌لومړی لسیزه‌کی هغوقبایلو قیام وکړچی دقبیلوی خانی موسسه یی ددغوفاسدو دربارونوله استبدد څخه ترشکنجی لاندی وه:

په هند کی اورنګ زیب ترپنځوس‌کاله سلطنت وروسته په‌(۱۷۰٦)کال کی‌مړ شواوجانشین‌یی‌هغه زوی شوچی دده‌په ژوندکی یی‌دکابل‌حکمرانی کوله.

داو رنګ زیب زوی معظم بهادرشاه دقبایلوله مسایلو سره بلدؤ اوښایی د ځپل پلار پلانونه‌یی‌عملی‌کړی‌وایی اوخودوخت شرایطواودده د سلطنت لنډوالی او په خاصه‌توګه پرهند داروپایی استعمارځپی دی اودده بقایاپه ځپل ځان اخته کړل .

ددوی لاسو نه داباسیندی غاړي ته کمزوری شول او په غرو نوکی محصور شوی قبایل دکو رگانی دربار نه ایلغار و نو څخه یوځه آرا مه شول .

خو د اورېدیخ خواته قبایل چی عمده مرکزیی کندهار ؤ دهغوی مستبد دربار تر چپاو لاندی ډیر ځپل کیدل څو دغو قبایلو اتحادیه تشکیله کړه او ددغی اتحادیی په مشری میرو یس خان د هغه دربار پر ضد قیام وکړ او سیمه یی راوژغورله .

ددغی پیړی په دوهمه نیمایی کی دافشار نادر ترکشتار و نوو روسته د افغانستان مستقل دولت تاسیس شو چی تو لنیز خصوصیت یی دفیوډالی اقتصاد پر بنسټ ودرید . احمدشاه خپلو جنرالانو ته جاگیر ونه ورکړل او دغه جاگیرداران علاوه پر قبیلوی روابطو چی خانان و د ډیروشتو خاوندان هم شول دفیوډالی دولت دغه ډینامیزم اتلسمی پیړی ددوهمی نیمایی په وروستی کلونو کی دچاودنی ته ورسید . دسدوزی او بارکزی خانانو سیالی او دقدرت خواته هڅی ددی باعث شوی چی لاندی پرگنی پایماله شی .

په همدغه گیرودار کی نولسمه پیړی راپیل شوه چی د انگریزی استعمار چپاو رسره راپیل او د دغی پیړی تر پایه پوری زموږ دخلکو په تباهی بدرگه شونو دلته هم د تاریخ داسی لویی کارنامی ثبت شویدی چی اغیزی یی دسیاسی مسایلو په دایره کی دلوی عنوا نونه جوړ وی .

په دی پسی په شلمه پیړی کی زموږ خلك دمبارزی په کلکه روحیه دبریتانوی امپریالیزم پرضد له یوی خوا د ملی آزادی بخښونکی جگړی ارمانونه دعمل په صحنه کی پیاده کوی او د بلی خوا دیو داسی مشروطه دولت هڅی پیل کوی چی په هغه کی دتولنی سیاسی سازمان دقانون پابند و اوسی ـ خو متاسفانه چی فیوډالی خصلته دربار نه یوا ځی په چل او چم دخلکو ددغو غوښتنو په وړاندی مقاومت کوی بلکی خپل لاسونه زموږ دوطن پر ستو روشنفکرانو په وینو لړی .

تر دغی تیاره دو ری و روسته چی مر تجع امیر حبیب الله یه خپله سز ارسیږی اما نی دو ر

را پیل کیږی . په دغه وخت کی داستقلال حاصلو لو له پاره ددی وطن دزامنو ملی ازادی غوښتونکی جګړه دبر یتانوی امپر یالیز م پرضد بر یالی کیږی او داصلاحا تو (رفو رم) و رپیل کیږی خو امپر یالیزم داخل د جګړی پر ځای دفتنی اچو لو او تو طیی جبهه تشکیلوی او په دغه جبهه کی یو شمیر داخلی مر تجعین هم بر خه اخلی. ناسالمه فضا منځ ته راځی۔ وطن داړد و ړ په بړاسکو کی لاهو کیږی او په نتیجه کی دمستبد و سر دارانو دو رپیل کیږی .دو طنپر ستانو قتلونه په زندانو نو کی دهغوی شکنجی او داسی نو ری ی شیره ناخوالی د دغه تو ر دو ران ارمغانو نه وه ـ خو دو طنپر ستانو سترګی نه کیدو نکی مبارزه ددغو ناخوالو پر ضد روانه وه خو د ثو ر په ستر انقلا ب چی دافغانستان دخلکو ددمو کر اتیک ګو ند په رهبری بر یالی سر ته و رسید د خلکو دغو ارمانو نو تحقق و مو ند .

په دی لیکنه کی دمشت نمو نه خر وار په تو ګه دیو شمیر هغو بر یتانوی جاسوسانو او داخلی مر تجعا نو بیو ګر افی هم راو ړل شو یدی چی دانګر یز په خدمت کی یی ځانو نه سپارلی وه ، و دمذهب تر سپین څادر لاندی یی تو راعمال هر وخت دنفرین و ړ دی دایوه دعبر ت تابلو ده او تاریخ دیو واقعبین قاضی په تو ګه پر دو ی رحم نه کوی ا و را تلونکو نسلو نو ته په لو ړ او از و ایی چی هو ښیار اوسی !

په دی لیکنه کی چی دثو ر تر ستر انقلاب و ړاندی حو ادث قلمبند شو یدی داسنا د و او حقایقو پر مخ دا مطلب افاده کیږ ی چی دثو ر انقلاب په افغانی ټو لنه کی کو مه تصاد فی پیښه نه ده بلکی په عینی او ذهنی سطح کی ټو لنی دحو ادثو څخه داسی حمل ا خیستی ؤ چی دثو ر د انقلا ب بچی و زیږ وی .

ددی کتاب دو همه بر خه نو دثو ر تر انقلاب و روسته هغه جر یانات ا حتو اکوی چی افغانی ټولنی ته دثو رانقلاب په بر کت په نصیب شو ید ی البته ددغه کتاب زیاته برخه جر ګو او هغو مر کو ته چی دقومونو او قبایلو دچارو دوزارت له خوا جوړی شوی او ترسره شوی ، و قف شوی ده

گران لوستونکي کولای شي چې د جرګو وطن کتاب په خپله ولولي او سوبه نور د هغوی او د دغه کتاب ترمنځ پوله کېدل نه غواړو.

په دغه لیکنه کې د حوادثو جریانات او د هغو تحلیل د تاریخي اسنادو او مدارکو پر مخ په عمل راغلی او په لیکنه کې د تاریخ لیکنې له نوې متود څخه استفاده شوېده.

محترم لوستونکي د دغه مطلب ذکر کولو لپاره د دغې برخې په پای کې د ماخذ و نو او توضیحاتو برخې ته راد عوتوو.

دا یو څو لند نظر دی چې د لته یې د لاندینی لیکنې په ارتباط راوړو او د همدغې لنډې یادونې مطالب په تاریخي عناوینو لاندې پسې ولولو:

# لومړۍ برخه

# په اتلسمه او نولسمه پیړۍ کې

## د افغانستان د زیارکښو پرګنو د رنځونو ډک ژوند

## او نه ستړي کېدونکې مبارزې

# د میرویس خان د جګړو قبیلوي خصوصیتونه

دافغانستان زیارکښه پرګنی داتلسمی پیړی په لومړی نیمایی کی‌تر هرڅه وړاندی‌د درباری استبداد تر درانده فشار لاندی وی .

ددغی پیړی دلومړی نیمایی په‌لومړی لسیزه کی د اورنګ زیب له مرګ سره دهند کورګانی‌دربار دخپل پخوانی‌برم څخه ولوید او ددغه دربار داستبدادسپکیدل بیا هم‌دافغانستان دپرګنو په‌ګټه تمام نه شو ځکه‌دصفوی دربارعمالو ته دازمینه ډیره ښه‌برابره شوه چی‌په خلاص‌لاس هغه قبایل او ولسونه دخپل استثماری منافعو په غرض وټکوی کوم چی ترمخه یی دهغو څخه دا سترګه کوله چی‌نه‌چی کورګانی دربار ته‌به تمایلات‌پیدا کړی .

دصفوی درباردنفوذ په ساحه کی چی کندهار یی مرکز وٶ زیارکښه پرګنی په‌دی مکلفی وی چی « دکال‌شل زره بیګانه لښکر په‌خپله خاوره کی تغذیه کړی څو هغه ددوی سرټکولو ته هر وخت حاضری وی او د مستبد وایرانی حکامو دکبرجنی او تبعیض‌اسارت ته‌یی غاړه نرسه‌وی . » (۱)

دغو پرگنو په قبیلوی سطح کی دقبیلوی نظام ناراسی زغملی او دستړ یاو اولوړو څخه یی دکړ اوه ډک ژونددرلود «ددغه نفوذ سشری‌دمحلی خانانو او ملایانو په‌لاس کی‌وه‌چی ددوی اکثره دصفوی دربارد حکامو سره په‌سازش کی وه‌او یا یی‌ترخپل‌منځ سیالی کولی.»(۲)

په عمومی توگه دغو قبایلو په خپله قبیلوی تولنه کی دخپلو لرغونوعنعناتو سره ژوند کاوه او دشپنیتوب اقتصاد یی په‌تولنیز ژوندکی تیاکونکی اغیزی درلودې کرنه لادوسره نه‌وه زیاته شوی اوسواد گری صحرایی خصوصیت درلود.

دخانی نفوذ دقبیلی په‌سطح کی‌ؤ ـ هر هغه‌خان به‌قوی ؤچی د قبیلی نفوذ به‌یی‌زیات ؤ.

په‌قبیلوی کړی کی داتلسمی پیړی په‌دوران کی دری غټ قومونه پیژندل کیدل‌غلجی چی د خانی کورنی یی‌په هوتکو کی جوړه شوه او اقتدارنود میرویس‌خان د قدرت اخیستلو سره دغی کورنی ته‌په‌برخه شو.

ابدالی چی‌دهراتی ابدالیانو له‌اقتدارسره‌ددغه قوم دپوپلزو په‌کورنیو‌کی یی خانی جوړه وه‌او د احمدشاه ابدالی دقدرت اخیستلو سره پوپلزی قبیلی دسدوزی‌شاخ ته‌یی‌خانی نقل‌شوه کرلاړ ی چی‌ترهندی کورگانیانوپخوا ایی په‌هندکی دافغانی سلطانانو په خاصه‌توگه دلو یانو داقتدار په‌وخت کی‌لوړ نوم او نښان درلود.

دغه قومونه‌چی‌پر بیلو بیلوقبایلو ویشل شوی وه هری قبیلی ځانته خان درلود او ددغو خانانو څخه لوی خانان جوړیدل او ددغو خاینو اقتدار ددوی په‌جرگو کی ؤ.

دغه‌خانان او دهغوی قبیلی شپاړسمی اولسمی پیړی په‌تهاجماتو کی په‌خاصه توگه داولسمی پیړی په‌دوهمه نیمایی‌کی دکورگانی هنداو ایرانی صفوی دربارونو له‌خوا ترسخت کړ او او استثمار لاندی وه، چی‌په دغه‌لړ کی ددغه استثمار او استبداد پرضد دبا یزیدروښان او خوشحال خان ختک مبارزی ډیری په‌وینو لړلی کله ناکامه‌او کله‌به‌بریالی‌وی خو تر تولو بریالی مبارزه‌چی دبیگانه جغ یی له اوږو وغورځاوه داتلسمی پیړی په‌لو مړی لسیزه کی‌دمیرویس خان قیام ؤ چی صفوی درباریی‌په‌دی قانع کړ چی داسیمه ددوی داستعمار لپاره نور هم‌حوصله نلری.

میرویس خان دیو با تدبیره سړي په توګه د ایران له صفوي حاکمیت څخه د خپل وطن د خپلواکۍ په غرض د یو منظم پلان له مخې حرکت پیل کړ.

په دغه وخت کې کندهار د ایران او هندترمنځ یو لوی تجارتي مرکز ؤ او په افغانستان کې د صفوي دربار حکمران د (بیګلر بیګی) تر لقب لاندې په کندهار کې کښېنستی د اتلسمې پېړۍ په لومړۍ لسیزه کې پر دغه عهده د (ګورګین خان) په نامه یو سړی را لېږل شوی ؤ چې د پښتنې قومونو ترمنځ د تفرقې په کار کې ډېر پهلوان ؤ او د عصبیت او جبر څخه یې هرچا سترګه کوله. ده د ابدالي قبایلو مشر دولت خان او د هغه زوی نظر محمد خان ووژل او د دولت خان زوی رستم خان یې صرف په نامه مشر کړ او د هغه ورور زمان خان یې د یرغمل په ډول په صفوي دربار کې وساتی.

د دغې وضع څخه ابدالي او غلجي اقوام په سخت تشویش کې ول او ید ل څو میرویس خان خپله طرح تر عمل لاندې ونیوله. ده د (ګوکران) په پټه جرګه کې د قبیلوي خانانو سره تصمیم ونیوی چې د صفوي دربار نفوذ ته خاتمه ورکول شي.

وروسته تر هغه چې په اصفهان کې د شاحسین صفوي دربار ته ورغی نو هلته یې د هغه دولت د فساد څخه چاودنې ته رسیدلې موسسات مطالعه کړل پدې پسې چې کندهار ته راغی په ۱۷۰۹ م کال کې یې د کندهار د (مانجې) په کلي کې بله جرګه جوړه کړه او په هم دغه جرګه کې کې داپریکړه وشوه چې (ګورګین) او د هغه ټول ګارډ او محافظین کړ باید نیست او نابود شي. دغه تصمیم عملي شو ګورګین ووژل شو او میرویس خان د صفوي دربار څخه د خپلواک وطن اعلان وکړ.

د دې جرګې په خصوصیت کې داخبره ډېر غټ ځای لري چې په هغه کې سربېره پښتون ملیت څخه د نورو ملیتونو تاجک ـ هزاره ـ ازبک او بلوڅو مشران هم ملګري شوي وه. (۳)

پدې پسې بله جرګه بیا هم د میرویس خان په مشرۍ په (کوکران) نومي کلي کې جوړه شوه او په دغه جرګه کې د خپلواک وطن مشري میرویس خان ته وسپارل شوه.

میرویس خان په دغه جرګه کې د یو ملي مشر په حیث د مشرۍ مقام قبول کړ او د امیر ـ

پادشاه یاسلطان په‌نامه یی‌دالقابو له‌قبلولو څخه استنکاف و کړ .

په ۱۷۱۱ کی صفوی دربار دخسرو خان په‌مشری ۳۰زره‌لښکر د کندهار خواته راولیږه ده لښکر دجګړی په میدان کی سو یه نشو ای ترسره کولای‌نو دا توطیه یی‌تر کارلاندی ونیوله‌چی‌ابدالی‌اوغلجی قومونه‌دقبیلوی‌نقاضت‌په‌بدی‌کی‌سره واچوی . خسرو خان‌ددولت‌خان زوی زمان خان چی په‌صفوی دربار کی یرغمل وو سره راوستلی ؤ او غوښتل یی‌چی‌د کندهار د ابدالیانو مشری چی‌په دغه‌وخت کی عبدالله خان پرغاړه درلوده وده ته‌وسپاری څکه‌عبدالله خان ابدالی د غلجیانو سره متحدشوی‌ؤ او په دی توګه‌دمیرویس خان ملاو رماته کړی . خوزمان‌خان چی دوضع‌حساسیت درک کړی‌ؤ ډیر ژر یی پرقومی خصومت پښه کښیښوله او دعبدالله‌خان ابدالی خواته وروا وښت او په‌دی ډول میرویس‌په‌خپل‌قبیلوی حالت‌کی‌وکولای‌شوای‌چی دمتجاوز لښکر مخه ونیسی .

دالښکر دداسی ماتی سره مخامخ شوچی ددیرش زرو څخه یی یواځی څوسوه کسه‌ژوندی ولاړل‌نورټوله‌تباه‌شو.په ۱۷۱۳ کی یو ځل بیاله کرمان څخه دمحمدزمان خان په مشری دصفوی دربارلښکر پرکندهار یرغل وکړ خودالښکر مخ کی تردی چی دجګړی ډګرته ورسیږی دخلکوله خوا تباه شو او په‌دی ډول کندهار مستحکم شو.

په ۱۷۱۵ کی میرویس خان مړشو او دده ترمرګ وروسته دکندهارله خوا پرایران سوقیات پیل شول څودمیرویس زوی محمود اصفهان ونیوی او دصفوی کورنی سلطنت‌ته یی خاتمه ورکړه . په‌هغه پسی‌دمیرویس ورارہ شااشرف دغوسوقیاتو ته‌ادامه ورکړه او په کندهار کی دمیرویس‌زوی شاحسین اقتدارواخیست

دهمدغه وخت څخه‌تر ۱۷۳۸ پوری چی افشار نادر کندهار فتح کړ بیاتر ۱۳۴۷ پوری چی احمدشاه دټولو اکی جوغه په‌سر کی وهله داسیمی دجګړ واو په پای کی دافشارنادر دکشتارونولوی‌سرکزونه‌وه. هیڅوک‌دسعئون‌نه‌وه‌اویرغل‌ګرولښکرو دخلکوله‌سرونوخوسنارونه‌جوړول فقراو ارګی‌اونه‌تمامیدونکی مصیبتونه پرپرګنو مسلط وه .

## قبیلوي تولنه:

د افغانستان په هغه سیمه کې چې نیمه د صفوي دربار تر نفوذ لاندې وه او پر نیمه برخه یې د هندي ګورګانیانو تسلط خپور ؤ قبیلوي نظام حاکمیت درلود د قبیلو لوی مشران د یرغمل په توګه په دغو دؤ دربارونو کې اوسیدل چې په دې لړ کې د ابدالیانو بانفوذه مشران په صفوي دربار کې تر نظارت لاندې وه او میرویس چې د غلجي قبیلوي مشر په توګه ملي حیثیت پیدا کړی ؤ هم یوه موده دغه دوره تیره کړه. همدارنګه د ختیز و قبایلو مشران چې حتی د توخو مشران هم پکې شامل وه په کورګاني دربار پورې تړلي وه او په دې لړ کې خوشحال خان ختک هم یو له دغو مشرانو څخه ؤ چې نه یوازې یې د یو نظربند په توګه په ګورګاني دربار کې شپې ورځې تیرې کړې وې بلکې په مستقیمه توګه هم زنداني شوی وا و د دغه عمل په مقابله کې یې د عمر زیاته برخه د اورنګ زیب د مستبد دربار په ضد په مسلحانه مبارزه تیره شوه.

په قبیلوي نظام کې یې د جرګې په سیستم چارې اجرا کیدلې. د مستبدو دربارونو له فشار او په اقتصادي سطح کې د نیمه فیوډالي حالت څخه فیوډالي حالت ته د عمومي وضع بدلون د جرګې سیستم هم تر اغیزې لاندې نیولی ؤ. هغه خانان چې په قبیله کې به یې د خپل خیل د نفوذ په تناسب قدرت اخیست ورو ورو یې په خصوصي مالکیت کې د قدرت د پاتیدو سره قبیلوي جرګې تر خپل نفوذ لاندې راوستلې.

په خاصه توګه کله چې یې د کرنې ځمکې په ملکیت کې راوستلې نو دوی تر ډیره ځایه خود کامه کیدل.

د دې لپاره چې فیوډالي خانې یې مستقره پاته شي نو د غسې خانان تر ډیره ځایه د مستبدو دربارونو د نفوذ په مقابل کې فعالیدل ځکه د غو دربارونو دوی ته داقدرت وربخښی چې د خپل قوم استثمار سره د مستبدو دربارونو لاس هم د دغو قومونو په استثمار کې خلاص پریږدي.

د کرنې ځمکې تر ډیره ځایه په عمومي ملکیت کې وې چې دو یش په سیستم به کرل کیدې۔ خو دربانو د خپل نفوذ لپاره نو ځکه یې په ، ځکه د د دولت ملکیت قایم وه او د(انعام)(۳) تر نامه لاندې به یې خانانو او قبیلوی مشرانو او دربارونو ته دوفاداره خلکو په دایمي ملکیت کې داسې ځمکې سپارلی چې وروسته یې دجاګیر نوم پر کښیښود .

دغسې انعام خواره او انعامي ځمکې دکورګانی دربارله خوا دسیمو اباسیند په لوړو سیمو کې خانانو ته ورکول کیدې چې انګریزانو دغه کار د (بندوبست) په نامه پسې تعقیب کړ .

وروسته نوجرګه په خپل پخواني حالت او نفوذ کې یوازې په هغو غرونو کې پر پخواني حالت پاته شوه چې داقتصاد په ټیټه سطح کې یې ژوند کاوه او دکرنې په برخه کې پرجرګه دقبیلوی خانانو نفوذ قایم شو. جاګیرداری په هغه معنې چې د قبیلو جنګې مشرانو ته ملکیتونه ورکول شې دهغه وخت څخه په قوت پیل شوه چې دابدالي احمدشا دولت قایم شو سره له دې چې درباری مشرانوته جاګیرونه ورکول کیدل نو بیاهم داسې سیمې موجودې وې چې په هغو کې درباری جاګیر دارانو نفوذ نه درلود .

## احمدشاهي دولت :

احمدشاه چې دشیر سرخ په جرګه کې په کال ۱۷۴۷ کې په انتخابي ډول منځ ته راغی نو که څه هم په عمر کې یو ۲۵ کلن ځوان ؤ خو د نادرشاه په دربار او دهغه په سوقیاتو کې یې دسیمې د وضع او پر دغه وضع دمسلطو قدرتونو مطالعه کړې وه۔ دی دابدالي قبیلې دخانی کورته منسوب سړی ؤ او د پښتنو دقبیلوي رقابتونو او سیالیو په رموزاتو هم اګاه ؤ نو کله چې چې یې قدرت په لاس واخیست داورته معلومه وه چې د نادرشاه افشار تر مرګ وروسته نه دایران په دربار کې داسې څوک پاته وه چې داقتدار دعوه وکړي اونه په کورګاني هند کښې دداسې کوم شخصت څرک وهل کیدای شوای چې دلویو مغولانو اقتدار دې بیا راژوندې کړي .

له هغه‌سر مسم چی د منتخب مشر په توگه یی قد رت تر لاسه کړ بیله دی چی دنو یو و اقعاتو منتظر پاته‌شی خپله نقشه یی‌تر عمل لاندی و نیو له.ده ایر ان او هند ته‌پر له‌پسی سو قیات وکړل او د خپلی طرح سره یی د احمدشاهی دولت بنیاد داسی کښیښو ی چی داندوس (اباسیند) څخه تر اکسوس (امو) پو ری او په بله‌خو ا کی دمشهد څخه‌تر بحیرۀعرب پو ری یی‌اصلی افغانی خاو ره و بلله او ددغی سیمی پر درو څنډو یی دختیځ خو اته دهندکو رگانی دو لت- لو یدیځ ته‌دایر ان دو لت او شمال ته‌یی دبخار ا امارت دخپلی‌اصلی‌خاو ری دو قایی په‌ډو ل تقو یه کړل او د همدغی طرح له‌مخی ۇ چی د هند دکو رگانی باچادتقو یی‌لپاره یی سر هته و و هل‌او په ایر ان کی‌یی د افشار نادر او لاده‌په حکمر انی کی‌حمایت کو له‌او په شمال کی یی‌دبخار ا امر اخپل در بار ته تابع ساتل.

احمدشاه په‌هند کی د خپل سیاسی نفو ذ داستحکام په عمل کی‌په دوه لحاظه ځانته‌په- استحقاق قایل‌ۇ .یو داچی په‌هند کی دافغانانو دپخو انیو هغو سلطنتو نو په لړ کی چی‌و روستی سړی یی‌شیر شاه سو ری ۇ ځان یو و ارث باله او بل ده لیدل چی‌که‌کو رگانی دو لت سقوط وکړی نو دده دطرح حدو د به‌دجنو ب او جنو ب ختیځ‌لخو اتهدیدشی.نو داۇ چی‌هم‌یی‌هندته سوقیات‌کو ل او هم‌یی په‌هند کی دو سر ه قدر مستحکم دو لت غوښت چی همیشه‌ده‌ته‌به‌محتاج وی.

ده په‌سیاسی‌کا که‌گی دکو رگانی و روستی کمزو ری‌باچاپر سر دبا بر تاج بیر ته و ر کښیښو دچی مدا‌حانو دتاج بخش‌په‌نامه‌یاد کړ خو دده سیاسی طرح دو سره‌دو مداره نه‌وه چی پر هغه دی دسیمی گټه بناشی-یو اځی دده‌په ژ و ند کی‌داتلسمی پیړی په‌افغانستان‌او شما لی هند کی دتو ری تر سیو رې لاندې یو‌ه‌چو پتیاو ه خو کله چی‌دی مړ شو نو دده د زوی تیمو ر شاه دسلطنت په‌و روستیو وختو نو کی دهندشمال‌ته په‌خور یدو شو.

دسکهانو قیاموسونه له همدغه وخت څخه په شدت پیل شول څو داحمد شاه دلمسیانو پوخی کت هغه حدود سره و ښوریدل چی داتلسمی پیړی دافغانستان نقشه یکی را تهوله شوی وه .

داتلسمی پیړی و روستی څلورمه (۱۷۷۳ څخه تر ۱۸۰۰) چی داحمد شاه دزوی او دهغه پسی شازمان دوره په څان را کښیباسی دتهولنیز کلتور له پلوه او دسیاسی جریاناتو له لحاظه دداسی واقعاتو څخه برالبه شوی وه چی اغیزی یی پر تهوله سیمه څرگندی وی .

داجریانات دځپل بطن څخه په چاودنه محکوم وه - خارجی جریاناتو دهغو په چاودنه کی پراخوالی او تیزوالی راوست. دانو هغه ورځی دي چی د انگلیس استعماری طوفان تراباسیند راوړي او دمرکزی آسیا خواته دولسونو دبلع کولو لپاره شخوندوهی .

# د خانانو جنگونه

## په‌دربارکی چاودنه :

احمد شاه دخپل سلطنت په‌وروستیو ورځوکی په‌پراخ حدود وسلطنت قایم کړ په‌دی ډول په‌دربارکی خانانو ځای ونیوی او په‌دی توگه ملوک‌الطوایفی په‌دربار کی قایمه‌شوه .احمدشاه چی‌څونه‌په جهانگیری کی‌فاتح ؤنودیوقوی مرکز په قایمیدوکی هغونه کمزوری پاته‌شو که‌څه‌هم کندهارته ددا شرف‌البلاد حیثیت وبخښی خودربار خانان چی په‌جنگونوکی دلویو عناوینوخاوندان شوی وه‌اولوی جاگیرونه یی اخیستی‌وه‌او پردی توګه‌لوسر بیره دقبیلوی نفوذ د پښتوانه‌یی‌هم درلوده د غه مرکز دلویودسلیسو اوتوطیوکمین‌گاه گرزولی‌وه اودادسیسی نوهغه وخت‌دیوشدید عکس‌العمل په‌حیث‌را څرگندی شوی چی داحمدشاه وارثانودسلطنت پرتخت توری سره وایستی د احمدشاه لوی وزیر سردارشاولی‌خان بامیزی (اشرف‌الوزرا) هغه لومړنی با نفوذ خان ؤ چی دتیمورشاه پرضدیی حرکت‌شروع کړ اوغوښتل یی‌چی‌داحمدشاه مشرزوی سلیمان میرزا چی‌دده زوم ؤ سلطنت ته‌ورسوی خو په‌دغه کارکی موفق نشوځود تیمورشاه په‌امر دیوشمیرنورو

سر دارانو سره اعدام‌شو. دو زیر شاو اگک‌غی‌خان د پهولو یو اختلافا تو زهرناکه تخم وپاشه‌چی‌په‌وروسته کی‌یی نه‌یوائی د تیمورشاه دوره بلکه تر هغه وروسته دوری هم ناقراره وساتلی.

داحمدشاه تر مرگ وروسته دربارى ملوک‌الطوايفی په‌داسی قوت را پاخیدلی وه چی باچایی‌ایران تهدیداوه. دباچاتو له‌توجه‌دی خواته وه‌چی طایفوی ملکان او خانان‌دسلطنتی مرکز تابع کړی خو هغو دخپلومنافعو دحفظ په‌اساس هریوه غوښتل چی‌په‌خپل‌نیول او جاگیر کی‌په مطلق ډول کل‌اختیاره واوسی.

کندهار چی‌داحمدشاهی دوری مرکز ؤ دخانانو نفوذیی دباچاتر قدرت دهاندی‌ؤچی را کنترول یی کړی‌په‌خاص ډول هغه‌مهال چی‌ده‌وزیرشاولی‌خان‌و او ژه‌او دحا جی جمال خان بارکزی کورنی ته‌یی اعتنی ونه‌ساتله‌نو دعکس‌العملونوسره مخامخ شو او ددی لپاره چی ددغو خانانو له‌توطیو څخه فارغه واوسی نوله کندهار څخه‌یی کابل‌ته‌دپایتخت انتقال طرح کړ.

داکار تیمورشاه ځکه وکړ چی په کندهار کی دقبیلوی خانانو وپه زیاته بیاد پوپلزو او بارکزو له توطیو څخه آرام واوسی او کابل ته‌ددغو قبایلو دخانانو په‌نیولو سره هغه دخپلو قومونو څخه لیری وساتی. په‌دغه پروگرام کی‌سردارجان خان سپه سلار او عبدالله‌خان دیوان‌بیکی دهغه سره همنواشوه.

دپایتخت دانتقال سره لوسږی‌عکس‌العمل داوؤ چی‌سردارانو دتیمورشاه د خلع اراده‌وکړه او داحمدشاه‌اکا(عبدالخالق)یی باچاکړ او هغه‌هم‌د شپته‌زرو عسکرو سره‌دکابل پر خوا راروان‌شو. کله‌چی‌په‌لارکی دتیمورشاه‌لښکرسره مخامخ شو نو د مخالف له‌لښکر څخه مهراب‌خان -پاینده‌خان‌او دلدارخان راجلا شو او د تیمورشاه ملایی وتړله‌په‌دی‌ډول‌د عبدالخالق لښکرمات شو او هغه همگرفتارشو څو دتیمورشاه په‌امر په دواړو سترگو ړوند کړه شو.

تیمور شاه پاینده‌خان بارکزی او دلدار خان‌ته خلعتونه ورکړل او پاینده‌خان ته یې ( دسرفرازخان) او دلدار خان‌ته یې د(مددخان )القاب عنایت کړل. دغو سردارانو د تیمورشاه په وړاندې ډیرعزتونه درلودل خو بیاهم باچادوی‌له‌قومی اقتدار څخه ستر‌ګه‌کوله.

تیمورشاه دلری او بری خواپښتانه خانان چی‌په عین‌حال‌کی‌لوی جاګیرداران او طایفوی ملکان وه دربارته راټول کړل او په‌دی ډول یی‌یوه (هیرارشی فیوډالی(٥)قایمه‌کړه.

دتیمورشاه په سلطنت‌کی ددغه هیرارشی چی تخم‌یی په احمدشاهی دوره‌کی‌ایښوول شوی ؤ پونګی وو هله او ددغه درانی باچاهانو ادګانو په‌چنګاو‌کی پرمیوه راغلله او ډیره ښه ثمره‌او حاصل یی‌همداؤچی‌یوډیرلیری خو د جهانی اقتصادی‌پر تلاطمی دوری‌ماجراجو یعنی (انګلیس) یی‌و دغی سیمی ته په‌استعماری قوت راوسراښاوه.

تیمورشاه‌درانی غوښتل چی‌ددغی (هرارشی) په‌استفاده‌خپل قدرت‌ټینګ کړی‌خو په اول‌وار‌کی دخپلی لمنی یعنی دپلار دپایتخت او ورته بل‌شو چی‌دپلار وزیرشاولی‌خان اشرف الوزرایی وواژه)

دو هم او رچی‌په‌قبیلوی ساحه‌کی دده تر لمنی لاندی‌بل‌شو هغه دده‌پر ضد(ارسلاخان‌مهمند) توطیه وه چی دباچاد وژلو پلان پکښی ساتلیؤ.

تیمورشاه ددی لپاره چی یوه مذهبی‌کلاترڅان راتاوکړی خو د (څمکنودمیاصاحب څخه چی‌احمدشاه دده په قول درانی لقب‌اخیستیؤ په‌بیره‌کیؤحتی دده‌دګرفتاری امریی‌هم صادرکړیؤ خونوروسردارانو راوګرزاوه قاضی فیض‌الله خان چی‌د(دولت‌شاهی) قبیلی مشرؤ هغه تیمورشاه دخپل مشرسلاکار په حیث مقرر کړ او یوبل بی‌قبیلی سړی لطف‌علی ـ خان چی دایرانی خراسان اوسیدونکی ؤ دایی هم بل‌وزیر کړ. که‌څه‌هم دده‌احمدشاهی دوری په‌نورو فرمانروا سردارانو غرض‌ونه‌کړ خو هغوته دتیمور شاه دغه‌کارجذاب خوش آیندنه‌ؤ.

د تیمور شاه په‌وړاندی چی کوم بل شخصیت داقتدار خاوندشوهغه رحمت‌الله خان سدوزی ؤچی پلاریی‌فتح‌الله خان داحمدشاه په‌لس کسیزه جرگه کی‌غړی ؤ. داسړی دباچالخوا دوفادارخان په‌لقب افتخارومونداو په ډیره لږزمانه کی‌یی‌تیمورشاه داسی دځان‌تابع کړ چی‌هغه عیاش پاچاحتی دحرم اداره هم وروسپارله.

د تیمورشاه اصلی هدف د اوه‌چی ددرانواولویوقبیلو خانان دخلکو یاعواسو په‌اذهانو کی‌ختم کړی نوددغه کارله پاره یی د(فریر) په‌قول «وزیرانو ته‌هدایت‌ورکړی ؤچی‌د رعایاؤسره دانصاف سلوك ونیسی‌او په مملکتی اسوروکی‌دی ډیرکم دقبایلودملکانو امداد واخیستل‌شی» (٦)

دتیمورشاه‌په‌دوره کی دهغوحاکمانو پرتبدیلی اوردوبدل کولو هم غورشروع‌شو چی‌داحمدشاه په‌دوره کی‌ئی‌لوی جاگیرونه پیدا کړی وه اود هندوستان په جنگوکی‌یی‌هم افتخارات درلودل اود جاگیر ونودبزگرانو اود قوم دعزیزانو بهیر به‌پسی ؤ.تیمورشاه د دغوحاکمانو اکثره بی‌وسه اوبی قبیلی خلك مقررول دقبیلوی ارستوگراسی له‌مخی داخانان ډیرزهیرشوی وه‌یوداچی پخپله دمقام څخه ایسته کیدل اوبل‌یی په عوض کی‌یی بی نوم اونښانه‌خلك ورمقرریدل.

د قبیلوی خانانو عکس‌العمل دونه زیات‌ؤ چی باچادخپل محافظ فوځ قوماندانی‌شاگزوته وسپارله چی دا په قبایلو کی یوه کوچنی او بی نفوذه‌قبیله‌وه‌اود دوی سرهیی دقزلباشو یو ۱۲ زریز فوځ دسردارمحمدبیات ترمشری‌لاندی واچاوه.دده‌په‌حرم کی د شرعی ماینو څخه علاوه په سونومینځیانی اوسریتی ناستی وی‌اصلی ماینی یی داوی چی‌د زامنو په‌تفریق معرفی کیږی.

دسدوزوله کورنی ماینی څخه‌چی‌زوی یی‌همایون میرزاؤ.

دپوپلزوله‌کورنی ماینوڅخه چی محمود میرزا ـحاجی فیروزالدین یی‌زامن‌وه.

د ساکزی‌ماینی‌څخه یی عباس میرزا اوکوندل میرزا زامن وه

دیوسف‌زی ماینی‌شخه‌یی‌شاهشجاع الملك(شاهشجاع)او زمان میرزا زامن وه دنورزی ماینی‌شخه‌یی احمدمیرزا ـ محمد سلطان ـ او یزدان بخش‌زامن وه.دافشاری ماینی شخه‌چی (دنادرشاه‌کړوسی‌وه) کشورمیرزا ـسلطان علی‌میرزاو نادرمیرزا زامن وه.

دا شکزی ماینی شخه‌یی اشرف میرزا ـمظفرمیرزا ـجهان والامیرزازامن وه.

دمحمدزی‌ماینی‌شخه‌یی محمدمرادـمیران میرزاوحسین میرزا زامن‌وه دمغولی‌ماینی شخه ددهلی دشهنشا.مغل لور)یی‌هاشم میرزا ـ او شاتورمیرزا زامن‌وه. (۷)

(فریر) وایی چی‌تیمورشاه دایرانی کلتورترسخت‌تاثیر لاندی راغلی ؤاو په دربار کی‌یی تهول‌مراسم او تشریفات‌په‌ایرانی ترتیب وه ـاو دپښتنو د طایفوی ملکانو دباچاله‌دغه وضع شخه ښه‌نه‌راتله‌او دبلی خواد باچاغرورد‌ونه زیات ؤچی‌دخانانو او ملکانو مشوری ته‌یی دیوو یښته اهمیت‌هم‌نه‌ورکاوه نو داؤچی خانان او ملکان له‌ده شخه خوابدی شوه اولوسړنی سازش چی‌دده دخلع‌له پاره‌وشو هغه د(شمکنو دمیاصاحب)لخوا شخه ؤچی‌د خلیلو مشرفیض الله‌خان او ارسلا خان مهمند په‌لاس یی‌عملی کول‌غوښتل ـددوی پلان‌داؤ چی تیمورشاه وغورځوی او د احمدشاه شپږم زوی شهزاده سکندرباچا کړی خوداسازش په‌سرونه رسیدی. او فیض‌الله او ارسلاخان په‌قتل ورسیدل ددغی‌واقعی شخه وروسته‌نود تیمورشاه اعتماد پرتهوله دربارختم شو او ددی لپاره‌چی دعصبی فشارونو شخه‌په‌امان وی نو په حرم کی‌یی‌دحافظ شیرازی دتخیل برابرسی‌دوساله وسحبوب چهاردساله‌ته‌پنایوو‌ړه.

فریروایی‌چی په‌حرم کی‌هم دده په نسبت لویی توطیی روانی‌وی اود حرم‌بیبیانو هری یوی کوښښ‌کاوه‌چی دباچاترمرگ وروسته یی‌زوی دسلطنت مقام ونیسی په‌دغه برخه‌کی دکندهاردسرداران عکس‌العمل‌په‌پته ددحرم‌ته‌ورننوتلیؤ اونوداوجه‌وه چی دکندهار دنایب محمود میرزامورچی‌دیوپوپلزی سردارخوروه ـپه‌خوراک‌کی باچاته‌زهر ورکړه اودکولمو په ناروغی اخته‌شو. ده‌په‌چتکی‌ځان کابل‌ته‌راورساوه او په‌دغه ښارکی یی‌له‌جهان‌شخه سترگی پتیی کړی. (۸)

د تیمور شاه تر مرگ و روسته دقبیلوی خانانو عکس‌العملو نه دیوه مرکز پر ضدخورا زیات شوه او ددې لپاره چی خانان هر یو په خپل جاگیر او تیول کی دفیوډالی‌اختیاراتو څخه کاملاً برخوردار وی هر خان د یو شهزاده ملاتړ له که څه هم زمان میرزا قدرت په لاس کی وا خیست او غوښتل یی چی په هندوستان کی‌دخپل نیکه فتوحات یو ځل بیاتجدید کړی خو د وخت شرایطو او دمملکت حالت هغه‌ته داچانس ډیر کمزوری کړ.

طایفوی ملکانو په‌تو ارث سره د پاچهی دانتقال له‌اصل سره مخالف وه‌او غوښتل یی‌چی لکه احمدشاه چی‌په‌جرگه کی باچاشو باید هر باچا دغسی انتخاب شی‌خو باچهی کورنی‌دی ته‌چیری حاضر یده .دهمدغه‌عمل او عکس‌العمل نتیجه‌وه چی دبارکزو دمشر سردار پاینده خان په‌مشری دشازمان دغورځولو لپاره یو پلان‌طرح شو چی په هغه کی‌ددربار اکثرو مشرانو برخه‌درلوده‌اومشران‌یی‌محمدشر یف‌خان‌منشی‌باشی- یوسف‌علی‌خان پیشخدمت باشی-سلطان‌خان نورزی او رحیم خان علیزی ؤ. دوی دیوملا په کورکی جلسه وکړه او د فیصلی مهم ټکی داوه چی شازمان به‌ایسته کوی او شاشجاع به انتخابوی . خو مخ کی‌تر دی چی‌دا پلان د عمل صحنی ته‌وارد شی دشازمان وزیر وفادارخان په‌هغه خبر شو او ددغی‌توطیی گډون کونکی یی‌گرفتاره کړه. شازمان پر دوی‌دمرگ حکم وکړ چی په‌دغه جمله کی دبارکزو دقیبلی لوی‌خان سردار پاینده خان هم ووژل شو او له‌دغه قتل او قتال سره‌نود افغانستان په‌ملوک الطوایفی کی دفتور یوه خشنه دوره شروع کیږی چی شهزادگان د شهزادگانو سره خانان‌له خانانو سره اودادو اړه‌بیا یوله‌بله‌په شرسره لویږی . پدغه وخت کی نو انگلیسانو په‌هند کی‌بیه‌انکشاف کړیدی او دهغوی لاس ورسره ملگری کیږی . دادقصابی دوره‌نو تر هغه‌وخته‌پوری دوام کوی تر څو امیر عبدالرحمن‌دده‌په اصطلاح‌چی‌ځان‌یی (بلایی اسمانی )باله پر افغانستان راشیوه‌کیږی او دلکونو انسانانو دوینو په‌تو یولو دطایفوی- ملکانو نفوذ ختم کوی او یو مرکز ته‌یی تابع کوی .

## خانان :

هغه قبیلوي خانان چې د احمدشاه په ملګري یې په لویو فتوحاتو کې برخه اخیستې وه د غنایمو او ولجو څخه داسې زورور شوي وه چې شخصیتونه او موقفونه یې دربار مسجل کول.

هغه مهال چې دغه خانان دجاګیردار یو خاوندان شول نو دقبیلوي اقتدار سره یې دلویو شتمنیو قدرت دوی ته دلویو فیوډالانو حیثیت ورکړ.

دوی ترهغه وخته دخپل فیوډالي قدرت څخه پیاوړي ساتل کیدل چې په دربار کې به یې نفوذ درلود نو ځکه دوی په اتفاق پر دربار خپل نفوذ جاري ساتي. ددربار په مشري کې واقع شخصیت ډیرلوی رول درلود ـ کله چې به په دربار کې قوي سړی مشر ؤ نو دغو خانانو سترګه ځینې کوله او که به ضعیفه سړی مشر شو نو د هغه سره به یې مقابله کوله.

داتلسمې پیړی وروستۍ څلورمه کې تیمورشاه او زمان شاه دواړه ضعیفه خلک وه ددوی سره نه یوازې په خپله قبیله کې بدې پیل شوې بلکې دقبایلو دفیوډالانو ترمنځ هم سیالۍ او خطرناکو نتیجو ته ورسیدې.

داسیالي چې محوري یې دربار ؤ حرکت یې دومره توندشو چې په چاودنو یې د افغانستان ـ هغه بدن چې داتلسمې پیړی په دوران کې جوړ شوی ؤ سخت ژوبل شو.

دلته په فشرده توګه دا جریانات چې داتلسمې پیړی وروستۍ څلورمه او د نونسمې پیړی لومړی څلورمه په برکې نیسي دخانانو دجنګ ترعنوان لاندې راوړم. دلته یو لړ داسې اسناد او شواهد دتاریخي واقعاتو په ارتباط راوړل شویدي چې دهغو په لوستنه د افغانستان دهغې ورځې ټولنه پیژندل کیدای شي او دا اسناد او مدارک نوموړته دهغو واقعاتو په لړکې دانتیجې په لاس راکوي چې کله به دغسې یواخ وډب کې دلویدیځ استعمار عنصر د ټولنې په دغه ترکیب کې را کله شو څه اشکال یې غوره کړه؟

دانګریز چپاو ته دغې فیوډالي ټولنې دخومره جذب استعداد درلود؟ هغه قبیلوي فیوډالان چې د لویو جاګیر ونو په قدرت را پورته شوي وه خپل منځي سیالیو په چپاوولې دومره

کمزوری‌شوه‌چی خپله بقایی دخارجی استعمار په‌تسلط کی‌پلتله؟

دا او داسی نوری پوښتنی هغه‌وخت‌پوره جواب مو ندلای شی چی دافغانستان‌دتاریخ د دتهولنیز اوسیاسی روابطو ریښی دپیښو په‌ارتباط و څیړ ل شی.

په‌دی لړ کی نود قبیلو په‌سطح کی‌چی دربارئی ترخپل نفوذ لاندی نیو لی ؤ په‌لومړی سرکی دسدوزو او بارکزو دقبیلو سیالی وی چی د دولت پراقتداریی په‌و ینو لړ لی جگړی جاری ساتلی‌وی .

دسدوزو او بارکزو دقبیلو ترمنځ داحمدشاه په‌زمانه کی لااختلاف موجود شو خو دا اختلاف سیدان ته راونده وت او په‌دی‌باره کښی که‌څه هم تراوسه‌چی اثر ندی لیدلی‌د دغه‌اختلاف‌شرح‌دی‌ورکړی‌خوداسو ال‌پیدا کیږی‌چی دابدالی احمدشاه‌دانتخاب په‌جرگه کی دفیصلی له‌سوادو څخه‌یوه هم‌داوه چی‌دسلطنت‌لپاره به‌وزیر دبارکزو له‌قبیلی‌څخه وی .

خو احمدشاه دوزارت رتبه دپوپلزو دقبیلی (سدوزی ددغه قبیلی‌یو‌ښاخ‌دی ) دبامیزو دقبیلی و شاولی خان ته ورکړه او هغه یی‌د (اشرف الوزرا ) په‌عنوان‌مفتخرکړ .

ایاداسوال پیدا کیدای نشی چی حاجی جمال خود دغه مقام مستحق‌ؤ نو آیادهغه په‌زړه کی به‌داحمدشاه په‌نسبت څه‌نه‌وه پیدا شوی ؟ که‌ددی پوښتنی جواب منفی وی‌نو دموضوع حساسیت ته‌باید توجه وشی چی دباچاپه انتخاب کی‌ولی دغه مسئله دیوسهم شرط‌په‌حیث وړاندی شوی وه .

داحمدشاهی دوری بل لوی‌خان نورمحمد خان علیزی ؤ چی هغه هم‌د احمدشاه‌په‌نسبت دښی ارادی خاوند نه‌ؤ او دده سره یوشمیر نورخانانو تجویز کړی ؤ چی‌داحمدشاه پرضد بغاوت شروع کړی خوداؤ چی داکسان تهوله په‌هرات کی‌داحمد شاه په امر ووژل شوه .

داحمدشاه ترمرگ وروسته دتیمورشاه په دوره کی دخانانو داقتدار جنگ نسبت‌داحمدشاه ودوری ته‌نسبتاً شدیدشو. داحمدشاه ددوری دوه مقتدرخانان شا ولیخان اشرف الوزرا او سردارجانخان سپه‌سالاردؤ سحاذو ته‌تقسیم‌وه . شاولیخان داحمدشاه دسشرزوی سلیمان

میرزا خسرو ؤ او سردار جانخان د تیمورشاه له نژدی طرفدار انو څخه ؤ او هغه مهال چی احمدشاه په پنجاب کی دسکهانو د تجاوز د مخ نیوی لپاره دیو قوی سد پلان طرح کاوه نو تیمور شاه او سردار جانخان یی دواړه په لاهور کی پریښوول او دوی دواړه په ډیر وخت هلته سره یو ځای وه او دسردار جانخان په ډیر صفت او تعریف احمدشاه نسبت سلیمان میرزا ته و تیمور شاه ته ښه نظر پیدا کړی ؤ.

کله چی احمدشاه مړ شو نو شاولیخان کوښښ وکړ چی خپل زوم سلیمان میرزا د احمدشاه پر تخت کښینوی خو سردار جانخان ددی کار مانع شو او بل لوی خان وکیل الدوله عبدا خان یی هم دځان سره ملگری کړ خو دشاولیخان پلان په سر ونه رسیدی او په نتیجه کی اشرف الوزرا شاولیخان د تیمورشاه په امر اعدام شو.

داشرف الوزرا اعدام د کندهار دخانانو ترمنځ لویه تفرقه واچوله او په دغه وخت کی نه یوازی د پوپلزو (باچایی قبیله) دیو شمیر خانانو لخوا د تیمورشاه او دهغه د طرفدارانو پر ضد پټ قیام روان ؤ بلکه د بارکزو خانان هم دسدوزو له کورنی او د پوپلزو له خانانو څخه خوښ نه وه او نو دغه علت ؤ چی تیمورشاه د پایتخت دمصونیت په خاطر مرکز له کندهار څخه کابل ته نقل کړ.

دتیمورشاه پر ضد چی کوم بل لوی حرکت وشو هغه داؤ چی د کندهار پوپلزو او بارکزو په گډه داحمدشاه تربور عبدالخالق چی دباچایی کورنی او قبیلوی خانی نفوذ ورسره ملگری ؤ داحمد شاه جانشین اعلان کړ او دده په ملاتړ دحاجی جمال خان زوی پاینده خان او دساکزو دقبیلی خان دلدار خان دخپلو قومی لښکرو سره روان وه خو په لارکی پاینده خان او دلاور خان دعبدالخالق څخه وگرزیدل او تیمورشاه ته ورغله تیمورشاه دادوه خانان ښه ونازول له پاینده خان ته یی د(سرفراز خان) او دلاورخان ته یی د(مددخان) القاب ورکړل. عبدالخالق خان ونیول شو او د تیمورشاه په امر یی سترگی وایستل شوی.

دتیمورشاه تر مرگ وروسته دخانانو جنگ او مقابلی په څرگند ډول میدان ته راووتی

دتیمور شاه‌څخه ترشلو زیات زامن پاته شوه چې هر یوه یې دبا چهی جوغی‌ته‌زوروا هه او دغی وضع نو دقبیلو خانان هم راو پارول‌او دهر شهزاده پله‌یوه ) یاځو خانانو ونیوله‌خوپه دغو خانانوکی پاینده خان بارکزی دلوی نفوذ خاوندؤ څو دده په‌یوه خاص چل‌زما نشاه‌د تیمورشاه پرځای کښېنوست .

د دغه وخت‌په خانانوکی داکسان دلوی نفوذ خاوندان وه :

«احمدخان نورزی ـفتح الله خان سدوزی ـنورله‌خان ـامین الملک امیر اسلام‌خان‌جوان شیر محمد خان بیات ـ امین‌الله خان لوگری » دغه‌کسان چی‌هم‌یی په ځان پسی قومونه درلودل او هم دلو یوجاگیرونو خاوندان وه خپل ترمنځ چی‌یوسسلسله صحنه سازی‌کولی او دسدوزو شهزادگان هم‌د دغسی خانانو پرلاس منځ ته‌راتله او بیرته له صحنی وتل .

دشا زمان په‌دوره‌کی دسدوزو دکورنی دیوه خان چی‌رحمت الله خان نومیدی‌او باچا دوزیر په‌حیث مقرراود وفادارخان په لقب سرلوړی‌کړاودبارکزو دقبیلی دنامدارو مشهورخان سردارپاینده خان ترمنځ یوه لویه مقا بله‌روانه‌وه‌څوچی وفادارخان‌پردوی غلبه پیداکړه او په شازمان یی‌نه‌یوازی سردارپایندخان ووژه بلکه دهغه ملگری نورقوی خانان لکه محمد حکیم‌خان الکوزی ـسلطان خان نورزی او رحیم خان علیزی یی هم قتل کړه .

دپایند خان وژل شازمان ته‌دبارگزو دلو یی قبیلی‌دخانانو قهر راو پاڅاوه‌هم دپایندخان زامن چی‌په دغه‌وخت‌کی دلوی نفوذ خاوندان وه تولوپه‌اتفاق د پلار دانتقام‌لپاره دشازمان خان پرضد او زیاتره دوفادارخان پرضد فعالیتونه شروع کړه څوداؤ چی فتح خان (وزیر) دپاینده خان زوی چی عربی مورخینو هغه (کینگ‌میکر) یعنی با چا جوړونکی بللی دی‌د وفادارخان په‌چپه کولو بریالی شو. احمد خان نورزی چی‌شازمان خان دخپل‌ورور شامحمود په‌مقابل کی‌دجگړی لپاره دلښکرو سره لیږلی ؤ نو پر وفادارخان دابنه نه‌پریوته چی هغه ددغو نه نفوذ خاوندشی نو دهغه مرگ پلان یی جوړاوه‌خو احمدخان دوفادارخان

په‌مطلب پوه ؤ او هغه وخت چي دفتح خان وزیر په‌مشری دشامحمود له‌لښکر سره مخامخ شو خپل‌ځان او لښکر یي یوځای فتح خان‌ته‌تسلیم کړل او فتح خان‌له دی څخه ډیر خوښ شوچي یومقتدرخان یي اړخ ته راغی .

د احمدخان له تسلیمی څخه وروسته وفادارخان او شازمان دواړه نه‌یوائي‌په کابل کښی تکیه نه‌شول بلکه غوښتل یي چي‌د(بردرانو) لښکرجوړکړي نوشینوار وته‌ولاړل څو هلته شازمان او وفادارخان دملاعاشق شینواری له‌خوا و نیول شوه‌او د پایندخان بارکزی زوی اسدخان ته‌یي وسپارل ـ کله چي یي کابل‌ته راو رسول‌و فادارخان سمدستی‌اعدام شو او نورطرفداران یي‌هم څو کت قتل او څو کت بند یان شوه .

دشامحمود دوری له‌لوی خانانو څخه یو داحمد شاه دلوی وزیرشاولی‌خان زوی‌شیر محمدخان مختارالدوله ؤچي تر دغه وخته‌پوری په‌خاموشی کی ژوند تیراوه بل عبدالله‌خان‌الکوزی مشهوروزیر یارمحمدخان پلارؤ چي دوفادارخان سره دمخالفت په‌اثربندی‌ؤ خوشامحمود هغه راویوست او دکشمیرگورنری مقرر کړ اکرم‌خان علیزی هم ددغه وخت‌لوی‌خان ؤچي دلوی وزیر په حیث مقررشو. خو په دغو ټولو کی یوائي فتح خان چي‌باچا د(شاهدوست ) لقب ورکړی ؤ دلویوادعاگانو سره مسابقی میدان گرم ساتلی ؤ د غلجو، قبایلو مشر عبدالرحیم‌خان ؤچي ددرانی خانانو په‌مقابله کی یي‌په وینو لړلی جگړی وکړی خو یي شکست وخوړ .

داکرم‌خان علیزی ترمرگ وروسته شیر محمد خان مختارالدوله دلوی وزارت دمقام مستحق ځان گانه خوباچا چي دغه رتبه فتح خان ته‌ورکړه نودده او فتح خان ترمنځ هم رقابت په‌دښمنی بدل شو او د«سیداحمد معروف‌په‌میر واعظ‌له‌روحانی‌نفوذ څخه شیر محمدخان استفاده‌وکړه‌او خویی‌دسنی او شیعه‌لویه شخړه‌وپا خوله‌اودونه نارامی‌یي‌پورته کړه چي‌شامحمود په‌ځان پوری حیران شو او بیاهمدغه‌شیر محمدخان شا شجاع دپېښور څخه را دعوت کړ چي کابل‌ته راشي او پاچهي ونیسی (۹)

دشاشجاع تر کامیابی و روسته چې فتح خان مغقوب ؤ احمدخان نو رزی دفتح خان درقیب شیرمحمدخان په‌سلګری دشاشجاع په کامیابی دربارته قریب شوی ؤ نودشاز مان دزوی په تحریک فتح خان سوفق شوچی احمدخان نو رزی په کندهارکی بندی کړی‌داحمدخان‌دغه بندکه‌څه هم دوام داره نه ؤ خو فتح خان هغه په‌دی وپوهاوه چی که‌له‌ده سره رقابت وکړی نو ژوند به‌یی په خطر کی وی .

دخانانو دا جنګ ددوی د یو او بل په‌قتل او قتال تر هغه وخته پوری دوام درلود چی دوزیر فتح خان‌سترګی پکښی و ایستل شوی او دهغه‌د ورونو د کشمیر څخه تر هراته او له اسو څخه تر بلوچستان پوری دمملکت څخه یو داو رتنو رجوړ کړ . دامهال نو دافغانی دولت مسایل یوائی دخانانو او شهزادګا نو ترمنځ نه‌دی مطرح بلکه دفرانسوی ناپلیون له‌دربارڅخه بیادروسی تر تزا ری‌دربا رپورې‌او دایر ان‌له‌قاجاری دربار څخه بیاتر بریتانوی دربارپوری دهغو ساحه پراخه شویده خارجی لاسونه راغزیدلی اوله دی وروسته نو لکه دسدو زو شهزادګان چې‌دخانانو په‌رقابت کی استعمالیدل دافغانستان خانان او باچهان دباندینو قدرتو نو په خاص ډول دانګلسانو دمنا فعو دسیاسی رول دلوبولو الی شوی دی خو داحقیقت بایدهیر نسشی‌چی ددغو استعماری قو تونو پرضد ملی مقاومتونه هم‌منځ ته راغلی دی چی زموږ د تاریخ و یاړ ګڼل کیږی .

## شهزادګان :

سدوزی تیمورشاه ترمرګ وروسته ترشلو زیات زماسن پریښوول چی داهریوه‌یی دده په‌ژوندکی مقام او منصب درلود او اکثره دولایاتو والیان وه دافغانستان‌دملوک الطوایفی مطابق تیمورشاه دهرلوی قوم او قبیلی څخه یوه ښځه‌ماینه کړی‌وه او دا کاری ددی لپاره کاوه چی‌پدی ډول دبانفوذ ه قبیلو په خپلوی هغه ځانته‌مایل وساتی خو دغه کاردباچاحرم دلویو دسیسو مرکز ګرزولی ؤ او دلویو خانانو پروګرامونه‌اکثره‌دغه دحرم دښځو په‌وسیله پر باچااجرا کیدل او په‌پای کی‌پخپله‌تیمورشاه‌هم ددغسی یوی‌دسیسی

بانی شو او د ما ینی لهخوا په زهرووژل شو.

دتیمو رشاه لانفس نهؤ و تلیچی دسلطنت مسئله دجنجال مو رد وگر زیده . په دغهوخت کی شازمان دکابل و الیؤ او دلو یو ادعاطلبو و رونو څخه یی هما یون په کندهار کی او محمود پههرات کی و الیان ؤ. دتیمو رشاهړی هغهوخت خاو رو تهوسپارل شو چی دبارکزی سر دار پایندهخان پهملگری‌شهز ادگان او دشازمان دباچا کیدو مخالف خانان او دحرم ښځی دبالا حصار بندیخانی ته وغو رځول شوهپرشا زما ن خطبه و و یل‌شوه او هغه هم د ملك د لو یو اصلاحاتو لپاره پکارلاس‌پو ری کړ .ده غوښتل چی داحمدشاهی امپر اطوری دبدبهچی‌دپلار پهوخت کی‌یی دهغه دعیاشی پهاثر متز لذل شوی وه بیارا ژوندی کړی خو دو رونو جاه طلبیو او د قبیلوی خانانو مداخلو هغه دی نه پر ینبود چیپر دغه کار بر یالی شی.

همایون میر زا چیهم دپلارمشر زوی ؤ او هم یی مو رد باچایی کو رنی (سدوزی) وه ځانته داحق و رکاوه چی د پلارتاج او تخت و روسپارل شی. پهدی پسی محمود میرزا او فیرو زالدین چیموریی پو پلری یعنی پاچایی کو رنی تهمنسوب وه شازمان تهپهحق قایل نهؤ. شا شجاع چیدشا زمان سکنی و رورؤ او موریی دپښورلهیوسف زوځخه وه دشازمان پهپاچا کیدو خو ښ ؤ .

ددغو له جملی څخه لومړی هما یون میر زا له کندهارڅخه سر را پورته کړ او دلښکر سره شازمان مقابلی تهراووت دشازمانلښکرچی دکندهار د ایل کو لو لپاره و رروان وه نو دکلات پهشاو خوا کی و رسره مخامخ شول ـهمایون ماتشو او بلوچستان تهوتښتیدی شازمان پهمحمود پسی هراتتهروان شو خو ددوی ترمنځ خبره په روغه فیصله شوه هرات محمود ته پر ینبودل شو .

شانزمان چی کله دپنجاب دایل کو لو لپاره پیښو رته و رسیدیهمایون بیاپر کندهار حمله وکړه او له دی سره سمشازمانخپل پلان وگر زاوه او کندهار ته راغیهمایون بیامات‌شواو داځل چی

دسند ایالت ته په تیښته روان ؤ پر لارد شازمان سرو ونیوی او د شازمان په امر یی ستر گی وایستل شوی .

په دغه وخت کی سنددبغاوت بناایښی وه او شازمان هغی خواته روان شو خو چی هلته ورسیدی حال ورغی چی محمود (شامحمود) په هرات کی یاغی شو ـ شازمان دسند له امیرانو سره دخان په تاوان سوله وکړه او خه روپی یی له هغو څخه راواخیستی او په محمود پسی راروان شو. ددی ورونو ترمنځ په (گرشک) کی جنگ وشو خو محمود مات شو او فرار ته و تښتیدی خو شازمان بیا روغه ورسره وکړه او د هرات ولایت یی ورکړ .

په ۱۷۹۵ کال کی سیکانو په پنجاب کی نفوذ کړی ؤ او شازمان دهغوی درعیت کیدو لپاره

روان شو خو دا باسیند پرغاړ و خبر شو چی ایران پر خراسان حمله وکړه بیرته

راوگرزید او د ایران سره یی خبره په روغه خلاصه کړه . په پسی کال چی شازمان بیا هند وستان ته روان شو خو دلاهور څخه بیرته راوگرزید ځکه محمود بیا یاغی شوی ؤ او داخل نو محمود ته دایران ددربار ملاتړ هم ورحاصل ؤ په دی جنگ کی بیاهم شازمان کامیابه شو او محمود له خپل زوی کامران سره ایران ته پنایووړه شازمان دهرات په ولایت خپل زوی قیصر میرزا مقرر کړ په ۱۷۹۸ شازمان بیا دنیکه دامپراطوری ختیځی خواته روان شو او تر ښه ډیره ځایه په خپل کار کی موفق ؤ چی د ایران په مرسته دمحمود له حملی څخه خبر شو چی هرات یی محاصره کړیدی. په دغه وار کی محمود دقیصر لخوا بیامات شو او د اځل نو بخارا ته وتښتید ی.

په ۱۷۹۹ کی شازمان په داخلی اصلاحاتو لاس پوری کړ او غوښتل یی چی دخانانو نفوذ کم کړی تر څو په دی وسیله دخپلو جاه طلبو ورونو له چپاو څخه ارام شی . پدی پلان کی دهغه سره وفادارخان وزیر ملگری شو او په اول ځل کی یی یو شمیر خانان متره کړل چی سردار پاینده خان هم دهغو په جمله کی ؤ .

ددغو خانانو وژل شازمان تهډیر دښمنان پیدا کړل چې مهم سړی یې د پاینده‌خان زوی فتح خان ؤ. فتح خان دپلار ترمرګ وروسته شا محمود چې په‌فراری یې ژوندتیراوه رادعوت کړ او باچایي کړ. شامحمود فتح خان په سرسته کندهار و نیوی‌او کابل ته پسې روان‌شو. دشازمان لښکری دشاجوی‌او قلات ترمنځ په (سراسپ) کې ورسره مخامخ شوی په‌دی جنګ‌کی شازمان مات شو او فتح خان هغه‌تعقیب کړ خود شینوارو دملاعاشق په کلا کی و نیول شو او کابل ته‌چی راوستل شو نوشا محمود یې سترګی وړندی کړی.

اوس چې شامحمو د باچاشو نو دشازمان سکنی ورور شاشجاع سر راپورته کړ دری کاله‌جنګ دوام درلود کله چې په وتښتیدی او کله‌به‌یبا رابنکاره شو خو ۱۸۰۳ کې یې شا محمود تەماتی ورکړه او پخپله باچا شو. شا محمود و نیوی او غوښتل یې سترګی ځینی‌و باسی خود ځینو خانانوپه‌شفاعت‌یې ړوند نه‌کړ بندی یې کړ. شاشجاع باچاشو نو اول یې کندهار تەمخه کړه ځکه‌هلته دشامحمود زوی کامران والی ؤ. کامران‌بیله‌جنګه هرات‌ته‌وتښتیدی او شاهشجاع دشازمان زوی قیصر دکندهار والی کړ.

شا شجاع دیوه لښکرسره دسنداو کشمیر د ایل کولولپاره روان شوخو په دغه‌وخت کی‌یې د خپل وراره قیصر د یاغی کیدو خبر واورید ـ قیصر تەوزیرفتح خان حرکت ورکړی ؤ دقیصر لښکرلا کابل‌ته نه‌و رنژدی شوی چې کامران ځان د کندهاروالی کړ. څه‌وخت لانه‌ؤ تیرشوی چی‌فتح خان بیاقیصرته دکابل دتخت نیولوتونک ورکړ خودا ځل قیصر په‌هغه‌پوه شو او بندی یی کړ ـ فتح خان‌په چل‌له بندیخانی څخه ځان خلاص کړ او په ګرشک کی‌خپل کلی(سادات)ته‌راغی او له‌دغه ځایه‌چی یی‌کامران له هراته‌را دعوت کړ هغه‌راغی کندهاریی و نیوی او قیصر کابل ته‌په‌تیښته ولاړ شاشجاع چی‌خبرشو نو قیصر یی‌په کابل کی‌پر یښود او پخپله کندهارته‌را روان شو ـ ده کندهارونیوی‌او کامران په‌تیښته هرات‌ته‌ولاړ. شاشجاع له کندهاره دسند دتالپوری سردارانو څخه دپیسو راټولو لپاره روان‌شو کله‌چی هلته ورسیدنو خبرشو چی قیصر په کابل کی‌ځان‌باچا کړی ـ ـمدستی



PROPERTY OF ACKU 6383

دپښتوږ له لاڙی کابل ته‌را غی او کامران ته‌یی ماتی ورکړه کامران و نیول شو خو شاشجاع بیاو بخښی .

شاه‌محمود چی دشاشجاع په‌غیاب کی‌له بندیخانی څخه تښتیدلی ؤ پر کندهار یی قبضه وکړه خو په‌۱۸۰۸ع کی شاشجاع ماتی ورکړه .

په‌۱۸۰۹ کی‌شاشجاع دکشمیر مسئلی ته‌توجه کوله‌چی شامحمود بیاپر کندهار حمله وکړه او هغه‌یی وا خیست او کابل یی پسی‌و نیوی ددوی سره فتح خان ملگری ؤ شا شجاع چی‌پر کابل حمله‌راوړه دشامحمود او فتح خان له‌لاسه مات شو او دافر یدو په‌غرو کی‌یی ځان پګوښه کړ .

شاشجاع ځوو خته وروسته سکانو او انگریزانو ته‌پناه یوووړه .

شاه‌محمود دخپل سلطنت په‌اول کی دکشمیر مسئلی ته‌پام واړاوه او دسیکانو له‌مشر رنجیت سنگ سره ي جوړه وکړه او چی کابل‌ته را غی نو دعیش او نشاط بساطی خپور کړ و رځ او شپه‌یی په‌شرابو او نڅا (رقص) تیریده او د ملك‌اداره یی کاملا فتح خان ته پرینښوله .

فتح خان‌هم خپل‌تول وروته په‌مهمو ځایونو کی والیان کړل او دامهال نو شامحمود صرف‌په‌نامه باچاؤ اصلی کارتول‌ه‌دفتح‌خان په لاس کی‌ؤ .

په‌دغو وختو کی دشامحمود ورور فیروزالدین په‌هرات کی خودمختار والی ؤ هغه دفتح‌خان‌له پروگرامو نو څخه پوه‌ؤ او غوښتل یې‌چی له‌منځه یی یوسی خو بریالی نشو په ۱۸۰۱۶ کی فیروزالدین کابل‌ته حال‌وزکړ چی ایران‌پرهرات حمله کوی‌ددی مسئلی لپاره فتح خان دخپل ورور دولت محمدخان سره موظف شوچی هرات ته‌ولاړشی‌دوی چی هلته ورغله‌فیروزالدین په ښکاره‌د هغه احترام وکړ مگر په باطن کی‌یی نورڅه‌وه شوفتح خان پومشو او دهغه پر کوریی حمله وکړه په‌دغه حمله کی‌دوست‌محمدخان دفیروزالدین کور لوټ کړ او دیر دولت یې‌په لاس‌راوړ او دفیروزالدین دنیږور چی دشامحمود لوروه له

غاړی ځخه اسیلو نه او ډلاسو نو دزړو کړی په زوره وایستې. فتح خان فیروز الدین کابل
ته راولیږی. فتح خان دکافر کلا (اسلام کلا) پر مقام ایرانی لښکر ته ماتی ورکړه. کامران
په ۱۸۱۷ کی هرات ته روان شو تر روانیدو پخواهغه دپلار ځخه اجازه اخیستې وه چی
دشاهی حرم دبی ستری په گناه دفتح خان سترگی و باسی. نو کله چی هرات ته ورسید فتح خان یی
ورونغوښت او په مجلس کی یی دهغه ځخه سترگی وایستې.

دکامران دغه کارنو یو ځل بیاهغسی او ربل کړلکه دپاینده خان په وژلو چی لگیدلی ؤ.
دفتح خان هغه زیات شمیر ورونه چی په دغه وخت کی دلوی نفوذ خاوندان گرزیدلی وه
یاغی شول او ټول ملك یی لکه تنور داسی وگرزاوه. دوست محمدخان پر کابل حمله وکړه
او شامحمود خپل لمسی جهانگیر شهزاده په کابل کی پریښود او پخپله غزنی ته راغی
دوست محمدخان کابل ونیوی او دشامحمود زوی کامران له فوځ سره په کابل حملی
ته روان شو خو ددوست محمدخان له لاسه مات شو او پلار او زوی هرات ته مخ وگرزاوه دوی
په غزنی کی په ستر گوړوند فتح خان وواژه او په بده ورځ هرات ته ورسیدل.

په هرات کی دشامحمود او کامران او حاجی فیروزالدین ترمنځ پر قدرت دعوی شروع
شوی او هر یوه ځان باچابالله خو فیروزالدین (چی په دغه وخت کی حج کړی ؤ او ځان یی حاجی
او ملابالله ایران ته پناه یوړه او کامران خپل پلار شامحمود په غسل خانه کی مړ کړ». ۱

دسدوزی شهزادگانو له جملی ځخه دوه کسه چی دخپلو جاه طلبو قربانی شوه دتیمور
شاه دوه زامن ایوب شاه او سلطان علی نامان وه دادوه شهزادگان دوزیر فتح خان دده ورونو
عظیم خان او دوست محمدخان دلاس الی وی. دوزیر فتح تر ړندید وروسته چی عظیم خان
او دوست محمدخان دمبارزی میدان ته راځی نو هر یو یو شهزاده دځان لپاره سپرگرزوی
او خپل ترمنځ هم مسابقه کوي.

عظیم خان شهزاده ایوب باچا کړ او پخپله ئی وزیر شو خو کله چی دوست محمدخان
غلبه پیدا کړه نو پر شهزاده سلطان علی یی خطبه وویله او پخپله یی وزیر شو.

پر دغه نام نهاده سلطنت دادواړه شهزادګان هم یو د بل وینو ته سره تږي شوه څو سلطان علي دایوب شاه زوی شهزاده اسمعیل په چاړه ووژل شو او دا کار په یوه سیلمستیا کی وشو.

دایوب شاه او د هغه دزوی دمنځه وړلو لپاره دعظیم خان بارکزی زوی حبیب الله خان پروګرام جوړ کړ خو ددوی دنیولو په وخت کی شهزاده اسمعیل دځان دفاع شروع کړه خو په دننه ارګ کی له ډیرو وهلوڅخه مړ شو او پلار یی ایوب شاه دحاجی علی چندولی په لاس کښیوت خو هغه دسردار پاینده خان زوی نواب زمان ته وسپاری او هغه پر رنجیت سنګ یو لک روپی خرڅ کړ.» (۲۵)

په دغه وخت کی چی سدوزی شهزادګان د تخت او تاج لپاره د خپل او بیګانه پروا نکوی او د تاریخ لوی مسئولیتونه پر سرا خلی افغانستان ته د دباندی لخوا لو یی فیصلی تراجرا لاندی نیول کیږی.

دایرانیانو ــ سیکانو ــ بخاریانو لخوا پر له پسی داحمدشاهی امپراطوری پر ضد حرکتونه روانیږی او داحرکتونه په پای کی داصلی برسازی لوبغاړی کوونکو څهره را څرګندوی چی هغه داروپایی استعمارد ډکر محبل قدرت بریتانیاوه.

دسدوزیو دکورنی وروستی باچا شاه شجاع دبارکزو دخانزادګانو له لاسه په پنجاب کی متوازی ؤ دانګریزانو او سیکانو په هدایت یی یوځل بیاد افغانستان دتاج او تخت هوس وکړاو دانود ۱۸۳۹ کال اپریل ؤچی دانګلیسی پلټنی سره کندهار ته راغی او د خپل نیکه په پایتخت کی یی دتخت نشنی نغاره وډنګوله.ده د دغه ناولی تاج دساتلو لپاره په کندهار کی دانګریزانو سره بلتړون لاسلیک کړاو مخ پر کابل راروان شو، کابل یی و نیوی او پسله تقریباً شل کاله یی بیا دبالاحصار په د لانو کی دعیش بساط خپور کړ. داځل دده زړه دفرنګی په سپه ډیر پوړه ؤ خوانګلیسانو د استعمار پر ضد په خاص ډول دځوا نیمرګ شهزاده محمداکبر بن امیر دوست محمد خان په رشادت دتاریخ ډیره غټه فیصله وشوه چی په

هغه کی نه یوازې انگلیس پلټن دشاشجاع لپاره پهٔدردونه خوړه شوه بلکه هغو خپل ځان لاهم حمایه نکړای شوای .

شاه شجاع چې دافغانستان اختیار او واک سیکانو او انگلیسانو ته‌بخښلی ؤ دونه‌پهٔتنگ شوچې د تښتې لار هم پرې‌ودیریده څو د ۱۸۴۲ کال داپریل دمیاشتې د دریمې ورځې‌په سهارچې غوښتل یې و تښتی د نواب زمان‌خان زوی شجاع‌الدوله د سیاسنگ سره سرکړاو په دې ډول دسدوزی کورنی کمبله ټوله‌شوه او هغه امپراطوری چې احمدشاه دلو یو پلا نونو پهٔتطبیق جوړه کړې وه شا شجاع پهٔدرونا چله قبایلو یعنی د(پېښور ـ لاهور ـ کندهار) دمعاهدو پهٔبدل سیکانو او انگلیسانو ته‌وسپارله .

شاشجاع واقعاً د ښکته معنو یاتو خښتن سړی ؤ هغه انگلیسان دخپلې اداری با داران بللی وه او هره موضوع یې هغو ته سپارله‌د لاندنی فرمان څخه انگلیسانو ته‌دده خلاص او د ملك پهٔاد ره کی دهغو واك ډیرښه څرگندیږی .

«معلوم عالیجاه ولی محمد خان درانی اسحق زایی بوده باشد! عریضهٔ مشعر بر حالات و خدمتگاری خود ارسال حضور ساطع النور بندگان اشرف اقدس نموده بود ید از نظر فیض‌اثر همایون گذشته مضامین آن‌حالی رای انورگردیده الحال سررشته و انتظام انجا در حضور خاقانی بسته‌شده هرکس بکارخود خواهد فهمید انعالیجا مهماتی که‌داشته باشید بعالیجاه رفیع جایگان ( سیجررا ولینسن صاحب بهادر ) ظاهر ساخته انجام پذیر خواهدشد صاحب مذکور هرکار وخدمتی که‌برذمه آن عالجاه گذارد و به‌آن عالیجاه بکوید بجا ورده تخلف وانحراف نورزندالطاف واشفاق همایون راشامل حال‌دانسته‌حالات‌انجا راسعروض داریدفی ۲شهر مذکور» (۱۳)

# فیوډالی خصیوصیتونه

## جاګیرداری:

احمدشاه داتلسمی پیړۍ پهدو همه نیمایی کیخپل وخت پهپر له پسی دوِل په سوقیاتو کی تیر کړ.دده سره چی قبیلوی سشران دقوسی قواؤ دقوما ندا نانو په توګه ملګری ؤ دجنګی ولجو څخهیی زیات څهتر لاسه کول او پهدر بارکی دقدرت موازنه هم پردغه اصل ولاړوه. په مځکه پوری مښتی جاګیرداری دوسره مهمه نهګڼل کیدهاوهغه خانان چید جاګیر په قدرت په دربارکی حاضریدل دهغو خانانو شاته دریدل چیداحمد شاه دسوقیاتو ملګری ـ ه وه.

پهدغسی ولجو او غنیمتونو سره پرسیدلی خانا ن دوسره قوی شوی وه چی پهډیرو موأردوکییی احمدشاه همتر فشارلاندی راوستی.

«په۱۷٦٦م کال کی چیداحمدشاه لښکر لهسیکانو څخهمات شوی ؤ او احمدشاه غوښتل چی بیاپرهندوستان ورشی خودغسی خانانو داغوښتنه ردکړهاوله دهڅخه یی وغوښتل چی دایران خواته دسوقیاتو پلان عملیکړی» (۱۴)

داحمدشاه‌تر مرگ و روسته دد مزوی تیمورشاه‌چی دیوما جراجو یه شهزاده پەتوگه یی قدرت تر لاسه کړی ؤ له‌داسی مسایلوسره مخامخ‌شوچی له‌خارجی سیاست څخه ددا خلی سیاست خواته زیاته پاملرنه وکړی .

تیمورشاه په‌یوه وخت کی له‌دؤ عکس‌العملونوسره مخامخ‌شو. دهیواد په‌جنوب ختیز کی‌شمالی هنداو کشمیرو روو رو بحرانی شواو په پایتخت کی‌هغه خانان اوقومی مشران چی د احمد شاه دربار یی ترنفوذ لاندی ؤ داحمدشاه دوا رثینو ترمنځ جنجال زړو رکړل چی‌تیمورشاه باید دخپل لاس اله کړی .

تیمور په لومړی سر کی دغه خانان په‌شدت وټکول اوداشرف الوزرا شاولی‌خان‌غوندی مقتدرسړی ککره یی‌هم‌له‌بد ن څخه بیله کړه خوورو روسته مجبورشوچی دخانانو په‌لاّ به کی هغه عرف وسنی چی د فیوډالیزم په‌نوی پروسه کی‌یی‌د افغانستان پرټولنه‌سیوری اچولی‌ؤ .

د ه پایتخت له‌کندهار څخه کابل ته‌را نقل کړ او ژمی به‌یی‌هم په پیښور کی تیراوه خودی هیڅ کله دهغو توطیو څخه فارغه ونه‌اوسیدی چی په قبیلوی سطح کی‌به‌و رته‌را اوچتیدی او اکثراء په‌دغسی توطیی په‌ډیرو وینوتویولو ختنی کیدی .

دباچاقبیله د درانی تبر په‌منځ کی د لومړی درجی امتیا زا تو څخه برخورد اره وه او بیادغه نورتبر امتیازات درلودل او په‌دوی پسی نورتبرونه‌واقع وه .

دغه امتیاز دجاگیر په‌ارتباط دجنگی خلکو دحاضرید وپه شمیر کی ډیرڅرگند و. دمثال په‌ډول : «په کندهار کی (۱۹۸۵) قلبی جاگیردرانیانو ته ورکول شوی ؤچی د دغه جاگیر په‌مقابل کی‌یی ( ۵۷۱۰ ) کسه خدمت ته‌حاضر کړی وه خو په مقابل کی ختکوۍ کاکړواوترینانوته‌چی(۱۱۰۰)قلبی په‌جاگیردرنیانوورکول شوی دی .(۲۸۹۰) کسه‌یی خدمت ته حاضر کړی وه» (۱۵) •

په‌دغه مورد کی (راولنسن) دامعلومات هم‌ورکوی‌چی «دد رانیانو څخه‌به‌پر قلبه‌دوه

تنه‌په نوبت سره خدمت ته‌تلل نو هر نفر ته ۲۵ تومنه معاش ورکول کیدې چې له دغه مبلغ څخه‌به ۱۹ تومنه نقداو ۶ تومنه‌په مالیه کې مجرا کیدل .»۱۶)

دبارکزو کورنی ته‌چې‌له سدوزو څخه امارت منتقل‌شو نو دوست محمد داسبر په‌نامه قدرت په‌لاس‌کې واخیست. دغو پایند خیلوسرداراو نو په ۱۸۲۶ کې یوه‌جرگه جوړه کړه او هغې ورځې افغانستان یې خپل ترمنځ وویشی.

دافغانستان پر هره یوه پراخه سیمه یوسردار یا څو سکنی وروڼه مسلط شوه‌دوی نه یوازې هلته دحکمرانی اداره درلوده بلکې داتهو له سیمه دد وی جاگیر ؤ او په دغه منځ کې یوشمیر نورجاگیرداران هم‌وه چې دکوچنیو فیوډالانو په‌توگه‌یې استفا دې کولی کوم میثاق چې دسردارپاینده خان زامنوسره لاسلیک کړاو اصل‌یې‌په کابل موزیم کې پروت دی یومهم سنددی . داسند د۱۲۴۲ ربیع‌الثانی په‌میاشت کې‌لاسلیک شویدی. جرگه دنواب عبدالصمد خان ترمشری لاندی چې‌مشرو رو رؤ جوړه شوه او دده په ضمانت پرتړون لاسلیکونه‌وشول .

۱) کوهات او هنگواو دهغه توابع چې پخوا بنگښ‌په‌نامه یادیده نواب عبدالصمد خان‌ته وسپارل شوه .

۲) پیښوراشنغر او دهغه توابع سردار یارمحمد خان سلطان محمدخان(طلایی) پیرمحمدخان‌او سید محمد خان ته‌ورکول شوه او پرامیر دوست‌محمد خان کښیښوول شوه‌چې‌یو لک روپې به‌دکابل له‌عایداتو څخه ورکوی .

۳) دننگرهاردغلجایی حصارک سیمه نواب عبدالجبار خان ته‌ورکول شوه .

۴) کابل کوهدامن‌ـلوگراو دهغه توابع تر بامیان پوری امیر دوست محمد خان اوسکه وروراامیر محمدخان ته ورکول شول .

۵)• سمت مشرقی (ننگرهار)لغمان جلال‌آباد ترخیبر پوری نواب محمدزمان خان او دهغه سکه ورونوته (اودنواب اسدخان زامنوته) ورکول شوه .

۶) دلوگر یوه بر خه- بتخاک-خر خ-میدا ن -غو ر بند سر دار حبیب الله‌خان او سر دار محمدا کرم خان (دامیر دسړه و ر و رسر دار محمد عظیم خانز امنو) ته‌و ر کو شو ل .

۷) کندهار له‌شاجوی څخه تر فر اه پو ری کندهار دلی سر دار انو (پر دل- کهندل‌شیردل رحمد ل-مهر د ل ) ته وسپار ل شوه .(۱۷)

هغه جاگیر و نه‌چی د محمدز و د کو ر نی سر د ار انو دامیر دو ست‌محمدخان په و خت کی‌ا خیستی وه دهغه تر مر گ و روسته چی‌دده دزا منو تر منځ داما رت پر سر تو ری سره پو رته شوی نو په چو ر ا و چپاو کی ډیر انتقالات پکښی را غلل.

دامیر عبدالر حمن‌خان په‌و خت کی‌چی دسر در ا نو په‌اړ خ کی‌دنو ر و ا قو امو څخه هم ځینی و اړه فیو ډالان را پو رته شوی وه کله کله چی به‌دامیردقهر او غضب هدف وگر ز یدل نو جایدادو نه به‌یی ضبط شو ل خو دغه امیر له سر دار انو سره ډیره احتیا ط کاوه او په‌دی یی‌هم افتخار کاوه چی‌دی تر هر امیر پر خپلو سر داری عز یز انو مهر بانه‌دی .

دامیر امان‌الله‌خان په و خت کی دجاگیر داری پر و سی په‌نوی شکل ځان ر ا څر گند کړ . په‌دغه‌و خت کی‌دامیر له خو ایو شمیر هغو لو یو جنگبی افسر انو ته چی خد متو نه یی کړی وه په پاداش کی‌مځکی و ر کول‌شوی او «دې دبز گر انو بی‌مځکی کید و په‌عملیه کی‌چټکی ر او ستله » .

دغی عملی چی‌لو یو ماموړینو او افسر انو ته‌په تقاعد کی مځکی و ر کول‌شی دظاهر شاه دسلطنت تر پایه دو ام در لو د .

دغو فیو ډالانو او جاگیر دار انو چی‌یوه خاصه طبقه یی تشکیلو له‌او دبا چا په کو ر نی یی‌اړه در لو ده نه‌یو اځی‌یی د مځکی څخه گټه اخیستله بلکی دتجارت او سو دا گیری شبکی هم په دغو کسانو پو ری اړه در لو ده‌چی په‌لاندی ډول به‌بی و څیړ و .

## دسوداگری بنه :

د احمدشاه درانی دسلطنت دوره یوه دفتوحاتو او تاخت وتازدوره وه . په دغه دوره کی تجارت په داخلی لحاظ دمحلاتو ترمنځ خپل پخوانی قبیلوی شکل وساتی او ترزیاتی اندازی دتبادلی سیستم رواج ؤ .خارجی تجارت دجګړی دتجارت رنګ درلود په دی معنی چی جګړه مارانو په هرځای فتح کړ نوله هغه ځایه څخه به یی دغنیمت مالونه هیوادته راوړل او دلته به دخراج په ډول په خرڅ رسیدل .

داحمد شاه درانی ترسلطنت وروسته دتیمورشاه دوری فعالیت د امارت داستقرار لپاره وقف شوی ؤ . که څه هم دا حمدشاه ترمرګ وروسته ددرباریانو او لویو قبیلوی خانانو ترمنځ اختلافات علنی شوی او ددوی په کشت او خون انجامیدل خو دهغه حد وو چی دسیاسی حاکمیت په لحاظ تثبیت شوی وه نو تجارت وروورو یو څه تعمیم کیدی . په خاص ډول داچی انګلسان او نوراروپایی اقوام په هندوستان کی داخل شوی وه نو دوی له ځان سره اروپایی اجناس چی نفاست یی دهر چاعلاقه جلبوله دتجارت په معرض کی اینبوول او درباریانو هغوته احتیاج درلود .

دتیمورشاه د سلطنت وروځی که څه هم نسبتاً مطمین وی خو تجارت یوائی په داخلی محووسه کی انکشاف وکړ او افغان تاجر داروپاله اجناسو سره تازه اشنا شو . دا اشنایی شازمان په دوره کی یوی نوی مرحلی ته داخله شوه هغه داچی دفرانسی څخه دناپلیون نمایندګانو چی دهغه لیک پسیی دشازمان دربارته راوړی ؤ فرانسوی اجناس په تحفه دربارته اهدا کړل .

دنولسمی پیړی له داخلیدو سره دغه تجارت هم پراختیا او چټکی پیدا کړه په خاص ډول هغه مهال چی دانګلسیانو سفیر (الفنستون) په ۱۸۰۹ کی دشاه شجاع سدوزی سره په پیښور کی ملاقات کوی نو هغه ته ډیر داسی سوغاتونه وړاندی کوی چی هغه په نفاست کی ډیر شهرت لری او ضمناً افغان تاجرته دعوت ورکوی چی دغه اجناس خپل هیواد ته وارد کړی .

په‌تولنامسمه تیو له پیړی کی تجارت دمحلی او خارجی حالت په‌ساحه کی دوا ردا تو او صادراتو یو تو ازن لری خو هرخو نه‌چی له‌خار ج سره د تجار ت پر اختیا ر اخی نو پر وار داتو دصادراتو موج زیاتیږی او اقتصادی تو ازن له بحران سره مخامخ کیږی ددغی پیړی په‌لوسړ نیو وختونو کی دهندوستان ـ ایران او بخارا سره افغان تاجر اشنا دی او سر بیره پر دغو ځایو دچینی تر کستان سره هم دتجارت رابطه شته خو دد غی پیړی په وروستیو وختونو کی افغان تاجر دروسیی او انگلیستان سره هم ا شنا کیږی او افغانی صادرات د(سن‌ـ پطر زبو رگ)او (لندن) تر ښارو پو ری رسیږی .

( دانگوس هملتون) دافغانستان تجارتی لاری داسی ښیی:

۱ ـ دایران څخه دتهران‌او مشهد پر لا ر هرات ته.

۲ـ دخیوا څخه دبخارا مرو او مرغاب دوادی پر لار هرات ته.

۳ـ دبخارا څخه دقرشی پر لاربلخ خلم او کابل ته.

۴ـ دچینی تر کستان څخه دچترال پر لار جلا ل‌آباد ته.

۵ـ دهندڅخه دخیبر او دگوالری دمعبر پر لار کابل او او کمس (آمو)ته

۶ـ دهند څخه دیو لان او گومل له‌لاری قندهار او هرات ته»(۱۹)

فر یر د دغه وخت دلارو په انکشاف کی‌چی دمناسبا تو له جبری پر اختیا څخه‌په عمل را غلی دی داخلی لارښی . فر یر دافغانستان سره دهند وستا ن دتجارت‌دوه اړخه روښانوی یو داچی پخپله دافغانستان سره رابطه وه او بله دافغانستا ن پر لاردایران سره دروابطو په برخه کی دافغانستان موقعیت هم پر ارزښت بولی. سربیره پر دی‌دافغانستان پر لار دچینی تر کستان سره دتجارت لار (لداخ)بو لی او پر دغه لار هم دافغا نستان حاکمیت پیژ نی دتجارت په‌لار کی د(بولان) څخه دکندهار څخه‌تر مشهد پو ری د یوی شاهر اه ذکر کوی چی پر هلمند تیر یده او ایران‌ته‌تله. همداډول دهرات څخه یوه لا ر پر(مرو) او (بخارا) را خلاصیده .

## دحمل و نقل و سایل او لاری؟

دتجارت لپاره چی خونه‌لاری پوره مساعدی نه‌وی نو دحمل ونقل وسایل هم‌دغسی غیر مساعده وی. یابوگان او اوښان له‌قدیم څخه‌دحمل ونقل وسایل وه. او هغه مهال چی دو ریښمو پر لار تجارت کیدی نو دافغانستان موقعیت ډیر ښه‌ؤاو ددی ځای دحمل و نقل وسایل دمحلی اقتصادلپاره ډیر ښه‌وسایل‌وه. دغه‌وسایل په۱۹ پیړی کی‌هم مستعمل‌وه خو دداخلی ناآرامی او محلی جګړو په اثر تجارت چندان مطمئن نه‌ؤ لکه‌چی (الفوفستون) ددغه وضع څخه‌ډیر خه‌لیکی. تجارت یواځی قومی خلکو کولای شو ای او هری تجارتی قافلی‌چی به‌حرکت کاوه نو مسلح خلك به‌ورسره روان وه. لکه چی دامیر دوست محمدخان په‌وخت‌کی عمده تجاران دغه کسان وه.

۱-سردار پیر محمد خان دامیر ورور.

۲-بی‌بی‌خجو دامیر دوست‌محمدخان ماینه دوزیر اکبر خان مور.

۳-محمدعثمان‌خان دنواب‌محمدخان زوی دامیر وراره.

۴-شادوله‌خان دنواب‌زمان خان‌زوی‌دامیر وراره.

۵-عبدالغنی‌خان دنواب جبارخان زوی‌دامیر وراه.

۶- سردار‌محمدافضل‌خان دامیرعبدالرحمن‌خان پلاردامیر زوی چی‌دبلخ تجارت یی‌په لاس کی.ؤ.

هغه کسان چی‌دسردارانو کورنی‌ته یی نسبت نه‌درلود او تجارت یی‌کاوه نو پس او تجارت یی‌مطمئن نه‌ؤ لکه دنا ظرخیرالله دارایی چی‌دامیر دوست محمدخان له‌خواضبط شوه او دی هندوستان ته‌وتښتیدی او دانګلیسانو تنخوا خوره‌شوی (۲۰)

دتجارت لاری په‌هغو ځایونو کی چی‌له غرواو درو څخه په تیریدی اکثراً به غلو نیولی وی او کله‌کله‌به دقومی مشرانو په‌لارښوونه‌پر تجارتی قافلو داړه‌وهل کیده. قافله‌به‌د پنځوسو څخه ترزرو اوښانو پوری جوړیده ساتونکی به‌یی پراسانو سپاره‌وه‌او

تو پکان بەورسرەوەدقافلی دیوی و رځی لارد ۸ ښخه تر۱۱ میلو پو ری وه او په ښارو نو کی لوی کاروان سر ایو نه موجو دوەچی پەهغو کی یەتاجرانو کوټی نیولی او خپل مالونه بەیی پخپله پەپرچون ډول خرخول(موهن لال)وایی چیدامیر دوست محمدخان پەدوره کی.لاری نسبتاً محفوظیشوی او تجارت په کابل کندهار پیښور او هرات کی ښه رونق پیدا کړ موهن لال وایی چی هرڅه تجارتی مالونه چیبه کابل تەراغلل اول امیرصاحب پخپله هغه کتل او هر څەچیبەیی پکښی په کار وه هغه بەیی را نیول او قیمتونه یی تر اصلی سر کښته تادیه کول دضرورت پەوخت کیامیر دتجارانو څخه پەزوره هم پیسی اخیستی او په ۱۹ پیړی کی دسدوزو دشهزادگانو او بادمحمدزود شهزادگانو ترمنځ پرله پسی جگړو دسوداگری سره خلکو علاقه کمه کړی وه او اکثرو تجارانو پیسی په طلا اوسرو زرو اړولی او بیایی پټی ساتلی.

خارجی تجارانو خپلمالونه پخپله نەبازارته کول ځکه دچو راو چپاول بیرەوه او اکثره پدیی سیدان خپلنمایندگان کړل او هغو به دغەښا لونه پەاصطلاح و بلول الفنستوندسدوزی شهزادگانو یعنی دتیمور شاه داولادی په وخت کی دواردات او صادراتی تجارت څخه یوشمیر اطلاعات وړاندی کوی.الفنستون وایی چی هندوستان ته دافغانستان صادرات بالعموم داقلمونەوه.(اسان یا بوگان ـملتانیجیت ـرو ناس ـانقوزه ـپوست ـ تنباکو ـ بادام پسته چارمغز (جوز) پسته اوو چی میوی وی .لندی میوی همصادریدی هغەپه پنبه و کیاینبودل کیدی او د لرگو په صندوقانو کی لیږل کیدی دهندوستان څخه واردات داقلمونەوه. (پنبەیی ټوکران ـ ململ و ریښمین ټوکران ـدریف ـنیل ـکاج ـتباشیر ـهندی لرگی ـ موم دصندلیلرگی شکره او څەنور نفیس شیان.

سربیره پردی دبخارا او ترکستان سره هم دافغانستان دتجارت پەباره کیاطلاعات لری. دواردانو لوی قلم اسان او دبخارا مسکو که طلاوه او د روسیی څخه هم ځینیمالونه لکەتشتیشیی روسی خرمنی او داسی نوروه.

دافغانستان څخه اکثره هندی مالونه بخاراته صادریدل همدا ډول ایران ته دافغانستان نه صادرات شالونه ـ تیل ـ هراتی قالینی ـ ملتانی چیت ـ کمخاب ململ او کابلی شالونه او پټوان وه . دایران څخه خام وربښم ـ وربښمین ټوکران او وریښمین دسمالونه واردیدل ـ خاصک دوزی اطلسونه او ځینی دسرو زرو او سپینو زروسکی په دغه وارده کی شامل وه .

دالفنستون په قول دکافرستان (نورستان) څخه شراب سرکه ـ پنیر تصفیه شوی کوچ دهندا و کابل (افغانستان) پر سرحداتو به دځینو شیانو تبادله کیدل او یو شمیر کافران غلامان هم له دغه ځایه راوستل کیدل .

الفنستون وایی چی دافغانستان اسان په شمالی هند کی دکابلی اسانو په نامه او په غرب کی دقندهاری اسانو په نامه خرڅیدل په داسی حال کی چی دا اسان نه دکابل وه نه د قندهار بلکه دهندوکش دشمال څخه راوستل کیدل داسانو لوی مارکیټ بلخ او بخارا وه ترکی اسان فی راس دپنځو څخه ترشل پونډو پوری او ترکمنی اسان له شل څخه ترسلو پونډو پوری قیمت درلود .(۲۰) دوه قرن په اوایلو کی دافغانستان د تجارت په باره کی (انگریز برنس) هم یو شمیر راپورونه لری .نوموړی "بخارا دسفرونو) په نامه په خپل کتاب کی نه یوازی دبخارا تجارتی موقعیت بر ازنده بولی بلکه کابل دترکستان خواته دتجارت یو لوی مارکیټ بولی اوو ایی چی کابل دهند و کش دهاخوا پر بازارونو یو ثابت تاثیر لری برنس وایی چی تر ۱۸۱۶ کال پخوا دروسیی مالونه دبخارا پر لار په زیاته پیمانه افغانستان ته واردیدل» (۲۲)

په دی کی شك نشته چی دشاشجاع له دربار سره دانگلیسانو داسنایی اثراو ترهغه وروسته دشامحمود او حتی امیر دوست محمدخان په وختو کی دبریتانوی هند تجارت نسبت دروسیی تجارت ته زیات انکشاف وکړ .

برنس په خپل راپور کی داهم وایی چی دکابل تاجران دروسیی دامپراطوری لخوا ډیر تشویق کیږی . دتجارتی اقلامو په باره کی تر هرڅه دمخه دچایو تجارت ته اشاره

کوی او داغه سهال دی چی بخارا او دافغانستان شمالی خواوی دچایوسره ډیر عادی شوی او داچای که لویوی خوا دکابل اه‌لاری هلته وړل کیدی نوله‌بلی خوا د (یارقند) له‌لاری چینی چای هلته رسیدلی او د چینای‌چایو سوداگرانو چینایی معامله کونکو ستاینه کوله او ددوی شرایط سهل بلل.

برنس دهند شرقی کمپنی دتاسیس څخه وروسته دغو خواؤ ته‌دتجارت‌دانکشاف کارپه چټکی روان بولی.

دامیر دوست محمد خان په‌وخت‌کی پرتجارت مالیات هم‌وتړل شوه چی (سرانه‌مالیات) بلل کیده او په‌بدعت سره یادیدل. تجارت یوڅه انکشاف پیداکړ په خاص ډول دروسی او بخارا طلایی سکه زیاته رواج شوه چی له‌افغانستان څخه‌به‌دامرتسر پر لارهند ته‌صادر یده (فریر) وایی‌چی «تجارت تر ډیره ځایه دپارسی وانانواو هندوانو په لاس کی‌ؤ او پدی پسی سیدانو داکارکاوه یوشمیر هزاره‌گانو اوازبکانو داسانو تجارت کاوه چی هغه‌به‌یی ښکارپورته بیول‌او هلته به‌یی‌په‌انگلسی مالونو تبادله کول.»

دامیر دوست‌محمد خان په‌وخت‌کی دپوستین او پوستنچی صدور تر ډیره ځایه ترقی وکړه او ددغه متاع دعرضی لوی مارکیټ په غزنی کی‌ؤ. (بیلو) نومی انگلیس مورخ چی‌دامیر دوست‌محمدخان معاصر دی د غزنی دغه صنعت ډیر ستایی او وایی چی دغزنی تولیدات دبولان‌دری له‌لاری کراچی‌ته صادریدل او له هغه ځایه انگلیستان ته‌وړل کیده‌دهمدغه وخت د تجارت دپوره پیژندنی لپاره د(ډیویس‌راپورټ) پوره اطلاعات لري چی‌دلته دهغه خلاصه راوړو په دغه رپورټ‌کی دمعروفولارو څخه‌داسو الوعبورمعرفی کیږی.

دتاتری او انجانی‌له‌دری څخه:

وارادات ۱۰۶۰۱۳ پونډه

صادرات ۱۲۰۶۴۳ پونډه

۲۷۷۱۵۶ مجموع

دگولری ؟ (مجمهول ) دری‌له‌لاری .

واردات ۱۳۰۰۰ پونډه

صادرات ۱۶۴۰۰ پونډه

۲۹۴۰۰ مجموع

دبولان ددری پرلار:

واردات ۳۱۸۷۰ پونډه

صادرات ۱۸۸۹۲ پونډه

مجموع ۵۰۷۶۲

| تولہ واردات | تولہ صادرات | تولہ مجموع |
|---|---|---|
| ۳۱۸۳۸۳ پونډ | ۳۰۳۵۳۵ پونډ | ۶۲۱۹۱۸ پوند |

محصولات :

دراهداری رسوم : هغه اموال چی د خیبرله‌د ری څخه تیریدل محصول یی‌په دی‌قرار ؤ یوسپوریاداو بن بار (۴روپی)دتاتری له‌دری څخه یوسپورياا‌و بن بار(۲ روپی‌او ۲انی فی‌پیاده (۱۸)نی دانجانی‌له‌دری‌څخه فی‌سپور۲روپی او فی‌پیاده(۸) انی‌محصول اخیستل کیدی

دامیر دوست‌محمدخان ترمرګ وروسته چی دهغه دزامنوترمنځ یوځل بیادمخا لفت اور بل شونو دافغانستان داتحادشیرازه بیاوشلیده او په‌بنارو کی کوچنی پاچهانو اقتدار په‌لاس کی واخیست خو کله چی امیرشیرعلی خان قدرت حاصل کړنودیو څومحدودو کلونو لپاره دارامی په‌استفاده تجارت بیایوځه رونق‌پیدا کړ خود بر یتانوی هندله‌دربارسره‌دافغانی امیر اختلافاتو تجارت پوره‌ښکښف نه کړ ددغه وخت دتجارت په‌باره کی( )

مؤرخ‌چی‌اثریی د۱۸۷۸ م‌حدودو کی‌چاپ‌شو یدی‌لیکی دافغانستان حرفوی تولید ات یوځه وریښم‌دی‌چی‌په‌داخلی‌صنعت کښی‌پکاریږی‌هراتی قالینی چی‌هندته صادریږی هلته‌د ایرانیو قالینو په‌نامه خرڅیږی نورنوکراستی چی دپسو، اوښانواو بزوله وړ یوځخه جوړیږی

او هغه تسبیح دی چی دانی یی دز برجد و اویا ژ روعقیقو څخه جوړ یدی» نو موړی و ایی چی: دافغانستان صنایع هغه‌لستو نه‌احتوا کوی چی دنیمه تمدن ژ و ندنمایندگی کوی »
فیشر و ایی هز ارگان‌او ایماق خپلی وړی نه‌صادروی بلکه دهغو څخه قالینی جوالو نه‌او قالینچی او بی)فیشر کو چیانو ته اشاره کوی او وایی چی‌دوی داسیا کښته دخورا قدیموسو داگر انو نمایندگان دی‌چی دهند او تر کستان ترمنځ اوس هم په کښته سو یه‌د غه کار کوی .دوی د اندوس تر غاړو پو ری راځی‌خو په‌لار کی تهدید، جنگ فر ارسره مخامخ کیږی او په‌رشوت له‌غارتگر انو څخه‌ځان خلاصوی »په‌دغه وخت کی‌دلارو دخر ابی تذکر سیدجمال‌الدین هم په‌خپل اثر (تتمت‌البیان‌فی‌تاریخ افغانی) کی کوی .
دامیر عبدالرحمن‌خان دسلطنت لو مړ‌یلس کلونه یعنی د۱۸۸۰ څخه‌تر۱۸۹۰ پوری د امیر لپاره‌دجنگ‌اوجگړی‌اوقتل اوقتال کلونه‌وه.په‌دغووختو نو کی عمو می وضع دیو خاص تشنج سره مخامخ وه . تجارت خو نه‌ؤ خو غارتگری په‌خپل تو له قوت جاری وه.
داهغه کلو نه‌وه چی‌امیر دمحلی خانانوسر و نه غو څو ل او دانگلیسانوسره‌یعنی دهندله و ایسر اگانوسره‌یی پټ‌تما سو نه درلودل او هغو هم‌په دغه امتحانی دوره کی له‌خپلو تجارتی منافعو څخه سترگی پټی کړیوی .
دامیرله‌لس کلن پاچهی څخه و روسته‌په‌یو جانبه ډول انگلیسانو ته‌دسرحداتود تعینی ارزو پیداشوه او دانو هغه مهال دی چی انگلیسانو به‌یو اځی‌دافغانستان سیاسی حد و د مطالعه کول خو بالاخره دډیو رنډپه کرښه انجام شوه .
له‌دغه وخت څخه تجارت په ښه توگه یو مطمئن شکل غوره کړ .
د(هملتن) مطالعات چی‌دامیر معاصر ؤ دافغانستان دتجارت په‌باره کی‌یو زیات‌شمیر احصایه وړاندی کوی او له‌دی څخه معلومیږی چی‌د ۱۸۹۲ څخه تر ۱۹۰۰ پوری د افغانستان تجارت کی دتادیاتو بیلانس ډیر وړاندی تللی دی ، البته په ځینو مواردو کی یی گراف کله را کښته کیږی خو په عمو می ډول مخ په‌وړاندی ځی.

په دغه تجارت کی امیر د روسیی سره هم د تجارت د روازه نه ده بنده کړی خو د هندسره تجارت ی ډیر په قوت انکشاف موندلی دی د هلمتن په (افغانستان) نومی کتاب کی د افغانستان د صادراتو لوی قلمونه بیا هم اسان، د واوبوتی، پسونه، میوی، غوړی او وړی شاملی دی او په وارداتو کی (پنبه یی رسی، رنگه مواد، تو کران، خرمنی، ژړ، مس، او سپنه، بوره، او چای شاملی دی.

هلمتن: د افغانستان د وارداتو او صادراتو رپوټ داتو کلونو په دوران کی د اسی ښیی چی حساب یی درو پی په تناسب دی.

دشمال او ختیځ خوا واردات او صادرات

کال ۱۸۹۲/۱۸۹۳ = ۱۸۹۳/۱۸۹۴ = ۱۸۹۴/۱۸۹۵ = ۱۸۹۵/۱۸۹۶

۲۲۰۸۵۰ — ۱۸۸۸۲۱ — ۱۶۰۴۰۰ — ۱۶۵۰۰۳

واردات:

کال ۱۸۹۶/۱۸۹۷ — ۱۸۹۷/۱۸۹۸ — ۱۸۹۸/۱۸۹۹ — ۱۸۹۹/۱۹۰۰

۱۵۱۵۳۸ — ۱۲۹۱۱۰ — ۲۱۷۲۳۵ — نا معین.

صادرات ۶۱۰۵۰۱ — ۴۰۵۲۱۵ — ۲۶۷۲۶۵ — ۳۰۶۲۳۲

۲۹۰۱۶۲ — ۲۷۴۶۳۸ — ۲۹۲۶۰۵ — نامعین

دجنوبی او غربی افغانستان واردات او صادرات

واردات ۳۴۴۲۸ — ۳۳۵۸۴۹ — ۲۹۹۰۹۰ — ۴۱۰۵۴۱

۴۱۸۴۰۵ — ۳۰۹۲۹۹ — ۳۲۹۹۱۷ — نامعین

صادرات ۲۹۷۶۵۷ — ۳۲۸۱۷۲ — ۲۰۹۷۶۲ — ۲۵۷۰۰۲

۲۲۷۳۷۶ — ۱۶۳۷۸۵ — ۲۶۳۸۸۴ — نامعین

مجموعی قیمتونه:

۵۳۲۰۸۵ — ۶۶۴۰۲۱ — ۶۰۸۸۵۲ — ۶۶۷۵۴۳

۶۴۵۷۸۱ — ۴۷۳۰۸۴ — ۵۹۳۸۰۱ — ۷۱۴۳۱۸ (۲۴)

# دانگریزانو پرغل اودافغانانو مبارزه

## داستعمار چپاو .

دنولسمی پیړۍ له پیل سره دانگلیس او فرانس ترمنځ داستعماری مستملکاتو پرسر دسیالیو لوبه دار وپا څخه ختیځ ته را نقل شوه .

دفرانسی امپراطور بوناپارت ناپلیون دیوه تاکلی پلان له مخی غوښتل په هندکی دانگلیس نفوذته خاتمه ورکړی نوله دی کبله یی دافغانستان اوایران سره دداسی روابطو قیام ته اقدام وکړچی غوښتل یی هغوی په هندکی دانگلیس دمخ نیوی لپاره استعمال کړی.

دنونسمی پیړی له پیل څخه دری کاله وړاندی هغه مهال چی ناپلیون لا په مصرکی په فتوحاتو لگیاؤ پیغام یی دسدوزی شازمان دربارته ورسیداوکله چی انگلیسان پدی خبر شول نو ډیر وارخطا شول . په همدغه وخت کی شازمان په لاهورکی دسکانوله مشر رنجیت سنگ سره موافقی ته رسیدلی ؤ او غوښتل یی چی ډهلی ته سوقیات وکړی .

ددی لپاره چی دشازمان مخ له هند څخه گرزید لی وی دهندانگلیس گورنرجنرال لار ډولزلی خپل یونماینده سرجان مالکم دسفیر په توگه دایران دربارته واستاوه او هغه په

(۱۸۰۱) کال کی دایران له دولت سره یوه پنځه فقره ایز تړون لاسلیک کړ. په‌دغه کار سره انګلسان پدی بریالی شول چی پر هند دشاز مان دسوقیاتو مخه ونیسی مالکم پدی باب داسی لیکلی دی:

«زمان شاه به‌نورونه کولای شی چی په هند کی موږ ته زحمت تولید کړی دخدای په فضل درا تلونکو کلونو لپاره به‌دوسره مشکلات‌او مسئولیتونو دننه په افغانستان کی ورته پیداشی چی‌دفکر کولو موقع به‌هم ورمیسره نشی.»(۲۵)

دغه پنځه فقره ایز تړون دوی مادی چی دانګلیس دنماینده او دایران‌حاجی محمد ابراهیم ترمنځ لاسلیک‌شو یدی‌پدی ډول دی:

دوهمه ماده: که‌دافغانستان باچا تصمیم ونیسی چی‌پرهند حمله وکړی ـ ځرنګه‌چی دهند اوسیدونکی دانګلستان دبا چارعایادی یومنظم عسکر به‌دایران دا علیحضرت‌شهنشاه لخوا افغانستان ته‌واستول شی چی هغه هیواد تارومارو ران ویجاړ کړی او ستری مجاهدی به‌وشی چی‌هغه هیواد مضمحل او پریشانه شی دریمه ماده: که‌دافغانستان باچادسولی‌اودو له‌لاری‌وړاندی کیږی دسولی دشرایطو دتعین په‌وخت کی‌به‌دایران شهنشاهی دولت دغه مسئله حتمی روښانه کوی چی دافغانستان باچا اولښکریی‌پرهند باندی دیرغل مفکوره دتل لپاره له‌خپلی ککری ځخه وباسی.» (۲٦)

له‌همدغه وخت ځخه افغانستان دبریتانیا داستعماری مقاماتو پاملرنه جلب کړه. کله چی انګلیس په‌هندکی مستقر کیدی نودافغانستان موقعیت یی‌د اسی لیدی چی له‌دغه ځایه پرایران ،چین او منځنی آسیا دتجاوز لپاره یوه مناسبه اډه.

په‌۱۸۰۹ کی هغه‌سهال چی‌شاشجاع الملك باچهی کوله دانګلیس نماینده مونت ستیوارت الفنستن ددغه باچا ژمنی پایتخت پیښورکی دغه سره یوتړون‌لاسلیک کړ چی عمده مضمون یی‌داؤ ـ چی که‌ایران یافرانسه د(ختیځ هند انګلیس) کمپنی‌پرمتعلقاتو حمله‌وکړی افغانستان به‌دانګلیس په‌طرفداری راولاړیږی.

کله‌چې دناپليون له‌پلوه دانگليس تشويش رفع شو او ناپليون‌له منځه ووت نو انگليسانو په‌خاصه توگه داقتصادي او نظامي پلوه منځنۍ آسياته پاملرنه وکړه او افغانستان يې پردغو سيمو دخيز ديوی تختې په‌توگه وتاکی .

په‌لومړی سر کی‌يې سکان ودی ته‌تشويق کړل چې دافغانستان ختيځی سيمی په‌خاصه توگه پيښور او کشمير اشغال کړی ـ دانو هغه وخت وی چې‌شاه شجاع ديو شړل‌شوی پاچاه په‌توگه دانگليس ترحمايت لاندی په‌لودهيانه کی اوسيدی او هند ته‌لاره‌دا کليند دگورنر جنرال په‌توگه‌را غلی ؤ .

دبارکزو د کورنی څخه دسردار پاينده‌خان‌زوی دوست‌محمد خان دامير په‌توگه حکمروايی کوله هغه لارډاکليند ته‌وليکل چې‌دسکانو څخه دپيښور په خلاصولو کی مرسته وکړی خو هغه په‌جواب کی‌ورته وليکل :

«گران ملگريه! تاسو خبرياست چې‌دانگليس دولت هيڅکله نه‌غواړی چې دنورو خپلو اکو هيوادونو په‌چارو کی دخالت وکړی .»(۲۷)

ايا‌انگليسانو په‌رښتيا دنورو په‌چارو کی مداخله نکوله؟

خو دامداخله نه‌وه چې په ۱۸۳۰ کال کی يی‌الکزاندر برنس په‌پټه‌ماموريت‌د رنجيت‌سنگ دربارته واستاوه او بيا دغه سړی د ۱۸۳۱ کال څخه تر ۱۸۳۳ کال پوری ديو مسلمان سوداگر په‌بڼه په افغانستان ـ بخارا او ترکمنستان کی‌وگرزيدی او داسيمی يی‌ټولی له‌مطالعه کړی ـ وروسته دايران له‌لاری هندته‌اوله هغه ځايه لندن ته‌ولاړ او خپل مطالعات يی‌په دری جلده‌کی خپاره کړل . همدغه او داسی نورمطالعات وه چې دبريتانوی استعمار دايلغار رونو دلاری ځراغ شول .

امير دوست‌محمددانگليسانو له‌وضع څخه پوره خبر ؤ او ددي لپاره چې‌دانگليس دتجاوز په وړاندی‌يی ديو بل متقابل قدرت ملگری حاصله کړی وې په ۱۸۳۶ کی يی دتزاری روسيې دامپراطورلومړی نيکولای په نامه دالاندی‌ليک وليږی :

«... له پخوا څخه سدوزیو او بارکزیو د کورنیو په منځ کې عناد او نفاق موجود دی او ورځ په ورځ لا پیاوړی کیږی. دانگلیس دولت دشاه شجاع الملك سره چی دسدوزیو دکورنی څخه دی دکابل سلطنت دنیولو لپاره مرستی کولی له بلی خوا د انگلیس حکومت له رنجیت سنگ سره چی زماسره دجنگ حال کی دی او غواړی چی پېښورونیسی دوستانه او صمیمانه روابط ټینګ کړی دی پر خلاف زما او زما دکورنی سره ورځ په ورځ منا سبات پری کوی ځکه زه تل له سکانو سره په مجادله کی یم تر اوسه د افغانستان پر لوری دهغو پر مختگو نو مخه نیسم.

ستاسو دامپراطوری حکومت دایران له دولت سره دوستانه روابط ټینگ کړی دی هغوی دانگلیسانو په مقابل کی تقویه کوی که په همدغه ترتیب دروسیی حکومت د افغانستان له ملت سره چی وگړی یی تقریباً شل لکه کورنی دی مرسته وکړی نوما به خورا ممنون او سپاس گذاره کړی پدی صورت کی به زه زما کورنی او نور افغانی قبایل وکړای شی په بیلو بیلو مسایلو کی تاسو ته گټور واقع شو ـ البته دا یوه مسئله ده چی کولای شی و یی ازموبی او زموږ په باره کی دا مداد په هکله تصمیم و نیسی.» (۲۸)

دغه پیغام دامیر دوست لخوا حسین علی خان په وسیله ولیږل شو. دانماینده دبخارا او اورنبورگ له لاری ولاړ او داورنبورگ دنظامی گورنرواپیروفسکی سره ترکتنی وروسته هغه (ویکتروویچ ـ ویتکوویچ) موظف کړ چی ترپتربورگ پوری ملگری ورسره وکړی.

دروسیی دخارجه چارو دفتر همدغه ویتکوویچ موظف کړ چی دحسین علی سره افغانستان ته راشی او دلومړی نیکولای لیک چی نیټه یی ۱۸۳۶ ـ دسمبر ۱۲ وه امیر ته ورسوی. حسین علی په لار کی ناروغه شو او ویتکوویچ د تفلیس، تهران، هرات سیستان او کندهار له لاری کابل ته راغی. (دروسیی تزاری دربار) ویتکوویچ ته لارښوونه کړی وه چی امیر ته څو مسئلی روښانه کړی. لومړی امیر دوست محمد باید دکندهاری کهندل خان

سره خپلې کورنې شخړې پای ته ورسوي. ځکه دغسې وضع دوی د دښمنانو په وړاندې کمزوري کوي، هم دا رنګه دا ایران سره دوستي او مرستې ته ارزښت ورکړي څو د ګډ دښمن په مقابل کې پیاوړي واوسي. په پای کې څرنګه چې د لارې دلیري والی له کبله د روسیې دولت موثره مرسته نشي کولای همدردی به وساتي او د ایران په وسیله به د دوی حمایت وکړي.» (۲۹)

کله چې ویتکوویچ کابل ته راورسیدی انګلیسانو تر دې پخوا الګزاندر برنس په ښکاره د سوداګرۍ د خبرو لپاره خو په بطن کې د امیر دوست د خارني لپاره چې د روسې سره څو مره روابط ساتي کابل ته رالیږلی ؤ. برنس د پېښور په باب د امیر غوښتنه تاید وله او د مرستې وعده یې ورکوله. ده غوښتل چې د لا رډا کلیند په موافقه دا میر سره یو تړون وکړي خو اکلیند د غه کار ته حاضر نه ؤ او ۱۸۳۸ کال د جنوري په شلمه یې سیاسي دفتر د امیر میکناټن په لاسلیک یو مکتوب وا خیست چې په هغه کې ورته لیکل شوي وه چې د ده نظریات د انګلیس له ګټو سره منافي دي.

د برنس څخه د امیر د ما یوسه کیدو سره ویکتوویچ کابل ته راورسیدی او امیر هم د تزار امپراطور د نظر یې د منلو سره خپل زوی له ویکتوویچ سره کندهار ی کهندل خان ته ولیږي.

د روسیې د نماینده سره د امیر لیدنې بریتانوي مقامات دلیونتوب حد ته ورسول او سمدستي پدې تصد د کې شو چې شجاع الملک باید د خپل یو ما تحت په شان د افغانستان تولواک کړي.

د همدغه مقصد لپاره د لاهور تړون چې د دري جانبه تړون په نامه یادیږي د شاه شجاع او رنجیت سینګ تر منځ لاسلیک شو او د انګلیس نماینده هم د یو ضامن په توګه پر هغه لاسلیک ولګاوه.

د دغه تړون څخه وروسته نو د ۱۸۳۸ کال د اکتوبر په لومړۍ نیټه (د سملی اعلامیه)

صادره شوه چې په‌هغه کې پر امیر دوست محمد انګلیس دد ښمنی الزامونه لګول شوی وه او په‌د غو الزامونو کې‌د روسی سره‌د امیر سکتیه یولوی جرم ګڼل شوی وه اودادسانډو د که خبره پر زیاته سوی وه چې (اعلیحضرت شجاع الملة) چې‌په خپل ملت کې د یر محبوبیت لري افغا نستان ته‌ځي او د انګلیس لښکر به‌و رسره ملګری وی څو د پر دو دتیری مخه و نیسی یادد اخلی شورشونو په وړ اندی هغه حمایت کړی.» (۳۰)

ددغې اعلا میې‌په باب د انګلیس معروف مؤ رخ (ج.کی) پر حق و یلی وه :

«...دااعلا میه‌که دمطلقو جملی اسناد ومجموعه و نه‌بلل شی‌نو دحقایقو دبی‌شر مانه ترین تحریف څخه‌یی سترګی‌نسی پټولای .» (۳۱)

د۱۸۳۸ کال دنو امبر په ۱۰ شاهشجاع دلود هیانی څخه دا نګلیس تر جندی لاندی‌افغا- نستان ته‌راروا ن شو .

دانګلیس قو اوی په‌ډیر تکلیف تر بو لان را تیری شوی. بر نس دبلو څی کلات‌څخه‌په‌زو ر دلښکر و لپاره خو راک اخیست او هغه مهال چې بر نس‌دقلات له سپین ږیری خان مهر اب خان سره و کتل هغه ته‌یی و و یل چې دبر یتانیا لښکر افغانستان ته‌داخل شو یدی نو هغه په تعجب و رځې دپو رته خواته‌کش کړې او په‌لو ړآوازیی و یل: تاسی هغه هیوادته داخل شوی یاست داډیرښه دی خو څرنګه به‌ځینی راو زی ؟ » (۳۲)

داپر یل په نو نلسمه و رځ راتښتید لی پاچا چې تقر یباً دیرش کا له‌یی‌دانګلیساتو دیو تالي څښې په‌توګه دانګلیس په‌خدمت کی‌ژ و ند تیر کړی ؤ دانګلیس دلښکر وپه‌سر سته کندهار ته‌ننوت دغه‌ښار ته‌دده دننو تلو او تاج ګذاری‌سر اسم دشو روی اتحادمعاصر تار یخ پوه‌نفت‌اله خالفین په خپل یوه تازه اثر کی (انګلیسان دافغانستان پرضد. ۱۹۸) کی داسی‌ا نځو روی .

دشاهشجاع دتو دهر کلی‌په باب میکناتن اکیلنډ ته دلند ن مقاماتو ته درواغونه‌و یل داحقیقت نه‌ؤ بیله څو تطمیع‌شوی فیو ډا لانو څخه نو ر هیڅوک حاضر نه‌وه چې له‌دغه خاین سره وګو ری ـد انګلیس افسر ان چې سري او په زرینو ګنډل شوی دریشي یی‌اغوستی‌وی

ده کيني خواته روان وه او تقريباً لس کسه دده افغانان ملګري چي‌خيرن او شيری شيری کالي‌يي اغوستي وه‌دده شي خواته تله ـ د دغي جوړي شوی صحنی لپاره هم د سلو کسو په‌حدود کی حاضر شوی وه چي هغو هم دنارضايتي ناري و هلي چي‌ولي پر دي لښکر دذوی په وطن کی‌مداخله کړيده . » (۳۳)

دشوروی اتحاد د همدغه مؤرخ دشجاع الملك د شخصيت په باب داسي ليکي :

«د کاليو تنګ نظره او ابن الوقت سړی ؤ چي د کابل څخه په‌يوعاجل فرار په لودهيانه کی دا نګليسا نو ترحمايت لاندی پريوتی اوديو تالي څټي په‌توګه يي ديرش کاله انګليسا نو دسياست بازيو په لوبه کی ديوی الي په شان کار کاوه اودخپل‌وطن‌دغو دښمنانو سره ډير وفاداره هم‌ؤ او هغو نفقه ورکوله.»(۳۴)

شاشجاع په‌کندهار کی تر رسيد لو وروسته داحمد شاه زيارت ته‌ورغی او بيايي دماليا تو د کمولو اعلان وکړ. په‌هغه پسي يي دانګليس‌دلښکر ويوه قوماند ان (جنرال کی) ته‌يوه توره وبخښله او دلته يي يوځل بيا پر يوه تړون دا نګليس سره لاسليك وکړ چي دلاهور تړون به‌ښه تقويه شي.

دغه دانګليس دلاس نانځکه دانګليس له لښکروسره د کابل خواته راوخوځيدله‌په‌غزني اوقلات کی دمقاومتونو سره مخامخ شوخو کابل ته‌راغی- په کابل کی‌دده دراتګ انځورجان ويليام کی داسی کښلی دی :

«د۱۸۳۹کال داګست دميا شتی شپږمه‌ورځ وه‌چي دبريتا نوی عسکرو دسرنيزو د پلوشو په ځليد واو د انګليسی پيسو تر تاثير لاندی شاه شجاع الملك چي‌په زروګنډلی او جواهر نشانه کالی يي‌اغوستي وه پرسپين آس سپور دبالا حصارما نی ته‌ننوت دده‌په اړخ کی‌سرويليم ميکناتن اوسر الګزاندربرنس پدی نيت روان وه‌چي‌داسد وزی نا نځکه‌دا افغانستان سلطنت ته‌ورسوی د کابل اوسيدونکی د سيل لپاره راغلی وه او انګليسانو زيار وويست چي‌داپاچا وساتي ځکه داخودوی راوستلی ؤ چي تخت ته‌يي رساوه .دغه‌تشريفات

دخلکو په‌نظر کی دجنازی دتشیع په‌شا نۀ نه داسی چی‌یو تولواک پر تخت کښینی.» (۳۵)

## د(اکلید،مکناتن،برنس)ناکامه‌طرح :

کابل ته‌دشا شجاع له‌رارسیدوسره‌عام نفرت په‌ګنګوسی‌بدل شواوګنګوسی په‌قهراو دغه قهر په یوه لوی قیام واوښت چی دحوادثو عواقب یی و انګلیسی استعمار ته‌ډیر خواشینی‌وه.

شاه شجاع دډیر وعقدوخخه ډک‌راغلی ۇ اود غچ اخیستلو لمبی یی‌تر ځیګر وتلی.

ددیرشو کالو په دوران کی‌ده په بریتانوی هند کی یوه داسی تربیه اخیستی وه‌چی ددی مځکی دقبیلوی عنعنی سره‌یی ډیر توپیر درلود . ددی سیمی هغه قبیلوی خانان چی‌په مستقیم ډول دخپلو قومونوسره اوسیدلی وه کلکه‌قبیلوي مورال یی‌درلود خودغه متواری باچا دانګریزتر قیمومیت‌لاندی یواځی پدې داده ۇ چی دخپلو خلکو پرمخ به‌د استعمارقدرت هغوی‌ته په‌ده‌راضی کړی. ولی دغه اشتباه هغه وخت ده‌وانګلیسانوته ځرګنده شوه‌چی په‌کابل کی یی خوشبی تیری کړی.

میکناتن چی‌دبریتانوی هند کمپنی یومغرورسړی و او په لندن کی‌سیاسی دفترونو هم پیژندی او په نظر کی نیول‌شوی ۇ چی دبمبی‌ګورنرسی خودوخت اوموضوع حساسیت ودې‌ته وظیفه ورسپارلی وه‌چی دمرتجع باچاشاشجاع رهبری وکړي.

دغه مغرورسړی په‌کابل کی‌ډیری ناخوالی پیل کړی ـ لوسړی یی دغه ناخوالی‌د شاشجاع په ذریعه کولی خوورو‌سته چی جبون شاشجاع دوضع له‌وخامت خخه‌وبیریدی اود میکناتن اوامریی یوخه معطلول نومیکناتن پخپله په‌کارپیل وکړ . ده دانګلیس هغونقشوخخه‌په استفاده په ټکا رپیل وکړ چی‌دمکیاولزم دشمزی حیثیت لری اوداسی و ایی«ویی ویشه اوحکومت پروکړه»

میکناتن دقبایلو دمشرانوسره ملاقاتونه پیل کړل او دداسی توطیوپلان یی‌کښیښو ولی چی هغودقبیلوی خانانو په‌روابطوکی دمین ګذاری اغیزی درلودې.

ده غوښتل چی دقبایلو خانان په‌شرسره اخته کړی اودهندی نوابیواوراجاګیو په‌تو ګه

خپل حکومت پر وچلوي .

دمیکناتن پلان په‌دغه مورد کی له‌دوه پلوه له‌ماتی سره مخامخ شو :

(۱) ددی سیمی قبیلوی خصلت دکاتوری تکامل دبار بر یزم په‌مرحله کی‌ؤ چی ددبا ندنی فشار په‌مقابل کی‌یی حساسیت ښووی . دوی په تا زه‌گی سره دیومستبد فیوډالی دربار (صفوی ایران) څخه خپلواکه شوی وه او بل مستبد فیوډال دولت کورگانی هند) یی‌هم ځپلی ؤ . نودمبارزی سرشاره روحیه‌یی لانه زمول شوې او نوځکه دا نگلیس په‌وړاندی‌یی مقاومت خرگند کړ .

(۲) دقبیلوی نظام ارستوکراتیک عنصریی ډیر فعال او متحرک ؤ او د قبیلوې مناسباتو په نورمونوکی یی داخصلت پوره حاکمیت درلود چی سرگ منلی ښه‌دی نه‌دپر دی ته‌پناه لاندی ژوند په خاصه توگه‌ا حمد شاه‌چی په‌یوه خاصه قبیلوی روحیه باادبه کاکه‌گی‌رواج کړی وه قومونوکی ښه ایسیدله او د قبا یلو یوقهرهم داؤ چی احمدشاه سرله‌غرمسره جنگاوه اولمسی‌یی دبی غیرتی څخه دفرنگی تالی څټی شو .

دغه عام نفرت او د میکناتن غرور او د لښکر بی اداره گی ټولسره یوځای شوه‌او هغه پیښه یی‌منځ ته‌راوسته چی‌انگریز په‌خپل سیاسی تاریخ کی دفاجعی عنوان ورکړی‌دی .

پوښتنه کیږی چی دافاجعه چامنځ ته‌راوستله؟

معقول اوعادلانه اوبالاخره پررښتیانی اومنطقی اسنادوبناجواب دادی چی داد انگلیس سرکش اومغرور اونا پوه حکمرانان وه چی دځان په‌تاوان یی دالیونتوب وکړ اوافغانستان‌ته‌یی لاس‌واچو وه .

لارداکلیند دبریتانوی هند انگلیس حکمران ' پالمرستون اوپخپله میکنا تن وه‌چی دخپلو غلطیوقربانی شول . په دی لړ کی شاشجاع چی ددغه شطرنج دموری په توگه لوبیدی‌هم بی سزاپاته نشو او د خلکو قهرووا هه .

امیر دوست محمد خان دبارکزو دکورنی ماجر اجوی یه خان ځکه دلته دقبول ځای درلود چی عموسی علا یق یی ځانته جلب کړی وه په عمومی غو ښتنو کی دی مسئلی ډیر غټ ځای درلود چی دافغانستان له لاسه تللی سیمی بیرته راخپلی شی .

شاشجاع په‌عام ذهنیت کی داسی انځور شوی ؤ چی نه یوا ځی د لا سه تللی سیمی بیرته نه‌راگرزوی بلکی پاته سیمی یی‌هم یوا ځی دځان دباچا کیدو په غرض پرانگلیس خرڅی کړ یدی .

په‌دغه منځ کی دیو بل سړی نو هم په‌دی واقعه کی ثبت دی چی هغه یو بی وا که خو په جر یا ناتو آگاه انگریز ؤ. دا سړی الگزاندر برنس ؤ چی مرکزی آسیا یی ټوله‌ترپښو کښلی وه او د شهرت سره یی نه‌یوا ځی دلندن سیاستمد اران اشناوه بلکی داروپا دهغی ورځی غټ باچا خلورم ویلهلم هم پیژ ندی (ا و نیم ساعت یی‌د هغه سره شخصی مجلس کړی و» (۳۶)

برنس دکابل گورنر ؤ خو میکنا تن شخصاً دهغه خخه بدوړ ل ـ ځکه دغه سړی دوست‌محمد ته دهمکا ری وعدی ور کړی وی او دده دغه نظر د لو سړی پلا له پاره په هندکی میکناتن رد کړی ؤ .

دبرنس او میکناتن له‌اختلاف خخه‌یاغی خانان خبر وه او د دوی دو هلو هدف میکناتن وشا شجاع وه خو کله چی‌په کابل کی دقیام او رولیگید لو سړی‌برنس‌پکښی مکوټ‌شو او ورپسی میکناتن پکښی ووژل شو .

دشپږو میاشتو په‌دوران کی‌دغه دری استعما ری لوبغاړی (برنس) میکناتن اوشا شجاع دافغانستان دخلکو له خوا ووژل شول او په همد غه مده کی هغه پیښه منځ ته‌را غله چی دانگلیس پنځلس زریزه لښکر بیله ډ اکتر خخه نورټول نیست اونا بود شوه .

# دافغان او انگلیس پر لوسړی جنگ یو څغلند نظر

دافغان او انگلیس لومړی جنگ په هغه وخت پیښ شو چی په انگلیستان کی تولوواکمنی و یکتوریا تازه دامپراطوری جوغه په سر کی وه او انگلیستانو ډیر غرور څخه ځانونه دنړی بادار ان وبلل.

دغه وخت په انگلیستان کی دوه گوندونه یو دبل په مقابل کی په سیالی فعال شوی وه. دویگر (        ) گوند داسیاست چلاوه چی دهند وستان دساتلو له پاره باید منځنی اسیا په شمول سیمی په جگړه بیزه توگه اشغال شی د دغه گوند مشر سلیورن(        ) ؤ او دویگز په مقابل کی توری (        ) گوند ؤ چی مشر یی پیل ؤ (        ) او داگوند دویگز د گوند دنظریاتو مخالف ؤ لارډا کلیند چی افغانستان ته یی دشا شجاع د راوستلو ناکامه پلان طرح کړ او دافغان او انگلیس دلومړی جگړی اوریی بل کړ دغه دویگز گوند ته منسوب ؤ. دده دبیعقلی کیسی په لندن کی ډیری مشهوری وی خود انگلیس استعماری امپراطوری سره دده په مبالغو ډکو تبلیغاتو دلندن دار ، تو کراتانو پام ار نه جلب کړی وه.

دی هغه وخت نورهم دلیونتوب سرحد ته نژدی شو چی په هند کی دویلیام میکناتن سره اشنا او همکار شو.

میکناتن هم یو دروا غجن او سر زوره سړی وه. دی درورد فلسفی ملا تړ ؤ او داسی محاسبه کوله چی انگلیس دټوله هندولسونه و و هل نو دابه څه دلیل وی چی دهند شمال ته دغرونو ولسونه په څه زورولری.

هغه مهال چی د الگزاندر برنس نظریات دا کلیند په حضور کی تر غور او بحث لاندی نیول کیدل نو میکناتن به ویل چی دایو ویریدلی او جبون سړی دی خوتر جنگ او سیاهی و روسته هرڅوک و پوهیدل چی ا کلیند او میکناتن او حتی دویگز گوند ټوله رهبری خطا

وتلی‌وه. دوی ته‌دولسونو دکلتور اوسیکو لوجی په‌باب معلومات نه‌وه‌اویوائحی‌د خپل قوت حساب یی کاوه.

ددغو اشتبا هاتو نتیجه نو هغه جنگ ؤچی سیکنا تن پکښی قربانی شوا کلیند پکښی بدنامه او معزول شو او بالاخره دو یګز دګوندله لاسه حکومت ووت‌او توریګوند ته‌وا ک‌وسپارل‌شو ددغو عواقبو په‌باب دهغه وخت دروسیی انقلا بی دیموکرات ن ـ دبرالیو پوف داسی لیکلی دی .

«دافغانستان په جنګ کی دهغه ځای خلکو دهغه شاه‌شجاع دسلطنت پرضد سخت مقاومت وکړچی دانګلیس له‌حمایت څخه برخورداره ؤ او دخپلو بدوکارونو له‌لحا ظه دری ځله دخپلو خلکو له خوا معزول شوی ؤ.

اروپایی لښکردافغا نانوله مقا ومت سره وجنګید ل خوانګلیسان ډیرژر مجبورشول چی‌دخپلو ټولو په‌لاس راوړ ونوڅخه صرف نظر وکړی داځکه چی دوی یی په ساتنه‌بر یالی نه‌وه. شل‌زره کسه‌او ۱۶ ملیونه ستیرلنګ پونده په‌دغه بیهوده جنګ کی‌ضایع‌شول . »(۳۷

د ۱۸۴۰ کال سپتمبر څخه دد غه کال ترنوامبرپوری دامیر دوست په مشری یوشمیر ولسی قوتونه دا نګلیس پرضد وجنګید ل خودنوامبر په میاشت کی‌په ناڅاپی ډول‌امیر دوست‌محمد خان سیکناتن ته‌وسپاری او هغودغه تسلیم طلبه فیوډال په‌لودهیانه کی هغه‌ځای ولیږی چی شا شجاع هلته بند ی ؤ لدی وا قعی څخه ا کلیند . مکنتن اوشا شجاع ډیرډاډ مشوه‌او داسی فکریی‌کاوه چی نورمقاومتونه‌ختم شول ـخودایوخوشی خیال‌ؤ،بلکی تردغی واقعی‌وروسته ګوریلایی جګړی تردغه منظم جنګ ډیری سختی وی .

د۱۸۴۱کال په اپریل کی‌اکلیند (ویلیام جارج کیت الفنستن )چی دا نګلیس او فرانسی دوا نرلودجنګ یوجنرال ؤ او په دغه وخت کی‌ډرسپین ږیری او ناروغه ؤ دنظا می قواؤ دقوماندان په‌توګه کابل‌ته‌را واستا وه.

دغه‌سړی هم‌ډیر ژر د میکناټن دچا هلا نه‌غرو رخخه خواشینی شو او ورو ستــه ددوی مناسبات تر دی حده د تحمل خخه ووتل چی‌یو و بل‌ته یی په لیک احوال سره ور کاوه .

د (۱۸۴۱) کال دنو امبر په‌دو همه د کابل دښار قیام پیل شو او دانو هغه‌ مهال‌ؤچی ددو ډیر و مقتدر و قبیلوی مشر انو عبداله‌خان اڅکزی او امین‌الله خان لوگری دهغو رهبری کو له.

دکابل دو الی برنس پر کور ملی مبارزینو یر غل وکړ- برنس دمیکناټن څخه‌مرسته وغوښته خو هغه او ا لفنستن دو اړه ورته‌بی اعتنا شوه او وطنپرستانو برنس دهغه‌وروړ او دهغه محافظین ووژل او کورته یی اور واچاوه دلته میکناټن اوشاشجاع دو اړه‌پوه

شول چی نور نودوی دمقاو مت مخه نسی نیولای میکناټن په‌تو طیه پیل وکړ او د رشوت په بدل کی یی‌یو خاین عبد الله‌خان اڅکزی ووواژه او ددوی داعمل پر اورد بارو تود؟ ر غور ځولو کار ورکړ .

په‌همد غه وخت‌کی دامیر دوست محمد زوی اکبر خان چی‌په‌و زیرسر ه‌یی شهرت درلود راورسیدی دمقاو مت قوا ئی ډیری پیاوړی شوی او انگلیسا ن مجبو ره شول چی‌تسلیم‌شی. میکناټن دخبرو پیشنها دوکړ او دافغانستان څخه دانگلیس دقواؤ وتل یی دځینو شر ایطو له مخی پیشنهادکړل .دخبرو له پاره تیاری ونیول شوی خو میکناټن دخبرو ځنډو لوسره علاقمندؤ او دوه کاره یی پیل کړل . له یوی خو ایي غوښتل چی‌دپیسو په‌بدل ملی‌مشر ان له‌منځه و باسي او دبلی خو امنتظرؤچی دکند هار څخه قوه‌ورته را ورسیږي ولی‌یوه و یره ورته پیداوه هغه داوه‌چی ژمی رارسید لیؤ اودوی‌دا کمالاتو له‌خو اکمز وره‌شوی‌ود

د۱۸۴۱ کال ددسمبر په‌۲۳ دو زیر اکبر خان او میکناټن لپاره یوه قاطع ورځ وه .په دغه ورځ فیصله‌داسي وشوه چی‌دبی‌بی مهرو پر غونډی باید خبری‌وشي. کبرجن‌او توطیه گر میکناټن غوښتل چی‌په یوه‌نا څاپی‌حله کی‌وزیر اکبر خان‌ونیسي‌خو هغوی‌په‌دی پو هیدل او تر مخه‌یی یی‌تدبیر نیولی ؤ کله‌چی خبری په عصبیت واوښتی او میکناټن لاس اچاوه وزیر

اکبرخان دخپلې تفنگچي مرمی دهغه پرځیګر ورښخه کړه. دمیکناټن تروژلو وروسته وضع ډیره بحرانی شوه او جنرال الفنستن دملی مبارزینو غوښتنی ومنلی او د ۱۸۴۲ کال دجنوري له لومړي‌نیټی څخه انګلیس دقواوو‌تل له‌کابل څخه پیل‌شول.

له دغه ځایه څخه یعنی له(خرد کابل) څخه بیاترجلال آباد پوری دانګلیس پنځلس زره کسیزه اردو نیست او نابود شوه صرف یوازې یوسړی چی هغه داکتر براید ن ؤژوندی جلال آبادته‌ورسید ی‌دغه منظره کارلمارکس‌په خپله‌یوه لیکنه‌کی داسی انځورکړیده:

«د۱۸۴۲کال دجنوری په دیارلسمه ورځ د جلال آباد ددیوالونو پیره داران ..دیوداسی سړي ته‌متوجه شول چی انګلیس ‌څیری یونیفورم یی‌په غاړه‌کی‌او پر یوه سترړی اوله پښو لویدلی اس‌سپورؤ...داسړی داکتر برایدن ؤ یوله هغو۱۰زروکسانو څخه ؤچی‌دری هفتی وړاندی‌له کابله راوتلی او خپل نفس یی را رسولی ؤ خودلوږی څخه مرګ ته رسیدلیؤ.» (۳۸)

«نوموړي ډاکتر د۱۸۴۲کال دجنوری په ۱۹ نیټه یومفصل راپورله جلال آبادڅخه‌په هندکی دبریتانوی حکمرانانو دفترته‌ولیکی چی‌په هغه‌کی یی دانګلیس افسرانو‌چلونه او چمونه بی‌مروتی اوله لښکرڅخه دتښتو په‌باب یی‌ډیرڅه لیکلی دی او هغه اخلاقی مرستی‌یی‌هم چی‌افغانانو له‌دوی سره کړی وې.»(۳۹)

دجنوري له‌دریمی هفتی څخه بیا داپریل ترلومړی هفتی پوری شاشجاع دیومنفور سړی په‌توګه په‌کابل کی‌پاته ؤ او په داسی حال کی چی‌دانګلیس دیوانتقام جویه لښکرپه انتظارناست ؤ داسی یی‌هم‌له خاطره یوه‌شپه نه‌وتله چی حتماً به‌وژل کیږی. داپریل په ۳ ورځ دغه دلویو سرګردانه اشوبونوپاڅونکی باچاچی اکثرناخوالی یی‌په خپل لاس‌ځانته پاڅولی وی دتښتی په‌حال کی دیوی ژړندی ترځنګ ووژل شو.

دنونسمی پیړی دهغی وړځی په‌اروپایی مطبوعاتو کی ددی جنګ په باب ضدونقیص اطلاعات خپریدل خوکله‌چی دانګلیس په‌ډ ماتو‌تللی لښکرڅخه یوازې یوژوبل شوی او

ډاکتر بیرته وهند ته ورغبرګ‌شو نودویګانو حکومت نورد رسوایی ګانو پرمخ پرده نشوای ساتلای. په خاصه‌توګه د توری ګوند اعتراضات چې دانګلیس په پارلمان کې یې کوله دویګانو۔حکومت ته‌ماتی ورکړه.

اکلینډد هندوستانو له‌ګورنرجنرال څخه لیری شواود په‌عوض کې یی لارډالی‌برو مقررشو. په دی وخت کی دانګلیسانولپاره ډیره سخته خبره داوه چې‌کوم شکست یی‌په افغانستان کی‌خوړلی ؤ په ختیځه نړی کی یی حیثیت له ډاګه وهل‌شوی ؤ. دحیثیت دجبری لپاره یی د۱۸۴۲ کال په منی کی دجنرال پالك په‌قوماندانی یولښکر راواستاوه چې هغو دپایتخت ځینی برخی، دچاریکار واستالف ښارونه وسوځل خودجرأت یی ونکړ چې‌په افغانستان کی پاته شی.

امیر دوست‌محمد چې په‌د غو وختونو کی کلکتی ته‌بول شوی ؤ بیرته افغانستان ته ددا خلیدو اجازه ورکول شوه.

خودغه امیر دخپل طبقاتی موقف له‌مخی انګلیسانو ته‌ډیر مات شوی ؤ او کله چې کابل ته‌راورسید نو هغه مبارزین یی دا نګلیس په‌اشاره وځکول چې دانګلیستان پرضدیی دافغان او انګلیس په‌لومړی، جګړه کی قهرمانی کړی وی حتی دااشتباه هم‌تراوسه په‌مستنده‌توګه نه‌ده لیری شوی چې دده زوی وزیراکبرخان هم‌دده په اشاره مسموم شوی وی.

# دافغانان او انگلیس دوهم جنگ

## دامپریالستی طرح (تحمیلی معاهدات)

دافغان او انگلیس تر لومړی جګړې وروسته انگلیسانو دیوځه وخت لپاره افغانستان پرخپل حال پریښود او په سند او پنجاب کې یې دخپل نفوذ دپراخوالی کار پیل کړ او کله چې یې هغه سیمې په خپله گټه تقویه کړې نو بیایې پر امیر دوست محمدفشار راوست.

انگلیسانو په ۱۸۴۳ کې سند او د ۱۸۴۶ څخه تر ۱۸۴۹ پورې یې پنجاب اشغال کړل.

پدې ځل کې دوی ترمستقیمی او تودې جګړې تفتین او دولسونو ترمنځ دتوطیې کار ته پاملرنه وکړه

د ۱۸۴۶ ددسمبر په ۱۶ انگلیسانو دسیکانو له کمزورې حکومت سره یوتړون لاسلیک کړ چې دهغه لمخې دسرحد په سیمه کې دالاندې مقررې وشوې.

جال انگلسن او هربرت اډوارډ س په ډیرو اوښو کې.

جارج لارنس او ریناال تیلر په پیښور کې

میجر ایبټ په هزاره کې

او هربرت په اټک کې مقرر شول.

ددغو کسانو وظیفه داوه چې دسیکانو دعسکرو په‌استعمال او دسرحد په‌سیمه کې د قومونو ترمنځ دنفاق له مخې دبریتانیا دتاج‌و تخت لپاره خدمت‌وکړي .لکه‌چې له‌دغه‌جملې څخه اډوارډس چې په‌بنو کې مقررشوی ؤ په خپل یوه کتاب کې چې (یوکال دپنجاب په‌سرحدکې) نومیږي داسې لیکلي دي .

«بنو څي‌قبایل چې ۲۰ کاله دپردیو تیرې کونکو په‌مقابل کې‌دامنیت په‌ساتلو بریالی شوي وه ـ خپل ترمنځ یې اختلا فات درلودل خو کله چې‌په بیگانه تیرې پر وشونو بیایو لاس کیدل .

کوم برې چې زماپه نصیب شو (یعنی دبنو فتح) هغه‌نه داو رپه ذریعه وشوه نه‌دگولې په استعمال بلکې فقط ددغو قومو یودبل پرضد د تحریک له‌لارې په‌عمل راغله. هغوی‌د سیکانو له‌تېرې څخه زماپه اشاره خپلې څلورسوه کلا وې له‌خا وروسره برابرې کړې او د همدغو قبایلو له بیرې څخه زماپه اشاره‌د سیکانو لښکرو یوه مستحکمه کلادبریتانیالپاره په‌دغه سیمه‌کې جوړه کړه چې پر دغه‌ټول وادې حاکمیت لرې . »(۸۰)

داعتراف دیو انگلیس له‌خولې څخه راوتلی او دهغه په‌قلم لیکل شویدی .انگلیسانو په‌همدغه ترتیب سره خپلومداخلواو توطیو ته‌دوام ورکاوه ـدوی په هغوقومونو او قبایلو کې‌چې مستقیماً دافغانستان تابع‌وه تفرقه اچوله او بیایې دملکانو سره مستقیم تړ و نونه کول .

دمثال په‌ډول د ۱۸۵۱ په‌اکتوبر کې انگلیسانو دعوه‌وکړه چې دمهمند وقبایلو د دوی ترحدود و یرغل کړیدې نود مهمند و پرترکزو او حلیم زویی عسکرو رسوق کړل. په ۱۸۵۲ کې انگلیسا نودحلیم زود خوتنو ملکانو سره‌چې په‌هیڅ ډول یې دافغانستان حکومت ته‌مراجعه‌نه‌وه‌کړې تړ ون لاسلیک کړ. دانه کوم تړون ؤنه بلکه صرف یوسندؤچې څوتنوملکانو څخه‌یې اخیستی‌ؤ. دنمونې لپاره داسندد‌لته‌را وړو.

«دحلم‌زود قبیلې څخه بشرـنورگل ـمکرم ـ هبوـرحمدا د او او تنو نورو ملکانو

سره داقرارداد لاسلیک کیږی چی د کاله بهدوه سوه روپی دوی تهورکول کیږي او په عوض کی بهدوی د(انگریز) دحکومت دوست خپل دوست او د ښمن خپل دښمن بولی. که هر جرم پر دوی ثابت شی مجازاتو تهبهحاضر وی .داقرارداد د ۱۸۵۲ دجولای په ۱۲ نیټه لاسلیک شو. »(۱۳)

کله چی انگلیسانو په دغسی زوراوزرو په قبایلوکی مداخلی وکړی نو په ۱۸۵۵ او ۱۸۵۷ کلونوکی یی پر امیر دوست محمد دوه تړونونه تحمیل کړل.

څرنگه چی دهرات مسئله یو څه کړکیچنه وه او د بلی خوا امیر دوست محمد کوښښ کاوه چی هغه ولایت هم دده دامارت جزشی نو د ۱۸۵۷ کال د ۳۱ ما ده ایزه تړون له مخی دهته دازمینه برابرشوه چی دهرات خوا ته خپل فعالیت پراخ کړي خو د همدغه تړون لهمخی یی دهیواد پهختیځو سیموکی دنفوذ سطح ډیره را ټیټه شوه.دهمد غه تړون دځلورمی مادی لهمخی پر امیر داسانسو رولگیدې چی چاریبهیی انگلیسان څاری. څرنگه چی انگلیسانو یو څه سرسته هغهته ورکوله نو دهمدغی مادی پهاساس یی داحق ځانته وا خیست چی انگلیس منصبد اران په خپله خوښهپه کابل- کند هار-بلخ او نوروهناسبوځایونوکی دامیر هغه مصارف وڅاری چیدغی سرستی څخه کیږی. دغه تړون د محتواله پلوه کاملاءیو اړخیز شکل لری او داسی معلومیږی چی امیر باید صرف دختیځ هند کمپنی گټیوساتی.

دبلوچستان پهباب دانگلیسانو رویه دافغان او انگلیس ترلومړی جنگ وړاندی او وروسته دخاص بدلون پهمعرض کیواقع وه. کله چی شاشجاع الملک تهدافغانستان چاری وسپارل شوی په ۱۸۳۹ کی الگزاندر برنس د کمپنی د نماینده په توگه د میرمحراب خان - خان قلات سره یوتړون داسی لاسلیک کړچی هغه هرڅوسره دشاشجاع املکد دربارته وفاداره وی پههغه اندازه بهکمپنی دیومهربان دوستپهسترگهورته گوری او کهدهغهسره دوستی وشلوی نو بریتانیا بههم دی خپل دوست ونهگنی. تردی یو کال وروسته بریتانیا ځینی مسایل پلمه کړل او پرقلات یی حملهوکړه چیپه دغه جنگ کی

میر محراب خان هم‌وو ژل شو. په ۱۸۴۱ کی یی د محراب خان دزوی میر نصیر خان‌سره یو تړون لاسلیک کړ چی په هغه کی هم یادو نه شوی وه چی‌میرنصیر خان‌به‌دشا شجاع الملک دربارته وفاداره وی او دتړون په‌دو همه ماده کی دد سیمو په باب داسی یوه‌یادونه شوی وه‌چی:

شاشجاع الملک میر محراب خان‌ته کوچی- مستونگ او‌شال ور کړی وه‌دهغو څخه لو سړی دوی سیمی‌میر نصیر خان‌ته ورسپاری او یوه سیمه‌چی شال (کویټه)ده ځانته‌ساتی.

تر دغه تاریخ دیرش کاله وروسته یو بل تړون چی‌انگلیسان میر نصیر خان سره لاسلیک کوی نو دهغه په دو همه ماده کی د(سطیعانه همکاری) په‌نامه دقلات دخان‌ټول صلاحیتو نه‌دانگلیس ونماینده‌ته‌سپارل کیږی او دتړون په خلورمه ماده کی دقلات په‌خان تعهد کوی چی‌انگلیسان‌هر وخت وغواړی دبلوچستان هری‌بر خی‌ته خپل عسکر لیږ لای شی او هیڅوک به حق نلری چی‌ددوی مما نعت وکړي .

دامیر دوست‌محمد تر مرگ وروسته چی دهغه زوی شیرعلی امیر شو نو انگلیسانو ته‌ښه دازمینه برابره شوه چی دجاه طلبه شهزاده گانو تر منځ دمخالفت اورته لمن‌وو هی د۱۸۶۳ څخه تر ۱۸۶۶ پوری دو رونوسره دامیرشیر علی‌خان په‌و ینو لړلی جگړی وی خو په‌دغه کال دامارت څخه لری شو او سردار افضل خا ن امیرشو افضل خان ژ رمړ شو او په هغه‌پسی محمداعظم‌خان امیر شو خو دشیر علی خان په‌جگړه دی وشاړل‌شو او شیر علی ددو هم وار لپاره امیرشو او د۱۸۶۸ کال نو ا مبر په دو همه نیټه یی‌امارت د هند دو یسرا له خوا په‌رسمیت و پیژ ندل شو .

په‌همدغه دوران کی انگلیسانو افغانستان دخپل نفوذ دساحی په‌توگه باله خو تزاری روسیی دانگلیسانو دغه سیا ست رد اوه. په ۱۸۶۹ کی بر یتانیا تزاری روسیی ته‌وعده ورکړه چی افغانستان به‌دیو بی طرفه سیمی‌په‌توگه و پیژ نی.تر ۱۸۷۲ پوری دغه عمل‌تائید ؤ خو له‌دغه‌وخته‌څخه‌وروسته‌انگلیسی‌سیاستمدارانو بیادافغانستان‌په‌چاروکی‌مدا خلی پیل کړي .

په ۱۸۷۱ کی لار کلادنهن لادانگلستان خارجه و زیر وچی په سنت پتر سبورگ کی یی د شهزاده کورچا کوف سره و کتل او دگورچاکوف نظر د افغانستان د مسئلی په باب داسی ؤ .

۱» کومه خاوره چی دامیر شیر علی خان په لاس کی ده فعلاء دی د افغانستان قلمرو وگنهل شی.

۲) تر دی دباندی به نه امیر مداخله کوی او نه به انگلیسان تیری کوی .

۳) د روسیی حکومت به هم پر افغانستان د بخارا دامیر د تیری مخه نیسی»(۴۲)

امیر شیر علی په نړیواله سطح کی دسیاست له پلوه پوره خبر نهؤ ځکه دانگلیس جاسوسی سرو یسونوله پیښور څخه دامیر دربار ته غیر مستقیم سانسورلاندی نیولی ؤ ددی مطلب لپاره دقاضی قادرو په نامه دیو سړی یادونه ضروری ده چی شیر علی دهغه په وسیله دجهانی جریاناتو څخه ځان خبراوه .

قاضی قادرو چی د پښور دقاضی خیلانو بافرهنگی کورنی ته منسوب ؤ او اسلاف یی داحمد شاهی دربار پوهان خلك وه پخپله سیاسی مطالعی خاوند سړیؤ . دی په انگریزی پوهیدی او نو ځکه اکثره وخت به یی د امیر ترجمانی کوله. په دغه وظیفه کی د وسره وړاندی شوچی دامیر شیر علی دخارجی سیاست او په داخل کی دفرهنگی رفورم دوزیر په پوست کی مقرر شو ؟

دغه سړی د کمپنی لخوا په پټه موظف ؤ چی امیر دارو پا او په خاصه توگه د روسیی مطبوعات و نه گوری . نو ځکه دامیر مطالعه یوازی په هندی مطبوعاتو منحصره وه.

دهغی ورځی په هندی مطبوعاتو د کلکتی جریده ډیره مشهوره وه او د اروپایی مطبوعاتو څخه به پر بین المللی جریاناتو په دغه جریده کی تبصره منعکس کیدی . له همدغی کړ کی څخه دی دافغانستان په خارجی سیاست کی د برتنا او تزاری روسیی له منا سباتو څخه خبریدې .

شیرعلی په هغه وخت کی چی د تبعید شوی پلا رسره په هند کی اوسیدی او بیاد لارډمایوسره چی د خبرو له پاره د (امبالی) کنفرانس ته ورغلی ؤه نو د جریاناتو مستشعرؤ او نوځکه یی غوښتل چی دخپل دوهم امارت په دوران کی ددغو دوعمده قدرتونوترمنځ موازنه وساتی.

دامیرشیرعلی او بریتانیاپه مناسباتو کی هیڅ یو الزام نشته چی هغه دی دبریتانیاله خوا پلمه شوی وای بلکی د بریتانیا ددولت پالیسی داوه چی افغانستان او منځنی اسیاه اشغال کړی ځکه بریتانیا په دغه وخت کی دسرمایه داری پرعالی ستج پښه ایښی وه او دسرمایه داری انکشاف یی بیله امپریالیستی اشغال څخه بله لارنه درلوده نوځرنگه چی افغانستان او بیا منځنی اسیاه خه د او مومو ادو دتولید او هم دپخو موادو دعرضی بهایی سیمی وی او همدغه ارزښتونه وه چی دانگلیس دامپریالیزم دحرص څخه ډکی سترگي ورته رااوښتي وی .

منځنی آسیاته افغانستان دستراتجیکی موقعیت په لحاظ دیوسنگرحیثیت درلود او د بریتانیا دویگانو دولت دافیصله کړی وه چی حتماً به افغانستان اشغالوی .

۷۷-۱۸۷۸ کلونه دامیرشیرعلی لپاره دخواشینوډک کلونه وه . په همدغه وخت کی دتزاری روسیی یوهیت دجنرال ستالیتوف په مشرۍ کابل ته راغی اودامیرشیر علی سره وکتل . ددغه هیت راتگ دبریتانیا لپاره دامپریالیستی عصبیت یوه لیونی څپه وه چی هندپه چاروکی یی دبریتانیا ټوله سیاسی دفترونه لیونتوب ته ورسول .

دلته پوښتنه کیږی چی امیرشیرعلی خان ولی پخپل دغه کار محکوم و بلل شو ایابریتانیاحق درلود چی امیر له ده څخه منع کړی چی د تزاری روسیې له سیاسي هیت سره وگوری ؟

ددی دوارو پوښتنو رښتیانی جواب (یه) دی خولکه پورته چی وویل شوه دامپریا

امپر یالیستی غو رځنګ څپه‌وه چی غوښتل یی افغا نستان اشغا ل کړی نو ځکه حق ا و منطیق ته‌داو ربشی ارزښت هم‌نه و رکول کیدی .

په۱۸۷٦ کی‌چی سیدنو رمحمد شاه دامیر صدر اعظم دبر یتانیاله نما ینده لیو یس پلی سره په پیښو رکی‌کومی خبری کړیدی نو دهغو څخه پوره معلومیدا ی شی چی‌بر یتانیا څه غوښتل ـدانګلیس خیر و نکی پخپله د اخبری دهغی افسانی سره مشا بهه بللی دی چسی د لیوه او پسه) په‌نامه یادیږی . » (۴۳)

د د غی‌تو لی‌ماجرار وح چی‌دامیرشیر علی‌له‌د وهم‌سلطنت‌څخه‌پیل‌اودافغان‌اوانګلیس‌دوهم جنګ ها ی ته و رسوی د هغی یوی جر یدی څخه ا قتبا سوؤ چی په‌کلکته کی چا پید له د(                                  )جر یدی‌د ۱۸۷۷

جو لا یی ده ۲نیتی په‌ګټه کی داسی لیکلی « د سر لو ئیس پلی د رښتیا نی‌ماموریت داستان عبار ت له‌دی څخه‌وؤ چی جنا ب دیز را یلی تینګ نیت کړ ؤ دروسیی سره و جنګیږی .زمو ږ وظیفه داوه چی‌هغه هیواد دا روپا او منځنی اسیاله لاری په‌یوه وختکی تر یر غل لاندی و نیسو . سر لو ئیس پلی ته‌وظیفه و رکول شوی وه‌چی دامیر څخه اجاز ه و اخلی څو د هیواد څخه‌یی دیوی رښتیانی عملیاتی دی په توګه استفا ده وکړی اوسو ږد افغانستان ځینی کلاوی اشغال کړ و.زمو ږ یولوی لښکر دهغه هیوادپه سرحد ا تو کی متمر کز شوی ؤ. په‌دی هیله‌چی بسر لو ئیس پلی و امیر ته قناعت و ر کړی نورو سیه به و و ینی چی دجنګ تر ا علان و روسته په‌دوه قوی لښکر ه‌له کو یټی او کابل څخه و هر ات ته و رسیږی څو بخارا خیوه خوقند کاشغر او ټوله منځنی اسیا ه‌دروسیی پر ضد را و پاروی ...... دافغانستان له اشغال سره دا میر مخالفت داپلان د اوبو پرسر کرښی کړ .» (۴۴)

امیر شیر علی پوه‌ؤ چی انګلیسان حتماً عکسا لعمل ښیی نو دکابل څخه مز ار ته‌روان شو او غوښتل یی‌چی د تز اری روسیی پایتخت سنټ پترسبورګ ته و لاړشی خو په‌مز ار کی دناروغی په‌اثر مړشو. دده دناروغی په و رځو کی لا دبر یتا نیاتیری کو ونکی قواوی د

افغانستان ترسرحد و را تیری شوی او دامیر دمرگ سره‌چی یقوب خان باچاشوی‌ؤ انگلیسا نو کندهار او ننگرهار اشغال کړی‌ؤ او دغه داشغال پوخت کی‌یی پر یعقوب خان د (گندمک) تړون‌تعمیل کړ.

ددغه تړون د (۹) مادی لمخی دافغانستان څخه داسیمی بیلی شوی. دشا لکوټ و لایت او پښین علاقه دکوږک ترغره پوری ـ دکورمی علاقه دجاجی ترسرحده پوری. دمشرقی په‌څنډوکی هفت چاه اودلنډی کوتل اداره هم انگلیستان اخلی خو (کرمه ـ پښین ـ سیمی) په‌امانت ډول واخیستل شوه ـ دخیبر اوپیچ تیرځایونه یی‌هم ځانته کړل. دغه امانت کلمه‌چی راوړل شویده یودخطا ایستلوچل‌ؤ. بلکی هیڅکله انگلیسانو داسیمی بیاایله‌نکړی.

دهمدغه تړون دڅلورمی مادی په‌اساس کابل ته انگلیس نژاده سفیر (کیوناري) راغی او په هندکی ویسرای لیتن او په لندن کی‌دهند دچارووزیر اود دباندنیو چارو وزیر پدی خوشحاله ووچی دڅلو یښتوکالو غوټه یی خلاصه کړه او هغه هوډیې سرته ورساوچی غوښتل یی په کابل‌کی دامیرتر څنگه یوانگلیس نماینده کښینوی.

داکاروشو کیوناری کابل‌ته راغی خو هغه حقیقت هم څرگند شوچی په‌وارووارو د افغانستان اسراؤبریتانیاته څرگند کړی‌چی دلته انگلیس سفیر نه چلیږی.

دکیوناری ماموریت اوبرخورد مکتناتن په‌شان ؤ اونوځکه هغه سرنوشت‌ورته دغاړی شوچی میکناتن ته‌پاکل‌شوی ؤ.

کیوناری ووژل شو اوله دی سره دافغان او انگلیس دوهم جنگ پیل‌شو.

سره له‌دی چی بریتانیا دگرنویل گورچاکوف )

دتړون له‌مخی باید ډاډه‌وای‌چی افغانستان ،تزاری روسیی دخپل نفوذ ترساحی‌د باندی بللی‌ؤ بیای هم قناعت نه‌کاوه اوغوښتل یی‌چی د افغانستان ستراتیجیکی موقعیتونه په‌خپل لاس‌کی ونیسی اوله هغوڅخه په منځنی اسیاه‌کی دخپل نفوذ په‌گټه کاروا‌خلی اود نونسمی پیړی داوومی لیږی‌په پای‌کی چی‌دلارډ بکنسفیلد حکومت تصمیم نیولی‌ؤ

چې پر تزاری روسیه یرغل وکړی نو دافغانستان اشغال یې یوسر وړي امر با له لکه چې په سنځې صحبت کې اشاره ورته وشوه دغه امپریالیستی پلان دامیرشیرعلی په مقاومت عملی نشو او بریتانیا دغچ په ډول پر افغانستان جنګ تحمیل کړ.

## د کابل جنګ (پر سیاسی او نظامی جریاناتو یوه تحلیلی کتنه)

دافغان او انګلیس ددوهم جنګ په دوران کې هغه مهال چې په کابل کې د۱۸۷۹ کال د سپتمبر په ۳ انګلیس سفیر میجر کیوناری ووژل شو او په هغه پسې دانګلیس قواوله خوا ددوهم ځل لپاره پر کابل سوقیات پیل شوه دهیواد په داخلی وضع کې مهمې پیښې دتکوین په حال کې وې.

دګندمک منحوسه معاهده چې دامیر یعقوب خان او انګلیسانو ترمنځ لاسلیک شوه نو د یوې خوا دافغانستان له روغ بدن څخه لویې ټوټې بیلې شوې او له بلې خوا د افغانستان په داخلی اداره کې دانګلیس لاس آزاد شو.

هغه وخت چې میجر کیوناری دانګلیس د نماینده په حیث کابل ته راغی نو د دامیر یعقوب خان په ملکی او نظامی چارو کې دیو مشاور په حیث نه بلکې دمستقیم اداره چی په حیث په کار پیل وکړ.

دګندمک معاهدې چې د ارې په شان دافغانستان لاسونه غوڅ کړل نو دبرمې په ډول یې په ژوره توګه دافغانستان جیوپولیتکس ماهیت ته د انګلیس امپریالیزم په ګټه تغییر ورکړ.

په ډیره لنډه موده کې هغه سیمې چې دګندمک دمعاهدې په اساس انګلیسانو غصب کړې وې دنظامی ستراتیجی له لحاظه په خاصه پاملرنه کار پر پیل شو:

«انګلیسانو په پیښور کې دوې فرقې په کورمه کې یوه فرقه او په کویټه کې دوې فرقې تنظیم کړې او ددغې سپاه شاته یې یوه سل زریزه قوه تعبیه کړه چې دمخابرې په

تلگرافی وسایلو ـ منظمو صحی سامانونو او د نقلیاتو په منظمو وسایلو مجهزوه (٥ ٣ /زره حیوانات یی دبار بری لپاره درلودل ) همدارنگه دبارونو اوسرمیوجو ړولوفابریکی یی نصب کړی‌او داورگاړی دوه خطونه یی کش کړل . (٣٥)

داټول کارد وی پخوا لا پیل کړی‌ؤ خودگند مك دمعاهدی سره یی هغه دافغانستان دښه ژوبلولو لپاره په ډیر قوت عیار کړ.

په کابل کی دکیوناری د عمده کارونو څخه یو هم داوچی هغه پنځوس زره کسیزه اردو و پاشی چی دامیر شیرعلی په‌وخت کی‌په‌ا ساسی توگه تنظیم شوی او په حربی وسایلو مجهزوه او بیا دامیر شیرعلی په امر دانگلیس له‌مقابلی څخه راگرزول شوی‌وه . کیوناری ددغی اردودمتفرق کولو او پاشلوله پاره کارپیل کړی ؤ

امیرمحمد یعقوب خان چی دکیوناری په وړاندی له‌یوه گوډاگی څخه پرته نوراهمیت نه‌درلود نوغوږیی دانگلیس هرفرمان ته‌اړولی ؤ او هر څه چی هغوغوښتل نوده‌په‌داجرا دی شی صحه‌پرلگوله.

ددی‌لپاره چی‌انگلیستان خپل پلان‌په‌هو ساتوگه عملی کړی نو دافغانستان دداخلی چارو دادارې لپاره یی‌داسی کسانو ته دفعا لیت موقع ورکوله‌چـی هغه په صادقانه توگه‌د انگلیسانو خدمتگاران ؤ.

امیر یعقوب خان دهیواد دمهمو ولایاتو اداره هغه مهال چی دگند مگ معاهده‌یی‌امضاء کړی وه دغو کسانو ته وسپارله.

دسردارمهر دلخان زوی سردارشیرعلیخان یی دکند هاروالی کړ خپل اکاسردار طاهرخان‌ته یی دقلات حکومت او بل اکاسردارمحمد یوسف‌خان ته یی دپشت رود(هلمند) اداره وسپارله دخپل خسر سردار یحیی خان زوی سردارآصف ته‌لغمان او بل اکاسردار محمدحسن خان ته‌یی جلال آباد (ننگرهار)وسپاره .(٣٦)

امیر یعقوب خان بل اکاسرداروالی‌محمد چی‌په (لاټی) مشهوروو دگند مک معاهدی‌دنهمی

مادی پەقرار دهغه جرم ځخه و بخښل شوچی دانگلیسانو ددو همی جگړی دلو سړی تجاوز
پەوخت کی‌یی دهغوسره همکاری کړی وه او بیادانگلیسانونوسره اوسیدی لەدغسی عفوی
سره هغه هم‌پەکابل کی دانگلو پیل دډلی یو غښ عنصرشو.
پە دغوو رځو کی چی دگندمك دمعاهدی پەاساس کیوناری کابل‌تە دانگلیس دسیاسی
نماینده پەحیث راغلی و او تخریبی فعالیتونه یی پیل کړی وه تر کابل و روسته کندهار
دسیاسی جرّیاناتو له پلوه ډیره تو دسیمه وه او پە دغو دومرکزونو یعنی کابل او کندهار
کی دوه غښ ادعاطلبه سرداران دامیر یعقوب خان سره پە رقابت کی‌ولاړوه. پەکابل کی
سردار ولی محمدخان او پەکندهارکی‌سردار شیرعلی خان هریوه کوښښ کاوه چی انگلیسانو
تەپە خوشخدمتی دهغو پاملرنه ځا نته جلب کړې او داقتدار پە گټلو کی بریالی شی خو
امیر یعقوب خان هم پەخپله چندان شی نەؤ خو یولوی محیل سردارچی دده خسرو یعنی
سردار یحیی دطلایی سردارسلطان محمدزوی انگلیس تەد ازمویل شوی وفادار پە حیث خپل
زوم داقتدار پرچوکی استوارساتلی ؤ.
دانگلیس دسفیر کیوناری ځلو یښت ورځنی ما موریت پەموقع کی دغەسردارانتهول
یوی مخی درقابت اوسیالیو پە لوبه کی‌سرگرم‌وه چی‌ناځاپه دسفیردقتل موضوع منځ‌راغلله.
البته دسفیرقتل سردارانوته ناځاپەؤخو هغه هم دثابتوعواملو ځخەمنځ ته راغلیؤ.
امیر یعقوب خان پەدربارکی حبیب اللهخان صدراعظم اوشا دمحمد خان خارجه وزیر
دسیاسی چارو دمشین ځرخونکیوه او دوی همد یحیی خان دمحیلانه چالونو پەتناونوکی
رانغښتی شوی وه دنظامی چارواداره دسپه سالارداود شاه خان پەلاس‌کی وه خودی
هم دومرەبی صلاحیتەؤ چی حتی دعسکرو دمعاش داجراء صلاحیت یی‌لاهم دانگلیس سفیرته
ورسپارلیؤ.
پەدغسی یوه جریان کی‌هغه واقعه پیښه شوەچی انگلیسان اوسرداران یی دیوی مخی‌پە
تعجب کی‌واچول. پەکابل کی دانگلیس دسفیر قتل هغه تهول تا نسته وشلولەچی‌د

انگلیسانو اوسرداړانو لهخوا د افغانستان دخلکو دسر یې کولوله پاره جوړه شوی وه.

د کیوناری سرگ یقیناً درقیبوسرداړانو لپاره یوه غمجنه پیښهوه او داهم حقیقت دی چې دوی ته پردی ډیر افسوس دریدی چې دافغانستان دخلکو دښمنانو یعنی انگلیسانو تهیې دوفاداری ازموینه بریالۍ نشوه.

د۱۸۷۹ کال دسپتمبر په۳ورځ سهارملی مبارزین پهبالا حصارکی دانگلیس پرسفارت ورغلل چې وروسته پههمدغه ورځ دسفیر دقتل او دسفارت دسوځولو مسئله منځ ته راغله. پهدغه وخت کی چې ملی مبارزینو او دسفارت دساتونکوتر منځ جگړهروانهوه دسفارت د منشی ددفتر یوسړی جلال الدین نومی پهماهرانه توگه ځان دمعرکیلهډگر څخه ویوست او پریوه چټک اس دعلی خیلوخواته روان شوخودد غی پیښی اطلاع د انگلیس دمخابری مرکزته ورسوی.

دهدځایویو دعلی خیلوخواته دتنگ پهلارکی جوزفس نومی انگلیس ولید چې دگورکه دیوی دیوی ټولی محافظینوترساتنی لاندی یی دکابل او علی خیلو ترمنځ دمخا بری دلین دتمدید کارکاوه. جلالا لدین چې دکابل دپیښی اطلاع هغهته ورکړهنوجوزفس دهته هدایت ورکړچی پهچټکی سره داخبر پهعلی خیلوکی دا نگلیس سیاسی امرکپتان کنولی تهورـ ورسوی. جلال الد ین لهدغه ځایهپه دوهم حرکت دمانبام خواته علی خیو تهورسید اوکپتا ن کنولی یید پیښی څخه خبرکړکپتا ن کنو لی سمد ستی دتلگراف په ذ ریعه د موضوع څخه سملې تهخبرورکړ.

پهدغه وختکی دهندوستان و اسرای لارد لیټن په سمله کی و او جنرال را برتسچی پهکابل کیدانگلیس دسفیر کیوناری ترانتصاب او دگندمك دمعا هدی ترلاسلیکوروسته وا یسرای تهراغلی ونودافغانستان دهغو سیمو دنظا می تنظیم لپاره یی دو یسرای څخه هدایات اخیستل چې دنوموړی معاهدی په قراردانگلیس حکمرانی لاندی شوی وی.

په همدغه وخت کی لیتن او را برتس په نو یو مصلحتونو ا خته وه چی په کابل کی د انگلیس دسفارت د پیښی خبر و رو رسید. یقیناً چی انگلیستا ن ډیر فعالیت کړی ؤ او خپلی شبکی یی دومره فعا لی کړی وی چی په کابل کی دانگلیس دسفا رت له محافیظینو سره دملی مبارزینو داخته کیدو له لومړی مرحلی څخه دو نس ساعته و روسته د هندوستا ن دو یسر ای ددوبی پایتخت سمله باخبره کړه .

په سمله کی دو یسر ای دفتر ارجنرا ل را برتس ته لومړی سر کی دسفیر دقتل ا و دسفارت له سوځلو څخه خبر نشول ځکه اطلاع کونکی دپیښی په پیل کی له بالاحصار څخه وتلی ؤ یو اځی په مجمله توگه اطلاع صرف دومره وه چی سفا رت دملی مبارزینو تر محا صری لاندی دی .

داشپه په سمله کی دانگلیسانو دسیاسی او نظا می ما مو رینو لپاره یوه ډیره دتشو یشو نو ډکه شپه وه په دغه شپه په اضطر اری توگه دسلاو مصلحت جرگی پیل شو ې او په دې سبا یعنی دسپتمبر په شلو رمه و رځ د انگلیسی امپر یالیز م لوی مشین په حر کت را غی او یو ه لو یه نظامی جر گه جو ړه شوه چی دسپتمبر تر پنځمی و رځی پو رې یی مصلحتو نه کول او په پای کی دالاندی نظامی قر ار دتلکر اف پـه ذریعه په کو رم کسی دانگلیس فیلډ فورس دقوماندان بر یگید یر جنر ال ډماسی په نامه له سملی څخه صادرشو.

«په انډیا کی د کو ار تر ماستر جنر ال له خوا د کو ر م دفیلډفو ر س ـ قوماندان بر یگدیر جنر ال ډماسی ته !

نیټه د ۱۸۷۹ کال دسپتمبر پنځم سمله:

در و یشتم پیشقر او ل پنځم گو ر که او غر نی کتار و نو ته د شتر گر د ن دخو کی پر اخوا حر کت و ر کړه. دوی هلته داخل کړه اودنو رهدا یت منتظر شه. د لسو و رځو خرځ درسره و اخلی! (۴۷)

مطابق له دغه امر سره دشپږ م اوه پو نډه تو پو نو متحر رکه غر نی بتر یه او د گو ر که

پیشقراول پوځ پرشترگردن راپورته شواو د سپتمبر په ۱۱ دکلوئل کورې په قوماندانی دغه سوق الجیشی مرکز اشغال‌شو.

دانگلیسا نو دغه‌حرکت ددغو سیمو پښتنو ته ناڅاپی ؤځکه تردغه وخته پوری هیڅوك دکابل دواقعاتو څخه خبر نه‌وه.

پدی پسی دا نگلیس قواؤنورکتارونه پسی راروان شوچی مجموعاً ۷۵۰۰ کسوته رسیدل اودغو جنرالانو یی نظامی رهبری کوله:

سیجرجنرال سرفردریك رابرتس دلوی قوماندان په‌حیث :

کلونل میکرپگر دمیجر جنرال رابرتس دچیف ستاف په‌حیث.

بریگدیرجنرال ماسی، بریگدیرجنرال میکفرس بریگدرجنرال بیکراو بریکدیرجنرال گاف دقواوقوماندان ؤ.

انگلیسی قواوی دمیجر جنرال ، درابرتس ترقوماندانی لاندی دسپتمبر په ۱۲ علي خیلوته ورسیدی اودغه ځای یی دنظامی قرارگاه پحیث وټاکی او په‌دی سبایی بریگدیرجو جنرال بیکردشترگردن دقواود قوماندان په‌حیث وټاکی.

داخونظامی عملیات وه په سیاسی برخه‌کی وروسته ترهغه‌چی دسپتمبرد دریمی‌ورځی په‌ماښام دسفارت د پیښی خبرسملی ته‌ورسید. دسملی څخه دتلیگراف په ذریعه په علی‌خیلو کی دانگلیس سیاسی امرکپتان کنولی ته‌لا رښوونه وشوه چی سمدستی امیریعقوب‌خان ته‌خبرورکړی‌چی دگند مك دمعا هدی په‌قرار وظیفه لرې چی‌دسفیر دسراود سفارت‌د مال ساتنه وکړی خودوی خبرنه وه‌چی ددغه امرد صدورپه‌وخت کی دسفیرسراود دسفارت ټوله مال په‌توروایروتبدیل شوې ؤ.

په کابل کی دسفارت د پیښی په‌وخت کی چی‌کله ملی مبارزینو ته امیر خپل‌خسر سرداریحیی خان وروستاوه اومبارزینو هغه‌یی‌عزته کړنونوراسیرسختی بیری واخیست اویوازی په دی یی اکتفاوکړه چی دخپلو سردارانو سره یوځای ځان په‌خپل حرم سرای کی کلابند کړی.

دهغه‌دو وليکونو څخه چې امير يعقوب‌دسپتمبر يعنی‌دواقعی‌په ورځ او دسپتمبرپه‌څلورمه دواقعی په سباد جنرال رابرتس په عنوان ليږلی دی داسی معلوميږی چې‌امير بس يوائې دومره خبرو چې سفارت وسوځل شو نوړنو دسفير او سفارت د غړو له‌سرنوشت څخه خبرنه وه او ددی‌علت هم‌داوه چې ده ځان په حرم سرای کی‌محصور کړی‌وه.

داده ليکونه‌چې‌امير يعقوب دخپل خسرسردار يحيی خان او نورو خپلو انو په‌مصلحت ليکلی او دافغانستان په‌سياسی تاريخ کی دخاينو وا کمنا نو د شرمونکو اعمالو توری پاڼی تشکيلوی په‌علی خيلوکی دانګليسی سياسی مامور کپتان کنولی‌ته‌ليږل شوی‌وه چې هغه دواړه ليکونه‌يوځای دسپتمبر په ۱۲ ورځ چې کله د رابرتس‌قوا وی علی‌خيلوته ورسيدی هغه‌ته ورکول شول.

موږ به‌دلته دامير يعقوب دليکونواو د رابرتس دجوابيه ليک متنونه‌راوړو او ددغو ليکونوله محتوی څخه سړی پوهيږی چې‌دغه واکمنان په څومره ټيټه لهجه دانګليسانو سره خبری کوی. يقيناً چې دوی دخپلو شخصی ګټوپه خا طر هری پستی ته‌حا ضروه‌او داهم ددوی دپستيو نتيجه وه چې انګليسا نو په‌ډير جرات‌پر افغانستان تاخت وتاز پيل کړی ؤ.

امير يعقوب وروسته تر هغه چې دخپل خسرسردار يحيی خان اونورو سردارانو مصلحت واخيست دالاندي ليک يی‌دميجرجنرال رابرتس په‌عنوان کپتان کنولی ته په علی خيلو کی وليږی چې هغه‌يی نوموړی جنرال ته‌وليږی.

«کابل: د۱۸۷۹ ـ کال دسپتمبر ۳ـماښام داته بجی.

پس دسلامونو!

کوم پوځونه چی‌په بالاحصار کی راجمع شوی وپه‌ناڅاپی ډول راماتشول‌او وخپل افسران يی‌په تيرو وويشتل ـ تردی وروسته هغوی دسفارت خانی خواته راغلل او هغه يی‌هم په‌تيرو وويشت.

ددی‌په ځواب کی‌پر هغوی ګولی وا وريدی او دافساد وروسته دی حدته‌ورسيد چې‌دهغه چوپ کول‌نا ممکن شول.دښيرا پوو بالاحصارچارچاپيره خلک‌او دښار دهرکام خلک بالاحصار ته‌را ننوتل اوميخزنونه‌ـ توپخانی او کارخانی يی‌تباه کړی‌او دی ټولو

پو ځونو او خلکو په‌سفارت خانه‌باندی‌حمله و کړه . په‌دې‌مینځ کی‌مادسفیر دامنداد له‌پاره داو د شاه خان "(کماندر انچیف) و استاوه . هر کله‌چی هغه سفارت خانی‌ته و رسیدی نو هغه یی بر چو او ډبر و دآس څخه ر او اچاو اوس هغه دمحال‌و مرگ پر حال‌دی‌بیاماسر دار یحیی‌خان اوخپل زوی و لیعهد دقر ان سر ه دغوپو ځو نو ته و استول لیکن هیڅ فایده‌یی و نکړه بیامادهر یو کا م لوی لوی سیدان او سلایان‌و ر و لیږ ل لیکن دا کار هم‌څه‌گټه‌و نه کړ ه .

تراو سه‌پوری یعنی تر ماښامه جگړه‌جاری وکتل شی چی‌ددی انجام به‌څه وی‌ز ه‌په دی‌پیښه ډیر غمجن یم د اتهولی‌خبری دقیا س څخه و تلی دی (۴۸)

دامیر یقوب ددو هم‌متن‌لیک چی دایی‌هم په علی خیلو کی کپتان کنو لی‌ته‌لیږلی وه‌چی جنر ال ر ا بر تس ته‌یی و لیږی‌-دالیک یی‌دسپتمبر په‌۳-لیکلی دی .

«کابل. ۱۸۷۹- کال دسپتمبر ۳

سلام !

پر و ن سهار داتو بجو څخه تر ما ښامه پو ری په‌ز ر گو نو خلك دسفارت خا نی دتباه کو لو لپاره را ټو ل شوی وه دو اړو خو او ته ډیر ځانی نقصان وشو. ماښام هغوسفارت ته‌او ر و اچاوه پرو ن ټو له و رځ‌او تر دی و خته‌پو ری زه دپنځو نو کر انو سر ه محصو ر یم‌ماته دسفیر په‌باب هیڅ کو م یقینی خبر ندی‌رسید لی چی‌آیا هغه او دهغه سړی په‌خپلو ځایو نو کی مړ ه شوې دی او که‌نیو ل شوی دی‌او که‌دباندی ایستل شو یدې.

افغانستان تباه شو -پو ځو نو دښار خلکو او د چار چا پیره کلیو خلکو فر مانبر داری جغ غو رځولی دی امید نشته چی‌داو د شا دی بچ شی‌دهغه ټو ل ملگری قتل شوی - کار خا نی او میخز نو نه‌ټول‌وسو ځیدل .

حقیقت دادی چی‌ز ماټو ل سلطنت تباه شو -زه تر پا ك خدای و ر وسته دبر تانیا دحکو مت دمر ستی اوسلا منتظر یم.

زسار بتینی دوستی او ایما نداری بهدرتاو رحی پهشا ن ثابته شی پدی مصیبت کی زما دوست سفیر هم زماځخه و لاړ او سلطنت می هم له گو تو ووت سخت غمگین او مشوش یم«۹م

دادوا ړه لیکو نه د ستمبر پهدولسمه شپه په علی خیلو کی دگپتا ن کتولی لخوا هغه مهال جنرال را برتس تهور کول شوه چی هغه تازه دغهځای ته رسیدلی ؤ.

داخود سر تجع ا میر دلیك لهجهوه اوس نود جنرال را برتس دلیك لهجه وگوری چی ددغودوا ړولیکونو پهجواب کیږی امیر یعقوب ته د ستمبر په(۱۳)ورځ و لیږل شو.

«داسیر یعقوب پهعنوان.

داخوستا خواهش وچی یوانگلیس سفیر دی زما په دربار کی مقررشی او زهبهپخپله دهغه حفاظت کوم اوددرو ندسلوك زمه وا ربهیم.

پدی سبب میجر کیوناری اودری نورو انگلیسی افسرانو تهاجا زهورکړه شوهچی کابل تهدرشی. داتول افسران پهشپږو هفتو کی دننه ستا دپوځ اوستا درعیت دنورو خلکو دلاسه پهبیرحمی سره قتل شول.

ددی واقعاتو ځخه داپوره ځرگنده شوه چیتهپه خپله وظیفه کینه خود خپلیعهدنامیځکه دشرطو نودپوره کولو او نه دخپلو اختیاراتو داستعمال طاقت پهځا ن کیلریځکه داتجویز نیول شو یدی چی یوانگریزی فوځ پر کابل باندی پیش قد می وکړی. دلته دادی مقصددادی چیستا حکومت تقوییهشی البتهپه دی شرطه چیته پخپله پهوفاداری سره دخپلی عهد نامی دشرطونو دپوره کولولپاره کوښښ وکړی او بل مقصد دادی چید انگلیس سفارت دقاتلانو ځخه پوره پوره بدل واخلی.

ځرنگه چی هیز ها ینس د ستمبر د۲م—نیټی پهخپل لیك کی پرخپل دوستانه اخلاص باندی زورلگولی ؤولی زمو ږحکومت، ته اطلاع رسید لی دهچی دکابل ځخه شا و خوا تهځینی خلك پهدی غرض استول شوی دی چی دعلاقی خلك او قبایل زمو ږ پر خلاف را پورته کړي.

خرنگه چیداکارددوستی دشان خخه خلاف دی له دی کبله زه دا ضروری گنم هیز هاینس خپل یو اعتبا ری سړی ماته دخبر و ا ترو له پاره راولیږی چیهغهماته ستاتهو له مدعاښکاره کړی . »(٥٠)

د ستمبر په١٦ چی را برتس دلوگر دری ته داخل شوی و دکابل او شاوخوا خلکوته یی یو اعلان خپور کړچی متن یی داؤ: « علی خیل د١٨٧٩ کال د ستمبر ١٦

د کابل دسیمی او د هغه دملحقاتو خا نانو او اوسیدو نکو تهدی داخبره معلومهوی چی د١٨٧٩ کال دسی پهسیاشت کیچی د١٦٩٦ هجری سره برابره وهیو معاهده ددوارو حکومتونو ترمنځ وشوه او د هغی شرطونه هیز ها ینس امیر منظور کړی وه او دایی هم منلی وه چی دانگلیستا ن دمعظمی ملکی یوسفیر دی مقررشی دهیز ها ینس امیر په خاصه غوښتنه یو انگریز سفیر دکابل پهدربار کی مقرر شو او امیر ذمه واخیستله چیدهغهسره پهعزت سلوک او دهغه حفاظتهم کیږي .

ددی سفیر درارسیدلو خخه وروسته په شپږ و هفتو کی دهیز هاینس امیر پهخپله کلاکی داتهو ل سفارت محاصره شو او د هغه اوسید ونکی تهو ل قتل شول خو امیر هغوی دسپایانو اونهدخلکو دلاسه خلاص کړل ددی خبری خخهدخپل صلاحیت پهمقام کی د طا قت کمی او دا ختیار کمز وروا لی ځرگند دی نوځکه انگریزی فوځونه پیش واسی کوی چی دوژل شوو کسانو بدل دتهو لو خلکو په مخ کی وا خیستل شی او هغه شرطونه چی (دانگلیسانو اوا میر) پهمعا هده کی را غلی دی ټینگ شی. انگیر یزیپوځونه ددی لهپاره افغانستان ته ننو زی چی دهیزهاینس امیر شاهی قدرت پیاوړی کړی البته پدیشرط به چی هیز هاینس خپل صلاحیتونه دبریتانیاد حکومت سره دوفا داری ـدوستی او ښوتعلقاتو پهلارکی استعمال کړی . صرف دایوه طریقه دهچی دهغی پهذریعه دامیرسلطنت سالمپاته کیدای شیاو هغه دخلوص جذبات چیامیر ددی واقعی خخه وروسته د١٨٧٩ کال د ستمبر پهځلورم لیک کی ښکاره کړیدی پههمدغه ذریعه تائید کیدای شی .

لدی کبله‌چی زمو ږد دواړو حکومتونو تر منځ ددوستی او اتفاق په نسبت څه شکوک پاتی‌نشی مااسیر ته‌لیکلی دی‌چی ته‌خپل یو اعتباری نماینده‌زما کمپ ته‌راوستوه.

انگر یزی پوځونه به‌غیرله‌هغوکسانوځخه کوم چی دسفارت په قتل کی‌یی برخه اخیستی ده او یاپه هغه کی شامل شوی وی بل‌به هیجا ته‌سزا‌یا‌کوم نقصان ونه‌رسوی خودا په‌دی شرطچی هغوی زموږ مقا بلی ته‌ونه دریږی نورهغه ټول کسان لوی دی که‌کوچنی چی‌له‌دغی‌واقعی‌سره را بطه ونلری هغوی دی مطمئن واوسی.

داپه کارده چی دبار بر داری وسایل اونورضر وریات چی انگر یزی پوځ ته‌راوړل کیږی دهغوبه‌پوره قیمت او کرایه ورکول شی.

څرنگه چی‌رحم او انسانیت ددی لوی حکومت‌و،بر تانیا، په‌خصوصیاتوکی شا مل دی ( )نوځکه دااعلان دعاموخلکو دخبرتیا له‌پاره مخ کی خپورشو«(۵۱)

رابرتس همدغه رازیو اعلان دلوگر دملکانو اوخانانوپه‌نامه همخپور کړاو په‌هغه کی‌یی دوه مقصده وه یوداچی دانگر یزی پوځ سره څوک مقا بله ونکړی او بل ددوی سره دباربرداری دوسایلو او دپوځ داحتیاج وړضرو ریاتو په‌تهیه کی‌مرسته وکړی.

د ستمبر په۱۸ را برتس ددغو اعلانونو یو یو نقل دیوه لیک سره امیر یعقوب ته‌ولیږ ل او په‌لیک کی‌یی هغه‌ته‌و لیکل چی‌دی تر اوسه دامیر دنما ینده‌درا تلو په انتظار کی‌دی.

امیر یعقوب او د هغه سره ملگری سر تجع دنفوذ خاوندان په کابل شپه او ورځ په‌دی مصلحت کی‌وه چی په‌څه‌ډول و کولای شی‌دانگلیسانو په‌وړاندی خپل اعتبار بیاپیدا کړی څوخپل فیوډالی امتیازات دپخواپه‌شان وساتی ددوی سره له دوجهتوڅخه بیره وه لومړی بیره‌یی داوه چی خلک و دوی ته دمجازاتو ورکو لو په برخه کی‌تصمیم ونه‌نیسی دوهمه بیره یی‌داوه چی‌انگلیسا ن دوی ته د سفیر دقتل الزام متوجه نکړی.

امیر یعقوب خا ن او یحیی خان د نوروړقیبوسرداراتو څخه چی‌په سر کی یی‌سر دار ولی‌محمدلاتی‌و په‌سخته‌بیره کی‌وه چی‌هغه‌انگلیسا نو ته‌داخلاص په‌ثبوت‌پر دوی سبقت‌ونه‌وهی.

سر دار یحیی خان دامیر خسر چی دخپل پلارسر دارسلطان محمد طلایی او خپلو نو رو ماموریتونو پهاعتبار دانگسیانو پهوړاندی دوفا داری ډیر ثبتونه درلودل یاهم پهدغه پیښه کیغیر مطمئن ؤ ځکه دسر دارولی محمد خخه ییډیره سترگه کوله چیهغهبه انگلیسانو تهدوفاداری پهلار کی دهته ماتی و رکړی.

امیر یعقوب خان او دهغه طر فدارانو سر دارانوداميز يعقوب او انگليسا نو تر منځ دمکا تبی په برخه کی بیاهم خلك بیخبره پر یښوول او داخل ییبیا لکه دگندمك دمعاهدی په وخت کی یی خلکو ته پهژ به ډاډو رکاوه چی دوطن او خلکوگټی بهساتی خو عملاء ییپه ډیره پستی او چاپلوسی درا بر تس پښو ته ځانونه اچول چی ډیر ښه مثال او ثبوت ییدرا بر تس په نامهدده دلیکونولهجه ده.

پهدغو لیکونو کیپه ښرگندډو ل داحقیقت پروت دی چی امیر یعقوب د یومحکوم په شان عرض کوی او را بر تس دیوحاکم پهشان امر کوی تر ټولو دخنداوړ خبره دادهچی را بر تس دکا بل او شاوخوا خلکو ته پهخپل اعلان کیوایی چی(رحم او انسانیت)د بر یتانیا دحکومت یوخصوصیت دی . یقیناً ددوی اعمال ددغه قول لپاره ډیرښه ثبوتدی چی دوی څومره رحم او څومره انسانیت درلود .

پهدغه وخت کی دمر تجع امیر او خلکو تهترمنځ فاصله ډیره زیا ته شوی وه او عام خلك پهدیښه پوهیدل چیامیر اوسر داران دخپلو طبقاتی گټو لپاره نهوطن پیژنیاو نهخلك نوځکه دوی په گو ریلایی طر یقه پهکوچنیوگر وپونو کیسرهیوځای شوه او د یوه ځنځیر پشان دلوگر څخهتر کابل پوری ییدانگلیس دلښکرو دمخ نیوی لپاره کار پیل کړ .

پهدغه وخت کی امیر اوسر دار انو تر ټولو لوی تشویش اردل پلټن وه پهدغه پلټن کی دخلکو عسکر یوځای شویوه چی نظامی تر بیه ییهم درلوده او داهغه قوه وهچینهامیر شیرعلی استفاده ځینی وکړه اونهامیر یعقوب بلکه دغوا میرانو غوښتل چیهغه یواځی دخپل حرمسرای دحفاظت لپاره استعمال کړی او داکار دار دل پلټن لخوا کاملاءنامنظور ؤ

دا ردل‌پلټن ښخه انګلیسانو هم سترګه‌کو له‌اوپر کابل دپیشقدمی‌په پیل کی‌درا بر تس‌لوی تشویش له‌دغی پلټنی ښخه‌ؤ اودغه افغانی نظامی قوه یی دسفارت‌په پیښه کی مسئوله‌بلله.

ددی لپاره چی‌امیردیوی خواخپل تشویش رفع کړی وی‌اودبلی خوا یی انګلیسانوته‌دخپل خلوص ثبوت وړا ندی کړی وی نود خپلو مشاورو سر دارانو په مصلحت داردل‌پلټن‌د درخصتولو کارته اقدام وکړ. امیر د ښومیا شتو معاش هغوی ته‌ورکړاو بیا یی خپلو کورونو ته رخصت کړل.

دارد ل پلټن عسکراوافسران چی نظامی رو زنه یی درلوده په‌کابل‌کی سیاسی جریانا تو ښخه‌پوره اګاه هم‌وه نو کله‌چی کلیوته تیت شوه دخپلو خلکو سره یی دانګلیسانو پرضد دعملیاتو په‌تنظیم کی‌پوره برخه وا خیستله.

د۱۸۷۹ کال د ستمبر په۲۰ جنرال رابرتس ته‌یولیک صادرشو چی‌په هغه‌کی‌د را برتس دغوښتنی سره سم دامیر نمایندګان معرفی شوی‌وه.

ددغه‌کال د ستمبر په۲۳ دامیر نمایندګانو حبیب الله‌خان صدر اعظم او ملاشامحمدخارجه وزیر درابرتس سره په علی‌خیلو کی ملاقات وکړ. ددوی ترمنځ ډیر اوږدی خبری وشوی او درابرتس ښخه وغوښتل شوه‌چی امیر ته‌صرف دهغه دا خلاص دثبوت لپاره‌دیوی بلی ازموینی چانس ورکول‌شی.امیر خپلو نمایندګانوته‌ویلی وه چی انګلیسی قواوی معطلی کړی خو په‌کابل کی‌امیر دتها کلی پلان‌سره سم داسی‌یو عمل انجام کړی چی‌هغه‌دده په‌نسبت دانګلیسانو بی‌اعتما دی بیرته جبیره کړی. خو را برتس پدی پوهیدی چی امیر اوسر داران کاملاً دانګلیسانو طرفداران دی خو خلك دا نګلیس او د هغوی داجنټانو په‌وړاندی ورځ تر بلی قوی کیږی نو باید ضربه‌ور کول شی.

پدغه کار کی سر دارا ن او انګلیسا ن دوا ړه خام راووتل ځکه دوی لاپوره پدی‌پوه شوی نه‌وه چی خلك یوقدرت دی اودا قدرت خوك‌د ځان دګټی لپاره نشی استعمالولای مخصوصاً په‌هغو شرایطو کی‌چی دګند مك معاهدی ښخه وروسته په افغانستان کی‌ایجاد

شوی وه نو دخلکو نفرت او عصبیت دانگلیسانو او سردارانو پر ضد داو ر دغره په شان چاودلی ؤ.

په هغو او ږدو خبرو کی چی درا بر تس او دامیر یعقوب خان دنمایندگانو تر منځ و شوی بیاهم نتیجه داوه چی دانگلیسانو قواوی باید پر کابل پیشقد می و کړی.
دامیر یعقوب نمایند ګان ناکامه کابل ته را غلل او دامیر یعقوب او سردارانو تشویشونه نور هم پسی زیات کړل.

دانگلیسی پوځونو قوماندان جنرال را بر تس چی حبیب الله خان او شامحمد خان ر خصتول نوداڼد په عنوان کی بیاهم یوه امرانه لیک هغوی ته وسپاری چی د متن لندیز هغوی ته وړاندی کیږی.

هیز هاینس د کابل امیر!

علی خیل کمپ د ۱۸۷۹ کال دسپتمبر ۲۵

پس له سلا مونو: دانجناب دوه لیکونه یو دسپتمبر د ۱۹ —ا و بل د ۲۰ نیتی ددوو اعتباری نمایندگانو مستوفی حبیب الله خان او وزیر شا محمد خان پلاس راورسیدل زه د انجناب څخه ډیر متشکر یم چی تاما ته د مستوفی او وزیر غوندی دوه لوی او د غتمو رتبو خاوندان را و لیږل. هغوماته دانجناب غوښتنو په برخه کی پوره معلومات را کړل.
.البته دابدقسمتی ده چی ژمی ژر رارسیږی خو دومره وخت لاشته چی دیخ تر رارسیدو وړاندی انگریزی پوځ کابل ته راورسیږي.

ستاسو لیکونو په اثر هندوستان له ویسرای سره داتشویش خورا ډیر ؤ چی معطلی و نشی د (ویسرای) غوښتنه داوه چی زموږ پوځونه سمدستی پر کابل پیشقد می و کړی چی دانجاب سلامتی بالکل یقینی شی.

یوه بله بدقسمتی دا ده چی دباربرداری وسایل او د ضروریاتو تهیه کولو زموږ وخت ډیر و نیوی. خو په دی ډیر خوښ ؤ چی دانجناب سلامتی سمدستی له خطر سره مخامخ نه ده د هیز ایکس الینسی (ویسرای) هیله داده چی ترڅو پوری انگریزی پوځونه در رسیږی تاسی به خپل امنیت وساتلای شی.

زه په خوشحالی انجناب ته‌اطلاع ورکوم‌چی دانگریزانو یولوی پوځ دیوه بهادر افدی‌رپه‌مشر کندهار څخه راروان شویدی همدرا نگه‌دجنرال برایټ په‌مشری‌یوبل پوځ دپیښور څخه دجلال آباد خواته حرکت راکړیدی.

آنجناب‌ته به معلومه وی‌چی موږ پر شترگردن قبضه کړیده اود پیاده اوتوپچی نوری قواوی هم‌کرمی ته رارسیدلی دی چی زموږمرسته وکړی خوزه یقین لرم چی په‌همدغو اوسنیوقواوسره به کاروشی اوهغوته به‌ضرورت پاته نشی.

زموږ دقندهارقوه‌چی کابل ته‌راځی ډیره مضبوطه‌ده اوپه قلات غلزایی اوغزنی کی‌به‌یی هیڅوک مقابله ونکړای شی همدارنگه دخیبر قبایل دهغی عهدنامی څخه چی دانجناب اوحکومت برتانیه ترمنځ شویده‌ښه خبردی او بالاتفاق یی‌فیصله کړیده چی‌زموږ مرسته به کوی.

زه‌دا نجناب وملاقات ته ډیرتږی یم البته زموږدقواوسره به‌ستاسی مرسته جاری وساتی.

زه‌دا نجناب دتوقعاتو څخه پوره پوهشوم چی‌تاسی غواړی هغوخلکوته پخپله‌مجازات ورکړی چی دانگریزانو عزتی یی‌کړیده خواوس واقعات داسی شویدی‌چی انگریز قوم به‌ترهغو متسلی نشی ترڅوانگریزی پوځ پرکابل پیشقدمی نه‌وی کړی.

بیادانجناب اصلی لیکونه اوزماددې جواب یوه کاپی په‌دې اک کی دهیزایکن لینی (ویسرای) دغورلپاره ولیږل اوحبیب الله‌خان اوشامحمد خان می رخصت کړل.»(٥٢

کابل ته‌دحبیب الله‌خان اوشامحمد خان درسیدوسره امیر اوسرداران په‌دی‌ډیروارخطا شول چی وضع ددوی په‌تاوان بدلون ونه‌مومی نوځکه دامیرخسرسرداریحیی خان انگلیسانوته دځپلی وفاداری دلوی ثبوت په‌ډول امیر یعقوب دی ته تشویق کړچی دانگریز دپوځونو قوماندان جنرال رابرتس ته‌خپله هرکلی‌ووایی.

ددی لپاره چی داکارپه احتیاط سره سرته ورسیږی دی پخپله دامیر په څنگ کی لوگرته

روانشو. امیر یعقوب سردار یحیی خان دامیر یعقوب زوی‌ولیعهد موسی خان اونور پنځه ځلو یښته سرداران دسپتمبر په‌۲۷ دماښام پر ۸ بجود لوګر خوشی ته‌ورسیدل.

په دغه وخت‌کی دامیریعقوب خان دامارت دمقام لوی رقیب سردارولی خان‌جلالتوګه چه‌انګلیسانوته‌یی‌وفادار یی تریحی‌خان‌په‌کمه‌نه‌وه‌هم‌لوګر ته‌رسید لی‌و اوپه جلالتوګه درابرتس سره مکاتبه پیل کړی وه.

امیر یعقوب لوګورته‌په‌رسیدوسره یوځل بیاپه بزدلا نه توګه دچا پلوسی په کلما تو مالامال لیك ورا برتس‌ته واستاوه را برتس‌هم په‌دغه وخت‌کی له علی خیلو ځخه دخوشی خواته راخوځیدلی ؤ دادی دبی زړه امیر دلیك متن:

دکابل دامیرله‌خوا!

خوشی لوګر) د۱۸۷۹کال دستمبر ۲۷:

پسله سلامو نوځخه‌ستاسو دوستانه لیك ماته اوس دی‌ساعت چی‌دماښام اته‌بجی دی راورسیدی. په‌هغه باندی زمادمحبت ځخه پرډك زړه‌دخوښی او بشاشت دروازی را پرانیستل شوی.

دازماپوره باوردی‌چی دسعظمی ملکی‌دپوځونو نقل وحرکت تول‌ددی لپاره‌دی چی‌زما دحکومت بنیاد ونه ټینګ شی.

دارښتیاده چی دیودوست سره دبل‌دوست همدردي کول‌لایق اومنا سب کاردی‌او دیومخلص اووفادار‌دوست سره دیو‌لوی مهربانی او کرم‌دخوښی باعث دی. زه‌دلوی بریتانیا دحکومت دنمایندګانو ځخه‌بی حده‌ډیرخوشحاله یم‌چی هغو زماسره همدردی کړیده ستادا دوستانه او دانشمندانه تجویز چی دافغانستان په‌جاهلوقبا یلو کی‌دی یوهم دانګریز پوځونومقابلی ته‌ونه دریږی ددی لپاره چی دبریتانیادحکومت افسران په‌ښه طریقه زمامرسته اوساتنه وشی یو ډیرمعقول‌سقبول‌تجویزدی.ستاسی دلیك ځخه پخواماد‌جلال اباد اولالپوری حاکمانوته‌پرله‌پسی هدایات صادرکړیدي چی‌دا نګریزی پوځونومقابلی یامخالفت ته‌هیڅوك پری نږدی. زه‌په ددغو احکامومتنونه وتاسی ته‌بیا وښییم»(۵۳)

پدی ډول امیر یعقوب‌خان ځان دانګریز دپوځی قوماند ان پښوته‌وغورځاوه اودخپلی

اخلاص کښی پهخا طری دخپل ولس دسپکا وی څخه هم دریغ ونکړاوداپه ډیرهتیته سویه مکا تبه د فیوډ ا لی سرد ارانو طبقا تی خصلت ؤځکه د وی د خپلو گټو دساتنی لپاره پرخپلو خلکو اعتماد کولای نشوای‌اود انگلیس قواوی یی‌خپلی جاسی‌بللی.

دلته هیڅ کوم عذر ځایدای نشی چی دامیراوسردارانو ته برئت ورکړی دوی‌اساسأ معامله گرفیوډ الان وچی دخپلو طبقا تی گټودسا تنی لپاره یی دولس پرسراستعمار سره سودابازی کولی- خوخلك په خپل مسؤلیت پوهیدل نوځکه وروستیو واقعاتو داوښوو له چی دانگلیس پهنهمقابله کی هیڅا دامیر یعقوب وهدا یاتو اواوامروته سر کښته نکړ بلکه پهمیړانه یی‌په وینولړلی مبارزه پیل کړه.

امیر او سردارانو دسپتمبر په۲۸ ورځ دجنرال را برتس سره دملا قات افتخارحاصل کړ زاربرتس دیوباران وهلی لیوه پشان د سردارانو پرگله را غی او هغوی یی ځانونه پښتوته وغورځول.

جنرال را برتس په خپل یوه اثرکی چی (دروڅلو یښتکاله په هندوستان کی‌خدمت نومیږی) دامیر یعقوب تصویر په داسی کلماتو ترسیموی چی هغه (یعنی امیر یعقوب) ددود یرشو کالو په عمر یو کوچنی سړی ؤرابرتس دامیر یعقوب قواره هم چندان‌جالبه نه‌بولی او د کرکټر خصوصیات یی دهغه څه څخه خالی بولی چی دافغانستان پرتور یالیو خلکو داداری نفوذ قایمول‌دی. را برتس وایی‌چی هغه‌ته بهدکابل څخه هرڅه اطلاعات رسیدل نوسمدستی بهیی‌پهاخلاص ومانه ویل دهپرخپلوسپا یانو اعتمادنه درلوداود هغوله پیری یی‌زموږ سره پناه اخیستی وه هغه تهمو ډصرف دیوسعز رسیلمه‌په حیث کتل او تردی هاخواده ته‌کوم ارزښت هم سو ډنه‌ورکاوه.

داؤ د سردار یعقوب خا ن تصروير ديو انگر يز پهنظرکی یقینأ چی‌سردار یعقوب پخپله هیڅ هم‌نه‌ؤخو دهغه خسرسردار یحیی خان چی پلار یی طلایی سردار سلطان محمدپهاخلاص

سره پرنګیانو ته ازسو ینه و رکړی وه او بیا دا میر شیر علي په‌وخت کی پخپله سردار یحیی **خان** په کشمیرکی دانګریز روزنه لیدلی وه نو دده دبقاوسیله همسردا ریحیی‌خا نو ه.

دلوګر په‌خوشی کی‌چی امیر یعقوب اوسردارانو دانګلیس دلښکر پښوته ځا نو نه‌و غور ځول‌نورنوددوی رول‌ختم‌شواویواځې‌ددغه‌انګریزی لشګروسره ولاری‌د لارینود حیثیت د رلو د دلاری په‌او ږدوکی هیڅا دامیر داحترام لپاره ځا ن خرګند نکړ او کوم خو ک چی‌په تصادفی ډول‌تیر یدل نوشاو خوا کلیوته‌به‌یی داشر منا که‌قیصه‌را وړ له چی‌امیر دانګیر یز د لښکر و او پلټنوسره روان ؤ.

داکتو بر په څلورمه چی دالښکر دلوګرسفیددسنګ ته‌ورسید زاهداباددکلی ترڅنګ یی کمپ ولګاوه په دغه‌وخت کی‌دبخارایو تبعیدی‌شهزاده‌چی دا میرشیر علی دوخت څخه دکابل په‌دربارکی اوسیدی له‌کابل څخه زاهدابادته‌ورسیدی‌او د جنرا ل را برتس سره یی ملاقات وکړاو هغه ته‌یی دکابل دجریاناتو را پورو رکړ »(۵۴)

هغه را برتس وو یل‌چی دکابل دلاری په‌او ږدوکی خورا ډیر کلیوال خلك لارڅاری او دانګریز دلښکر دمخ نیوی لپاره په‌ولسی ترتیب یوه‌سنګینه وضع روانه ده.

له‌دغه ځایه را برتس ته‌دامیر یعقوب خان په نسبت دابدبینی پید اشوه‌چی ښایی هغه دانګریزانو داغفال لپاره ددوی‌هرکلی ته‌راغلی‌خوپه پټه یی‌خلک‌تحریک کری‌وی‌چی‌دا نګلیس‌د قواؤ دپیشقدمی‌مخه ونیسی خودرا برتس داتشو یش به‌دامیر په‌نسبت ډ یرژر رفع کیدی ځکه هغه په امیر یعقوب کی دومره قدرت نه‌لیدی‌او دواقعاتو دجریا ن نتیجه ګیری ددی قضاوت ته‌رسولی ؤچی دامیر یعقوب‌اود هغه دطرفدارانو سردارانو اوخلکوترمنځ‌د اعتماد فضا کاملاء خړه پړه وه اوخلکوله امیر اوسردارانو څخه پدی نسبت خورا‌ډیر نفرت کاوه چی‌هغوی دانګریزانو طرفدارانو دی.

چی‌مقابلتاً امیر اومخصوصاً دهغه خسرسردار یحیی خان دامیرلوی سلاکارؤ پدی پو هیدلی وه چی را برتس او دانګلیسا نو لوی نظامی اوسیاسی کارکو ونکی‌پر دوی‌اعتماد

نه‌لری او داحقیقت و رته معلوم‌شو یدی‌چی‌امیر او سر داران په خلکو کی هیڅ نفوذ نلری
ـ نو له همدی جهته دلاری په‌او ږ دو کی امیر او سر دارانو ډیر کوښښ کا وه چی
انگلیسانو ته‌خپل اخلاص‌او صداقت په‌ثبوت‌و رسوی .
دا کتو بر په پنځمه او شپږ مه و رځ دانگلیس قو اوی دچار آسیا او سنگ نو شتی په‌بر خه
دملی مبار زینو دتصادم سره مخامخ شوی .مخصو صاً دا کتو بر شپږ مه و رځ ډ یر‌ه‌سخته وه‌او
په دغه‌ځای کی‌داسی شدید جنگ وشو چی میدانونه په‌و ینو ولړ ل شوه دجگړی
دنظارت لپاره دقو ماندانی قر ارگاه پر یوه‌غونډ ی جو ړه‌شوی وه‌چی له‌د غه ځایه جنر ال
را بر تس دقو ماندانی قر ار و نه‌صادر و ل ددغی غو نډ ی اړخ ته پر یوه بله غونډی دامیر
یعقوب‌خان او سر دار انو خیمه و لاړه وه‌چی امیر هم په‌دو ر بین کی دجنگ صحنه کتله.
ملی‌مبار زینو په‌ډیره زړه‌و رتیا جنگ کاوه‌خو داسلحی‌د کمز و رتیا‌په‌وجه‌پر‌سختیا
نشو ای کو لای او خو را‌ډیر تلفا ت یی‌و رکړ ل‌پښتو دخپلی عنعنی مطابق خپل‌زخمیا ن
او مړی پر میدان‌نه‌پر یښو و ل خو هر څو کسه چی‌به‌دمړ و او ز خمیا نو دټو لو لپاره له‌غو نډیو
را کښته کیدل دانگر یز سپا یانو به‌و یشتل په‌دی ډو ل دسنگ‌نو شتی تنگی دمړ و څخه
ډ ک‌شو دغر سی خو اته دانگر یز لښکر و غلبه و کړ ه
پدغه و خت کی امیر یعقوب او سر دار یحیی خان‌دخپلی خیمی څخه در ابر تس‌قر ار گاه
ته دمبار کی پیغا‌سو نه و لیږ ل او پدی یی‌خپله نهایتی خوشحالی و را بر تس‌ته‌څر گنده کړ ه
چی فتح دانگر یز په نصیب شوه .
دانگلیس‌قو اوی پسله ډیر و مشکلاتو له بینی حصار څخه را تیری شوی او کابل
ته‌ر اداخلی شوی . را بر تس په‌سیاسنگ کی کمپ و لگاوه او کابل‌ته در ار سیډ لو
په‌سبا‌امیر یعقوب دکابل سر دار ان او دښار لوی‌سو دلی گر ان در ابر تس کمپ ته‌و رغلل
او را برتس سترړی مشی و و یل.

درابرتس قواؤ سرهچی دهوارډ هینس من پهنامه کوم رپور ترراغلی ؤ هغه پهخپل راپورکیوایی چی پهدغه شپه مو ږد شیر پور څخه پرله پسی پرونه اوریدل اوو روسته دیویلوی انفلاق ږغ زموږغوږوته راورسید اودادشیر پورد اسلحیوه ذخیره وهچیاو ر وروا چول شونوموږته څه معلومه نشوه خوجنرال ماسی دعاملینو دگرفتاری لپارهروان شوولی څهپهلاس ورنهغلل »(٥٥) .

رابرتس پهبالاحصارکی دیوه لوی درباردجوړیدوامر صادرکړچی داکتوبر په۱۲ بهدکابل خلکوتهیوه خطابیهوینا کوی او په دغه دربارکی بهپخپله امیر یعقوب همحاضر

خویعقوب ته سخته واهمه پیداوهچی ناڅا په تروررنشی نود اکتوبر دیوولسمی ور ځی پهسابهار درابرتس قرارگاه ته ورغی او هلته په داسی حال کی چی سیجرهستنگر چیپ پولتکل افسر (سیاسیامیر) حاضروهخپله استعفا یی رابرتس ته وړاندیکړه اودهغه څخه یی وغوښتل چی دی د خپلی کورنیسره هندوستان لندن یاماِلتا ته واستوی٥٦

رابرتسپه ډیرغرورردهغه سره خبری وکړی اوبیایی رخصت کړ خوکلهچی امیر یعقوب خپلی خیمیتهراغی نودیو بندی پهحیث ییمحافظین ترپخوادوه چندهشول . داکتوبر په۱۲ورځ درابرتسپه امرپه بالاحصارکی لوی دربارجوړشوچی پههغهکی دامیرزویولیعهد موسی خان د امیروزیرسرداراتو اودکابل سودا گرانوگډون کړی ؤ .

دمراسمو پهسرکی د انگلیستان علیا حضرتی تهولی واکمنی د سلامت ترانهاولویه سلامی دانگریزی پوځ دموزیک لخوا وویل شوه بیادافغانستان جنډی راکوزهشوه او پرځای یی دانگریزجنډی دبالاحصارپرسر پورته سوه په دغه وخت کی سردارانودزړه داخلاصه مبارکی رابرتس تهوویلی خود بالاحصار څخه دباندی یوشمیر خلکوداعتراض پهنامه ډزی وکړیچی بیادانگریزی پوځ ښارندویانوهغه تعقیب کړل خوپهلاسیی ورنغلل .

پدغه وخت کی را برتس دامیر شیر علی‌خان دسراچی له کړ کی څخه هغه جمعیت‌ته‌چی ولاړوه دالاندی خطابیه وکړه.

تاسو ته معلومه ده‌چی ماداکتوبر په ۳ دکابل خلکوته دا خبرورکړی‌ؤچی دانگریز پوځونه‌دکابل دنیولو لپاره راروان دی چی هڅوک به‌ددی پوځونو مداخلی او دهیرهاینس امیر داختیاراتو په‌وړاندی‌نه دریږی خوچاددی‌امر پروا ونکړه اوهغه پوځ چی‌زماتر قوماندانی لاندی راروانؤ تردغه ځایه چی‌بالاحصار ته داخلید لوزموږ مقابله وشوه‌او په‌دی مقابله‌کی دښار خلکو څرگنده برخه و اخیستله په‌دی ډول دا خلك دهیز هاینس امیر دحکومت پرضدهم باغیان بلل کیږی‌داجرم زیات دی چی‌زموږ سفیر اودسفارت غړی په‌قتل ورسیدل اودهغه الزام وټولو افغانانو ته‌متوجه دی. ددی جرم‌په مجازاتو کی‌که دکابل ښار یومخیزه اونوم یی‌په کلی ډول دنړی له‌مخ څخه ورکشی نو دابه یوه‌جایزه او مناسبه سزاوی خودلویی بریتانیا حکومت همیش غواړی چی‌انصاف سره‌رحم یوځای وی نوځکه زه‌داعلانوم چی هغوته به‌ددغه جرم پوره سزانه ورکول کیږی او ښار دی‌سلامت پاته‌وی‌خوپه مطلق ډول دسزاڅخه معافی هم‌پکار نده نوددی‌لپاره دبالاحصار په‌همجواری کی واقع کورونه اودبالاحصار یوه برخه‌به دخاوروسره برابر اوعلاوه پردی دکابل اوسیدونکی به‌دیوی ټاکلی جریمی‌په‌باب هم‌اقد ام کیږی‌چی دهغی‌رقم‌به‌بیا وروسته مقررشی اودهرسړی دحیثیت مطابق به‌وصول‌شی.

زه اعلان کوم‌چی دامنیت په‌خاطر به‌دکابل ښاراوترلس میلی پوری ټولی‌سیمی‌تر نظامی قانون‌لاندی وی .دهیز هاینس امیر په‌منظوری به‌دکابل لپاره یونظامی والی مقرر یږی چی دواران کارانو سره‌عدالت وکړی او هغه به‌په سزاورسوی.

دامنیت دقایمیدلو په خاطر به‌دهری پیښی تحقیق کیږی او هرچاته به‌دجرم مطابق‌سزا ورکول کیږی. په‌خاص ډول به‌په‌کابل کی دخیرخواه خلکو دحفاظت او مصونیت‌له‌پاره پوره بندوبست کیږی.

دابايد يادوساتل شي چي هيڅوک ب دبار دننه په کوڅو کې له دروازو څخه د باندې ترپنځي ميلي پورې خطرناکې وسلې لکه توره چاړه او اتشينه وسله له ځان سره ونه ګرزوي که ددې اعلان څخه يوه هفته وروسته کوم څوک له دغسې وسلې سره په دغو حدودو کې و نيول شو نو هغه ته به د مرګ سزا ورکول کيږي .

بل دادې چې د هرچا سره دانګريز دتبا شوي سفارت کوم شي موجود وي هغو ته امر و رکول کيږي چې هغه دې سمدستي انګريزي کمپ ته وسپاري که د دغه امر پر ځای او بيا کوم شي ورسره پيدا شو نو هغه ته به سخته سزا ورکول کيږي.

دوهم په باب امر صادريږي چې د هرچا سره اتشينه وسله او کارتوس وي په خاص ډول هغه سپايان چې دغه وسله يې دافغان پوځ په داخل کې اخيستي وي نو هغوی وسله دې وسپاري . ددغسې توپک په مقابل کې که د نباله پوروي ياپتا کيدار چې ديسي وي درې روپۍ او که اروپايي ساخت وي پنځه روپۍ ورکول کيږي او که دغه وسله ونه سپاري او بيا ور سره پيداشي نو هغه ته به هم سخته سزا ورکول کيږي .

په پای کښې داعلان کوم چه هرهغه څوک چه مونږ ته داسې څوک واو ښايي چې دانګريز دسفارت په حمله کې برخه اخيستي وي که ملکي وي که نظامي هغه ته به پنځوس روپۍ انعام ورکول کيږي . که څوک صرف موږ ته ددغسې يو چا په باب اطلاع راکړي چې دستمبر ددريم تاريخ څخه وروسته يې دانګريز دپوځ خلاف قدم وچته کړی وي هغه ته به هم ددغه رقم انعام څخه برخودار کيږي . که چيرې دغسې متهم دافغان پوځ کپتان يالفټنټ وي پنځه او يا روپۍ او که فيلډ افسر وي شپږ شفي روپۍ به اطلاع ورکونکي ياښوونکي ته انعام ورکول کيږي » (٥٧)

داکتوبر په ۳۱ در ابرتس لخوا نوي مقررې داسې اعلان شوې:

ميجر جنرال هيلز دکابل دوالي په حيث مقررشو او نواب غلام حسين چې دامير شيرعلي په وخت کې په کابل کې دانګليس سياسي نماينده و دهغه دسلا کار په حيث وټاکل شو.

همدارنگه دوی محکمی تشکیل شوی چی یوه سیاسی او بله نظامی وه دسیاسی محکمی غړی کرنیل میکګریګر سرجن میجر بیلو او دبلی محمد حیات خان ؤ دوی پرسفارت دحملی دواقعاتو په‌باب تحقیق پیل کړاو په خاص ډول یی دامسئله هم ترغورلاندی ونیوله چی بانفوذه خلکو څومره په‌دغه پیښه کی‌لاس درلود دغی محکمی غړوله یواځی تحقیق کاوه بلکه ددعو اوسماعت یی‌هم کاوه.

دوهمه‌نظامی‌محکمه‌وه چی بریګډیر جنرال ماسی ترمشری لاندی‌جوړه شوی‌وه چی هغو پرنظامی کسانو دالزامونو ددعو اوقضاوت کاوه.

همدغودؤ محکمو پرخلکو سوراوربل کړ او کشولوا وټکولو کارته یی ترانتظارد باندی وسعت ورکړ. ددغو محکموسره دکابل سرداران هم دسلاکارانو او همکارانو په‌حیث ملګری وه.

لدی سره سم ملی عصبیتونه راوپاریدل او داعصبیتونه‌بیا دانګلیسانو لپاره ترانتظارد باندی وه داکتوبرپه ۱۷ شپه‌شیرپور په چونی کی یوسخت انفلاق وشو هیوارډهینن د رابرتس دپوځ سره ملګری رپورترچی خپل یاداښتونه یی دیو کتاب‌په‌شکل خپاره کړیدی وایی: دشپی دوی بجی وی ماخپل یادداښتونه لیکل ناڅاپه په‌ډیر سخت انفلاق وشو او په‌هغه‌پسی‌دچاودنو اوازونه غوږوته‌را رسیدل دانګریزی‌پوځ سوظفن‌په‌دی بریالی‌نشول چی‌دهغه عاملین پیداکړي(۵۸)

په‌دغه انفلاق کی‌به‌سلګونه تنه باروت ا و په ملیونونومرمی چی دامیر شیرعلی‌دوخت څخه تهیه شوی‌وه اواوس دانګریزانو په لاس‌کی وه اوریی‌وا خیست او په مطلق ډول له‌منځه یووړل شول هینس مین وایی‌چی درا برتس دوینا په‌مقابل‌کی خلک‌دومره بی‌تفاوته‌پاته‌وه لکه هیڅ چی‌یی او ریدلی نه‌وی اوحتی د یرځله به‌یی‌په دغوخبرو پوری ملنډی هم وهلی.

رابرتس دتهدید لپاره داغوره وبلله‌چی دیوشمیر قومی مشرانو په‌اعدام خلک‌وبیروی

نو دا کتوبر پەشلم تاریخ یی دکابل دښار کوتوال محمداسلم خان د ښلورونو رو کسانو سره اعدام کړ داخلور کسان چیووژل شوه داوه .

اغیرخان دمندیی چوکیدار خواجه ناصر پایمناري چی دانگریز پرضد یی جهاد اعلان کړی ؤ اود چاراسیا پەجنگک کی یی خلک تشویقول دنواب زمان خان زوی سلطان عزیز خان دخوست حکمران اوجنرال خسروخان (نورستانی ؤ .

پەدوی کی یونفر پەگولیو وویشتل شو او څلور نور په دار وځړول شو .

هنسمین وایی چی زه دد وی داعدام پروخت حاضروم او په تعجب می کتل چی ددوی یوه پەتندی کی دویری یاغم هیڅ نښەنه لیدل کیده .

دتحقیقاتو هیئت تەدامیر یعقوب یومحرم عبد الغیاث نومی سړی اطلاع ورکړه چی امیر یعقوب ،کوهستانی عبدالکریم چیدانگلیسانو طرفدارؤ وژلی دی دهیئت ځینو غړودا اشتباه درلوده چی ښایی امیر دغه کاردیوخاص مقصد پەبنا کړی وي خو وروسته معلومه شوه چی امیر یوداسی عمل نەدی کړی چی هغه دی دانگلیسانو په زیان وی بلکی انگلیسانو تەیی دوفاداری لوی ثبوتونه ورکړی دی .

«دکابل دبالا حصاردورانو لواود هغه د همجوارو کورونو د نړولو امر چی صادر شوی ؤ پرځای شو دبالا حصار دنړولو څخه علاوه یوشمیر انفلاقونه هم پکی وشوه چی زیاتره برخه یی وسوځل شوه د دغو خرابو دتفتیش لپاره دراپرتس دقرارگاه لخوا میجرمور یرتبی اولفتنټ نیول چمبرلین موظف شول او دغو دؤ تنو دامیر شیر علیخان پکورکی ترمځکی لاندی صندوقان پیدا کړل چی په هغو کی اته لکه طلاوی پرتی وی .دهغەوخت دتسعیر له مخی طلاوی داته ملیونو کلدارو معادل وی دا پیسی هم انگلیسانو غصب کړی » ( ۵۹ )

داسی ویل چی کله امیر شیرعلی دکابل څخه مزارشریف تە روانیدی دغه طلاوی یی خپلی ماندینی ملکی عایشی تە ورکړی وی او هغی د لتەښخی کړی وی .

انګلیسانو ته زیاتې وسلې هم په کابل کښې په لاس ورغلې خو د باروتو ګدامونه د مبارزینو لخوا وسوځل شوه .

داکتوبر له ۱۲ څخه د نوامبر تر ۱۲ پورې یوه میاشت د کابل په ښار کې یوه لویه قصابي روانه وه د بالاحصار پروړاندې کنډوالو دار تخته ځوړنده وه چې هره ورځ به په عام محضر کې خلک په دار ېدل .

انګلیسانو ته یو تعجب داؤ چې علماء ولې خاموشي ده خو اطلاعاتي سرویس چې یې د کابل د سردارانو په همکارۍ فعال شوی ؤ دا اطلاعات رسیدل چې خلک یو د بله رابطه ساتي او د یوه لوی قیام ترتیبات نیول کیږي .

«د دې لپاره چې خلک غافل کړي د نوامبر په ۱۲ را برتس د عفوې په نامه یو اعلان خپور کړاو په هغه کې یې ویلي چې انګلیسانو ته اوس معلومه شوه چې خلکو د بغاوت نیت نه درلود او د خپل امیر سره علاقه لري نو ځکه موږ د معافۍ اعلان کوؤ خو بیا هم وایو چې وسلې باید تسلیم شي خو هغه کسان نه بخښل کیږي کوم چې پر سفارت یې بلاواسطه د حملې په کار کې برخه اخیستې وي »(٦٠)

خلکو د رابرتس په دې اعلان هم پروا ونکړه او د رابرتس د اطلاعاتو سرویس تر پخوا لا تشویش پاخونکې خبر ونه هغه ته ورکړل. په دغو اطلاعاتو کې د جنرال محمدجان خان وردګ نوم دیو خطرناک سړي په حیث یادشوی ؤ او ویل شوي وه چې دا سړی د غزني څخه ترکوهدامن لوګر او مشرقي پورې د خلکو د را پاخولو پلان طرح کړی دی او دا قواوو له مشرانو سره ګوري د کابل د فجایعو خبر ونه هري خواته خپاره شول« د سویل اینډ میلټري مرکزیت او لاهور سپر اخبارونو د قساوتونو ترعنوان لاندې ولیکل چې په چار اسیاکی سړه او ژوبل خلک سوځل شوي دي را برتس د رسوایي د مخ نیوي لپاره د میجر پروټ په مشرۍ یو هیئت تعین کړ چې له د کتوبر کټ څخه تحقیق وکړي ،(٦١)

خو دا هم یو تظاهر ؤ او د غافلو په منظور یو کار ؤ. د نوامبر د میاشتې په وروستی ماښام

میجر هستنگز په داسی حال کی چی اچ ـ ا ـ م ډیورنډ سیاسی منشی هم ورسره ؤ دامیر خیمی ته ورغی او امیر ته یی وویل چی سبا پر ۶ بجی به د کلهٔ ی سره د کابل څخه د هندوستان خواته حرکت کوی . امیر له ده څخه پوښتنه وکړه چی دده داوسیدلو ځای به ایا په هندوستان ـ لندن یا مالتا کی وی ؟ هستنگر په وجه لهجه ورته وویل چی د اهغه وخت معلومیږی چی ته امرسرته ورسیږی .

امیر یعقوب خان ددسمبر په لومړی ورځ د کابل څخه وشړل شو . په دغه ځای کی د را برتس داردو رپورتر هوارډ هینسمن وایی : «په دی کی شك نه ؤ که امیر شیر علی یا امیر یعقوب له هغوقواؤ څخه چی ددوی په خپل لاس کی درلودی زموږ پر ضد کار اخیستی وای نو حتماً به بر یالی شوی وای خو دوی بی زړه او جبون امیران وه . » (۶۲)

دنوامبر دمیاشتی په اخیر کی دمیدان له سمی څخه انگلیسانو ته تشویش پاڅوونکی خبرونه ورسیدل او څوواره دجلال آباد لار بنده شوه را برتس دجنرال بیکر په مشری یو قوه میدان ته ولیږله چی هغو هلته دبها درخان کلی وسوځاوه او ډیر خلك یی سره کړل .

جنرال بیکر چی له دغه ځایه راوگرځید دبینی بادام په کلی کی یی دانگریزی نیزه و وهونکی دنهم لمبر قوی کتنه کوله چی یوسپین ږیری او دوځوانانو افغانانو حمله پر وکړه خو پیره دارانو له دغه حتمی مرگ څخه وژغوره بیکر دبینی بادام دټول له کلی د سوځلو امر صادر کړ .

دانگلیسانو اطلاعاتی دفتر داخبره هم را برتس ته ورکړه چی په ترکستان کی غلام حیدرخان اروکزی او محمد شاه خان اوزبك دانگلیسانو پر ضد دلویو ترتیباتو په نیولو بوخت دی نو را برتس سمدستی سردار ولی محمدخان چی په لاټی مشهور ؤ او د امیر دوست محمد خان زوی او دانگلیسانو وفادار جاسوس ؤ دترکستان دحکمران په حیث وټاکی .

ددسمبر په لومړی هفته کی دجنرال محمد جان خان او ملامشك عالم په گډون په غزنی کی یوه لویه جرگه وشوه او ددسمبر دطوفانی قیام ترتیبات ونیول شوه . محمدجان خان په لوگر

کی غلام حیدر خان څرخی او سمندر خان لوګری ته او په کوهدامن کی میر بچه خان
او په تګاو کی محمدعثمان خان صافی ته خبر ورکړ چی پر کابل د حملی ترتیبات ونیسی. همدارنګه
په مشرقی کی یی عصمت الله خان جبارخیل ته خبر و استاوه چی دانګلیسانو د تیښتی لار ونیسی.
دمبارزینو لخوا دکابل داشغال پلان داسی طرح شو چی میر بچه خان به دخپلو خلکو سره
دکاریز میر له لاری دخیرخانی پر کوتل کابل ته داخلیږی او دارغندی او پغمان مبارزین
به سرخ کوتل له لاری په کاریز میر کی له دوی سره یو ځای کیږی. محمدعثمان خان تګاوی به
دپیمنار دکوتل له لاری شیرپور پر قشله راتاو یږی او تر سیاسینګ
پوری به سیمه په خپل لاس کی اخلی غلام حیدر خان او سمندر خان به دچار اسیاب او بینی حصار
له لاری کابل ته راځی له دوی سره به دزرمت او پکتیاد قبایلو خلک ملګری وی محمدجان خان
او ملامشک عالم به دغزنی وردګو او میدان له مبارزینو سره دارغندی له لاری مستقیم و
کابل ته داخلیږی ـ دوی دارتباط لپاره هم پوستی تعین کړی.
دایو منظم پلان ؤ خو خاین سردار ولی محمدخان چی درابرټس دجاسوسی دسرو یس وظیفه
یی پر غاړه درلوده ددغه پلان ټوله کلیات او جزئیات و رابرټس ته وویل.
رابرټس سمدستی پلان طرح کړ او انګلیسی قواوی یی دؤ برخو ته وویشلی یوه برخه
یی دجنرال میکفرسن تر قوماندانی لاندی دکوهدامنی قواؤد مخ نیوی لپاره موظفه کړه
او بله قوه یی دجنرال بیکر تر قوماندی لاندی اورغندی ته سوق کړه چی دمبارزینو دقواؤ
یو ځای والی مخه ونیسی.
ددسمبر داتمی ورځی څخه یرغل پیل شو او ددسمبر په لسمه شپه دمحمدجان خان سره
مبارزین کلای قاضی ته ورسیدل دمحمدجان خان سره مبارزین داسی راتیر شوی وه چی
دجنرال بیکر پام نه ؤ ورته جلب شوی.
ددسمبر په ۱۲ انګلیسانو له هری خواتر تهدید لاندی شوا و رابرټس دکرنیل ماسی
ته امر وکړ چی دجنرال بیکر سره دمرستی لپاره ارغندی ته روان شی خو هغه دوارخطائی

څخه لاړو رکه کړه او نیغ دچارده‌په برخو کی محمد جان خان ترقوماندانی‌لاندی‌پر مبارزینو ورپورته شو کله چی دمبارزینو حمله پر وشوه له‌او نچی باغوانان اوچارده‌په کوڅو کی‌دانګریز لښکر تیت شو چی زیاته برخه‌یی کلیو الو بزګرانو او کلیو الو ښځو په‌سوټو او ډبرو ووژل .

ددسمبر ۱۳ ورځ دمبارزینو دقهرمانی ورځ وه په دغه‌ورځ دمحمد جان‌خان لښکر د اسمایی اوشیر دروازی غرونو ته راورسید دمیر بچه خان لښکر دخیر خانی له‌خوا شیرپور ته‌ورنژدی شو او د پایمنار دکوتل لخوا د محمد عثمان خان لښکر دبی‌بی مهرو څخه‌ترـــ سیاسنګ پوری پریوت او جګړه په‌هر محاذ کی‌په قوت روانه وه .په‌همد غه ورځ محمد عثمان خان په شهادت ورسید. دماښام خواته را برتس‌په‌ده مزنګ کی دبیګر دقواوانتظار ایستی‌چی سردار محمد ولی خان لاټی ترکستان ته‌روان واو د ده حضورته‌ورغی خو رابرتس چی اعصاب یی‌کاملاء خرابه‌وه‌په غونډه خوله‌سردار محمد ولی لاټی‌ته ښکنځل وکړل اوورته وی ویل چی اطلاعات اورا پورونه دی ټول دروغ ؤ او دادی‌نن‌موږ بیله‌محاصری بله‌چاره نلرو سردار ولی محمدچی دده‌تر ښکنځلی‌وروسته خپلی بارخانی‌ته‌راغی نو وی لیدل‌چی کالی یی‌ټول چورشوی او نوکران یی تښتید لی دی .

په‌دغه ورځ مبارزینو په قهرمانی هرځای انګلیسان شاته وو هل او ماښام ته‌دانګلیسانو قواوی درا برتس په‌امر شیر پورته‌ننو تلی اوشیر پور کلا محاصره شوه .

په کابل کی‌سمدستی ملی مبارزینو ملامشك عالم دکابل دوالی په حیث وټاکی او د ښار اداره په‌لاس کی‌واخیستله.

نورنو انګلیسانو ددسمبر له۱۴ څخه‌په شیر پورکی محاصره‌شوه اوښار د مبارزینو لاس کی وکله‌چی دجګړی په ډګر کی انګلیسا نو ماتی وخوړلی نود تفتین لاریی غوره کړه په‌غزنی کی‌یی یوشمیر مرتجعینو ته خبرورکړچی دهغومبارزینو پر کورونو یرغل وکړی‌چی په کابل کی‌دانګلیسانو پرضد جنګیدل او هغو هم داکارو کړ کله چی مبارزینو

ته‌خبر راورسیدچی مرتجعینو یی کورونوچور کړی او ښځی یی‌تښتولی دی نود غزنی خواته یی‌مخه ونیوله. په‌دغه وخت کی دتکاو مبارزینچی‌مشر یی محمدعثمان‌خان شهیدشوی ؤ هم کورته روان شول او دمشرقی لخوادجنرال گاف په‌مشری دمردان گاید زخخه یوه تازه دمه‌قوه انگلیسانوته‌ورسیدله. پدی‌ډول هغه فتح چی چی‌په ډیرو قربانیو په‌لاس راغلی وه په بی‌سروسامانه ډول په‌شکست تبدیل شوه او انگلیسانو بیا قدرت وموندچی دشیرپور څخه راووزی او دکابل ښارو نیسی.

دکابل ښارته دانگلیسانو دبیارا وتلی سره هغوی‌بیاپه چوراوچپاول لاس پوری کړ او هری خواته دمحرومیت یوه فضا خپره شوه.

جنرال محمدجان‌خان او ملامشک عالم‌غلام حیدرخان څرخی او سمندرخان لوگری او میربچه خان تصمیم ونیوی چی‌بیاوطن ته‌ولاړشی او هلته مبارزین راټول کړی او دانگلیس پرضدیی وجنگوی. جنرال‌هلیزچی دکابل انگریزگورنرؤ دمحاصری‌په دوران کی په شیرپورکی وددسمبر په‌۲۴ ورځ راووت‌او په کوټوالی کی‌یی درباوکړاود کلایی محمدشریف‌خان دتفتیش امریی صادرکړ هلته یی خوراډیری اسلحی پیداکړی. په دغه ورځ دکابل دښارسود اگرانو اومرتجعینو اوسردارانوپه ډله‌ډله جنرال هیلزته خپله وفاداری ښکاره کړه او مبارکی یی‌ورته وویله.

جنرال بیکرموظف شوچی میربچه‌خان تعقیب کړی او هغه‌په استالف او بابا قشقارکی کلی‌وسوځل اودټولو باغونو میوه‌لرونکی‌ونی‌یی چپه کړی خو هیڅ‌چا دمیربچه خان پته ورنکړه.

جنرال رابرتس‌چی سخت وارخطا شوی و وددسمبر په‌۲۶ یی‌یوځل بیا دعفوی فرمان صادرکړ او په‌هغه کی‌یی وویل چی‌دهرانگریز امردقانون حکم لری خوخلکوپوری وخندل. تردی وروسته نورابرتس او دبرتانیوی هندټول سیاسی‌مامورین په‌دی پوه شول چی دافغانستان ارامول ممکن ندی بایدیوداسی سرداریی‌پرسرودرول شی چی هغه‌انگریز

انو ته و فاداره وی او له دغه ځایه نو دسر دار عبدالرحمن (و روسته امیر )سره درابطی نیولو ترتیبات و نیول شول . درا برتس راپورونه چی هندوستان ته یی لیږلی شوه‌وه‌دلاره‌ډلیتن لپاره

ډیر مایوس کوونکی وه او هرنظا می سیاسی انگلیسد افکر کاوه چی‌په هره وسیله ممکن شی‌باید له‌افغانستان نه‌خپلی پښی و باسی. اوس به ددغی واقعی انعکاسات‌پخپله په‌انگلیستان کی‌وگورو.

د۱۸۷۹ دسپتامبر په دریمه و رځ چی په‌بالاحصار کی دانگلیس دسفارت پیښه‌وشوه او یوه و رځ وروسته دهندوستان دویسرای دفتر ته دهغه په‌دوبنی پایتخت سمله کی خبر ورسید نودهندوستان ویسرای لاردلیتن په‌همدغه و رځ یعنی دسپتامبر په‌څلورمه‌ورځ د انگلیستان صدراعظم لارډبیکنز فلیډته دپیښی یومفصل راپورمخابره کړ .

«لیتن پخپل دغه‌راپور کی هغه‌ته ژ و رو تاثیراتو خبرورکړچی:دپالیسی کومه‌تانسته چی سوږ په‌ډیر فکراوتحمل جاری‌ساتلی وه هغه په‌ډیره‌بی‌دردی وشلول شوه .اوس‌به موږ یوه بله‌تانسته جاربا سو چی‌دږومبی څخه پراخه وی خوزما سره دافکردی‌چی‌دهغی تارونه به‌ضرورکمزوری اواومه وی .»(۶۳)

انگلیستان یقیناً په‌دغه وخت‌کی په‌ډیر فکرکی اودمحافظه کارانو حکومت‌دلار ډبیکنز فیلډ مشری په‌همدغوشرایطوکی بل‌څه نشوای کولای بیله دی چی بیاهم‌پر ــ لارډلیتن‌اتکاوکړی او پریږدی چی هغه ددوی په اصطلاح دا نوی‌تانسته جارباسی نود لارډلیتن‌دشك په‌جواب کی‌دبیکنز فیلډ دکابینی دهندوستان دچارووزیر هغه‌ته‌دا تلگرام را مخابره کړ :

دکابل نیول ضروری دی او پرهغه پیش قدمی سمدستی په‌کارده .

داپیغام چی دسپتامبر په۱۸ مخابره شوی ودهندوستان ویسرای ته خبرورکول شو چی دعلیاحضرتی امپراطوری حکومت پرتاسی اعتماد کوی چی تاسی دا نگریزعزت‌او حیثیت ساتلی شی‌نو هرڅه تجاوزچی مومصلحت وی په نیولوکی یی‌اختیار لری.

دانگلیستان حکومت ته په دغه وخت کی دافغانستان دجیو پولیتکی موقعیت په لحاظ داتشویش ډیر زیات و چی نه چی تزاری روسیه په دغه وخت کی دانگلستان سره سیالی پیل کړی په دغه وخت کی په کابل کی دانگلستان دسیاسی نماینده گی تاسیس د دلاربیکنز فیله حکومت تر ډیره ځایه مطمئین کړی ؤ خو سره له هغه یی هم دافکر کاوه چی دگندمك دمعاهدی پر اساس دافغانستان عمده سوق الجیشی سیمی دوی وا خستلی ولی دهرات په باب دتشویش سره مخامخ وه ځکه هرات دوی دهندوستان کیلی بلل دوی فکر کاوه چی که تزاری روسیه هرات واخلی نو دکندهار داخستلو لپاره به یی قدرت بلکل زیات شی او که کندهار واخلی نو په هندوستان کی دانگلیس بقا یو غیر ممکن امر دی .

دوی په همدغو چورتونو کی و چی په کابل کی دانگلیس دسفارت پیښه منځ ته راغله و دغه کارنو دوی تر پخوا په زرچنده وارخطا کړل او سمد ستی په دی فکر کی شول چی د هرات مسئله باید فیصله شی.

دوی دی حقیقت ته رسیدلی و چی امیر یعقوب یو کمزوری سړی دی او ښایی دتزاری روسیی دمخ نیوی په پلان کی کارورځخه وانه خستل شی خو پر ایران ئی هم اعتماد نه درلود چی که دافغانستان دخاوری داتوته ورته سوغات کړی نو هغه به یی همداسی و نه ساتلای شی چی دانگلیسانو په گټه وی .

دامطلب دهغه لیك څخه خوراښه څرگند یږی چی دانگلیستان خارجه وزیر لارډسالسبری دهغه هیواد دمالیی وزیر (سر هنری ستیفورډ نورت کوټ) ته دسپتمبر په ۲۴ یعنی په کابل کی دانگلیس دسفیر دقتل څخه دوی هفتی وروسته لیکلی ؤ. نوموړی په دغه لیك کی داسی لیکلی و :

ددی مسئلی په باب چی ایا پر ایران تکیه وکړو که پر افغانستان موضوع تراوسه مبهمه ده. دایران شاه دروسانو څخه بیر یږی هیڅ شك نشته چی په دی صورت کی ممکن موږ پر روسانو خرڅ کړی ما د افغانستان امیر سره له دی چی موږ ته خاین نه وی

دو مره ضعیف او ناتوانه‌دی چی که پاك نیت‌هم ولری غیر مفید دی . په‌دی صورت نوپر چا باید اعتماد وکړ و چی هرات و روسپارو ؟ دایرانشاه ښایی هغه‌یی خرڅ کړی او د افغانستان امیر ږه‌یقیناً هغه‌و نه‌ساتلای‌شی. مو ږ اوس له‌دغو دواړو سره تما س‌لرو او په‌یو لړ معلومو او ناکلو خدماتو ښایی زمو ږ نفوذ قایم شی او د هغو له‌بد نیت څخه مخ نیوی وسی داهم دو مره مفید کارنه‌را ته ایشی زماپه شخصی عقیده چی‌په هرات‌کی دایران شاه زمو ږ لپاره د کابل ترامیر ښه خدمت کولای شی.»(٦٣)

دادلارډسالیسبری‌هغه خوبو نه‌وه چی تعبیر یی دهمدغه کال په‌دسمبر کی هغه‌سهال راووت چی‌په کابل کی‌دجنرال رابرتس په‌قوماندانی انگریزی اردو په‌شیر پو رو کی محاصره شوه او درابرتس غوغاتر هندوستانه او دهندوستان دو یسرای‌غوغاتر لندنه پو رته شوه او نو رنو انگلیسان مجبوره شول چی‌په لوی‌سرکی دخپلی ډیپلوما سی،مسیر یوه بل لوری ته وگرزوی او دالوری نودلارډبیکنز فلیډپه‌مشری دمحافظ کارانو دحکومت شکست ؤچی ځای یی دگلادستون په مشری‌دلیبرال پارتی په‌حکمرو ایانو ډك شو .

نوی حکومت خپله پالیسی پر دی ټکی و دروله چی‌هرات او کندهاردی افغانستان څخه نه‌بیلیږی‌خو دافغانستان اداره دی یو داسی سر دارته و سپارل شی‌چی‌دانگلیس په‌گټه هغه‌ټول کسان قصابی کړی چی‌په کله کی‌یی دانگلیس په‌نسبت شو راو په‌زړه کی‌یی نفرت‌وی . ددغه‌فال قرعه‌نو دامیر (عبدالرحمن )خان په نامه راووتله چی‌انگلیسانو دوفادارسردار او دهندوستان دستوری لقب ورکړ و لی دافغانستان خلکو هغه ته‌د (تورا میر )لقب ورهدیه کړ .

اوس به‌دامقاله په‌هغه تصو یرپای‌ته‌ورسوم‌چی پخپله یو انگلیس (جان لون)د انگلیس داستعمار په‌باب کښلی دی او وایی:

بیله استثنا مو ږ د خپلی پیړی ډیـر لوی غـا رتگران او غله‌یو چی دځمکی پرمخ ژوند کوؤ مو ږترنو رو نړ یوالو لو ړیو ځکه علاوه در یاکاری پر نو رو صفا تو منافقان

هم یو مو ډ په غلا او چپاو ل لاس پو ری کواو خپل دغه عمل ته داسی رنګ و رکو و چی دا دنړ یو په خیر دی الو .(م ٦٥)

یقیناً دغه حقیقت دثبوت لپاره په افغانستان کی دانګلیس استعمار اعما ل نه انکار کیدو نکی مثالو نه بر ابر وی .

## د میوند جنګ :

١٨٨٠ کال دسی څخه داګست تر پایه پو ری دافغانستان په جنو ب لو یدیځو سیمو کی دبر یتانوی تیری کو و نکی استعمار پر ضد افغانانو ددیر و ستر و بر یو او و یاړ و نو و رځی وی .

دانو هغه مهال دی چی په کابل کی دجنر ال را بر تس غرو رتو ته توته شوی دی او د بر یتانوی هند سیاسی دفتر دی حقیقت ته رسیدلی دی چی دانګلیستا ن لپار ه به داد ډیری نیکمرغی ځای وی که نسبتاً یو څه تلفاتو سر ه یی پښی له افغانستان څخه و و زی .

جنر ال ستیو ارت چی د کند هار څخه کابل ته را غلی دی نو دبر یتانوی هند نظامی پر وګر ام دادی چی ستیو ارت د کابل او غز نی اداره په لاس کی و اخلی او را بر تس به یو لږ مانو رسر ه دازمینه مساعده کړی چی انګلیسی قو اوی افغانستان خو شی کړي.

په همدغو و رځو کی عبدالر حمن خان افغانستان ته را داخل شوی او دادتا ج ا و تخت دعو اګیر چی په ظا هر ه یی دافغانستان خلکو ته داسی و ر فهمو له چی انګلیس به شړی خو په باطن کی یی دانګلیسانو سر ه شر مو نکی معامله ګری پیل کړی و ه .

په کند هارکی سر دارشیر علی چی یو انګلیس مشر به خاین ؤ په دی تپ و تلاش کی ؤ چی د کند هار حکمر انی یی په پاچهی بدله شی او که دټو ل افغانستان پاچهی نه وی نو حداقل کندهار بایددانګلیس تر قیادت لاندی یو مستقل و لایت شی څو دده اقتدار په امن پا ته شی.

په همدغو و رځو کی دانګلیستان په انتخا باتو کی محافظه کار ګوند ما تی و خوړله او د لار ډ بکینز فیلډ پر ځای دلیبر الانو حکو مت کلا دستو ن تشکیل کړ په هندو ستان کی لارډ

لیتن چی دماموریت پەدوران کی‌یی دافغانستان سره بی شمیره فجایع کړی وی له منځه ولاړ او پرځای یی دلیبرال گوند غړی لارډ (رین) مقرر شو او د هند دچارو وزارت لارډ (هارتینگن) ته ورسید.

ددغه کال داپریل او می‌پەمیاشت‌کی داوازی په کندهار کی‌خبری شوی چی دامیر شیرعلی دوهم زوی ایوب‌خان په‌هرات کی‌دانگلیسانو پرضد ترتیبات نیسی او دغوا وازودکندهار فضاهم پەخپور اوستله او هری خواته‌ناارامی پیښه شوه .دشپی به‌دانگلیسانو پرگزمو د پټو خلکو له‌خوا حملی کیدلی او په دغوورځوکی دانگلیسانو یوه ټولگی له‌کوهکرانه څخه کندهارښار ته راروانه وه چی‌ناڅاپی پر لاری‌حمله‌پری‌شوه‌او دوه‌نفره‌یی‌شدیدټپی‌شول.

داپریل‌په ۶ په کندهار کی دانگلیسانو مستقل سیاسی مامور کرنیل سنت جان هندته تلگرافی‌خبر ورکړ چی‌ایوب‌خان‌انگلیسانو ته‌تما یلات‌لری دابه‌ښه‌وی چی‌دغه سره‌خبری‌وشی یوه‌هفته‌وروسته‌ددی‌تلگرام‌ځواب‌راورسیدچی‌ایوب‌خان‌په‌هرات‌کی دانگلیسانو پەضدجهاد اعلان کړی‌پەدی پسی‌داپریل‌په ۱۷ بل‌خبر راورسید چی‌پرا یوب‌خان‌کابلی‌پلتنوزوراچولی دی چی پر کندهار مارش وکړی او دفراه څخه شاغاسی یوسف خان‌ورته لیکلی دی چی له‌دغسی قیام‌سره موافق دی او باید زمینداوریان چی‌دکندها ری‌سردارشیرعلی سره‌چی دانگلیس یوایجنټ‌دی سخت مخالف شوی دی باید دوضع څخه‌ښه استفاده وشی.

دسردارشیرعلی خان زوی سردارنورعلی چی‌په زمینداورکی حاکم‌ؤدا یوب‌خان دمنظمی اردوقوماندان لوی‌ناب خوشدل‌خان دعوت‌کړی‌ؤ چی‌دانگلیسانو پرضد دملی مبارزه په‌ډله کی وردیږی او کله‌چی دغه خبر دنورعلی له‌خوا سردار شیرعلی ته‌ورسید نوهغه ډیرو ارخطاشو اوسمدستی یی‌په کند هارکی دانگلسیانو له‌سیاسی ما مورڅخه وغوښتل چی‌یوه لواعسکر دده سره ملگری کړی‌څوگرشک ته‌ولاړشی او هلته دنوی‌فتنی مخه ونیسی. ده ویلی وچی که‌انگلیسان دده ملاتړ ونه کړی‌نودزمیندا ورټول‌الیزی به‌په ډیر جرئت دایوب دډلی ملگری‌شی.

دمی په ۲۰ میرزا حسن علی خان دکند هاروالی خبر کړ چې دزمینداو رخلکو ایوب خان‌ته دنفرو او حیواناتو وعده ورکړی ده‌او په هرات کی‌چې کابلی او هراتی پلټنی‌سره مخالفی شوی وی اوس یی په‌سنځ کی‌جوړه شوی ده .

داپلټنی چی‌دیوی مشرشاغاسی خوشدل خان او دبلی مشر غلجی ناصر خان‌و په‌دی‌راضی شوی وچی دانګلیسانو پرضد حمله‌وکړی .

همدارنګه کرنیل سنت جان ته خبرورسیدچی په‌فراه‌کی دمحمد عمرخان نورزی په‌وسیله خلك حاضرشوی‌دی چی دایوب‌خان اکمالات تهیه کړی .

دمی په ۲۶ دهند څخه امرورسید چی‌که ایوب خان دهرات څخه حرکت وکړی دبمبی فرقه دی سفربری‌شی او یوه لوا کافی نه‌ده‌چی ګرشك ته‌ولیږل شی.

ددی میاشتی په‌آخرکی دسیجرلیچ په‌قوماندانی دکشف یوه قطعه سیوند ته‌ولیږل‌شوه چی دټولی سیمی کروکی واخلی‌چی دیوی‌لواله پاره دکمپ‌مساعدځایونه وټاکی.

دجون په ۹ دایوب خان په امر ۱۴۰۰ هراتی سپاره دلوی‌ناب خوشدلخان په‌قوماندانی راوخوځول شول .

په‌عمومی ډول دایوب خان قوه‌چی دزمینداو راوشاوخوا خلك هم‌ورسره یوځای‌کیدل په‌دی‌ډول وه .

دپیاده لومړی لوا: قوماندان یی‌تاج محمد خان تاجك میاخور ۳منظم پیاده غونډه(کابلی) هرغنډ ۵۰۰ نفره ټول ۱۵۰۰ نفره

دپیاده دوهمه لوا: قوماندان یی‌سیدال خان .

۲منظم پیاده غونډ‌کابلی هرغونډ ۵۰۰ نفره.

۱غونډ پیاده (کندهاری) ۵۰۰ نفره‌ټوله ۱۵۰۰ نفره

دپیاده دریمه لوا : قوماندان یی‌غفورخان تاجك .

۳منظم‌پیاده غونډ هرغونډ ۳۶۶ نفرجمله ۱۱۰۰نفره .

تولہ پیادہ (۹غوندہ) . . ۱۸نفرہ.

دسپر ولوا : قوماآندان یی عبدالرحمن خان ریکا.

۳سپارہغوندہ(کابلی) هرغوندہ . . ۳۰ نفرہ تولہ . . ۹نفرہ

توپچی لوا : قوماندان‌یی‌احمدگل‌خان(کابلی) .

یوہ غرنی قاطری بطریہ دتوپچیانو تعداد . . ۱۰ نفرہ .

شپږصحرای‌داسانو بطریہ‌چلوونکی . . ۸ نفرہ

تولہ‌توپچی قوہ . . ۵۰ نفرہ

غیرمنظم سپارہ تولہ پہ‌مختلفو رتبو . . . ۲ نفرہ

همدارنگہ دفراہ څخہ . . ۵ نفرہ دمحمدیوسف خان پہ‌مشری او دسرتیپ نادرشاہ‌کابلی پہ‌مشری د ۸ توپونو سرہ یوهراتی غنډ ورسرہ یوځای شو.

دجون‌پہ ۱۵ ایوب خان دخپلی قرارگاہ سرہ‌چی ۸غنډہ ۳۰ توپونہ‌او ۸غنډہ سپارہ وو لہ هرات څخہ حرکت‌راوکړ دجون ۳۰ایوب‌خان پہ فراہ کی وخود کندهار انگلیسی ماموریین اوسردارشیرعلی خان لاپہ دی چورتونوکی ؤ-چی ایوب خان‌بہ‌دهرات‌څخہ حرکت ونہ‌کړی خوبیاهم پہ احتیاطی ډول لفتننت جنرال پریموزچی دکرنیل سنت جان سرہ یی رقابت هم درلود (۶۶) هندتہ اطلاع ورکړہ چی‌کہ‌ایوب خان دکندهار خواتہ حرکت وکړی نوددوی قواوی بابہ‌لہ سند څخہ تقویہ شی‌او لہ بمبی څخہ کراچی تہ‌باید عسکر راولیږل شی‌چی‌دلتہ‌ر اشی

دجولای پہ‌اولہ پہ کندهارکی انگلسیان خبرشول چی‌ایوب‌خان حرکت کړی دی او پہ ډیرہ توندی‌مخ د کندهارپرخوارا ځی نوانگلیسانو هم خپلی قواوی دبریگیدیر جنرال باروترمشری لاندی پہ‌قرارگاہ‌کی‌داسی تنظیم کړې

کپتان میک‌مات دلوازموسرپرست

کپتان هاپش داسرافسر

لفتمننت‌دابز دلوازمودوهمی څانگی امر

سیجر لیج                    انجینر

دسپر و دلوا قوماندان بریکید یر جنرال نوتال ـ سیجر هاک دلوامیجر.

جزو تامونه:

سپاره (۲۰۷) مشری یې ځلور افسره

سپاره (۳۰۰) مشر یی ٦ افسره

افراد ۱۸۸۵ تنه‌افسران ۳۳ کسه

دوی دیوی میاشتی اکمالات هم وا خیستل او احتیاطی جبه خانه او وسایط او نور ټول لوازم یې تهیه شول.

دبلی خوا څخه دبمبیی ۹ او ۳۲ پیاده غنډونه سیوی ته‌او له هغه ځایه کویټی ته‌واستول شول چی دجولای په۳۱- کندهار ته‌را و رسیدل.

دجو لای په. ۱ دلوی ناب قواوی واشیر ته و رسیدی او په‌همدغه ورځ دجنرال بارو انگلیس قو اوی دسیس کاریز او یخچال څخه‌دهلمند غاړو ته و رسیدی.(٦٧)

دوالی شیر علی قواوی چی‌په گرشک کی‌متمرکزی وی دانگلیس قواو په رسید لو سره یی یو ډول بی‌غیرتی احساس کړه او په دغه ورځ یو غنډله‌والی څخه وگرزیداو غنډهم ورڅخه یاغی شو.

دایوب خان دلښکراو ازو په دغو قواوکی ډیری اغیزی کړی وی. دوالی قواوته اسرور کول‌چی دسادات کلی ته‌چی‌دگرشک په۱۸ کیلومتری کی‌واقع دی. تر شا شی او دی امر ښه دده زمینه برابره کړه چی افغانستان افرا ددپښتنو دلښکر خواته ولاړشی.

دجولای په‌ه ۱ انگلیسانو دوضع په‌خطرناکه درک دجنرال پریموز په مننه فیصله وکړه چی دسیوند خواته عقب نشینی وکړی او هغه ځای‌چی پخوایی‌میجرلیچ نظامی کروکی اخیستی وه تقویه کړی.

دجولای په‌۱۷ دانگلیسانو عسکر کشکنخودته‌را ورسیدل اوجنرال پریموزد جنرال

فاير شخه وغوښتل چې د پياده ۲۸ غنډا و د بمبۍ ۳ لمبر غنډ دی ميوند ته اعزام شي په همدغه ورځ دايوب سپاره تر هلمند راواوښتل .

دجولای په ۱۹ جنرال بورو انګليسي کمپ دميوند پريوه انتخابي ځای وټا که په دغه سيمه کی دپياده قطعاتو او توپچي اوحيواناتو له پاره په اساسي توګه ځای وټاکل شو په دغه وخت کی انګليسانو فکر کاوه چی ايوب خان به پر کندهار يرغل کوی او غزنی خواته به تير يږی جنرال پريموز ډير اصرار کاوه چی ددوی مخه ونيول شی.

دجولای په ۲۲ دايوب خان قواوی دحيدر اباد سيمه کی تر هلمند را پوريوتی دانګليسانو سر اسيمه ګی لدی ځايه معلومه وه چی پخپله وا يی.

زموږ جاسوسان به هره ورځ تر کرماب - سنګسار او بندتيمور پوری تلل خو (۶۸) اطلاعات به يې په لاس نه ورتلل صرف دومره به خلکو ويل چی ايوب خان په لوی قوت کی دی .

دجولای په ۲۳ دلومړی ځل لپاره اطلاعاتی پوستو دخوشدل خان په مشری دافغاني لښکر ورسيدل کشف کړل او له دی سره سم دکرنيل سنټ جان په امر د ميجر ليچ لخوا د بمبيی ددريم غنډ شخه يو کندك مؤظف شو چی دميوند په سيمه کی تو له دغلی کېښتو نه او ذخيری وسوځي چی دافغانانو په لاس ورنشي.

دجولای په ۲۴ او ۲۵ دانګليسی عسکرو او افغانی مبارزينو ترمنځ دسنګيسار په سيمه کی جګړی وشوی چی دانګليسی قواو مورال يی ډير ورضعيفه کړ او دا اوازې هری خواته خپری شوی چی ايوب خان به دجولای په ۲۷ ميوند ته ورسيږي .

دجولای په ۲۶ کرنيل سنټ جان ته خبر ورسيد چی دسالمند له لاری مبارزين راداخل شول او په دی پسی يی اطلاع وا خيستله چی مبارزين دميوند پر خوا راځی نو جنرال بارو امرو کړ چی انګليسي عسکر دی مخ کی تر مبارزينو ځان ميوندته ورسوی .

دجولای په ۲۷ ددواړو قواو په ميوند کی يو مانورا جرا کړ او دواړو خواو قواوی په تقريبا موازی ډول روانی وی.

دانګلیسانو قواوو چې سباپرنم بجو حرکت کړې و دیوې منظمې قوې په حیث د هغې کروکې له مخې ځان هدف ته رساوه چې ستراتیژیکې او تاکتیکې اهداف یې پخوا ټاکل شوي وو. د ورځې پر ۱۰ بجو د کاریز په حدود و کې یو جاسوس کرنیل سنټ جان ته اطلاع ورکړه چې دا یو ب ځان قواوې دنظم او مورال په لحاظ ډیرې قوې دي ـ خوسنټ جان ویل چې اوس ډیر را وړاندې شوي یو او عقب نشیني کولای نشو.

دورځې پر ۱۲ نیمو بجو د کپتان شلید ـ لفټننت فول قواو په جګړه لاس پورې کړاو د جنرال نوټال په امر د دښمن پر قواو د درانده اورا مرورکول شو. د بارو پیاده قوا چې د دښمن تر سخت انداخت لاندې وه دلفټننټ مونیټت او لفټننټ سمټ په قوه یې نجات وموند په دغه وخت کې دبمبيي د ۳۰ غونډ اوسنددقواو لخوا هم حمله پیل شوې وه. خو لږ ګړې وروسته دانګلیسانو قواوې دملي مبارزینو لخوا د نعل په شکل محاصره شوې.

فول وایي: (افغانانو تر یو وخت پورې پرموږ مستقیم یرغل نه کاوه خو لږ ګړې وروسته هغو خپل توپونه د ۷۰۰ یاردو په فاصله عیار کړل. او شدید اور یې بل کړ. ددوی توپچیانو هدفونه ډیر ښه و پیشتل او اورې یې داسې تمرکز پیدا کړچې زموږ توپونه په خاموشولو قادر نه وو. ددوی ۶ ارمسترانګ توپونو زموږ تر توپونو درنې سرمې او ره ولي او زموږ اسانو ته یې ډیر سخت زیان ورساوه.)

په دغه وخت کې کپتان بلیك و داوفا ول سخت ژوبل شوي وو او پر ځای یې کپتان شلیدو ټاکل شو.

تر دغه وخته پورې افغانانو لا درنه حمله نه وه پیل کړې دورځې پر یوه نیمه بجه د(۹ پن) توپونو اونورو (۳ پن) توپونو په وسیله او د کابلي او هراتي غونډ و نو پیاده قوه د (یو په بل پسې نظام) په طریقه رامیدان ته شول او په حیرت پا شونکې زړورتوب یې پیشقدمۍ پیل کړه.

دبریتانیا د ۶۶ کنډك لخوا په مستقیم او پروت ډول پر دوی اور بل شو خو افغاني

مبارزينو اجا طوی‌حرکت ډیر سخت انکشاف وکړ. میجر هاگ دسوارو قواو یوی مفرزی ته امر وکړ چی دعقبی جبهی شی‌خواته دد ښمن دپیش رفت مخه ونیسی‌خو جنرال‌نوټال دهغه دتوقف امر صادر کړ.

په‌دغه وخت‌کی دبمبیی لوبری غونډ د افغانانو لخوا محاصره شو کرنیل گریف‌وایی:

:(دیوی نیمی بجی وخت ؤ. دبمبیی دلوبری غنډ د میک لین توپونو اړخ ته‌وم چی ددښمن توپچی بطریه سی‌و لیدله چی‌د. ۵ یارډو په‌فاصله یی‌موږته موضع ونیوله موږ غوښتل‌چی تراورلاندی‌یی ونیسو خو دوی دستر موضع‌ونیوله او زموږ اوربی‌فایدی شو.

میجر لیچ وایی(سره له‌دی چی ددوی توپیان ترسینی پوری ښکاریدل او پرموږ یی دنږدی فاصلی څخه اوربل کاوه او زموږ دتوپونو اورهم ډیر شدید ؤ خو افغانانوموږ له‌موضوع څخه‌ولاړنکړ ای شوای‌او زموږ تلفات ډیر شدید شول ).

دوربجی د۲ بجو په حدودکی دافغانانو ډزی کمی شوی او انگلیسانو فکروکړ چی‌د دوی جبه‌خانه خلاصه شوه او دایو خوشحاله تنفس ؤ خو لږ گړی وروسته حمله‌په شدت‌پیل شوه په دغه خاموشی کی مبارزینو دانگلیسانو پر مرکز حمله‌وکړه په‌دغه‌وخت‌کی‌د بمبیی‌د.۳ غونډدوی‌توپ لی‌چی‌شد یدتلفات یی لیدلی ؤشاته شو خود احمله بیاهم شاته‌ووهل‌شوه ولی یوه‌شیبه وروسته مبارزینو په‌ډیر شدت دانگلیسانو پرقواوورا وځغستل او دلته په‌برچه اوسینه په‌سینه جنگ شروع شو او د انگلیس قواو پرعقبی قواووير غل پیل‌شو.

سرجن میجر پریستر وایی: (زه دعقبی قواووپه‌روغتون کی زخمی‌په‌یوه‌ډولی کی پروت‌وم‌ناڅاپه‌یوشمیرافراد وزما ډولی‌پورته کړه او د هری خوا څخه‌ځغاستی‌پیل‌شوی اوناری وهل کیدی چی‌مبارزین رانوتل ما ډولی‌پرده پورته‌کړه ومی‌لیدل‌چی انسانان او حیوانات په‌ډیر وحشت دشا پرخوا ځغلی زموږتول اسباب وسامان پاتی‌شو او زه یی دتوپخانی پریوه اس سپور کړم خولید ل می‌چی یوی خوا او بلی‌خواته می‌انسانان‌او حیوانان پرسر اسیمه ډول ځغلی ).

میجر لیچ لیکی : (ماتی‌لوسړی دبمبیی دغونډ له‌خو اپیل شوه قوماندانانو او افسرانو چی هرڅومره ډپیاده قواوو پ‌ه‌راتهو لولو پیل وکړ نتیجه یی‌و رنګړه په‌دغه وخت‌کی اندرسن هم زخمی شو او ترماتی مخ‌کی موږ له ۱۰۰ څخه‌تر ۱۵۰ پوري‌تلفات درلودل خوو روسته چی‌ګډوډه وضع پیل‌شوه نو بیاحساب‌هم معلوم نشو ).

. جنرال بارود نوتال څخه پوښتنه وکړه‌چی دسواری قواوو یوه مستقیمه حمله که‌وشی څرنګه‌به‌وی چی‌پیاده درا تهولو‌و فرصت‌پیداکړی؟ دااسر وشو خوسپاره قواپه‌عوض ددی‌چی مخامخ حمله وکړی دراسته خواڅخه پرو رغلل او هغه مهال چی یی‌دپیا ده‌قواوماتی ولیدله‌دوی هم راپرشاشول اووضع ترپخوالاپسی ورانه‌شوه.

نوتال وشلیدته امرو کړچی توپخانه راترشاکړی خوهغه وانه‌وریدل اوفیرونه‌یی کول څومبارزین پرراورسیدل او داوسایط دهغوپه‌لاس‌کی‌ولویدل.

دورځی ۳ بجی وی چی دهری خواڅخه‌دماتی وضعیت پوره انکشاف وموند .انګلیسی‌قواوی په سراسیمه ډول منډ اباداته راپرشاشوی خودمبارزینو شدید تعیب هغه‌ډیری‌وځپلی څوپه یوه باغچه کی توپونه تعبیه‌شول .

دی وضع هم‌ګډه ونه‌کړاوقواوی حوض مددپرخوا راماتی شوی. انګلیسی‌عسکر اکثره پرلاری دتندی څخه لویدل اودشپی ۱۱ بجی وی چی حوض مددته ورسیدل دنمیی شپی‌څخه وروسته‌پر یوه‌بجه دحوض مدد څخه په‌کامله سراسیمه‌کی دعاشقان (مطلب‌یی داشوغی کلی‌دی چی دارغنداب درود پرغاړه دی) خواته راوانی شوي.

دجولای دمیاشتی د ۲۸ ورځی دسها رپرپنځه بجی داشوغی په‌شاوخوا کی پردوی بیافیرونه‌وشول اودسهار پر ۷ بجی دسنګری‌په برخه‌کی تراورلاندی ونیول شول .

دلاری‌په اوږدوکی انګلیسی عسکر وځای پرځای خپلی‌درنی وسلی غورځولی ۸ بجی او (۵۴)دقیقی وی چی کوهکرانته‌ورسیدل اودلته یی هم توپونه خوشی کړل اودشاوخوا کلیوڅخه خلك پرراوغورځیدل. دعباس‌اباد کلی‌په برخه‌کی‌پادوی ډیرشدیداوربل‌شودورځی دوه‌بجی‌وی

چی‌دانگلیس‌ماتی‌شوی لښکر دکندهار چونی ته‌ورسیدلی. دغوقواوپه‌۳۳سا عته کی‌۵۴میله لارپه وچه تراته وهلی وه.

دجنرال باروولوا چی دمیوند په‌محاذکی شامله شوی وه‌تولـه (۲۴۷۶) نفره‌وو‌او تلفات یی‌په‌دی‌ډول‌وو.

بریتانوی افسران ۲۱ مړه او۸زخمی

بریتانوی قطعات ۲۴۶مړه ۳۴زخمی

دبریتانوی قواوسره دسرتجعینو ملگری افسران ۱۱مړه اوورک۹زخمی‌دبریتانوی قواوسره ملگری قطعات ۳۴۶ مړه اوورک ۱۰۹ زخمی ـ نفرخدمتان ۳۳۱مړه اوورک ۷زخمی.

داسلحی په‌لحاظ ډیرضایعات ووچی ۱۰۰۰ توپکه اوکره‌بین اوتقریباً د۶۰۰خخه تر ۷۰۰ پوری کرجان اوتوری ولاړی. دجبه‌خانی د مصرف مقدار

په‌محاربه اودارد ونانس په‌بارککی دوپنگولی ۳۴۷۳۱ـ او۸۴۸ـدسی جی‌گولی ۸۷۴ـ ضعیفه وسله ۳۸۲۸۸۱ـ۲۷۸۲۰۰ --

دترانسپورت تلفات:

۱۶۷۶ اوښان ۳۵۵ یابوگان ۶۴ غاطری ۷۹گا میښی ۲۴۱ خره.

د۵۵۴ نفرو په حدودکی دنقلی عملیه اودریوران یامړه اویاورک شول دکندهار چونی ته‌دانگلیس قواوورارسیدل بیاهم په‌امن کی‌نه‌وو‌اودلته ترلږ توقف وروسته په‌دی پوهیدل چی مبارزین یی تعیقبوی نوسمدستی ښارته داخل شول اودروازی یی وتړلی.

پرښارچی‌کلاراگرزیدلی‌وه. دانگلیسانو په‌خارداره سیمانونوره هم پسی تقویه‌کړه او ښارد خلورودروازولکه ښکارپوردروازه ـ کابل دروازه هرات دروازه اوعیدگاه‌دروازی برجونه یی‌ډیرتینګ کړل.

دجولای په ۲۸ شپه‌دوه وار دافغانانو له‌خوا فیرونه وشول او په سبایی دجولای ۲۹ و رځ دښارځنی خلك چی دانگلیسا نو له‌پاره خطرناك وو له ښار وایستل او ښار یی ترنظامی استحکام لاندی راوست او دتلگرافی مخابری‌ارتباط ټینگ کړ.

دښار استحکاسی وضع یی‌داسی جوړه کړه.

بریگید یر جنرال نوتال دکابل دروازی - بریگید یر جنرال بروك دښکار پوردروازی کرینل سین وا نکك عیدگاه دروازی‌بریگیدیر جنرال بارود هرات دروازی جبهی‌تقویه کړی او عمومی قوماندانی لفټننت جنرال‌پریموز په لاس کی واخیستله.

دقرارگاه مرکز دکندهار ارگ ؤا و مدافعوی قواوی داسی ځای پرځای شوی.

۷لمبر فوسیلجر کنډ ك دارگ دجنوب او ختیځ خواته دبمبیی ۲۸ لمبر غونډ دارگ شمال اولوید یځ خواته دبمبیی لومړی دیرشم لمبر غونډ دتوپخانی‌په ځلورلاری کی۶۶ لمبر کنډ ك دعید گاه په‌دروازه کی‌او ۳ او ۱۹ دبمبیی غونډ ددا خلی مدافعوی اکمالاتو او نقلیاتو دساتنی له‌پاره‌موظف شو. دجولای په ۲۸ ورځ چی‌دانگلیسانو مات شوی قطعات دکندهار ښار ته ورسیدل په‌دی ترتیب وو.

(افسران ۶۹—افراد او خورد ظابطان ۳۳۵۳ تنه نارو غان ۳۸۳ تنه).

دجولای په ۲۹ څه‌نه‌وه خو دجولای په ۳۰ د لری څخه دایوب خان قواوی‌ولیدل شوی.

داگست په‌لومړی نیټه دده خواجه‌له‌خوافیر وشو او داگست په ۲ دباباولی‌اوحیدرخان دکلا چی‌له خوا دښار پر دیوالونو فیرونه وشول.

داگست په‌ځلورمه دکند هارچارسو او توپخانه تقویه‌شوه.

نو رنود اگست له‌لومړی څخه‌تر ۲۱ پوری پر له‌پسی ښار دایوب خان قواو وتهدیداوه دایوب خان قرارگاه په‌چل زینه کی‌وه.

دکندهار څخه کرنیل ستجان دایوب خان سره مکاتبه پیل کړه او لفتنت مك‌لین‌چی‌د

مبارزینو لەخوانیول شوی و دهغه تبادله یی و غوښته خو ایوبخان رد کړه .

داگست پەمنځ کی دا اوازه را ورسیده چی مبارزین سخته حمله کوی خو دا گست پە ۲۳ ناڅاپه ولیدل شوەچی دباباولی او چل زینی مخ پر کښته حرکت روان دی د انگلیسانو یو جاسوس هغوته خبر ورکړ چیایوب خانخپلهقرارگاەدخاکریز خو اتهبیایی.

دبنگال فرقەچی دکندهارشا و خو اته ورسیدله نوښار تر څلورو هفتو محاصری وروسته خلاص شو.

داگست پە۳۲ ایوبخان خپل کمپ پەمرزه کی ودراوه او متفرقی حملی پر ښار کیدلی درا برتس په مشری چیدکا بل څخه چی کوم لښکر داگست پە۸ دکند هارخو اته دجنرال پریموزدماتی دجبریلەپاره راروان شوی وداگست پە۳۱ د سها رپر ۱۰ بجو دښکارپور دروازی لەلاری ښارته را ننوت په دغه قوه کی ۲۳۶ بریتانوی افسران ۲۵۶۲۱ بریتانوی افراد ۷۵۱۱ تنه غیر بریتا نوی افسران او افرادو و.

پەدغه ورځ ملی مبارزینو پەفوری حمله لاس پوری کړا و درا برتس قواوی هم پیر پایمال تەورسیدی او پەدغه ورځ ډیرسخت جنگ وشو.

دسپتمبر پەلومړی ورځ جنرال را برتس په جنوبی افغانستان کید تهولو بریتانوی قواو قوماندان پەحیث خپلپلان انگلیسی قوماندانانو تەتشریح کړ.

دسپتمبر پەدو همه ورځ دگوند یگان اوملاصا حبداد غونډی دکلیو پەحدود وکی تو ده جگړه وشوه پەدغه ورځ دانگلیسی قواو و پەقوماندەکی میکفرسن هم برخەد رلوده .

پەدغه ورځ دبرچوشدید جنگ‌هم وشوچی ددواړو خو او څخه تلفات ډیر زیاتوو .

دمبارزینو قوت دانگلیسانو په نیمایی وەخو په جگړه کی یی زړورتوب اومها رت تر انگلیسانو زیات ؤ.

دسپتمبر د۸څخه را برتس او نوری قواوی پرلەپسی دکندهار څخەپەو تلوپیل شوی او کندهارته دامیرعبدالرحمن‌خان درا تلو ترتیبات نیول کیدل .

ایوب خان اومبارزین پەدی پوه وو چی عبدالرحمن خان دانگلیسا نوتهول شرایط منلی دی نو دهغه پرضدیي‌هم جهاد اعلان کړ.

دکندهارمشهورعالم اومجاهد مولوی عبدالرحیم اخندزاده چی دحبواخندزاده زوی ؤ دمبارزینودقوتوله‌پاره کلک تبلیغات کول او د انگلیسانو تروتلو وروسته‌چی‌امیر عبدالرحمن کندهارته‌ورسید نودغه مجاهد مولوی او نورمبارزین چی‌د انگلیسانو پرضدیي قیام کړی ؤووژل اودایوب خان قواوی ماتی کړی خوهغه ایران او بیا هندته فراره شو (۷۰)

## امیرعبدالرحمن خان‌او انگریزان

دافغان او انگلیس ددوهمی جگړی په‌پای کی دانگلستان لخوا دا تصمیم دعمل‌صحنی‌ته راوارد شوچی دافغانستان زمام یو داسی سړی ته‌وسپاری چی هغه هم نفوذ و لری او هم انگلستان ته‌وفاداره وی .

داسړی‌نوسردارعبدالرحمن‌خان ؤچی یو ولس کاله‌یي‌په‌روسی ترکستان کی‌په‌تبعیدی ډول عمرتیر کړی ؤ .

دانگلیسانو لخوا دبریتانیا دیوسیاسی مامورلیپسل گرفون (                    ) پــه وسیله تماس ورسره ونیول شو او په پای کی کابل وروسپارل شو.

عبدالرحمن‌خان چی کله‌امیرشونو دانگلستان سپارښتونه یي‌ومنل او هغه کسان‌چی د انگلیس پرضدیي مبارزه کړی وه یو په‌بل‌پسی له منځه یووړل اودافغانستان ملیتونه‌یي وځکول او په قساوت یي‌حکمرانی پیل کړه‌په ۱۸۸۲ کی انگلیسانو ۱۲ لکه کلداری‌دەته مرسته وکړه خودديُ سره انگلیسانو هغه ډیرسخت تهدیداوه اوتر ۱۸۹۳ پوری چی دډیور رنډ تړون پرتحمیل شوده‌ته اجازه نه‌ورکول کیده‌چی حتی دقبایلو سره تماس ونیسی.

دلته دمثال په ډول د دوؤ لیکونو متن راوړو چې دبریتا نوی هند دویسرای لخوا په ۱۸۹۲ کی‌نوموړی ته‌را لیږل شویدی او ددغو مکتوبونو له لهجې څخه پوهید ای شو چې دانگلیس تهدید او دامیر داطاعت درجه معلوه مه کړو.

دهندوستان بریتانوی ویسرای لارډلند ون امیرعبدالرحمن ته‌حق نه‌ورکاوه‌چې‌د قبایلو له‌خلکوسره وگوری یوځل امیرکومه قبایلی جرگه منلی‌وه‌چې ویسرای د۱۸۹۲ کال دجولای په ۲۳ دالاندی لیک ورته راولیږی.

«په‌دی وخت‌کی هغه‌غلط فهمی چی‌دغه دوستداری پخوا گمان کاوه په‌شوځایونوکی سرته‌رسیدلی دی.

دهغه مهربان عسکرو پراسمارقبضه کړیده او هلته ناست‌دی‌او ددوی‌او دباجوړدقومونو ترمنځ جگړه شویده. دی دوستدارته خبرونه‌رسیدلی دی چې هغه مهربانند اپریدویو او اورکزیو دقومونو جرگی‌ځان ته منلی او هغه مشفق زیار ایستلی دی چی‌داقومونه دځان تابع کړی.

افغانی‌کارکونکو په‌چالاکی او زړنگی سره خپله پاملرنه دوزیر وملك ته‌اړولی‌ده او په‌دی تازه وختونوکی دهغه ملك‌او دکندرد سیند ترمنځ بی‌سیمه قبضه کړیده.دهغه مهربان‌دعسکرویوی ډلی‌په آزادانه ډول‌پربرگستانی چی‌دکندر دسیند پردی غاړه‌دکا کړو په‌سیمه کی‌ځای‌دی‌تصرف کړیدی‌ه‌همدارنگه‌دهغه‌مهربان دفراحاکم‌دچاغی‌پرسیمه تاخت‌وتاز کړیدی. داورکزیو او اپریدویو په برخه‌کی دادوستدارهغه مهربان‌په‌څرگندډول د خبروی او متنبه کوی چی دهغه مهربان کوښښ چی‌ځان دهغوقومونو حکمران‌او بولی یادمهربان دکارکونکوسازشونه‌چی‌داقومونو ته لاربښوونی وکړی دهند عالیه دولت یوناگوارعمل‌بولی. دهند عالیه‌دولت پردی مستقل او خودمختار گنی.

دادوستدارځان مجبورگنی چی‌هغه مهربان آگاه او متنبه کړی چی‌په باجوړیاوزیرستان کی‌کومه پیشقدمی‌ونکړی. دهند عالیه دولت هغه مشفق‌ته‌داحق نه‌ورکوی چی دباجوړ

یاوزیرستان کومه برخه دخپل هیوادضمیمه کړی‌یایی مستقله وبولی. سره له‌دی‌چی هغه‌مهربان کاراو کرداریی‌تول مخلوق وینی دهغه مهربان دعدم صداقت‌ـعدم‌اخلاق اومدارشاهد او ځرګندوی دی.

دهغه عالیه دولت دهغه مهربان سره هروخت داسی‌رفتار کړیدی چی‌ګواکی‌یو وفادار دوست اومعاهددی.

هرکله‌چی هغه مشفق له‌دی وضع څخه ځان بهره یاب نکړی ـمونږ به‌مجبوریو چی خپل سرکار وکړوا وبیله‌دی‌چی دهغه‌مهربان مصلحت‌او مشورت‌واخلو دسرحد فیصله وکړو. (۷۱)

سره لدی چی امیر عبدالرحمن‌دانګلیسانو داوامرومطلق‌پابندۇ خویو کوچنی‌عمل‌یی‌هم‌دبریتانوی‌هندد‌سیاسی‌دفترونولخوادقبول‌ځای‌نه‌درلوداوپه مستقیم ډول‌به تهدید کیدی.

ددغسی تهدید اتویوه وړه‌نمونه‌په هغه مکتوب کی ده‌چی ۱۸۹۲ کال داګست په ۲۹ دویسرای لخوا دامیر په‌نامه رارسیدلی‌ۇ په لیک کی یوځای داسی لیکل شویدی.

«.....او هندارنګه دهغه مهربان عساکرـوکیل‌او کار داران داکتوبرترلومړیو وختو نوپوری دوانی،ګل کڅ اود هغه له شاوخوا څخه وته ایستل شی‌نو داد وستداربه وی‌چی هغوی دباندی ایستلو ته‌مجبوردباندی ایستلو ته‌مجبورکړی. (۷۲)

انګلیسانو سر بیره پردغو تهدیداتو یولړ محاصری هم‌پر افغانستان راوستلی څوعلاوه پر هغوسیمو چی‌دلاهور اوګندمک‌په‌تړونونوکی‌د افغانستان‌له‌لاسه‌ایستل‌شوی وی‌ـدچترال‌ـ باجوړ‌ـدیرـمهمندوتیراـوزیرستان‌ـپښین‌اوسیبی‌باندی‌خپل‌حاکمیت له‌حق څخه‌تیرشی.

دانګلیسانو دانقشه‌په ۱۸۹۳ کی دډیورنډ دتړون کرښه سره سرته ورسیدله دلته یوه دیاد وړ خبره شته چی دډیورند سره لدی‌چی‌انګلیسان او ترهغه‌وروسته ډیر استناد په‌کیدی په‌منظمه توګه نه‌ده ایستل شوی دمثال په ډول دهندوکش (له ختیځی برخی څخه) ترنوا کوتل پوری کرښه تحدید شوه‌خو کله‌چی‌باجوړاو مهمند ته‌ورسیدله‌نو د

نظر د اختلاف په وجه دا برخه تحدید نشوه ـ له همدغه نوا کوتل څخه د کابل تر سند پورې او د کابل له سیند څخه تر سکارام پورې چې د پیواړ کوتل واقع دی دا سرحد همدغسې نا محدود پاته شو. له ۱۸۹۵ څخه تر ۱۹۴۷ پورې په وارو وارو دانګلیسانو له خوا دا غوښتنه وشوه چې د سرحد دا برخه وټاکل شي خو د افغانستان لخوا د دیورند تړون د مادې په اساس چې سرحد باید د دواړو خواو په موافقه باید وټاکل شي دغه کار ته غاړه نه کښېښوده او دغه تحدید تر نن پورې همداسې پاته دی.

البته دوهم هیئت د سکارام او کرم څوکې تر منځ په وزیرستان کې سرحد تحدید کړ ـ خو کرم څوکې څخه دومندې (د ګومل او کندر د سیندونو ملتقا) پورې دوکسو انګلیسانو (کینګډ او اندرسن) په خپله خوښه سرحد وټاکی او نقشه یې لارډ الګسن وایسرای د یو مکتوب سره د ۱۸۹۵ کال د سپتمبر په ۹ امیر عبدالرحمن ته راولیږله. خو امیر د ۱۸۹۶ کال د مارچ په ۱۱ نیټه دا لیک او نقشه بیرته ولیږله او عذر یې وکړ چې د دیورند تړون د ۲ مادې خلاف په یو جانبه ډول سرحد تعین شوی دی. دغه نقشه لارډ کرزن د ۱۹۰۱ کال د فرورۍ د ۲۱ او د مۍ د ۲۹ لیکونو په ضمن بیا هم تکرار او ستولو خو امیر د جون د ۱۷ نیټې په لیک هغه بیرته مسترد کړه او سرحد په دغه برخه کې ناټاکلی پاته شو. تر دې وروسته په ۱۹۴۰ کې د جنورۍ په ۱۳ لیک کې بیا هم د کنیګ او اندرسن نقشه راولیږل شوه خو بیا هم په دې برخه کې څه اجراات ونشول. »(۷۳) برسیره پر دې د دیورند د تړون سره د ضمیمې نقشې په باب شکوک لږ نه دي ځکه لومړۍ نقشه په دوهم تبدیل شوې او په ځینو موارد و کې نقشه د اصل تړون د موارد و سره سر نه خوري په خاصه توګه د بلوڅو په ریګستان کې دا حدود ډیر مغشوش دي.

د دیورند تړون د خپل ماهیت له لحاظه یو جبري تړون دی او یوازې په یو جانبه ډول د انګلیسانو له خوا یې حدود تعین شوي دي چې په هره برخه کې د افغانستان ستراتیجیکي موقعیت ته ضربه او تهدید لاندې وي او دا کار انګلیسانو په هغه نیت کاوه چې افغانستان باید په منځنۍ اسیا کې د خپلو سوقیاتو سنګر وګرځوي.

# شلمه پیړی

## افغانستان په نیمه مستعمره موقف کی

دشلمی پیړی په سرکی د افغانستان پر تخت باندی دامیرحبیب الله خان د کښېنستلو په وخت کی په انگلیستان پوری افغانستان وابستگی نوره ټینگه شوله. نو موړی دبریتانی لخوا تحمیل شوی تعهدات ومنل چی په حقیقت کی یی افغانستان دانگلستان په نیمه مستعمره بدل کړی ؤ. »(۷۴)

دهمدغی څیری سره امیر حبیب الله خان د ۱۹۰۱ کال داکتوبر څخه د ۱۹۱۹ کال تر فیروری پوری افغانستان پاچاؤ. دی دامیر عبدالرحمن مشر زوی ؤ او کله چی امیرشو نو دمذهبی تظاهر له مخی یی دخلکو اغفال ته لاس وروا چاوه خو وروسته یی دامسبداد څیره څرگنده شوه او دلومړی مشروطه غوښتونکو په وینو یی لاسونه سره کړه.

له همدغو وخوسره برابر دپښتنو هغه سیمی چی داباسیند او کابل دسیندتر منځ تر خیبر پوری واقع وی دبریتانوی هندله خوا دپنجاب څخه بیلی او دسرحدی صوبی په نامه یادی شوی دغه ځای ته دروزکیپل په نامه یوانگلیس رامقرر شو چی استخباراتی شبکو یی دامیر حبیب الله دربارترنظارت لاندی ساتی.

دهند ویسرای لارډ کرزن ؤ چی دامیر عبدالرحمن سره یی ملاقات هم کړی ؤ غوښتل یی
پر حبیب الله نوی تړونونه تحمیل کړی خو امیر تر ۱۹۰۷ پوری په بیلو بیلو پلمو ځان
یوی خوا او بلی خواته کاوه .

په ۱۹۰۷ کی یی هندته مسافرت وکړ او کله چی له هغی خوا څخه وطن ته راغی نو د
انگلیس په خدمت کی یو فعال عنصرود ۱۹۱۴ پوری لوسړی ۱۹۱۸ عمومی جگړه

ددغه امیر د پاچهی له زمانی سره برابره وه او په دغه تول دوران کی امیر دانگلیس په گټه
افغانستان او سرحدات ارام ساتل .

دده دامارت په دوران کی دافغانستان روښان فکرانو دانگلیس څخه دخپلوا کی او په
هیواد کی درفورم غوښتنه کوله خو امیر دغوغوښتنو ته بی اعتناؤ خود ۱۹۱۹ کال
په فبروری کی ترورشو .

دشلمی پیړی په پیل کی دافغانستان خارجی سیاست دافغانستان دستراتجیکی موقعیت
تابع ؤ .

انگلیس غوښتل په هند کی خپلی گټی دابدیت ترحد لاندی جاو دانی کړی او په دی
لارکی چی دهند پرشاوخوا هرڅه سیمی او ممالك واقع دی باید دسیاست مشین یی داسی
فعال کړی چی ددغه هدف لپاره پکارولو یړی .

دبرلین له کانگرس (۱۸۷۹ )څخه چی افغانستان دانگلستان دنفوذ په ساحه کی واقع
شو بیا دشلمی پیړی تر پیل پوری دانگلیس تول تلاش دی تکی ته متر جه ؤ چی دهندوکش
او سلیمان دغرونو لړی دتزاری روسیی پر مخ سنگر بندی کړی او دغه کارنو د امیر ع
عبدالرحمن خان پر لاس اجرا شود دیورنډ په تړون (۱۸۹۳) هغه څه چی انگلیسانو غوښتل
عملی شول خو کله چی عبدالرحمن خان مړ شونو بیا هم داضرورت محسوس ؤ چی د نوی
امیر سره دمناسباتو په ساحه کی نوی پلانونه دعمل صحنی ته راوباسی.

ددغه کارلپاره پر امیر حبیب‌الله ډیر کارو شو او هغه مطلوب مقاصد که‌خه‌هم دترون پەشکل کی ځای نه‌شول خو پەدیپلوماتیکه صحنه‌کی‌یی دغه امیر پر داسی یوه لار روان کړچی دانگلیسانو گټی پکښی مضمروی .

پەعمو سی‌ډول دغه‌اتلس کلنه دوره له حوادثو اود خارجی سیاست پەصحنه کی‌د برخورد ونو او نتیجو پەلحاظ ددری عمده اصلونو تابع وه .

پەلومړی مرحله کی‌بی اعتنایی او مقاومت‌ؤ چه تمثیل‌یی‌دامیر دربارکاوه پەدوهمه مرحله‌کی بی‌ثباتی شروع شوەچی امیر دانگلیس‌لخوا تکانونه ولیدل پەدریمه مرحله‌کی تسلیمی او فرمانبرداری وەچی امیرخپل گفتار او کردار دانگلیس پەگټه عیار کړ .

پەدغه هره مرحله‌کی موانع منفی برخورد او عکس‌العملونه‌پەداخل اوخارج کی‌پە عمل راتلل. گروپ بستی کیدلی او داسی حالات هم را غلل چی‌امیر حبیب الله دمنځه‌پکښی ولاړخو دعمو سی وضع ملاک بیاهم‌داپاته ؤچی دانگلیس دنظر یاتوخځه بایدمخالفت و نشی او دغه عمل دو نه سخت عکس‌العمل پیداکړ چی پەانفجاریی‌هم امیرتر ورشو او هم د افغانستان دسیاسی آزادی ملی آزادی غوښتونکی مبارزه دانگلیس پرضد رسماً اعلان شوه.

د۱۹۰۱ کال داکتوبر پە ۳ پر امیر حبیب‌الله‌خطبه وویل‌شوه او لدی مرسم دامیر دربار دبریتا نوی هندو یسرای تەدنوی امیردجلوس خبر ورکړ خو: څرنگه‌چی‌دو یسرای سکرتری محتاط سړی ؤ نو و یسرای یی‌متوجه کړچی پەدغسی یوحساس وخت کی سرحد تەدپیشروی څخه صرف نظر وکړی . » (۷۵)

حبیب الله خان وروسیی تەهم دخپل امارت خبرورکړاو هغوی تەیی اطمینان ورکړ چی دعبدالرحمن‌خان پەمړینه سره بەپە وضع کی‌هیڅ بدلون رانشی.

دامیر دلیک پەجواب کی دبریتانوی هندلخوا دمبارکی دپیغام سره د اغوښتنه هم‌ملگری وەچی‌که دامیر مصلحت‌وی انگلیسان بەیو هیئت هم‌کابل تەراولیږی خو امیر اغماض

و کړ او و یسر ای ته یی اطمینان و ر کړ چی دی دهغو معاهداتو کامل وفادار دی چی دده له پلار سره شوی دی .

د ۱۹۰۲ ځخه دلارډ کرزن او امیر حبیب الله مکاتبه په داسی یوه مسیر کی ولویده چی انگلیسانو ددوستی دمعاهدی نو رتجدید هم غوښت خو امیر تجاهل کاوه او په ۱۸۸۰ کی دعبدالرحمن خان او بریتانوی هنددوستی معاهده یی تائیدوله.

په شپږ م لیك لارډ کرزن په صراحت او بیله مقدمی امیر ته ولیکل چی د ۱۸۸۰ کال معاهده دعبدالرحمن خان او انگلیسانو ترمنځ شخصی وه او عبدالرحمن خان هم ځینی وختونه هغه نادرسته بلله.څرنگه چی اوس عبدالرحمن خان وفات شوی نو د زوی په حق کی یی هغه پوره نشی تطبیق کیدای او که نوی معاهده ونسی نو امیر به دهندد حکومت دحمایت اواعانی څخه مستفید نشی »(۷۶)

لارډ کرزن ضمناء حبیب الله خان هندته هم ور دعوت کړ خو حبیب الله خان په هغو لیکونو کی چی د ۱۹۰۲ کال دنوامبر په ۲۷ او ددسامبر په ۹ تاریخ یی لیږلی وه لارډ کرزن ته جواب ورکړ چی په کابل کی دسلطنت دکارونو په وجه سفرته تیار نه دی اوداچی د ملکی وکتوریا دوفات په وخت کی دمعاهدی نوی کولوته احتیاج نه ؤ نو دامیرعبدالرحمن خان دمرگ پوخت کی هم مسئله له دغه قرارده ۷۷ )

لارډ کرزن دامیر حبیب الله دخارجی سیاست دبرخورد څخه کاملاء نارا حته ؤ او په هند کی د خپل ماموریت تر پایه نارا حته پاته شو. دامیر دنظامی تهدیدلپاره هم دانگلیستان حکومت حاضر نه ؤ خو امیر هم د موضوع حساسیت ته متوجه ؤ نو ځکه بی په همدغه وخت کی ایران د(سیستان دمسئلی) دحل لپاره دیکماهن په مشری انگلیسی هئیت و منه.

امیر حبیب الله دتزاری روسیی لخوا هم مطمئن ؤ خو دده ؤ لو یو قدرتونو روسیی او انگلیس موازنه یی خارله. په خاص ډول هغه مهال چی دجاپان په مقابل کی تزاری روسیی شکست وخوړ نو (۱۹۰۵) دمیدان یکه تاز قدرت انگلیس راووت .امیر حبیب الله له دغه وخت څخه

دانګلیس تر نفوذ لاندې شو او په همدغه کال دامیر حبیب‌الله او انګلیسانو ترمنځ یوه معاهده وشوه چې په هغه کې امیر دانګلیس او امرو ته غاړه کښېښوله .

په ۱۹۰۷ کال کې امیر حبیب‌الله دبریتانوی هندد و یسرای په بلنه هندوستان‌ته مسافرت وکړ او په همدغه کال (۱۹۰۷) کې دانګلیس او تزاری روسیې ترمنځ معروف تړون وشو چې په هغه کې په خاص ډول افغانستان او ایران په باب مسائل مطرح شوی و .

نورنو امیر دانګلیسانو په مقابل کې کاملاً مات شوخو په دربار کې داسې عناصرو نفوذ درلودچې هغه د انګلیسانو دنفوذ سره چندان موافق نه وه . پدغه ډله کې دامیر ورور سردار نصرالله‌خان رهبري درلوده‌چې لومړی عمومي جنګ په‌دوران کې یې دضدانګلیس احساسات میداني شول .

دامیر او انګلیس د ۱۹۰۵ کال معاهده دانګلیسانو لخوا ترخورا ډیرو مصلحتونو وروسته په‌عمل راغله د ۱۹۰۴ کال ددسامبر په ۱۲ دهند د خارجه چارو منشي سرلویس دن کابل‌ته راورسیدی او د ۱۹۰۵ کال دمارچ تر اخیره پورې خبرې وشوی . په‌دغو خبرو کې دعبدالرحمن خان او انګلیسانو ترمنځ ۱۸۸۰ کال معاهده دبحث موضوع وه او په پای کې د۱۸۹۳ کال معاهده هم تر بحث لاندې شوه .

د طرفینو موقفونه په‌سر کې ډیر سره لرې وه . دبلې خوا د (د ن) او لارډ کرزن تر منځ هم دمسایلو په باب دنظر توپیر موجود و . پسله ډیرو خبرو او تماسونو چې خوواره دغه خبرې درکود او حتی شکست سره مخامخ شوی بالاخره په ۲۱ دامعاهده دامیر او لویس لخوا امضاً شوه او د ۱۸۸۰ کال معاهده تائید شوه .

ددغې معاهدې عقد دبریتانوی هند لخوا یونا مطلو به‌هدف‌ته‌رسیدل تلقی شول خود بریتانیاخارجه‌وزیر په‌رضایت یوموفقیت وباله او وې ویل:

امیر ته‌دالیتماتوم لیږل چې دهندحکومت غوښتل‌ممکن دیوه داسې جنګ باعث ګرزیدلی وای چې په نتیجه کې‌به‌یې هندوستان او بریتانیاته عظیم مصیبت راوړی وای .(۷۸)

هندوستان ته‌دامیر مسافرت هم دافغانستان دهغه و رځی دخارجي سیاست‌په چوکاټ کی‌بی حسابه ندی‌که څه‌هم امیر په‌رښتیا ښکار او سیل لپاره هندوستان ته‌تللی ؤ خو حریف (انگلیس)دهغی فورمول بندی لپاره کار و رڅخه واخیست چی‌دتزاری روسیی په‌مقابل کی‌یی دافغانستان دستراتجیکی موقعیت لپاره طرح کړی وی .

انگلیس داکوښښ کاوه چی افغانستان دیوسنگر پشان دهندی مستعمری‌په ساتنه کی استعمال کړی او پرلازمو مواقعو دتزاری روسیی په‌تهدید‌کی‌کار و رڅخه واخلی ددغه کار لپاره په هندکی دامیر سره‌سفاهمی ضرورت و او امیر هم په‌داسی‌وخت کی هندته ورغی چی‌په پښوکی‌یی د۱۹۰۵ کال دامیر او انگلیس‌دمعاهدې زولنی‌پرتی وی .

امیر ته په‌دغه سفرکی د (علیحضرت) کلمه دانگلیس دشاه له خوا په‌پیام کی استعمال شوه او ۲۱ دتوپ ډزی ورته‌وشوی .

هغه مهال‌چی امیر هندته‌ورغی لارد کرزن تللی‌و او امیر ته‌نوی ویسرای هرکلی‌و وایه او دسیستان په‌مسئله کی‌دانگلیس دهیئت‌مشر میکماهن‌یی مهماندارو .

امیر تر هغه‌وخته په‌هندکی‌و وچی‌دلته په‌کابل کی ئی بیخی‌دسرگ‌او ازه‌خپره‌شوه بیانو هیواد ته راغی ده په‌هندکی‌دمدنی موسسا توپه لیدولو داسی‌علاقه پیدا کړه‌چی په‌افغانستان کی‌نوی فرهنگی‌فعالیتونه پیل کړی

«امیر په‌دغه‌سفرکی دخپل درباریو زروسل کسه‌داسی کسان‌دځان‌سره بیو لی‌وه‌چی‌په خپل غیاب کی دهغه دپاته کیدو څخه‌یی بیره‌کوله .» (۷۹)

هندوستان ته‌دامیر دسفر په نتیجه کی‌انگلستان و هغه ته‌کلی هدف ته‌ورسیدچی‌امیر عملاء دانگلیس له‌قدرت څخه و بیروی . دغه‌کار دانگلیستان دنفوذ لپاره مطلوبی او د افغانستان دخلکو لپاره ډیری نامطلوبی نتیجی درلودی .

نورنو امیر دموم پشان دانگلیس دگوتو تابع شوچی هرډول یی‌زره غوښت هغه ډول‌یی شکل ورکولای شو .«نوموړی دبریتانیی لخوا تحمیل شوی تعهدات ومنل چی‌په حقیقت‌کی‌یی افغانستان دانگلستان په‌نیمه مستعمره‌بدل که«۸۰»

ډیره لویه پېښه چې دامیر حبیب الله په دوران کی دخارجی مناسباتو ساحه کی پېښه شوه لوسړی یین لمللی جګړه چې په اسیا کی بی دبر یتانیا دنفوذ ساحه ټکانی کړه. دافغانستان ستر اتجیک موقعیت دجنګ دمتخاصمو طرفینو توجه ځان ته اړولی وه خو افغانستان بی طرفی و کړه. دابی طرفی په یوه نیمه مستعمره هیواد کی دکوم کلی مفهوم حاصل کیدی نشی نو ځکه بی طرفی هم دانګلستان په اشاره و مصلحت وه.

په هغه برخه کی چې دا نګلیس په ګټه وه دبی طرفی څخه استفاده کیدله. دمثال په ډول «دهاګ د ۱۹۰۷ کال پنځم قرارداد دیولسمی مادی په قرار که د جنګ په دوران کی څوک دنظامی خدمت څخه و تښتی نو که بی طرفه ملك ته ورشی هلته باید خلع سلاح او بندی شی. دهمدغه اصل په قرار کله چې دجنګ په دوران کی دتزاری روسیی یوه دسته عسکرافغانستان ته را و تښتیدل دلته په افغانستان کی خلع سلاح او بندی شول»(۸۱)

دجنګ په دوران کی د(بنیدرمیر ـ هنتګ) دهیئت سفرله مهمو واقعاتو څخه ؤ چې په اروپا کی دترکیی او المان تر ډیر و مصلحتو وروسته د ۱۹۱۵ کال د سپتمبر په ۲٦ کابل ته راورسید او ددغه کال داکتوبر په میاشت کی په پغمان کی دامیر سره و کتل. دنوموړی هیئت دوظیفی عمده هدف داؤ چې امیر دانګلسیس پرضد جنګ ته تیار کړی. په هیئت کی جرمنی غړی امیر ته دوسلی وعدی ورکوله. ترکی غړی داسلامی احساساتو پیاموته ورته راوړی وه خو امیر چې دانګلیس په وفاداری کی ځای سپارلی ؤ دغسی وعدی او پیاموتو یی په غوږ و اغیزه و نکړه. دهمدغه هیئت سره هندی ضد انګلیس مبارزمهند راپرتاپ او مولوی برکت الله هم ملګری وه.

دهمدغه هیئت درا تګ سره د امیر حبیب الله دربار دوجناحو ته و ویشل شو چې یو طرف ته دامیر وروړ سردار نصرالله ـ د امیر دوه زامن عنایت الله ـ امان الله او سردار نادرخان او محمود طرزی هم ورسره ملګری وه دوی دجنګ دحزب په نامه یا دیدل په مقابل کی سردار

عبدالقدوس اعتما دالدوله ؤ چې دانګلیس طرفدا ران پر را تهول شوی وه او امیر هم په پټه ددغه ګروپ طرفداری کوله.

په عمومی ډول امیر حبیب الله خان دانګلیس دسیاست یو فعال وفاداره ؤ او د«۱۹۰۵ کال له معاهدی څخه بیادمرګ ترګړی پوری په ټولو تعهداتو کی دانګلیس سیاست ته لاس ترلی وفاداره پاته‌شو.»(۸۲)

ددغه امیر په‌وخت کی‌دسیستان مسئله دامیر شیر علی ددوری څخه لا ینحله پاته‌وه «د میکماهن انګلیس په‌حکمیت داسی فیصلی ته‌ورسیده چی‌د هلمند دسیند دا و بو دریمه‌او دسیستان دخاوری یوه دریمه دافغانستان څخه جلااو دایران ته‌ور کول شوه خو په دغه برخه کی نزاع پای‌ته‌ونه‌رسیدله»(۸۳)

دحبیب‌الله خان په‌وخت کی دسرحد مسئله هر وخت دتشویش باعث‌وه.

دډیورنډ دترون له‌وخت څخه دسرحد خلکو په دی رضایت‌نه‌درلود چی‌دبریتانوی هند دنفوذ په‌ساحه‌کی‌پاته‌شی او دامیر حبیب‌الله دامارت له‌پیل څخه د سرحد دخلکو جرګی کابل ته‌را غلی خو انګلیسانو ډیر ژر دوضع درک وکړ او حبیب‌الله دسلطنت‌له‌پیل‌سره یی دسرحد و لایت مستقیماً دهندپه مرکز پوری وتړی او دعمومی جګړی په‌وخت کی (روزکیپل) نومی انګلیس دسرحد دکمشنر په‌حیث مقرر ؤ چی افغانستان ته‌دترک‌ځجرمنی دهیئت دفعالیتونو دشنډلو په‌برخه کی‌یی لوی فعالیتونه وکړل او د حبیب‌الله دخارجی سیاست دکنترول یوه مهمه برخه ددغه سړی ترنظارت لاندی وه.

یوه ډیره مهمه پیښه چی نړی ته‌یی تکان ورکړ او په خاصه توګه دافغانستان په خارجی سیاست کی‌یی ژوری اغیزی وښندلی په ۱۹۱۷کی داکتوبر انقلاب‌ؤ چی‌په‌تزاری روسیه کی‌منځ‌ته راغی او یو نوی تیپ دولت پکښی را پورته شو.

سم لدی سره دبخارا فیوډالی امارت دهغه ځای دخلکو په قیام ړنګ شو او په منځنی‌اسیا کی یو نوی انکشاف ؤ چی دبریتانوی امپریالیزم خشم یی‌را پاڅاوه.دهمدغو واقعاتو

دمنځ ته راتلو په بنا افغانستان بیادستر اتجیکی اهمیت له نظره پاملرنی جلب کړی .

امیر حبیب الله وظیفه وسوندله چی په منځنی اسیا کی دانگلیس منافع خوندی کړی نو داؤ چی دمنځنی اسیاباسمچیانو ته یی دخپل هیواددروازی خلاصی کړی .لدی خوا نه یوازی دغه باسمچیان مسلح پرشوروی‌اسیایی جمهوریت ورگمارل کیدل بلکه په زیاته اندازه وسلی بههم په‌قاچاق وروړل کیدی .

«دشوروی ترکستان مختارنماینده به خبرورکاوه چی بخاراته دانگلیس او هندی مالونوسره خوا په‌خواوسلی‌هلته‌وروړل کیږی‌اود دغه کار لپاره دافغانستان‌له خاوری څخه استفاده کیږی . څوپه ساورا کسپین کی دسرولښکرولەخوا دانگلیس لەماتی‌سره دغه پلانونه داوبوپر سرپوگانی شول .» (۸۳)

امیر حبیب‌الله دانگلیس په‌گټه په دغه لارکی دیوفعال عنصر په حیث دنوی پلانونو په تطبیق کی خطرنا کوازمینو ته‌ځان تیاراوه‌چی په‌ناڅاپه ډول له منځه‌یووړل شو او د افغانستان خارجی سیاست‌و یو‌ه‌نوی مسیرته وروټوید .

## په افغانستان کښی د مشروطیت‌نهضت:

دروشنفگرانو هغه ډله چی‌په انقلابی عمل یی‌غوښتل دامیر حبیب‌اله مستبد نظام‌په یو مشروطه پاچایی تبدیل کړی دحبیبیه‌لیسی له‌تاسیس سره متشکل شول.دغه‌کار له

۱۹۰۳ . پیل څخه‌او په ۹ . ۱۹ کی‌د لومړی‌مشروطه غوښتونکو په قتل عام سرته‌ورسیدی په‌دغه نهضت کی‌دامیر ددربار دځوانو عناصر وڅخه نیولی دحبیبی لیسی ترسره ښوونکو او منفردو شاگردانو پوری یو شمیر ځوانانو برخه‌درلوده .

دوی به‌پټی غونډی کولی او د نهضت په‌گټه جریانات به‌یی څارل. ددغی ډلی‌عمده مشرتاج محمدخان بلوڅ ؤ چی دپغمان اوسیدونکی ؤ-جوهرشاخان‌غوربندی‌یی‌بل مهم

شخصیت ؤ او میر سیدقاسم خان لغمانی دغږو تر منځ را بطهؤ له د وی سر ه یو شمیر پنجابی
ښو ونکی هم وه چی مشهوریی داکتر عبدالغنی او د هغه و رو نه مو لوی نجف علی او محمد
چر اغ وه او دغه دری کسان نهضت ته وفاداره نه وه .
دغو نهضت غو ښتنو نکو په عمده توگه دری غو ښتنی درلودی .لو مړی دافغانستان دخپلو اکی
غو ښتنه- دو هم دمترقی فر هنگ تعمیم-دریم په قانون دامیر داستبدادمخه نیو ل .
دامیرداستخبار اتو سرو یس په دغو کسانو پسی فعال ؤ-په خاصه تو گه هغه سهال چی د
مشر وطه غو ښتو نکو په مرکزی کیتیه کی فیصله و شوه چی هر غړی باید یو ه تفنگنچه
له ځان سر ه و لری نو دامیر جاسو سانو ته دجدی اطلاع دعرض زمینه بر ابر ه شوه .
دغه اطلاع ملامنهاج الدین دشهز اده کبیر خان ښو ونکی له خوا په جلال آبا د کی امیر ته
و رسو ل شوه .
په دغو و ختو نو کی دمشر وطه غو ښتو نکو ډلی پر ځا ن د(حزب ملی سری) نو م ایښی ؤ او
جاسو س د دغه حزب د غړو لست امیر ته و سپاری او امیر د هغه لست پر مخ خپل احکام داسی جاری کړل
۱)لعل محمد خان دامیر غلام بچه زوی په جلال آباد کی اعدام شو .
۲)محمدعثمان خان د محمد سرو ر خان پر و انی زوی په جلال آباد کی په توپ کی و الو زو ل شو .
۳)جو هر شاه خان غو ر بندی دامیر دحضو ر دعملی لخوا اعدام شو .
۴)محمدایو ب خان پو پلزی په جلال آباد کی په توپ کی و الو زو ل شو .
۵)محمدسرو ر خان دمو لوی احمدجان خان الکو زی زوی په کابل کی په توپ کی و الوزو ل شو.
۶)سعدالله خان الکو زی په کابل کی په توپ کی و الو زو ل شو .
۷)عبدالقیو م خان الکو زی به په کابل کی په توب کی و الو زو ل شو .
۸) غلام محمد میمنه گی دامیر دحضو ر رسام بندی شو .
۹)تاج محمدخان پغمانی بلوڅ بندی شو .
۱۰)میر زا محمد حسن خان را قم بندی شو .

۱۱)میر زا عبد الر زاق خان بندی شو .

۱۲)میر زا امان‌الدین خان بدخشانی بندی شو .

۱۳)محمد انور خان بسمل بندی شو .

۱۴)احمدقلی خان قز لباش‌بندی شو .

۱۵)عبدالو هاب خان کر نیل بندی ش و .

۱٦)پادشاه میر خان لو گری‌بندی‌شو .

۱)نظام الدین خان ار غند ی و ال بندی شو .

۱۸)قاضی عبدالاحدخان سلیمانخیل بندی‌شو .

۱۹)میر قاسم خان لغمانی بند ی شو .

۲۰)میر زا غیاث الدین خان بندی شو .

۲۱)حافظ عبدا لقیو م خان بندی‌شو .

۲۲)محمدابر اهیم خان ساعت‌ساز کابلی بندی شو .

ددغه سړی په‌باب و ایی‌چی کله یی معین السلطنه ته‌و رو وستی هغه په‌قهر او عتاب و رته و و یل: عجیب ! شر م‌نداری یك ادم ساعت ساز تو هم بمقابل پادشاه‌قد علم کر دی » ساعت ساز و رته‌و و یل: «بلی من یك‌ساعت‌ساز ساده میباشم و لی‌ارز و داشتم که‌پادشاه‌ما دو ران ساز باشد ! »داخبر ه ساته باباعبدالعز یز خان کړ یده چی‌یو ه ز یاته‌مده د هاشم خان‌په ز ند ان کی‌ؤ او سبار ز شخصیپ ؤ (عطائی)

۲۳)عبدالمجیدخان‌ساعت ساز بندی شو .

۲۴)عبدالر حمن خان دمحمدسرو ر خان و رو ر بندی‌شو .

۲۵) شیر علی خان بار کزی بندی شو .

۲٦)ملامحمد اکبر اخندز اده ساکزی بندی شو .

۲۷) جلال‌الدین خان کندهار بندی شو .

۲۸) کاکاسید احمد خان لودین بندی شو .

۲۹) عبدالرحمن خان بندی‌شو .

۳۰) حبیب‌الله خان بندی شو .

۳۱) محمد رسول خان بندی شو .

۳۲) امر الدین خان بندی شو .

۳۳) مولوی محمد مظفر خان بندی‌شو .

۳۴) داکتر عبدالغنی پنجابی بند شو .   ی

۳۵) محمد چراغ پنجابی بندی شو .

۳۶) مولوی نجف علی پنجابی بندی شو .

۳۷) مولوی محمد حسین پنجابی بندی‌شو .

۳۸) مولوی محمد حسین پنجابی بندی شو .

۳۹) مولوی غلام محی الدین افغان بندی‌شو .

۴۰) حبیب‌الله خان طرزی بندی شو .

۴۱) میرزا محمد اکبرخان یوسفی بندی‌شو .

۴۲) حاجی عبدالغزیز خان مشهور پهلنگر زمین بندی‌شو .

۴۳) محمد اسلم خان سیغانی بندی‌شو .

۴۴) صاحبزاده عبداله خان بندی شو .

استاد محمد عظیم خان دحربی فابریکی تخنیگر او ملا منهاج الدین دشهزاده کبیر جان استاد چی امیر ته یی ریوټ ورکړی ؤ دمکافاتو په اخیستلو موفق شول »(۸۵)

## استقلال او رفورم :

د۱۹۱۸ په نو امبرکی لومړی بین‌المللی جنګ پای ته ورسیدی .د۱۹۱۹ په فروری کی افغانستان دهغی وعدی پر اساس چی دبریتانیا څخه ئی دجنګ په دوران کی اخیستی وه چی

دجنگ تر خلاصیدوو روسته بهافغانستانخپلواک کیږی یوليك برتانیاتهولیږهاوپه هغه کی یادؤنهشویوه چهنورنوافغانستاندیو خپلواکهیواد پهحیثدنو روهیوادو سره دپلوماتیکی راو بطقا یم کولای شی .ددغهلیك خخه وروستهامیر حبیبالله ترور شواو دهغه زوی امیر امان الله خان پاچاشو.

امانالله خان د ۱۹۱۹ کال دمارچ په۳ دبریتانوی هندنائب السلطنه لاردچلمسفورد تهلیك و استاوه او دخپل پلار د سرگ او دځان دباچا کیدو خبر یی هغهته ورکړ. ضمناً یی هغهته ولیکل:

«... دهغه سلگری خخه دی پته نهوی چی دافغانستان مستقلاو خپلواك حکوستځان تیارگنی چیپه هر وخت او هر ځای کی ددو ستی دایجاباتو په نظر کی لرلوسره دانگلستان دقوی شوکت حکومت سره داسی تړونونهلاسلیك کړیچی زموږ حکومت اوستاسوحکومت ته گټوروی» (۸۶)

پهدیپسی امانالله خان ددغه کالداپریل په۱۳ نیټه پهیوه عام دربارکیافغانستاند مستقل دولتپهحیث اعلان کړ. اومحمد ولیخان یی بخاراتهدنماینده په حثیتمقرر کړاوکابینه یی جوړه کړه او محمود طرزی یی خارجهوزیر (ناظر خارجه)مقرر کړ.

امان الله خان په همدغه وخت کی یوفرمان صادر کړچی دری ماده یی درلودی او لومړی مادهیی دافغانستان دکاملی خپلواکی اعلان ؤ.

بریتانیا دغهغوښتنی پهسرکی بیجوابه پریښوی خو په وروستهکییی جنگ تهځان تیارکړ او پهدی ډول دافغان او انگلیس دریم جنگ شروع شو.

دافغان او انگلیس دریم جنگ چیدبریتانوی امپریالیزم پرضدیوملی آزادی غوښتونکی غورځنگؤ دامیر امانالله دسلطنت لهپیل سره منځ تهراغی.

دبریتانیا امپریالستی دولت دیتهحاضر نهؤ چی افغانستان دیوخپلواک هیوادپهتوگه ومنی-نود۱۹۱۹ کال په لومړیووختونوکی یی یوه ۳۴۰ زریزه) ارد وچی په لومړی شمیرماشیندارانو-میکانیزه قطعاتو-الوتکواو ۱۸۵ زرو (باروړونکو) حیواناتو

مجهز وه دافغانستان سرحداتو ته‌نژدی متمرکز کړه‌ډیر ژر یی دغه شمیر ۷۰ زرو سربازانو او افسرانو او ۳۰ زروحیواناتو ته پورته کړ. د دی عظیم قدرت په مقابل کی افغانانو ۳۸ زره نفره پیاده‌چی‌نیم یی په سپکو توپکونو او نوریی دتیرو پیړیو په مارتینی اوستایدرتوپکونو اوډیرولږ وما شیندارانو مجهزوه ـ او ۸ زره نفره سپاره او ۳ زره نفره داسی توپچیان سیدان ته‌ولیږل چی پوره روزنه‌یی لانه درلوده. ددوی توپونه ډیرزاړه وه ـ الوتکی‌یی‌نه درلودی اونه میکانیزه قطعات و رسره وه. دوی د وطن‌پرستی‌قوی احساس او د هیواددننه اود باندی مترقی قوتونو سرسته ورسره و امان الله او دده ملګرو د خپلواکی په‌خاطر ضد امپریالیستی‌جګړه‌پیل کړه.»(۸۷)

دجګړی دری محاذه وټاکل شول ـ خیبر یومحاذ ؤچی هلته تدافعی ترتیبات نیول شوی وه. کندهارمحاذ هم تدافعی ؤ او هم تعرضی خود پکتیا محاذ کلاملاء تعرضی ؤ. دخیبر دمحاذ قوماندان جنرال صالح محمدخان بیله‌دی چی دعمومی قوماندان او امر په‌نظرکی‌و نیسی ـ په تعرضی یی‌پیل وکړ او لدی سره را پرشاشو انګلیسانو جلال آباد بمباری کړ او پرکابل هم دبریتانوی الوتکو بمباری وشوه.

دکندهارمحاذچی دسپین بولدک سره ټاکلی شوی‌ؤ یوه مجرالعقوله پیښه پکښی وشوه چی دافغانانو د مقاومت ډیره ښه نمونه‌ده سپین بولدک په‌کلاکی ۲۰۰ عسکردانګلیسانو محاصره شوه خودغو عسکرو دومره مقاومت وکړچی د ۲۰۰ څخه ۳۱۴ کسه شهیدان‌او ۱۶۹ کسه‌ژوبل‌شوه یوازی ۱۷ کسو کوښښ وکړچی نجات پیدا کړی. انګلیسان شاهدی ورکوی وایی: نامکنه ده‌چی دزړه‌ورتوب‌اومیړانی په‌برخه کی‌چی‌تر وروستی‌تریخ فرجام پوری یی‌مقاومت وکړ بی‌اعتنا پاته‌شو. دوی قطعاً دتسلیمی په‌فکرکی نه‌وه‌سره لدی‌چی‌کولای یی‌شوای چی دسپرو له صفونو څخه تیرشی‌او دکندهارخواته‌وتښتی.»(۸۸)

خو عمده محاذدپکتیاءاو په‌دغه‌محاذکی‌دپښتنو قبایلومیړانه او توره دهرډول ستاینی‌وړده. قبیلوی لښکرو ددښمن پرسنګرونو ډیرسخت یرغلونه وکړل په‌خاصه توګه داحمدزی

وزیرو- کابل خېل وزیر واو مسعود وسرتیری چې وسله یې هم خپله درلوده ددغو نورو قبایلو سره ملګری شول»(۸۹)

انګلیسانو له خپلې زړی حربی څخه چې په پیسو به یې دقبایلو ترمنځ اختلافات راا وچتول کار ونه اخیستلای شو دوانې اوسپین وام کلاوی ونیول شوی او دټل ښارچې دانګلیسانو عمده مرکز ؤ دآزادی غوښتونکی لښکر په لاس کې ولوید .

انګلیسا نو نه وکولای شوای چې دجګړی له لاري څه په لاس راوړي نو حا ضر شوه چې د اوربندسره موافقه وکړي .

جنګ دمی په اوایلو کې پیل شواو دری هفتې یې دوام وکړ برتانوی خواستار کې ته حاضره شواو د ۱۹۱۹ داګست ۱۱ دراولپنډۍ جرګه وشوه چې تړون یې پنځه مادی درلودی .

ددغه تړون په اساس په لومړی ماده کې متارکه ومنل شوه او د څلورمې مادې له مخې موافقه وشوه چې شپږ میاشتې ور وسته دی پرتېولو مسایلو په پراخه ساحه کې خبری پیل شي.دا تړون دمستقل افغانستان دخارجي سیاست اواستقلال یو مهم سند دی .

امان الله چې خان دافغانستان دامیر په حیث اعلا ماوه افغانستان یې مستقل بللی ؤ نو ځکه یې د ۱۹۱۹ کال داپریل په ۷ یې دشوروی سوسیا لیستی دولت دمشر ولاد یمیر ایلیچ لینن په عنوان یو لیك ولیږی «دغه لیك د خارجه وزیر محمودطرزی دلیك سره ملګری ؤ چې دشوروی اتحاد دخارجه وزیر چچرین په عنوان یې لیږلی او غوښتنه یې ځینی کړیوه چې دافغانستان خپلواکی په رسمیت وپیژنی او داامان الله خان لیک لینن ته ورواندی کړی ددغه لیک جواب دلینن لخوا دمی په ۲۷ لیکل شوی او کابل ته راورسید چې دډیر و خوښیو سره ددی خوا یو لیک دمحمد ولیخان په لاس بیالینن ته واستول شواو هغه داکتوبر په ۱۴ دلینن سره د ملاقات په وخت کې وسپاره په دی ډول شوروی اتحاد د لومړی هیواد ؤ چې دافغانستان استقلال یې په رسمیت وپیژندی «(۹۰)

بریتانیا چې په جنګ کې ماتې خوړلې وه دترورا و وحشیانه عمل ته یې لاس واچاوه .

دشوروی اتحادلو سړی سیاسی هیئت چی «دشوروی د پلومات بر او ین پهمشری دمی پهمیاشت کی افغانستان ته راغلی ؤ دهغه بر ید په نتیجه کی چی پر و شو د هیت دوه تنه سړه او ۱۸ غړی تپیان شول «(۹۱) کله چی دغسی شومی هلی ځلی و نتیجی ته ونه رسیدلی نو انګلیستان مجبور شو چی دراولپنډی دقرارداد په اثر وعده شوی تړون ته تیارشی دا تړون په ۲۱ مادو کی د ۱۹۲۱ کال په نوامبر کی لاسلیک شو او بریتانیا دافغانستان استقلال په رسمیت و پیژندی .

دبریتانیا دحکومت نماینده هنری دابس چی ددغه کال په جنوری کی کابل ته رسیدلی ؤ ډیر زور ییپردی لګاوه چی دافغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ ددوستی د تړون مخه را وګرزوی خو دغه کار ته امان الله حاضر نه شو دابس مرتجع درباریانو ته په رټه رشوت ورکولو پیل وکړ او په دی ډله کی ددولتی شورا رئیس شیر احمد په ډاګه وویل چی شوروی اتحاد سره تړون باید و نشی او بریتانیا ته د دوستی لاس وغزول شی خو د شوروی اتحاد سره ددوستی داتړون د ۱۹۲۱ کال دفروری په میاشت کی په مسکو کی لاسلیک شو او ددغه کال په دوبی کی امان الله خان هغه په پغمان کی لاسلیک کړ .

نور نو افغانستان په خرګند ډول یو خپلواک هیواد ؤ چی په دغه کال کی یی دشوروی اتحاد ـ انګلستان ـ ترکیې ـ ایران ـ او ایتالیا سره دیپلوماسی روابط قایم کړل .

په ۱۹۱۹ کال کی چی افغانستان لاد خپلواکۍ داخیستلو په مبارزه اخته ؤ په کابل کی دهندی مبارزانو غوښتنو ته هر کلی وویل شو او د جون په میاشت کی دهندی مبارزینو موقتی ملی حکومت دمشهور مبارز راجه مهندرا پراتاپ په مشری جوړ شو او ددغه موقتی ملی حکومت د داخله وزیر مولوی عبید الله سندهی او عزیز هندی لهخوا یو اعلان خپور شو چی په هند کی دی ملی مبارزین دبریتانیا پرضد مبارزه پیل کړی .

افغانستان دیو خپلواک او مستقل سیاست په پیروی داحق ځانته ورکړې ؤ چی په آسیا ئی مسایلو کی خپل مبارزموقف ثابت وتاکی خوځرنګه چی په دربار کی دطبقاتی منافعو په کشش یوشمیر عناصر موجود وه چه دبرطانوی جاسوسی سروسیونوتر هدایت لاندی کار کاوه

ددی له‌پاره چی دنوی دولت او شوروی اتحاد د ترمنځ ناسالمه فضا پید اکړي دبریتانوی اسپریالیستی طرحو په‌تطبیق کی دمنځنی اسیاپه مسایلو کی‌گوتی وهل‌تشو یقول .

داهغه ورځی وی چی په‌بخارا کی‌دامیری ارتجاع پرضد نهضت را پاځیدلی ؤ او شوروی اتحاد انقلابی رهبری لکه دافغانستان دنوی دولت سرچی مرسته کیده دبخارا دنهضت ملاتړ هم کیدی‌خو بریتانیاد(پان‌اسلامیزم)دطرح په‌وسیله هغه‌احساسات‌تحریکول چی‌گوا کی په‌بخارا کی داسلام پرضدشوروی اتحاد و را نونکی فعالیت کوی.

دامان‌الله خان‌په دربار کن یوشمیرسرتجع عناصرچی‌یو سهمم‌سرهٔئی محمودسامی‌وه‌چه ځان‌ئی د امان‌الله خان نطأسی استاد باله هغه‌شبکه دیره فعاله‌ساتله چه منځنی‌آسیا د بسمچیبا نولاس ته و سلی ورسوی خوا نقلاب پا لو نکی بخا را یی نهضت سرکو به کړی « په ۱۹۲۲ کال کی امیر علم‌خان دبخارا امیر دبا سمچانو یوه سرکرده ادم بیگ‌ته‌لیکلی وه چی زه امیدوارایم چی دبریتانیاستر امپراطوربه زموږ سره مرسته وکړی په دی برخه کی وعده هم شویده . (۹۲)

دافغانستان حکومت دد غو عملیا تود سخ نیوی لپاره زیا ر استی خو بیا هم پټی دسیسی او توطیی دعمل په صحنه کی‌وارپه‌واروارد یدلی .خود غه توطیبی نا کامی‌شوی خو په ۱۹۲۰ کال کی دبخارا جمهوریت قایم شو او مرتجع امیر (علیم‌خان) په‌افغانستان کی‌پناو اخیستله.

هغه معاهده چی په ۱۹۲۱ کی‌دانگلیستان سره لاسلیک شوه دلومړی مادی په قراریی (افغانستان دپروتکتورات موقف ځخه ووتی اودیوداسی دولت په حیث یی قرارونیوی چی‌پرخپل‌پرخپل ‘داخلی او خارجی سیاست مستقل حاکمیت لری او په دی ډول د۱۸۷۹ دمیاشتی تړون (گندمک)معاهده چی‌دافغانستان‌مناسبات یی‌په خارجی‌ساحه کی‌محدود کړی‌وه‌له اعتباره ولو یده .

دافغانستان دخپلواکی دمعرفی کولو هیت چی اروپا او امریکا ته مسافرت وکړ د کامل آزاد سیاسی موقف څخه برخورد ارؤ او نورنو افغانستان دیو مستقل او خپلواکی لرونکی هیواد په حیث په نړی کی په رسمیپ و پیژندل شو.

د ۱۹۲۷ داکتوبر په ۲۳ دشوروی دولت درئیس کالینن لخوا اما ن الله خان ته دعوت ورکول شو چی هغه هیوادته رسمی مسافرت وکړی :

امان الله خان د ۱۹۲۷ ددسمبرڅخه د ۱۹۲۸ ترجولای پوری بریتانوي هند ـ مصر ـ ایتالیا ـ جرمنی ـ سویس ـ پولینډ ـ بلجیم ـ فرانسه ـ انگلستان شوروی اتحا دترکی او ایران ته سفر وکړ او دسفر په دوران کی یی دیو مستقل دولت دمشر په حیث د نوموړو هیوادونو دمشرانو سره دبین المللی مسایلو په باب خبری وکړې .

پر امان الله خان د بریتانیا لخوا فشار راغی چی شوروی اتحادته د خپل سفر څخه منصرف شی خو هغه داغوښتنه ونه منله او هلته یی سفر وکړ .

ددغه سفر په دوران کی یی یو لړ قراردادونه وکړل چی دافغانستان سیاسی حاکمیت په اعتبار هغه منځ ته را غلل.

دغه ټوله جریانات په یو مجموع کی داخرگندوی چی امان الله خان دیو مستقل سیاسی روش خاوند سړی ؤ او دافغانستان دسیاسی رهبری کاریی په شهامت او زړه ورتوب تر سره رساوه . البته دا سی وضع برتانوی امپریالیزم ته سخته تمامه شوی وه نوځکه یی دافغانستان دداخلی ارتجاع په تقویه کی اغتشاش و پاڅاوه چی په هغه کی اما نی دوره په ناخوالو پای ته ورسیدله او پرځای یی لومړي دبین المللی اعتبار اتو څخه خالی یو ارتجاعی دولت منځ ته را وست او په هغه پسی یی یو داسی دولت ته دانکشاف زمینه مساعده کړه چی هغه دافغانستان بین المللی سیاست په غیر مستقیم ډول بریتانوی استعمار د نفوذ په ساحه کی واقع کړ.

# دارتجاع یرغل:

د۱۹۲۸ کال په پای کې دانګلیس امپریالزم دخپلو جاسوسانو او دافغانستان په‌داخل کې دمرتجعینو او قدرت طلبه فیوډالي خصلته عناصرو په وسیله پردې بریالي شو چې دامیر امان‌الله او د افغانستان دروشنفکرانو پرضد خپله توطیه سرته ورسوي‌او په هیوادکې اړ دوړجوړ کړي .

ددغه کال په اکتوبر کې دمشرقي ولایت دشینوارو په سنګوخیلو کې بغاوت پورته شو او په‌نوامبر کې یې دجلال آباد ښار محاصره کړ او ددسمبر په‌میاشت کې‌دبچه‌سقاو په‌مشرې ارتجاعي یرغلونه په‌شمالي ولایت کې پیل شول .

ددغه او رونودوژ ولولپاره امان الله خان والي علي احمدخان یوځل‌شمالي ولایاتو او بیا مشرقي‌ولایت ته‌دتنظیمي رئیس‌په توګه ولیږه خونوموړي چې یوادعاطلبه عنصرؤ د ۱۹۲۹ کال‌په جنورې کې یې‌خپله په‌مشرقي‌کې دپاچهي اعلان وکړ .

دبچه‌سقاو یرغلونه د۱۹۲۹ کال په جنورې کې‌پرپغمان‌ـ قلعه مرادبیګ او باغ بالاجاری شول او د جنورې په لومړۍ نیمایي کې‌دکابل ښارسقوط وکړ او امان‌الله خان کندهارته ولاړ. امان‌الله‌خان دسلطنت څخه مستعفي شوخو دکندهار څخه‌یې یوبل کوښښ‌وکړ او ترغزنی پورې‌هم راغی خودرا تجاع تکانونودافرصت ورنکړ چې‌له‌بحران څخه‌افغا-نستان ته‌نجات ورکړي خو بیرته پرشاولاړ او دجون په‌میاشت کې له‌افغانستان څخه ووت.

په‌همدغو ورځو کې بچه سقاوځان په کابل کې‌تکیه کاوه او امان الله خان دخلکو مرسته دهغه‌دوهلو لپاره فعالیت‌کاوه سردارنادرخان په‌جنوبي ولایت کې داخل‌شوی‌وه او دکابل خواته‌یې پیشقدمی کوله خودافغانستان جوغه پرخپل سر وتومبی.

په‌دې کې هیڅ شک‌نشته چې‌دامان‌الله‌خان پرضد دبچه سقاو راپورته کول دبریتانوی امپریالیزم یوه توطیه وه او داهم ثابته ده‌چې دبچه سقاو راتګ یوه عبوری مرحله وه او د

امپر یالیزم پلان داؤ چی نادرخان پر افغانستان حاکم کړی . ځکه نادرخان را نیول شوی نوکر ؤ او ده کولای شو ای چی په افغانستان کی دامپریالیزم گټی وساتی.

دبر یتانوی هند لخواځخه په سوونوجاسوسان افغانستان ته را لیږل شوی وه او په خپله په افغانستان کی دارتجاع شبکی فعالی وی چی دافغانستان مخه له ترقی څخه را وگرزوی

د ۱۹۲۸ کال په دوران کی دانگلیس لوی جاسوس دگروال لارنس چی په عربی منځنی ختیځ کی یی دجنایاتو او توطیو څخه نړی خبره وه دی سیمی ته راولیږل شو. داجا سوس په پیر اشاه کی دشاو په نامه دالوتکو دمخیا نیك په توگه کار پیل کړ.همدغه جا سوس د پیر کرمشاه په نامه هم یادشو او د پیری په جامه کی یی دخلکوخطاایستلو ته لاس وا چاوه . دشینوارو د سنگوخیلو په راپورته کیدو کی دغه جاسوس لوی رول درلود .

دانگلیس دجاسوسی او مداخلی په باب پخپله دحبیب الله بچه سقاو دا اعتراف ډیری پاملرنی وړدی .

نوموړی یوه شپه دارگ په یوه لوی مجلس کی داکیسه کړیده چی نوموړی کله داامان الله خان له بیری پښتو رته ولاړ او بیاله هغه ځایه پاړه چنارته راغی نو افغانستان ته چی داخل شو د بټی کوټ په بر خه کی یوه ملاورته وویل چی فلانکی ځای کی د یوی ونی بیخ ته ځکه وکینه. حبیب الله چی دغه کاروکړ نو هلته یی ځلورتو پکه ـ کارتوس او روپی پیدا کړې .

دلغمان اوکو هد امن ترمنځ په لارکی بل ملا و رسره ملاقی کیږی او هغه ده ته جرات ورکوی چی دامان الله پر ضد قیام وکه همدارنگه په لغمان کی یو بل ملادده ته لارښو ونه کوی چی امان الله خان ترور که. ددی قبیله دبچه سقاو په اعتر افاتوکی داسی ډیر ټکی شته چی هغه دامپر یالیزم په خدمت کی ښی . (۹۳)

دانگلیستان دېیلي سیل و رڅپانی د ۱۹۲۹ کال دسي په ۲۸ گڼه کی لیکنه همددی شاهده ده چې دبچه سقاو په او چتیدو کی انگلیسا نو لو یه ونډه درلوده. پدی و رڅپانه کی لیکلي شوي دی. «دبریتانیی نماینده همفریس داوسنی لحظې له تر ټولو زرو رسړی (یعني بچه سقاو) سره ستره وکړه چې دوالګ واګي په خپل لاس کی و اخلي.»(۹۴)

دلته ددی جریان یو ه شمه ر اوړل شوه خو اسناد خورا ډیر دی چی په دغه مرتجعانه شور شت کی بریتانوی امپریالیزم مستقیم لاس درلود.

## دمستبدو سردارانو حکومتونه:

په سقوی اړو دوړ کی اقتصادی فعالیت یو مخیز ه فلج او دفرهنگی مو سسو دروازی وتړل شوی امیر امان الله چې له افغانستان څخه ووت نوسردار محمد نادرخان دپکتیا له ولایت څخه دکابل دنیولو پاره فعالیتو نه زیات کړل. سقوی تو اؤ ما ی و خوړه او د ۱۹۲۹ په اکتوبر کی محمدنادرخان کابل و نیوی او دافغانستان دپاچا په نامه یادشو.

نادرخان یو محافظه کار او ادعاطلبه سردارؤ. دی چی د ۱۹۲۴ څخه دامان الله خان د دافغان ځوانانو پر ضدفعال شوی ؤد افغانستان په داخلي جنګ کی یی دځان په گټه پټ او ښکاره فعالیتو نه کول. کله چې پدی پوه شو چې نور افغانستان دامان الله له اداری و وت نو دفرانسی دنیس له ښار څخه یې دخپلو دؤ و رو نو هاشم خان او شاه ولی خان سره حرکت راوکړ. دی بمبی او بیاپلا هورته راغی او کله چی پېښو رته راورسید دسرحدی صوبی مبارزو و مشرانو چی خان عبدالغفار خان هم له هغی ډلی څخه ؤغو ښتنه وکړه چی دامان الله ملاوتړی خو ده په پټه خوله داغو ښتنی رد کړی او دپاره چنار له لاری خوست ته او له هغه ځایه په تدریج سره تر کابل پوری را و رسید.

ځینې د اسی

اسناد شته چې دنو موړی سره دبریتانیا مرسته ملګری وه او دده سره یې د کابل په نیو لو کی

دپیسو او وسلی سرسته کړی وه خوده پخپله ځانته دیوناجی او بسلمان وطنپرست جامه وراغوستله ولی عاموخلکو نه قبلاوه.

نادرهغه کسان په بی رحمی سره تعقیب کړل چی د ځوان افغان ډلی ته منسوب وه او داامان الله سلگری وه. «عبدالرحمن لودین ـ تاج محمدخان پغمانی او فیض محمد باروت جوړونکی یی په لوسړی سر کی په گولیوو ویشتل او غلام محی الدین خان یی په پیښور کی وواژه.» (۹۵)

ده یوشمیر روشن فکران تر تعقیب لاندی و نیول خوقیامونه یو په بل پسی دده پرضدر اوښوه په شمالی ولایاتو کی یو قیام وشو چی په هغه کی بیلو بیلو قومونو برخه اخیستی وه «په ۱۹۳۲ کی په خوست کی قیام وشو او داقیام دوسره پراخ شو چی حتی تر سرحد پوری غاړو پښتنو په خاصه توگه وزیرو هم برخه پکښی واخیستله ددغه قیام مشری دملا لیونی په نامه یوسړی کوله او حتی داامان الله خان ددعوت کولو لپاره یی هم اقدام کاوه.» (۹٦)

دنادرخان په خلورکلنی پاچهی کی خوسره ده داما نی دوری پر روشنفکرانو تیری کاوه په مقابل کی یی عکس العمل تر هغه په مراتبو شدیدؤ. هره شپه په دنادرخان ددولت پرضد په کابل کی شبنامی خپریدی او ترورونه به کیدل. دنادرخان وروړ هاشم خان داستخباراتو یوه ډیره قوی اداره په کار واچوله او ددغی اداری لخوا یوزیات شمیر روشنفکران زندانونوته ولاړل.

د ۱۹۳۳ کال په اگست کی دنادرخان وروسردارعزیزخان په برلین کی د سیدکمال نومی یو افغان محصل لخوا ترور شواو ددغه کال په سپتمبر کی دانگلیس پرسفارت یو یرغل وشو چی په هغه کی دسفارت دری مامورین ووژل شول او د همدغه کال په نوامبر کی نادرخان دعبدالخالق نومی یوه محصل لخوا ترور شو.

دنادرخان ترمرگ وروسته سردارانو دهغه زوی محمدظاهر ـ دالمتوکل علی الله په

نامه‌دافغانستان پاچاکړ، ظاهر شاه په ظا هره‌پاچاؤ خو اساسی قدرت دسر دار هاشم صدر اعظم په‌لاس کی ؤ.

هاشم په خپله ۱۷ کلنه دو ره کی چی دافغانستان صدر ا عظم ؤ دنادر او ظاهر په‌دو ره کی دافغانستان گڼ شمیر روشنفکران و ژلی دی اوگڼ شمیر یی‌په زند انوکی اچولی‌وه او هلته‌یی سختی شکنجی و رکولی دادی دلته هغه یو لست‌وړا ندی‌کیږی چی‌نادر او هاشم وژلی یاشکنجه کړی دی.

محمدولی‌خان‌بدخشانی داماﻥ الله خان ددولت وزیر حربیه.

عبدالرحمن خان لودین داماﻥ الله خان سر منشی دکندهار او کابل ښار وال.

غلام نبی څرخی په‌مسکو کی‌افغانی سفیر.

خو اجه هدایت‌الله دهز اره جات رئیس‌تنظیمه.

امر الدین خان دسمت جنو بی حاکم.

فیض محمدخان دسپینو بارو نو متخصص.

جرنیل پینه بیگ خان.

تاج‌محمد خان پغمانی

فقیر احمدخان‌دجنګلاتو رئیس.

غلام جیلانی خان په‌ترکیه‌کی افغانی سفیر.

غلام ربانی دجیلانی خان‌سفیر زوی.

شیرمحمد خان نائب سالار.

علی اکبر خان کندك‌مشر.

میرعزیز خاﻥ درئیس محرر.

میرزا احمد مهدی خان.

اعظم خواجه دبر یښنارئیس .

بشیر خان دمنشي نظر زوی .

دوران خان یوسف‌زی .

محمد یوسف‌خان کندهاری .

میرزا محمد‌خان دروازه لاهوری

فرمان خان ۱۲ کلن هلك .

غلام خان دنجات دمکتب معاون .

عبدالفتاح خان تلگرافی.

محمد کریم خان په‌سو یلن کی‌زده کوونکی.

شیر محمد خان دوزارت معارف مامور.

ابراهیم قاری زاده .

عبدالحکیم خان روستاقی

امیر جان دجرمنی سفیر

محمدعزیز خان دشجاع الدوله خان ورور.

غلام محی الدین د انیس مدیر.

اسمعیل خان دنائب‌صفر خان زوی .

جان باز خان دکابل قوماندان .

سید غلام حیدر پادشاگز ك

عبدالخالق دنادر قاتل .

محمدعظم انگلیس پرسفارت حمله کوونکی.

داتول هغه‌کسان چی هاشم خان په‌فجیعانه ډول وژلی دی .

هغه‌کسان چی‌بی محاکمی هریو ۱۰ کاله په‌زندان کی غورځول شوی دی .

عبدالهادی داوی .

میر زا عبداله کندهاری

محمد یوسف حقیقی.

عبدالغز یز د کندهار وکیل (مشهور په باباجان )

میر غلام محمد غبار .

میر غلام احمد.

میر عبدالر شید

محمد انو ر بسمل .

ابر ا هیم صفا.

غلام د ستگیر قلعه بیگی .

حبیب ا لله کندک مشر کندهاری .

رحما نی.

رضاتر جمان .

شیر مست کندهاری .

عبدالصمد کندهاری.

میر محمد شاه .

محمد نعیم تلگر افی.

سید ظهو ر الدین.

امن هر اتی.

سر و رجو یا .

رحمت ا لله تند نو یس

کبیر منشي نظیر .

قاضي محمود سنجري

قاضي اسلم سنجري

محمود دیاو ر .

عبدالرحیم صافي .

محمدعمر تاتار .

محمدامین غند مشر .

او نور داسي خلك چي تر او سه یي کورني په غم ا خته دی ـ محکمه ها شم د خپلو مخالفینو د مجازاتو په برخه کي دیو خطرناك پروگرام عملي کونکي وهغه به نه یوازي خپل مخالف و اژه یابه یي په زندان کي اچاوه بلکه دهغه کورني او خپلوان به هم تر شکنجو لاندی و.

په زندان کي محبوسینو ته نمناکي کوټي او تروه ډو ډی ورکول کیده دغه زندنیان به ډیر ژر په نارغیو اخته شوه او بیابه یي دد و اواوطبیب غم هم نه خوړل کیدی . »(۹۷)

## روسته پرده ( داستبداد انفجار ) :

هغه مهال چي په اروپاکي فاشیزم دهتلر او موسلي په مشری فعا لتونه پیل شول نو په اسیااو په دغه ترڅ کي افغانستان هم پر ارامه پا ته نه شو . دفاشیستي المان لخوا افغانستان د شو روی اتحاد پرضد دیوی اډی په توګه مطالعه کیدې .

«په افغانستان کي تر دو همي نړ یوالي جګړی دمخه دالما نیانو لویه آبادی موجوده وه . په محلي اوسید نکو کي یي ورا نونکي پر وپا ګند کاوه . په پراخه پیمانه به یي ضد شو روی نشرات خپر رول او د تو متونو ډکي آو ازی به یي اچولې د کومو هدف چي دشمالي ګاو نډی په نسبت دافغانانو ددوستانه احسا ساتو خرابول ؤ هتلري ایجینټانو (شنیك خیشر ـ وینګر ـ کنیز لین) چي دافغانستان په حربیه وزارت اوفوایدعامه وزارت کي داخل شول او همدارنګه (ګیل هامر ـ سپاودی ـ لاوفي) او نور و الماني ایجنټانو

چې دسو داګر انو په‌توګه یې کار کاوه په‌پر اخه پیما نه تخر یبی او تر و ریستی داړی جوړ ولی کومو چې پر شو روی سرحدی تهاڼو با ند ی بر ید و نه کو ل . دافغانستان له خاو ری انتقال کاو ه ښخه‌دهیټلری المان داستخبار اتو ایجنټان دمنځنی اسیا شور‌وی‌جمهو ر یتو نو ته او په‌هغو کی به‌یی ا ستخبا ر اتی معلو مات

را ټولول و را نکا ری به‌یی کو لی او دشو روی و ا کمنو نمایندګان به‌یی و ژ ل ....دالمان لوی درستیز ګالډر په خپلو یاد اښتو نو کی‌لیکلی و ه چې هیټلر امرو ر کړی دی‌چې دافغانستان په‌شمول په‌اسیا کی دجنګی عملیاتو په‌غرض دتر تیباتو لپاره مدار ک بر ابر کړی .

په ۱۹۴۱ کال کی دشوروی اتحاد لخوا افغانستان ته‌دد غو تخر یبو نو دبندولو تر یادداښت و ر وسته افغانستان‌دبی طرفی عز م اعلان کړ او د هیټلر ی فاشیز م تر ماتی و ر و سته دافغانستان له‌او ړ و ښخه هم‌دغه دتهدید خطر لیری شو .

تر دو همی عمو می جګړی و ر وسته افغانستان ته‌دامر یکا دامپر یا لیز م خطر متو جه‌شو .

په‌دغه‌و خت کی چې دهند تقسیم عملی شوی او دپا کستان په‌نامه دو لت منځ ته‌را غلی ؤ انګلیسا نو او امر یکایانو په‌ګډه دغه‌نوی هیو اد بلا کو نو په‌سیاست کی‌و ارد کړ او دا تلا بن یی‌هم و کړ چې افغانستان هم‌په دغسی‌یو ه خطر نا که لو مه کی بند کړی .

په‌دغو و ختو نو کی‌پر افغانستان دامر یکا لخوا دیو لړ پر و ژ و په‌نامه موافقی تحمیل شوی چې دامر یکا یی (مو ریس ، کنو دسن) کمپنی لخوابی کارو نه پیل شو ل . ددغو کارو نو په‌ترڅ کی‌امر یکایی امپر یا لیز م دافغانستان ستر اتیجیکی مو قعیت ته ستر ګی نیو لی وی .

«په ۱۹۵۰ کی د (کار ینیت هیستری ) مجلی‌لیکلی‌ؤ چې دافغانستان سر ه دامر یکا دعلا قمندی یو سبب دادی چې احتمال لری په را تلو نکی زمانه کی به‌داهیو اد پرروسیه باندی دیر غل لپاره دپا یګاه رو ل ولو بوی‌شی.»(۱۹۹)

امر یکایی امپر یالیز م په‌دو امداره توګه افغانستان‌د پا کستا ن لخو اتر تهد ید لاندی

نیولیؤ او غوښتل یی چی تر دغه تهدید لاندی افغانستان د نا پیلیتوب له سیاست څخه و باسی او د سنتېو دمتعرضی بلاک غړی یی کړی .

په ۱۹۵۵ کی پاکستان دټولو بین المللی مقرراتو څخه په سترگو پټولو سره پر افغانستان هغه دایمی ترانزیتی لارو تړله چی عنعنوی خصوصیت یی. هم در لود خو لدی سره سم د شوروی اتحادله خوا افغانستان ته د احق ورکول شو چی بیله ممانعته خپل مالونه بیله گمرکی محصول څخه دشوروی اتحاد له لاری حمل و نقل کړی .

شوروی اتحاد په افغانستان کی دیو لړ عمرانی پروژو په کارسره خپله دوستی افغان ولس ته په ثبوت ورسوله او په عامه ذهن کی دامپریالستی غوښتونو په تحت کی کاراوتر سوسیالیستی همکاری لاندی یی بی غرضه کار ودار زښتونو ارزیابی په عاقلانه توگه تر قضاوت لاندی را غله .

په ۱۹۷۳ کی دظاهر شاه پخوانی صدر اعظم محمد داؤدخان په یوه نظامی کودتا کی قدرت ترلاسه کړ دهغه سره په اردو کی یو شمیر انقلابی عناصر ملگری وه خو کله چی محمد داؤ دخان خپل قدرت ټینگ کړاو ځان یی لومړی ددولت در یس او بیا دجمهور رئیس په عنوان یاد کړنو ور ووروی په دولت کی ددمترقی عناصر و د تجرید کولو لپاره فعالیت پیل کړ .

په دغه وخت کی چی دافغانستان دخلکو دیموکراتیک گوند فعالیتونه په عامه پرگنو کی پراخ شوی او د سیاسی فعالیت پخه تجربه یی درلوده له ارتجاعی بحران څخه دنجات په خاطر یی په افغانستان کی دملی ډیموکراتیک انقلاب پیلامی کښیښو ولی څو د ۱۹۷۸ کال داپریل په کی دافغانستان دخلکو ددیموکراتک گوند په مشری هغه ملی او دیموکراتیک انقلاب په بریالیتوب سرته ورسیدی چی زموږ په تاریخ کی دسور دبریالی انقلاب په نامه یادیږی.

ددغه انقلاب سره ددولت قدرت چی پخوا یوی کورنی یادڅو کسو تر اداری لاندی ؤ د ټولو خلکو په پرگنو اړه پیدا کړه او دافغانستان په تاریخ کی دلومړی ځل لپاره داسی یو ملی اودیموکراتیک دولت منځ ته راغی چی رهبری یی نوی او طراز گوند کوی چی بنسټ یی دهیواد دزیار کښا نو پرمترقی عمل ولاړدی او د بین المللی امپریالیزم او ارتجاع ضد خصلت یی دنړی د ټولو مترقی قدرتونو لخوا لمانځل کیږی.

# دا نگریز په خدمت کی دمعرو فو جاسو سا نو لنډه بیو گر افی دفسا دشبکی :

دسیاسی نار و ا مقاصدو له پاره دمذهب څخه د یوی وسیلی په حیث کار ا خیستل داستعمار دنو ر و بدو خصلتونو په جمله کی یو خطر نا ک خصلت دی ـ په خاص ډو ل دانگلیس استعمار دماشین ځرخو و نکو له دغی وسیلی څخه داسیا دمسلمانوولسونو پر ضد دیوی حر بی په شان استفاده کړی ده .

اسیایی ولسو نه داتلسمی پیړی له او ا خر و څخه په عمو می ډو ل او دنو لسمی پیړۍ له دو همی نیمائی څخه په خاص ډو ل دانگلیس داستعمار له دغی حربی سره مخامخ شول او هغه زیانونه چی دغو ولسو نو ته داستعمار ددغی حر بی له خوا ورسیدلی دی دتو دو جګړ وپه ډګر کی دو مر ه نه دی لیدلی.

دنو نلسمی پیړی اه لو مړ نیو و ختو نو څخه چی انگلیسان دهند په نیمه وچه کی دنور و ار و پایی استعماری قو تو نو په شړ لو بر یالی او دډګر فاتحین دوی راو و تل نو د حر ص څخه ډ کی ستر گی یی دهند په بی شمیر ه شتمنیو مړی نه شوی بلکی دجهان خو ری اشتهایی دلیو نتوب حدته ورسیده او وی غو ښتل چی د منځنی اسیا ټو ل ولسو نه دخپلی غلا می په کړ ي کی را تاو کړی او هیو ادو نه دخپل ا ستعما ری جال په لمن کی را و نغاړی .

دوی په دوه لحا ظه دا کار کاوه له یوی خو ایی ددغو سیمو داقتصا دی شتمنیو دلو ټماری اراده وه له بلی خوا څر نگه چی تز اری روسیه د منځنی اسیا په همجو اری کی و اقع او انگلیسانو له هغو څخه ستر گه کو له چی په اسیا کی به دد وی اقتصادی او سیاسی گټی په خطر کی و اچوي مخصو صاً دهندو ستان په باب یی تشو یش در لو د چی له لاسه یی و نه و زی نو ځکه یی منځنی اسیا ته دخپل نفو ذ ساحه و ر پر اخو له.

دانگليس ددغو شو سو مقاصد و په لار کی افغانستان پر لو مړی خطوه واقع وه او د هندوکش دری دجيو پولتکی لحاظه ددی اهميت درلودونکی وی چی هر څوک پر هغه حاکميت ولرې نو پر هندوستاون دا اقتدار صلاحيت به يې په نصيب وی .

انگليسانو په دغه وخت کی منځنی اسياد نفوذ ساحې په د وو برخو ويشلې وی يوله ابا سيند څخه دامو تر حوزې پورې او بل دبخارا او خيوا دخانيو سيمې وی چی دفيوډالی مناسباتو په ډيره تيټه سطحه کی واقع وی . ددغو سيمو اقتدار د يو شمير داسی فيوډالانو په لاس کی وه چی داستعماری چپاو په وړاندی يې نه يوازې مقاومت نه درلود بلکی ددغو سيمو دبزگرانو او زيار کښانو پر له پسی تيت او پرک قيامونو داسی يوه فضا ايجاد کړې وه چی د فيوډالانو قدرت يې ريږداوه نو هغو دخپلو گټو دساتنی په خاطر ځانونه د استعمار حمايت ته سپارل.

انگليسان چی داستعماری فرهنگ ډيرلوی ماهران وو نو دغه فضا يې نوره هم تو ده ساتله چی سيمه ايز فيوډالان ددوی په حمايت کی ځانونه وسپاری.

ددغو سيمو خلکو دجابر و فيوډالانو او انگليسی استعمار پر ضد ډيری سختی مبارزی وکړی وينی يې توی کړی او هر ډول ستونزې يې پر ځانونو قبولی کړی خو مطلوبو نتيجو ته ځکه ونه رسيدل چی ددوی پر سر و لاړ مشران داستعمار په خدمت کی فعال عناصر وو .

دادطبقاتی جنگ يو ډير سخت محاذ و دتولنی بانفوذه غړی دخپلو گټو دساتنی لپاره نه يوازې سره متحدو و بلکی داستعمار ما هرانه لارښوونی او بی دريغه مرستی هم ورسره ملگری وی ددوی په وړاندی لوځی پښی ــ وږی او لڅ لپر زيار کښان وو چی دردونه ئې سره مشترک وو خو شعور رأ دوی متوجه نه وو چی خپل ځان سره متحد کړي او خپل دښمن ووهی . د وی دتو دی جگړی په ډگر کی هرځای بريالی کيدل خو د ذهنی سطحی دټيټوالی په لحاظ په دی بريالی نه وو چی دد ښمن تفتين درک کړی .

دانگليس استعمار سياسی ماهرانو وروسته تر هغه چی ددغو سيمو مطالعات وکړی نو داخطرناکه طرح يې دعمل صحنی ته وسپارله چی ددغو سيمو خلکو بايد دمذهب په حربه

و و هل شي او د اددغو سیمو دخلکو داذهانو داغفال لپاره یوه مؤثره وسیله‌وه.

په‌هغه وخت‌کی چی انگلیسانو په منځنی آسیاکی دسیمو او خلکو په‌باب مطالعات پیل کړل نوخپل ماموران یی ددغوسیمو دخلکو په جامه رالیږل او هغو په‌لږ وخت‌کی دا درک کړه‌چی دوی تر هر چادمذهبی پیشوایانو په جامه کی خپل کارډیر ښه‌سرته رسولی شی.

په‌دی برخه کی نو هر څه کارونه چی دنولسمی پیړی له لومړیو وختونو څخه ددغی پیړی په‌دوران کی سرته رسید لی دی کارکوونکی‌یی هغه انگلیسان وو چی دوی په دغو سیمو دمذهبی خلکو کالی اغوستی وو.

دادکارد مصئونی او مطمئینی پرمختیاله‌پاره یوه په زړه پوری لاروه چی‌خپلو جاسوسانو ته دمذهب جامه ور واغوندی او له‌دغی لاری څخه وروسته وروسته نوری بدی استفا دې وکړی.

هغه مهال چی دد غوسیمو خلکو دانگلیسی استعمار پرضد عکس العملونه وښودل اود بریتانوی استعمار په‌وړاندی یی خنډونه واچول نو ددغوسیمو دخلکو ترمنځ داختلاف پیداکولو اومتفرق کولو لپاره یی له‌د غی حربی څخه داډول استفاده وکړه چی‌بیایی هم خپلو جاسوسانوته دمذ هب جامی ور واغوستلی او دغوسیموته یی‌راولیږل داځل چی داستعمار سیاسی دفتر ونو دسیمی او خلکو په‌برخه کی‌خپل مطالعات تکمیل کړی وو نو دغه جاسوسان یی‌وگمارل چی دخلکو ترمنځ داختلاف اوربل کړی.

په‌دغه واراودغه کارکی نودانگلیسی هغه جاسوس‌چی دمذ هب ترجامی لاندی‌یی خلك غافل کړی وو دخپلو زهر ناکوغشو هدف دسیمی داستعمارضدرو شنفکر عناصرو گرزول

دبریتانوی استعمارسیاسی مؤسسو ددغو کارونو لپاره روزل شوی داسی ماموران‌دغو سیموته رالیږل چی هغوته دسیمی دخلکو په ژبه‌خبری کولی. دسیمی دخلکو جامی‌به یی‌اغوستی وی او د سیمی دخلکو دمعتقداتو په‌باب به‌یی پوره او کافی معلومات درلودل.

هغه کسان چې د برېتانوي استعماري دفترونو له خوا د غه ډول کارونو ته مؤظف کېدل څه عادي خلک نه وو بلکې علاوه پر شیطاني فهم د صبر او حوصلې څخه به یې هم لویه برخه درلوده. دغو کسانو به په میاشتو او کلونو پیاده مزلونه وهل، لوږې به یې تیرولې ناروغي به یې زغملې څو و رسپارلې شوې ماموریتونه سرته ورسوي په دغه لار کې ډېر سړه شوي یا رسوا شوي او محلي خلکو وژلي دي. خو هغه کسان چې به د غه وظایف د لارښوونې سره سم سرته ورسول نو دوی ته د برېتانوي استعمار د مؤسسو له خوا ډېر لوی دولتي مقامات او امتیازات ورکول کېدل.

دغه د فساد او شیطنت په کارخانه کې داسې کسان هم پیداشول لکه کرنیل لارنس چې د لارنس غرب په نامه شهرت لري او په افغانستان کې چې د اماني دورې د نهضتونو د روښنفکرانو د له منځه وړلو له پاره راغلی وه د پیرکرمشاه ـ تر نامه لاندې یې بې حسابه تخریبونه وکړل.

دغه جاسوس چې په منځني ختیځ کې ډېر ستر تخریبي ماموریتونه سرته رسولي وو د برېتانیا له خوا لوی نښانونه او مډالونه ورکړل شول او قدرت یې په دې اندازه زیات وچې هر هیواد کې یې لویو سفیرانو د زیردستانو په حیث وظایف اجراکول د پیسو په مصرف کې دومره صلاحیت درلود چې که یې د بریتانیا دارائی په یوه چک حواله کولای مانع یې نه درلود.

## د ارمینوس وامبري اعترافات:

د نولسمې پېړۍ له اوایلو څخه چې منځنۍ اسیا ته د انګلیس د نفوذ د پراختیا پلان طرح او تر تطبیق لاندې ونیول شو یو شمیر جاسوسان افغانستان او د منځنۍ اسیا نورو برخو ته راولیږل شول چې هغو د اطلاعاتو یوه لویه ذخیره د برېتانوي هند په دفترونو کې جوړه کړه او د لندن د پټو اطلاعاتو اداري په دې بریالۍ شوې چې خپلو سیاسي ماموراتو ته د دغو سیمو په باب کافي معلومات وړاندې کړي.

په‌دغه ډله کی ـ برنس کنو لی‌فر یر ز دولف ـ ابوت ـ شکسپیر تامسن اوفر یه ـ هغه کسان دی چی هر یوه‌یی‌دیو جاسوس‌په حیث په‌دغو سیمو کی کا رو نه‌کړی دی . خو دافغان‌او انگلیس دلو مړی جگړی ـ۱۸۴۲ـ ۱۸۳۹ـ ضر به‌دو مر ه مهمه‌او در نه و ه‌چی‌انگلیسانو تقر یباً شل‌کاله خپل جاسو سان معطل کړ ل اوددی علت‌داو چی دوی سخت ویر یدل او دانگلیستان حکو مت‌دبریتانوی‌هندد‌فترونو ته‌لار ښوو نه‌و کړ ه‌چی‌دسیمی‌په‌باب‌ددوی‌مطالعات‌لا پوره نه‌ودی او باید پر خپلو پلانو نو او پر و گر امو نو دسره نوی کتنه و کړی .

بله‌پیښه‌چی انگلستان یی‌په سخت‌تشو یش‌کی و اچاو ه داو ه چی کپتان کنو لی او کلو نل ستیدارت دوه لری جاسوسان وو چی په‌بخا را کی و نیول شول او هلته ووژل شول

په‌لند ن او کلکته کی‌دوه نوی دفتر و نه‌فعال شو ل چی په‌احتیاط سره دجا سوسی لمن افغانستان او د منځنی اسیا نو رو سیمو ته را پر اخه کړی پسله هغه‌یی‌چی دافغان او دا نگلیس لو مړی جگړ ه‌پای‌ته‌و رسیده او په افغانستان کی دانگلیسانو په‌حمایت فیو ډا ل سر دار دو ست محمد دامیر په‌حیث مقر رشو نو دغه محیل سړ ی په‌و فاداری سره د انگلیسا نو دنفو ذدپر اختیا سره مرسته و کړ ه ـ په‌۱۸۶۳ م کی یو سخت مړی جاسوس‌چی‌په منځنی اسیا او افغا نستان کی‌یی‌دیو مذهبی‌پیشوا په‌جامه کی‌لوی‌ماجر ا جوی سفر و نه‌سرته‌و رسو ل دار مینو س و امبری ـؤ ده‌یو کال و رو سته دخپل کار نتایج‌او مطالعات‌دانگلیستات نصدر اعظم لار پالمر ستو ن ته‌و رکړ ل او د هغه له‌خوا ډیر و نازو ل شو .

ددار مینو س او امیری په‌باب چار لس‌مار ا و ین چی ـ دمنځنی اسیاپه بر خه کی‌اطلا عات نو می کتاب یی لیکلی دی وا یی‌چی هغه‌یو سخت مړی سړ ی ؤ .

انگلیسانودمنځنی اسیا په‌باب پو ر ه معلو مات نه‌لر ل‌او له‌دی څخه په‌و یر ه کی‌ؤ چی تز اری رو سیه به‌خو مره پیشقدمی و کړی نو له‌دی لحاظه‌یی و امیر ته و ظیفه و رکړ ه‌چی دغو سیمو ته و لاړ شی.و امبری‌چی تر دغو سفر و نو و رو سته خپل‌اثر منځنی اسیاته مسافرت ـنو میږی‌و لیکه او په ۱۸۶۴ کی‌چاپ شو .

و اسبری په‌دغه اثر کی دخپلو ماجراجو یی گانو په باب لیکی چی مطمئنه لارداد ه‌چی‌د خلکو په منځ کی‌تر مذهبی چوخی لاندی خلکو ته ددنیا څخه دنفرت و اعظو نه وشی او له‌دی لاری خلك را تلل او زما لاسو نه به‌یی مچول خوسره له‌دی ځینی داسی ځیر ك خلك هم‌و و چی ماته‌یی دشك په‌نظر کتل او څو و اره‌دمرگ سره مخامخ شو م .

مخ کی‌له دی چی و اسبری دغو سیمو ته خپل سفر پیل کړی په‌استا نبو ل کی‌او بیا یو کال په‌تهر ان کی و او سیده او هلته یی لمنځنی اسیا او افغانستان په‌باب خپل‌مطالعات تکمیل کړل او بیایی نو په‌اصل ماموریت پیل‌و کړ .

و اسبری په‌خپلو یادداښتو نو کی و ایی‌چی مادملنگانو او تر ك دنیا خلکو کالی و اغوستل او دیو داسی کار و ان سره ملگری شو م چی دبیت‌الله‌شر یف‌له حج‌څخه دبخارا خو اته ر وانۀ ماکالی‌نه الیشو ل او د خولو بو یناکه‌کا لی به‌می اغو ستل ددی لپاره چی زمادلاس‌حر کتو معلو م نشی‌نو همیشه به‌می پر خپله څنگل لاس‌نیو لی‌واو دغه شاقه کار می عادت‌شو او کوم کسان‌چی به‌را سره مخامخ کیدل داسی به‌یی فهمو ل چی‌زه گو ا کی شل یم.

ډو ډی ډیره لږه‌خو ړله اوخو له به‌می همیشه ښورو له چی‌لیدو نکی داسی فکرو کړی چی زه گو ا کی دعاگانی‌وا یم.

و اسبری لیکی چی‌زماپر و گر ام په‌خیوا ـ بخارا او افغانستان کی‌ۇ. خو زما دسفر خطر نا که سیمه دحز رسمدرگی او جیحو ن‌دسند تر منځ‌و ه ځکه ددغی‌سیمی‌خلکو چندانی‌احترام را دته نه د رلود نوځکه‌په مشکله دا کارسر ته‌رسیدچی دغه‌خلك دمذهب ترچوخه او لباس لاندی خطا ایستل‌شی خوخطر ناك خلك افغانان و و ځکه دوی ډیر ځیر ك‌او یو جاسوس بایدپه هره شیبه‌کی پر ځان پام‌وکړی.

و اسبری‌و ایی چی‌په دغه سفر کی زه دحاجیانوسره روان و م نو کله چی‌دتر کمنانو سیمی ته‌ورسیدم یو افغان را ته متوجه شو او زه‌یی له نظره نه غو رځولم او پر مادمرگ

چپاو و نه‌ راغلل خوسی‌خان په‌چل سره‌له هغه خخه‌ورک کړ د خیوا ښارته چی‌و رسیدم
بیاهم دحاجیانو سره روان وم دښار له منځه چی تیریدلو یو نفرحاجی بلال په‌زو ره‌دالله‌اکبر
تکبیر و نه‌و یل خو زماواز په دغو تکبیرو یلو کی دو سره‌رساو چی کله‌دښار بل‌سر ته‌رسیدلو
ډلی‌ډلی خلک به‌راتلل زمالاسو نه او پښی به‌یی را مچولی او زما دچټلی گو د ړی خوکی‌به
یی په‌ستر گو پو ری مښلی .
کله‌چی زمو ږقافله دساو رخان کاروا نسرای ته‌و رسید له‌دلته هغه افغان‌چی زه
ئی‌خارلمه پیداشو او ناری کړی چی داد ا نگر یز جاسوس دی او نژ دی و چی خلک‌حمله
را باندی وکړی خو دحاجی صالح په‌نامه یوحاجی را پورته شو او خلکو ته‌یی‌و و یل‌چی
دایو درو یش او دخدای دلاری خخه را غلی‌دی .زه یی دیو پاک طینته او ثابت مسلمان
په‌حیث معرفی کړ م او هغه افغان یی‌وشاړه او پردی یی وژړل چی ولی یو دخدای
دوست توهین کیږی .
وا سبری وا یی‌زه د خیوا دخان دسیدمحمد خان حضورته وغوښتل شوم چی هغه‌ته‌دعا
وکړم. زه دخان دربارته ورغلم هلته‌سی‌دقران مجید یوآیت‌او یوقل‌هو الله وو یل‌بیا
می لاسونه‌پورته کړل او په‌داسی حال کی‌چی‌خان او نورو‌حاضرینو هم لاسونه‌پورته
نیولی وو دعاسو پای ته ورسوله خان پوښتنه را خخه وکړه چی چیرې‌روان یی‌ماورته
وو یل‌چی‌بس دخدای ددوستانو زیارتونه‌کوم او ژوندیی دغه‌کارته‌وقف کړیدی‌بیاخان
امر وکړ چی‌ماته دلاری خرځ له‌پاره پیسی راوړی‌خو ماانکا رو کړ او وسی و یل‌چی‌دخدای
دلاری یو درویش پیسو ته ضرورت‌نه‌لری په‌پای کی‌یی‌زماد‌سفر لپاره‌یو غټ‌سپین خر راو بابنه .
دخیوا په ښار کی‌زماشهرت‌دو سره زیات شوچی هرورځ به‌خلک زمازیارت ته راتلل
او دعابه‌یی را خخه غوښتله .خلکو ماته پیسی او کالی را بخښل خو ماپیسی نه‌اخیستی‌او
کالی‌می دکاروان ملگری‌ته‌بخښل په‌دې ډول دکاروان ملگری‌په دی پوره قانع وو
چی زه ددنیا له‌پاره ژوند نکوم .

هغه‌وخت چې دخیواله ښار څخه‌راوتلم نو په سلګونو مریدان په‌ژړا را پسې‌روان وو او په ژړا ډکو سترګو یې رخصت راڅخه اخیسته. یوشمیر ترډیرو لیرو مزلونو پورې را پسې راغلل .

وامبری وایي چې‌ماپوره دری هفتې په‌بخارا ددینې علماوو سره تیرې کړې او په‌داسې حال کې‌چې‌دخلکو بهیر به‌را پسې روان‌و لاسونه‌او پښې به‌یې را مچولې. ما زیارتونه‌کول په‌بخارا کښې‌ما دیره‌لوایه‌بګړی‌ترله‌ا ویوقر ان‌مجیدبه‌می هم را سره‌ګرزاوه . هرڅوك مې‌په دې خبر کړی ووچې زه بخاراته دخواجه بهاء الدین بخارایي زیارت ته‌را غلې‌یم.

په‌بخارا کې‌بیاهم داسې کسان و وچې ماته‌یې دشك په‌سترګه کتل او میلمستیا وی‌به‌ئې کولې چې‌ماو پیژنی خوما‌به په دغو مجلسونو کې حتماًیومذ هبی مسله‌منځ ته‌کوله او پرهغه به‌مې بحث‌کاوه چې دشکاکانو له سترګوڅخه ځان پټ کړم.

په‌سمرقند کې دامیرمظفرحضورته ورغلم چې تازه له‌خوقند څخه دغه ښارته رسیدلی وهغه په‌تعجب پوښتنه راڅخه وکړه چې له دغو سره لرې فاصلې څخه د شیخ بهاو الدین زیارت ته‌را تګ څرنګه‌دی ماورته وویل چې شیخ جلال الدین‌و یلی‌دي چې‌دبهاءالدین زیارت ته‌باید دپښو پرځای پرسرورشې دبخارا امیر هم مرسته راسره وکړه او زماد‌عایي واخیستله.

له‌دغه ځایه دافغانستان سرحداتوته راغلم او په داسې حال کې چې‌ملګروهی داطفالو په شان او ښکې تویولې زماد عایي دلاری بدرقه شوه او زه مزارشریف‌ته راغلم.

په‌مزارشریف‌کې څلورورځې وم اوله هغه‌ځایه‌هرات ته‌را غلم.

وامبری وایي چې‌زه‌ترهرچاد افغانانو څخه ډیر بیریدم ځکه هغه ډیرځیرك دی په هرات‌کې د امیرشیرعلی زوی محمد یعقوب خان‌والي‌ؤ. زه دیعقوب خان‌حضورته ورغلم او په‌داسې حال کې چې‌ډیر دربار یان ناست وو مالاسونه پورته کړل‌او یوه اوږده دعاسې وویله. یوښتنې راڅخه وشوی ماوویل‌چې دخدای ددوستانو زیارتونه‌کوم. بیاسې

ځو ایتو نه و و یل خو په‌دغه‌و خت کی‌و الی له‌خپل ځایه‌را کو ېشانته شو او په داسی‌حال کی‌چی سائی هیڅ انتظار نه‌درلو د را ته و یی‌و و یل حاجی ! و الله‌ته‌انگر یز یی په‌دی پسی‌دی را ولاړ شو او ماته مخامخ کښینا ست او و یی و یل حاجی‌ستاقر بان شم ایاته انگلیس‌نه‌یی چی ځان دی په‌دغو کالیو ننه ایستلی دی .

ماداسلام دپیغمبر داحدیث‌و ر ته و و ایه‌ـ چی‌هرڅو ک یو مسلمان کافر و بو لی‌دهغه خپل ایمان هم دشک‌وړ دی .

زماخبر و یعقوب قانع کړ بیانو په هر ات کی‌زه دمسلما نانو په‌منځ کی‌دخدای دلارې‌دیو درو یش په‌حیث‌پذیر ایی شو م خو هلته هم‌داسی خلك‌و چی پر مایی شك‌درلو د او و یل‌به‌یی چی‌دادپاتنجر انگر یزپه‌شان دانگر یز یو جاسو س دی .

و امبری‌د۱۸۶۳ کال دنو امبر په ۵ ، دیو کار و ان سره دهرات څخه داما م رضادزیارت په‌عنو ان له‌هر ات څخه مشهد ته‌رو ان شو .

و امبری دانگلیس داستشمار لپاره دخدمتو نو څخه و ر وسته یی‌خپل پټ‌اطلاعات‌په‌لندن کی دانگلیس خارجه‌و زارت‌ته‌و ر کړ ل او یو کتاب یی‌په‌دغه بر خه کی چاپ کړ .

یو له هغو جاسو سانو څخه‌چی دمذهب په‌جامه کی گر ز یدلی او د منځنی اسیا افغانستان‌او او سیدو نکی یی‌خطا ایستل یو هم و امبر ی‌و چی ددهد تجر بو په سیو رې کی‌نو ر انگر یز ان دمذهب په‌جامه کی دجاسو سی لپاره دغو سیمو ته راروان شو ل .

یاددالښت په‌دی لیکنه کی دتاریخ ږا و بط سیاسی ایر ان و انگلیس محمو د لیکنه دریم جلد څخه استفاده شو یده .

## میا غلام محمد فقیر :

دنو نسمی پیړی دپیل په کلو نو کی انگلیسانو دهند دشمالې خو اته هڅی پیل کړی وی خو له‌دی څخه ډیر و ار خطا و ه چی که سدو زی شاز مان پر هند خپل تها جمات پیل کړې نو ددوی پلان به‌دنا کامی سر ه مخامخ شی .

دشازمان دفعالیتونودشنه ولو لپاره دوی دډیپلوماسی په سطح کی‌په‌ایران کی دسرجان مالکم طرح ترتطبیق لاندی ونیوله څوشازمان دورونو سره‌په په‌جنګک اخته شو او د هند څخه راوګرزیدی خوانګلیسانو په‌دغه کارهم قناعت ونکړ او دشازمان دمطلق‌چپه کیدو لپاره یی دتوطیو دجوړولو او د شازمان په‌دربارکی دتضادونودتشدیدولو په‌لار کی یی‌هم کارپیل کړ.

په همدغه وړخوکی دشاه پرضدیوه کودتا کشف شوه‌چی سرکزیی کند هاروُاو رهبری یودبارګزو دکورنی دمشرسردارپاینده‌خان لخوا کیدله. دکودتا په‌د غه ډله کی‌دمیا غلام محمد فقیر په نامه‌یو در ویش هم ونیول‌شود هند ستان څخه راغلی وه دتوطییی‌تر کشف وروسته دغه‌جاسوس میاغلام محمد فقیر دهند خواته‌وتښتیدی خودوزیر رحمت‌الله خان سره یو هم ونیوی او په کندهارکی‌یی اعدام کړ (۱۰۰)

دامیا دختیځ هند دانګلیس کمپنی په‌رابطه لومړی جاسوس‌دی چی‌په افغانستان کی‌یی دتورساموریت څخه پرده پورته شوه او په خپل سرنوشت اخته‌شو. دغه جاسوس‌دمذهب فقراودرویشی په‌لباس‌کی خلک‌خطاایستل او په هغه توطیه‌کی یی‌برخه اخیستله‌چی‌د شازمان پرضد جوړه شوی وه.

## سید تاش کلا :

دسیدتاش کلاپه نامه دانګلیس یوجاسوس پیژنوچی د افغان او انګلیس ترلومړی جګړی وړاندی یی‌په کابل کی وظیفه درلوده. داسړی هغه مهال کابل ته‌راغی چی انګلیسانو داسیر دوست محمدپرځای دشاه‌شجاع دبیرته راتګ پروژه ترکارلاندی ونیوله.

شاه‌شجاع چی په‌عامه اذهانوکی‌وهل‌شوی او په‌لودهیانه کی دانګلیس دیوتالی‌څخه په‌نامه‌پیژندلی کیدی. انګلیسان‌یو هیدل‌چی‌په‌ناڅاپی‌ډول دهغه‌راوستل به‌دعامه‌عکس‌العمل سره مخامخ‌شی نوددغه شوم راتګ لپاره دزمینی برابرول یی جاسوسانوته‌وسپارل.

په همدغه لړ کی دسید تاش کلاپه نامه یو جاسوس کا بل‌ته راغی خلکو به‌ویل چی‌دا مجذوب سړی هرکال دکلایو په موسم کی ښکار یری بیانو ورک وی خو بل کال ل‌پیداشی. دغه سیدتاش کلاپه کابل کی ددرباری خلکو سره روابط پالل او دشا شجاع په‌باب‌به‌یی ویل‌چی هغه دخلافت حق‌لری .

دشاه‌شجاع دپخوانی وزیر سردارمحمد عثمان خان زوی سردارعباس په خپلو خاطراتو کی لیکلی دی چی‌سید تا ش کلاپه کابل کی دسیدغلام قادر په‌کور کی‌او سیدی. یوه‌ورځ زه ورغلم او دسیدغلام قادرڅخه‌سی وغوښتل چی‌دسید تاش کلا حضورته‌سی ورولی خو هغه وویل چی‌زه اجازه نلرم ته‌پخپله ورشه. زه هم ورروا ن شوم دیوی کوټی څخه تیرشوم ـدوهمه کوټه‌دیره تیاره وه خو ددریمی کوټی دروازه معلومیده .دریمی کوټی‌ته‌چی‌داخل شوم هیڅ سی‌نه‌لیدل ـلاس سی‌تیر اوه چی ناڅا په‌سی لاس دسیدتاش کلاپر شاو موښت ددهشادوسره تو ده وه چی لاس‌سی وسوځل‌شو.

ودریدم او دسیدتاش کلاچی‌ماته‌شاوه وی ویل:

محمدعباس یی ؟ما وویل :هو!

بیاده‌وویل: سردارمحمد عثمان خان (زماپلار)ښه‌دی ؟ دتر کستانه‌نه‌دې راغلی؟ماوویل یه!

ماپوښتنه ځینی‌وکړه : ته‌څوک یی؟ ده وویل :یودخدای دوست سیدیم ! بیاده‌پوښتنه راڅخه‌وکړه ځنګه‌راغلی‌یی؟ ماورته وویل: غواړم مریدی شم !ده وویل : زه خو مریدان نه‌نیسم. ماورته وویل: ټول کابل ځانونه ستامریدان بولی! ده وویل : دا د دوی کاردی زه یوازی یودعاګوی یم .

بیاده راته‌وویل که‌ستاپلارسردارمحمد عثمان وزیرته‌سردارا وشاه‌شجاع پاچاشی خوشحاله کیږی ؟

ماوویل: بیخی ډیر ! ده وویل: زماشرینی به‌څه‌شی‌وی ؟ ماورته وویل دا خو نه

به دسپینو زرود رته ډکه کړم .ده وویل ؟:مبارک ده شه همدغسی به کیږی .

سردا عباس لیکي چې سیدتاش کلا خورا ډیر سریدان درلودل دده پهسر ید انو کی د برات خان غلجی زوی او د وزیر محمد اکبر خان دمو رغلام بچه هم شامل وه .

سردارعباس وایی چې تر دغه ملاقات څو وخته وروسته شاه شجاع افغانستان ته را غی سردارعثمان خان وزیر او زه (سردارعباس )د کابل سردار شوم .

## سیداغاحسن (موهن لعل)

موهن لال دانگلیس یو مشهورمامور او جاسوس ؤ ـده په پټه او ښکاره په افغانستان کی دبریتانویانو لپاره خدمتونه کړیدی .

هغه سهال چې دتزاری روسیې هیئت دویتکویچ پهمشری دامیر دوست محمد دربارته راغی او بیاپه کندهار کی دسردار کهندل خان سره دخبرو لپاره هغه ته ورغی څو د امیر او کندهاری سردارانو ترمنځ داختلافاتو دحل لپاره فعالیت وکړی او پهدی ډول دبریتانوی استعمار دبر یدپهمقابل کیدغه سرداران پهیوه جبهه کیودروی نو انگلیسانو همدغهموهن لال لهښکاپور څخه کندهارتهراو استاوه موهن لال په کندهار کیخان داغاحسن پهنامه مشهور کړ چې هرچابه ددعالپاره سراجعه وړته کوله. دغهجاسوس د دی لپاره مؤظف شو چې دامیر دوست محمد سره د کندهاری سردارانو اختلافات نور هم تشدید کړی او د ویتکویچ ماموریت ناکامه کړی .

تر دغه پیښ ماموریت وروسته موهن لال دسیکنا تن او برنس سره ملگری شو او په هغو وږځو کی چې شاشجاع دانگلیس پلټنسره افغانستان تهرا غی موهن لال په کابل کی فعالیت کاوه نوموړی پهافغانستان کی ترماموریت وروسته د(امیر دوست محمد)پهنامه یو کتاب هم ولیکی او په ایران او افغانستان کیدجاسوسیخدمتونو پهبدل کییی دبریتانیا څخه د (اردراف دی امپایر اینډ نایټ اف دارډراف پرشین لاین) لقب وا خیست .

**ملا نسو :**

دملانسو په‌نامه دانگلیس یو بل جاسوس دموهن لال‌سره ملگری ؤ. ده ته‌وظیفه ورکول شوی وه‌چی کله‌شاه‌شجاع دانگلیسانو له‌لښکر سره کندهار ته‌ځی دهغو په‌مقابله کی‌چی‌د کندهار‌لخوا دکندل خان لښکر حرکت کوی ـ داملا باید دهغو ترمنځ اختلافات‌و پاځوې.

ملانسو چی نگیس ؤد یو متشریع ملا په توگه یی په کندهار کی ځای ونیوې کله‌چی دشاه‌شجاع او انگلیسانو دمقابلی لپاره لښکر جوړ شو ـ ملا نسو دا تبلیغ کاوه‌چی شاه‌شجاع پرضد جگړه‌بغاوت دی اوهغه کسان چی‌دغه کار ته اقدام کوې شرعأ غازیان دی دی او که‌سړه‌شی دشهیدانو په جمع کی‌نه‌شمیرل کیږی.

دغه ملافتواوی صادرولی او خورا ډیر خرخونه اومصرفونه‌یی کول او بیا به یی ویل‌چی دعثمان غنی دخزانو کیلی زماسره دی په حقیقت کی‌دده سره دبریتانوی هند دکمپنی کیلی‌وی او خپلو خرخونو یی ډیر خلك راخپل کړی وه. ده په یوه حساسه مرحله کی دافغانستان خلك دبریتانیا په خدمت گمارل او ځان یی‌یو متشریع مفتی باله.

## ایلدر پاتنجر

سیجر ایلدر پاتنجر د بمبی دتوپخانی غړی او بیا د سند دسیاسی‌ناظر مرستیال یو فعال جاسوس ؤ چی‌په ۱۸۳۷ کی کابل‌ته‌دیو سوداگر په‌بڼه راغی او بیادیو هندی ملا په‌شکل هرات ته‌ولاړ او هلته پر هرات دایران دیرغل په‌وخت کی یی فعالیت کاوه‌خو هلته‌رسوا شو. له هغه ځایه په ۱۸۴۱ کی‌چی دافغان او انگلیس لومړی‌جگړه روانه‌وه دکابل شمال کوهستان‌ته راغی خو دافغانانو مبارزینو لخوا ونیول شوا وترجگړی وروسته‌چی جنرال‌پالك کابل‌ته‌راغی‌دغه‌جاسوس یی‌له‌بند خخه راویوست او له‌ځان سره هندوستان ته‌بوت ـ خرنگه‌چی په‌افغانستان کی‌یی دجاسوسی په‌لار کی دوه ملیونه روپی خرخی کړی وی او اسناد یی‌قانع کوونکی نه وه دانگلیسانو لخوا محاکمه اوبیاتبرئه‌شو او د عمر و روستی‌ورځی‌یی‌په هانگ کانگ کی تیری کړی.

## لو ټنګر :

ایلډرډلو ټنګر د ۱۸۳۷-۱۸۳۸ کلونو په دوران کی یو انګلیس جاسوس ؤ چی د یو هندی طبیب په جامعه کی هرات ته ولاړ او هلته یی وزیر یار محمد خان ترخارنی لاندی و نیوی طبیب په ۱۸۳۹ کی چی شاه شجاع افغانستان ته را غی او د هرات محاصره خلاصه شوه . دغه لو ټنګر طبیب په ښکاره د انګلیس د سفیر په توګه د یار محمد خان دربار ته معرفی شو. لو ټنګر د خا ن سره یو بل جاسوس کرنیل ستیدارت هم ملګری کړی ؤ خو څرنګه چی یار محمد خان د دوی او امر نه منل نو لو ټنګر د ده په باب ډیر بدنظر پیدا کړ او غو ښتل یی چی په شهزاده کامرا ن یی له منځه یو سی خو وزیر یار محمد خان دوی په دغه کار کی نا کا مه کړ ل. دغو جاسوسانو ډیری روپی خرڅی کړی خو نتیجه یی په لاس را نوړه .

یار محمد خان ستیدارت له هراته و شړی چی و روسته دغه جاسوس بخارا ته و لاړ او هلته تر یو لړ فتنو پاخولو و روسته د بخارا امیر نصر اله خان اعدام کړ او لو ټنګر په نا کامی د هرات څخه تبدیل شو او په عوض کی یی میجر تاد مقرر شو.

## الکزاندر برنس :

الګزاندر برنس یا برنز چی د شاه شجاع په اړ خ کی تر میکناتن و روسته لو مړی با صلاحیته انګلیس ؤ په لو مړی سر کی په پټه د یو جاسوس په توګه افغانستان ته را غی نوموړی د یو د سودا ګر په بڼه په افغانستان او منځنی اسیا کی ډیری سیمی وکتلی او انګلیسا نو ته یی منظم راپورو نه و رکړ ل خو په بل ماموریت کی په ښکاره توګه افغانستان ته را غی او د افغان او انګلیس د لو مړی جنګ په پیل کی د ملی مبا زینو لخوا و وژل شو.

## کیمپل (شیر محمد خان)

دانګلیس یو بل جاسوس چی یوه زیاته موده یی په افغانستان کی د ا نګلیس په ګټه کار کړی دی کیمپل نو میږی .نو موړی په ۱۸۳۳ کال کی چی شاه شجاع پر کندهار حمله کو له

دیوی نظامی دلی مشر ؤ. په دی جگړه کی شاهشجاع مات شو او وتښتیدی او کیمپل هم ژوبل شو. کله چی دامیر دوست محمد په لاس کښیوت دخان خلاصول او خپل ماموریت په خاطر مسلمان شو او امیر دوست محمد هم هغه وساتی ـ وروسته یی دمیاشتی په خلورسوه روپی د کابل داردو د توپخانی قوماندان کړ. کله چی شاهشجاع دانگلیس دلښکر وسره راغی امیر دوست محمد خان په ظاهره مسلمان شوی انگریز ددفاع ماموړ کړ نوموړی دشاهشجاع په مقابل کی خان تسلیم کړ. امیر دوست محمد وتښتیدی او داجاسوس دشاهشجاع د باچا یی کاره قوماندان شو. ده دملی مبارزینو پرضد ډیری ناخوالی و کړی خو کله چی دافغان او انگلیس په لومړی جگړه کی دده قطعه ټوټه ټوټه شوه دی بیاپدی نامه چی مسلمان شو یدی پری ښوول شو.

نوموړی پرخان دشیر محمد نوم ایښی ؤ او دشاهشجاع تروژل کیدو وروسته چی امیر دوست محمد بیا کابل و نیوی نو دغه انگریز شیر محمد بیامقررشو او د اټل دامیر دوست محمد د زوی سردار محمد افضل خان سره چی دترکستان حکمران مقررشوی ؤ ملگری شو او په بلخ کی یی دانگلیس په گټه فعالیت کاوه.

سردار محمد افضل خپل دولس کلن زوی عبدالرحمن (وروسته امیر عبدالرحمن) هغه ته دروزنی له پاره وسپاره. امیر عبدالرحمن ددغه انگریز پر لاس وروزل شو. داانگریز ۱۸۵۸ کال کی مړ شو.

## قاضی قادرو:

اوس ددی لیکنی هغی برخی ته راځو چی انگلیسانو یوازی دانگلیس نژاده جاسوسانو څخه استفاده نکوله بلکی دسیمی ځینی عناصر یی هم وروزل او ددغسی کسانو کاردوی ته ډیر ارزښت ؤ ځکه ددغسی کسانو افشا هم مشکله وه او ددولت اراکینو هم اعتمادي کاوه.

انگلسیانو ددغه کارلپاره دروزنی تاکلی اداری په بریتانوی هندکی جوړی کړی

وی او په دغو مو سسو کی ډیر خطر ناک خلك و روزل شول . د غسی کسانو به بالعموم نرمذ هبی عناوینو لاندی معرفی کیدل خو عامه مینه و رته پیدا کړی.

یو له دغسی کسانو څخه دامیر شیرعلی خان فرهنگی او سیاسی مشاور قاضی عبدالقادر ؤ چی په قاضی قادر رؤی شهرت درلود د غه سړی یوی مشهوری او علمی درنی کورنی ته منسوب ؤ چی اسلافو یی ډیر علمی او اداری خدمتونه کړی ؤ . دغه سړی پښتو ، دری ، پنجابی او انگلیسی خبری او لیکنه کولای او هغه مهال چی دامیر شیر علی په دربارکی مقرر شو دده پر لاس امیر فرهنگی رفورم عملی کاوه . دی دامیر ترجمان او په اکثرو موارد و کی دسیاسی نماینده په توگه تیا کل کیدی. هغه مهال چی دتزاری روسیی هیئت دجنرال ستا لیتوف په مشری کابل ته راغی دغه قاضی قادر ودافغانی هیئت غړی وه چی په خبرو کی یی په صلا حیت برخه اخیستله.

کله چی امیر شیر علی دانگلیسانو دیر غل په وخت کښی له کابل څخه مزار شریف ته و لاړ نو قاضی قادرو ر سره ملگری ؤ او هغه مهال چی یی یو هیئت و تاشکند ته و لیږی چی دروسیی دگو رنر جنرال سره خبری و کړی نو قاضی قادرو دهمد غه هیئت غړی ؤ . نو موړی په دغه سفر کی یو بل انگلیس مشر سردارشیر علی خان کندهاری دځان سره ملگری کړ او هلته یی په پټه سردارعبدالرحمن خان (وروسته امیر) و دی ته تشویق کړ چی دا افغانستان امارت و نیسی.

قاضی قادرو دامیرشیر علی تر مرگ وروسته دافغان او انگلیس ددوهم جنگ په دوران کی پټ دامیرعبدالرحمن خان ترر اتگ وروسته خو کاله نور هم په کابل کی اوسیده او په رنگی سره یی را بطه لرله خو وروسته له کابله پیښور ته او له هغه ځایه بمبی ته و لاړ او هلته په گمنامی کی مړ شو .

خو کاله و روسته یوه رساله چاپ شوه چی په هغه کی یی ۱۸۷۹ څخه تر ۱۸۸۲ پوری دهغو کسانو خد متونه یاد کړی وه چی دانگلیس په گټه یی په افغانستان کی کړې وه. پدې کی دقاضی قادر و دخدمتو نو یا د و نه شوی وه د قاضی قادر و دخدمتو نو تصد یق هغه لیپل گریفن کړی ؤ چی کابل ته یی دامیر عبدالرحمن خان درا تگ زمینه برابره کړی وه. هغه لیکلی دی چی کله چی کابل تخت امیر عبدالرحمن ته وسپاره نو قاضی قادر و سی په ډیر اعتماد دامیر د پښ مشاور په توگه و ټاکه. دقاضی قادر و دخدمتونو دستاینی په اړ خ کی دایادو نه هم کیږی چی هغه لانو رقدرت هم لری چی کار څخه وا خیستل شی با ید دری سوه کلداری معاش و رمقرر شی.

## ملامحمد علی:

دهزاره جات په قیام کی چی دامیر عبدالرحمن پر ضد ئی بغاوت وکړ دانگلیس یو جاسوس دمحمد علی په نامه فعالیت کاوه چی له یوی خوا یی خلک قیام ته تشو یقول او د بلی خوا یی (امیر د لښکرو سره مرسته کوله ده په پښتو او دری خبری کولی یوه بله هندی ښځه وه چی دگیاه پیژ ندو نکی په نامه په هزاره جات کی گرزیدله. (۱۰۱)

دغو دوؤ کسو دانگلیس په گټه په پټه ډیر فعالیتونه وکړل.

## ملارحمت الله مشهدی او ملارمضان:

دامیر عبدالرحمن په وخت کی انگلیس جاسوسان مصؤن وه له دغی جملی څخه په هرات کی رحمت الله مشهدی او ملارمضان دوه کسه معلوم جاسوسان وه. مولوی غلام رسول چی له غازی خان ډیری څخه هرات ته تللی ؤ خلور کاله یی هلته دشاگردانو په روزنه کی کار کاوه. ددغو کسانو فعالیتونه رسوا شول او امیر عبدالرحمن خان په پټه خوله له افغانستان څخه هندته ورسول.

هغه مهال چی امیر عبدالرحمن خان پر نورستان یرغل کاوه داحمدجان خان طبیب په نامه یو جاسوس دسپه سالار غلام حیدر خان څرخی سره ملگری ؤ- داسړی دانگلیس په خدمت کی

دوسره کارونه وکړل چې لوړی کرنیل شو او بیا بریگیرد شو.

## ملامنهاج الدین:

دامیر حبیب الله خان په وخت کی هم دانگلیس جاسوسان فعال وه په خاصه توگه هغه مهال چې د سردار یحیی خان زامن او لمسیان دډیر ادون څخه کابل ته راغلل او په کابل کی دامیر دربار ته منسوب شول نو دانگلیس دجاسوی‌شبکی ډیری منظمی شوی ـ کله چې امیر حبیب اله دهندله سفر څخه کابل ته راغی نو یو شمیر هندی ښوونکی او د تخنیک په چارو کی ماهران یی دهندڅخه راوغوښتل چې په دغوکسانو کی اکثره دانگلیس جاسوسان وه.

یوله دغوڅخه ملامنهاج الدین دشهزاده کبیر خان معلم ؤ. دغه‌سړی دافغانستان د لوړی مشروطه غوښتونکو لستونه امیر ته‌ور کړل او دروشنفکرانو هغه نهضت یی‌له منځه یووړ. دا د انگلیس پلان چې دملا منهاج الدین پرلاس کامیابه شو.

## ملاعمادالدین:

ملاعمادالدین یو هندوستانی مسلمان ؤ چې په پټه یی دانگلیس‌د جاسوسی دفتر کی کار کاوه ده له پیښور څخه ځان د امیر امان‌الله د علاقمندانو څخه باله او د افغانستان داطلاعاتو په اداره کی یی‌ځان شامل کړی ؤ. نوموړی ته شپږسوه روپی معاش مقرر او هر کال به‌دخپل معاش لپاره له‌پیښور څخه کابل ته‌راته.

دغه ملا عمادالدین په کابل کی دیو شمیر درباریانوسره اشناؤ او د نائب السلطنه دنجات په‌نامه‌ټولنه ئی په پټه‌جوړه کړی وه‌چه دامان الله‌خان ترور او‌نائب‌السلطنه واما رت‌ته‌ورسوی‌د ۱۹۲۱ په‌حدود کی د افیصله وشوه چه‌ملا عماوالدین‌د امیر امان‌الله‌خان‌دمنځه‌یوسی دشاه دترور پلان داسی طرح شوچی کله دکابل څخه پغمان ته‌ځی دقرغی دپله‌په برخه

کی باید فیرپروشی. ملاعمادالدین دغلام حیدراوعبدالرحیم په‌ملګری چی‌دا سړی دقاضی سعدالدین‌خان قاضی القضات له‌کورنی څخه‌ؤ لوسړی‌یی‌دپله‌یوه برخه ورانه‌کړه او بیاد غنمو په‌کښت‌کی‌پټ کښینستل خوددوی را پورتر مخه رسید لی ؤ اود نوموړی پله‌سره دشجاع الدوله خان امین العسس لخوا ونیول شول.

ملاعمادالدین ترنیولو وروسته وویل چی زه دشاله‌طرفدارانو څخه‌یم او ددغی‌پیښی اطلاع سی‌یوه ورځ مخ‌کی اسرالدین خان‌چی‌داهم یوه هندی ؤچی په‌کوتوالی کی‌یی کارکاوه) ورکړیده. کله‌چی دا سرالدین خان‌څخه پوښتنه وشوه‌هغه تا ئیدکړه او وی ویل څرنګه‌چی‌دجمعی ورځ ده نوماوخت ونه‌موندچی داا طلاع اصلی ځای ته‌ورسوم وروسته امان الله خان د غه لیکنه وغوښتله اوچی‌وی لوستله پخپله یی دملا عمادالدین دخوشی کیدوامر ورکړ.

نوموړی ملاچی له‌دغه ځایه ووت نو بیاهیچا ونه‌لید او ورک‌شو (بنایی دوظیفی ترانجام وروسته به‌دهلی‌یالندن ته‌تللی وی !

**ملاعبدالعلیم، ملانورعلی، ملا نعمت‌الله :**

په ۱۹۲۳ کال‌چی‌په پکتیاکی دملاعبدالله‌او ملاعبدالرشید لخواامانی رفورم پرضد بغا ‌وتونه پیل‌شول او د بلی خوا انګلیسانو دعبدالکریم په نامه دامیر یعقوب خان زوی ځد را نو ته راواستاوه چی‌دکابل دامیر په حیث یی قبول کړی دکابل فضاهم ناارامه شوه او ددی لپاره چی په کابل‌کی ددغه سړی دقبول لپاره زمینه برابره کړی نو دانګلیسانو له جاسوسی سرویسو نوڅخه دری کسه په‌کابل کی فعال شوه چی دنعمت اله قادیانی ـ ملا عبدلعلیم چاراسیابی اوملانورعلی کهنه‌فروش نومیدل ـدوی په‌داګه داامان‌الله پرضد تبلیغات کول او داامان‌الله اداره یی دکفر دتعمیم یوه وسیله بلله.

دغه دری کسه چې و نیول شول وطن ته دخیانت او اجنبیو ته د جاسوسی پر جرم یی اعتراف وکړ او د محکمی لخوا په اعدام محکوم شول چی امر هم پری تطبیق شو.

## پیر کرمشاه کرنیل لارنس :

اوس دهغه سړی پیژندنه دلته راوړو چی دانگلیس مشهور جاسوس ؤ او داما نی رفورم دتوطیی لپاره دبریتانیاله خوا سرحدته راولیږل شو او نوموړی دپیر په جامه کی هغه تخریبونه وکړل چی زموږ دتبولنی دعینی او ذهنی تحول او انکشاف په وړاندی یی خنډ ونه پیدا کړل او پخپل دغه عمل یی نه یوازی زموږ دبیگناه خلکو وینی توی کړی بلکه تمدن او ترقی له کاروان څخه یی زموږ ټولنه په څټ وغورځوله.

داجاسوس هغه مشهور لارنس دی چی دعربی لارنس په نامه یی شهرت لری

لارنس په ۱۸۸۸ کال کی دبریتانیا په ویلز کی وزیږیدی په اکسفورد کی ئی تحصیل وکړ بیاعربی سیمو ته ولیږل شو هلته یی عربی ژبه او د اسلام د دین احکام زده کړل وروسته دانگلیس په جاسوسی سرویس کی شامل شو. په ۱۹۰۹ کی یی سوریه او فلسطین کی دعربی نړی دمسایلو سره ځان اشنا کړ او د لومړی بین ا لمللی جگړی په دوران کی یی دانگلیس په گټه په مصر فلسطین او نوروعربی سیمو کی داسی فعالیتونه وکړل چی دما فوق بشر په نامه یی شهرت وموند. ده دعربی ولسونو ترمنځ د فتنی او توطیی اورونه بل کړل او دیهودو په گټه یی په اروپا او منځنی ختیځ کی هم ډیر خطرناک پلانونه عملی کړل په ۱۹۱۹ کی داجاسوس دپاریس دصلح په کنفرانس کی دبریتانوی هئیت غړی ؤ (۱۰۲)

ده عربی او پارسی ډیره روانه ویله او هغه وخت چی دپښتنو په سیمه کی وظیفه ورکول شوه پښتو یی هم زده کړه په ۱۹۲۱ کی چی افغانستان خپلواک شوی ؤ او د انگلیس داپیشنهاد امیر امان الله او دهغه دملگرو له خوا شو چی دشوروی اتحاد سره باید افغا نستان روابط ونلری نو انگلیس دتوطیی او د سیسی پلان طرح کړ په ۱۹۲۸ کی چی امیر امانا لله داروپا سفر وکړ او انگلیس داپیشنهادیی ونه مانه چی شوروی اتحا د ته دی سفر نه کوی نو انگلیس په افغانستان کی دکورنی جگړی داوربلولو پلان دعمل په صحنه کی پلی کړ.

انگلیسانو دهمدغه مقصدلپاره لارنس‌ته‌وظیفه ورکړه چې داماني دوری ټول ترقي غوښتونکي وکوټې دغه جاسوس دا پلان داسې عیار کړ چې په عامه اذهانو کې ترقي غوښتونکي دضدمذهب عناصرو په‌توگه معرفي کړ.

«د ۱۹۲۹ کال دجنوری په‌۳ نیټه پراوداوایز و یستیادانگلیس دپټودسیسو په‌باب یوه لیکنه وکړه.

چې دالمان او فرانس و رځپاڼو هم دهغو تائید کاوه. ددغو لیکنو څخه داخرگنده شوه‌چې مشهورجاسوس کرنیل لارنس دوزیرستان په‌وانه کې‌فعالیت کوی».

پر رسمي اسنادو داهم ثبوت ته‌رسیدلی ده‌چې په همدغه وخت کې لارنس په‌میر امشاه کې دالوتکو دډگر د کار کونکي په‌یوه پوست کې ؤ او دشاپه نامه یادیدی.

«داسې‌اسناد هم‌په‌هند کې‌موجود شویدی‌چې‌دغه‌لارنس په‌لاهور کې‌مولاسیدپیر کرمشاه په‌نامه‌دعقیدت مندانو یوه ډله‌جوړه کړی‌وه چې‌ده‌په تغیر لباس فعالیت پکښې‌کاوه)(۱۰۳)

د ۱۹۲۹ دجنوری په‌۲ نیټه امیر امان الله ددغه جاسوس له فعالیتونو څخه خبر ؤ چې دمذهب په پوښ کې فعالیت کوی نو دده دنیولو امر یې صادر کړ. خو دا چالاکه جاسوس ورکه‌شو. دده‌پرلاس د شینوارو په سنگو خیلوکې د اغتشاش او ربل شو او په خوگیانو کې‌یې داتبلیغ وکړ چې امیر امان الله کافر شو یدی او دده ددربار ټول خلك ددین دخرابولو پلانونه عملي کوی. دلارنس تر پروگرام لاندی د افغانستان د ملکي ثریاپه زرگونو عکسونه په‌خلکو کې تیت شول. دغه عکسونه په خاینانه توگه داسې مونتاژشوی‌وه چې‌دعکس‌سر دملکي ؤ خو بدن دیوی فرنگي ښځې ؤ.

پیر کرمشاچي همدغه لارنس ؤ دقبایلو سپیڅلي پښتانه وغولول او دوی یې د امان‌الله خان داصلاحاتو پرضد راواوچت کړل کله‌چې په افغانستان کې دداخلي جگړی او رولگیدی نو دلارنس ماموریت هم‌خلاص شو. دغه جاسوس پرخپل دغه کار لو یې‌جایزی وا خیستی‌څو په ۱۹۳۵ کال کې‌مړ شو.

# دوهمه برخه

# دارتجاع او امپریالیزم په خلاف

## بریالی غورځنگ

دشاهي وراسته رژیم، دغیر عادلانه، مناسبا تو دشته والي په نتیجه کي، هغه ظالمانه اجتماعي او ټولنیزا ړیکي چي له دغو مناسباتو څخه را پیدا کید ل، په پر له پسي توگه دحاکمو، استثمارگرو او لوټمارو طبقو یعني ملاکانو، کمپرادورا نو، نوی دوران ته رسیدلو پانگوالو، او لوړ رتبه فاسدو برو کراتانو قشر له یوی خوا، او د زیارکښا نو او مترقي طبقو او قشرو نو یعني زموږ د خلکو مطلق اکثریت بزگرانو، کارگرانو، کسبگرو او روشنفکرانو ترمنځ تضادله بلي خوا، ورو، ورو زیا تیده. د شلمي پیړی او په تیره بیا ددوهمي عمومي جگړی څخه راوروسته په پنځوسمه او شپیتمه لسیزه کي، دهیواد ښارونو، دپراختیا دکورني او نړیوال بازاردپرا خوالي او دسړکونو دجوړیدو په نتیجه کي چي دهیواد اقتصادي سیمي له یوبل سره نښلولي یوڅه اندازه په تولید اغیزه وشوه. سوداگرو او بډایانو دکرني ښي حاصل خیزه ځمکي ترگو توکړی او دي حدته خبره راورسیده چي دځمکي شته والي یوازي، څلویښت زره ځمکه وا لو په سلو کي ۰٦ او

۸۰٪ زره بزگرو، یوازی پهسلوکی څلویښت څمکه ترکرنی لاندی د رلوده. په هیواد کی دغه حالت دیوشمیر بزگرانو دبی ځمکی کیدو او وزگارتیا مساله رامنځ ته کړه چی پهښارونو کی ځان ته کارپید اکړی او پهدی ډول د نیستی ، فقر او بی ځمکیتوب څخه دبزگرانو لپاره پیداشوی ستونزی، او لهخپلی وظیفی څخه دشاهی و راسته رژیم دبیو کړا تانو او چوکی خوښوونکو ، ناوړه استفاده او ناجایزه گټه اخیستل ددی سبب شول چی بزگران کلکی مبارزی ته وهڅوی لهبلی خوا د تشکل پهحال کی مایهورژوازی غوښتل چی د صنعتی مالونو دتولید لپاره خپل لگښت کم کړی پههیواد کی د ننه داخلی و مواد دپروسس لهلاری زیاته گټه ترلاسه کړی . خوحکومت دسپکو صنایعو پرمختیا لکه نساجی، د بوری تولید صابون جوړول ، ښیښی جوړول ، دانرژی صنایع ، د سمنتو تولید، استخراجی منابع لکه دتیلو پلټنه او نورتر نظر لاندی ونیول . دشاهی رژیم حکومت لهپانګوالو هیوادو څخه او پهتیره بیا دامریکا دمتحدو ایالاتو څخه په دغه وخت کی وغوښتل چیددغه کا لپاره دی افغانستان ته یوه اندازه پور ورکړی ، خو پانګوال هیوادونه پهپرمختیا بی هیوادوکی دصنایعو دودی له امله کومه گټه نهلری ، ځکه چی بیا ارزانه او اومه مواد له کومه ترلاسه کړی ، او د پخو موادو لپاره بازارچیرته وموی ، بازار لهلاسه ورکوی لدی امله په ۱۳۳۰ کال کی دهیواد پهاقتصاد کی دد ولتی سکتور رامنځ ته کیدلو، او له سوسیالیستی هیوادو سره او لهټولو څخه مخکی دشوروی اتحاد سره د تخنیکی او اقتصادی مناسباتو دپرمختیاله پاره چی دمتقابله همکاری او گټی په بنسټ ولاړو، زیات او ارزښتناک اهمیت پیدا کړ . او پهنتیجه کی په افغانستان کی دشوروی اتحاد په مرسته گټور ریږوژی په کارولو یدی چی په دغه برخه کی ویلای شو چه ۱۳۴۰ کال څخه تر ۱۳۴۲ کال پوری چی ددوهم پنځه کلن پلان دتطبیق لومړنی دوه کاله دی ، دافغانستان پهټول اقتصاد کی، دټولی پانگی اچونی پهسلوکی پنځوس دشوروی اتحاد، اقتصادی مرستی برابری شوی او په دغو کالونو کی دافغانستان په بهرنیو مرستو کی پهسلوکی پنځهاو

یابرخه هم دشوروی اتحاد لخوا برابریدله. دهیواد دخلکو سره دسیاسی بدلونونو په هکله وړو، وروسته زیاته‌شوه او د پاسنی طبقې دفشار له‌امله تحول غوښتونکو ځواکونو په‌پټه خپلو فعالیتونو ته دوام ورکړ، محافظه کارو تو تونو خپلې ګټې په‌خطر کې‌ولیدلې، شاهی رژیم نشو کولای چې دهیواد دعینی جریان دودی مخه ونیسی او په نتیجه کې په ۱۳۴۱ کال کې دداود کابینې استعفی ورکړه‌د داود له‌استعفی څخه دمخه او وروسته په‌افغانستان کې‌چې‌دشوروی اتحاد کومې پروژې په‌کارولویدې،

هغوی له‌یوې خوا دافغانستان داقتصادی او ټولنیزو ستونزو دحل‌لپاره سم‌شرایط برابر کړل او له‌بلې‌خوا په‌دغو پروژو کې‌داسې کادرونه‌وروزل‌شول،چې دخپلوسیاسی‌اواقتصادی‌حقوقو دفاع یې کوله. خو دغه دولتی سکتور په‌شاهی رژیم کې‌ورو، ورو داستثمارګری طبقې په‌خدمت کې‌وګمارل شو، او ناجایزه استفاده تری شروع شوه، چې‌دغه کار نه‌پخلا کیدونکی تضادونه نور هم زیات کړل، د۱۹۶۳ کال ارقام ښیی یوازې په‌اصلی ساختمانی نونولکه دسرکونو جوړول، فابریکوجوړول، دبرښنا تولید داوبو لګولو دموسسوا ونورو کې ټول پنځوس زره ماهرو کارګرو کار کاوه، چې‌دعمومی کارګرو شمیر چې‌په صنعتی ساختمانی او ترانسپورتی برخو کې کار کاوه یوسلو اتیا زره کاګروته رسیده. دنساجی په‌برخه کې‌کابوشپاړس زره کارګرو چې‌د هغوله جملې څخه یولس زره‌کارګری ښځې وې‌چې دنساجی کاریې پرمخ بیوه.

دکارګرو بی‌رحمانه استثمار په ټول ولس‌کی فقر، ولږه، بدبختی، رشوت‌او بی‌عدالتی خپل سری ورځ په‌ورځ زیاتید له اودادی سبب شوچې دهیوادارتجاع اونړیوال امپریالیزم په‌خلاف په‌افغانستان کې یوغښتلی غورځنګ او پیاوړی نهضت راسخ ته‌شی. په‌دغه وخت‌کې دهیواد په سلوکې نوی هیوادوال دلیک لوست څخه یې برخې‌وو. خلکو په سختو شرایطو کې ژوند کاوه، او هیواد، د نړی دټولو هیوادوڅخه وروسته پاتې اوعقب مانده ملک ګڼل کیده، په‌سلوکې نوی بزګران او بې‌وزلی‌خلک

په کلیو کې اوسیدل چې هلته دفیوډالي او ماقبل فیوډالي وروستو مناسباتو لمن غوړولې
وه، بې کاري په هیواد کې زیاته وه، دهیواد ټول زیار کښان، د ژوند دلومړنیو حقوقو
څخه محروم وو. کمپرادور بورژوازۍ ته میدان خلاص و، بروکراتانو خپل عیش او نوش
ته دوام ورکاوه، اقتصادي حالت ورځ په خرابیدو وه نو له دې امله زمینه دې ته برابره
وه چې ټول ملي او مترقي قوتونو کې ایدیالوژیکي سیاسي، او سازماني وحدت رامنځ ته شي
او دغه وحدت یوازې په هیواد کې دیوداسې گوند په وجود کې ترسره کیدای شي چې په
مترقي ایدیالوژي سمبال وي. دغه شان گوند چې د کورنی ارتجاع او دنړوال امپریالیزم
په خلاف یې دمبارزې پرچم اوچت کړ د ۱۳۴۳ کال دجدي په یولسمه نیټه چې ۱۳۶۵
کال دجنوري دلومړی نیټې سره سمون خوري کابل کې دافغانستان دخلک دموکراتیک
گوند په لومړي کنگري سره چې دهیواد دزیار ایستونکو طبقو او قشرونو دارمانونو د
ترسره کیدو لپاره یې مبارزه کوله په مخفي توگه جوړ شو .
موسسې کنگرې دافغانستان دخلک دموکراتیک گوند دجوړیدو په باب تصمیم ونیوا و
په پټو رایو ورکولو سره یې مرکزي کمیټه وټاکله، په همدغه ورځ دافغانستان د خلک
دیموکراتیک گوند لومړی پلینوم جوړ شو او دکنگرې داستازو په وړاندې دافغانستان
دخلک دموکراتیک گوند دمرکزي کمیټې منشیان وټاکل شول. داگاهانه مبارزې لپاره د
کارگری طبقې او داستثمار کیدونکو پرگنو دچمتو کولو په کار کې دیو دواحدا وټینگ
سازمان یعنې دافغانستان دخلک دموکراتیک گوند جوړیدو وسم شرایط برابر کړل. مرکزي
کمیټې دگوند دمرامنامې او اساسنامې دجوړولو لپاره مخصوص گوندي کمیسیون جوړ کړ، او د
گوند مرامنامه په مرکزي کمیټه کې له غور او څیړنې وروسته د(۱۳۴۵) کال دحمل په ۲۲
نیټه دخلق جریدې په دوهم گڼه کې خپره شوه په دغه مرامنامه باندې دافغانستان د خلک دموکراتیک
گوند په کنفرانس کې غور وشو تائید او تصویب شوه. دگوند په مرامنامه کې کورنی
سیاست او نړیوال حالت وڅیړل شو. دسیاسي ستونزو او داقتصادي لکه (صنایع، کرنه، مالداري

سو داگری ،مالیی) تو لنیز و او کلتو ری چار و په باب گو ندی و ظیفی په گو ته او مشخصی شوی.

په مر امنامه کی ددی تکی ذکرو شوچی دمعا صر دو ران مهم مضمو ن او په نړیوال مقیاس کی دطبقاتی مبارزی محور هماغه دنړیوال سوسیالیز م او نړیوا ل امپر یالیزم مبار زه ده، چی دا کتو بر په ستر سو سیالیستی انقلاب سره پیل شوی ده . دافغانستان دخلك دمو کر اتیك گو ند په مر امنامه کی ویل شوی چی دسو لی، دمو کر اسی، ملی خپل و اکی او تو لنیزی تر قی په گټه دبین المللی قو اپه تناسب کی بدلون او دا مپر یا لیز م کمزو ر تیاد آزاد شو یو هیوادواو ملتونو لپار ه پر اخه امکان بر ابر کړی دی ،چی په خپل ژ و ندا نه با ندی نوی کتنه و کړی، اقتصادی خپلو اکی ته ورسیږی ،او د ملی دمو کر ا سی ددو لت دجوړو لو او دغیر پانگو لی و دی دلاری په تعقیبو لو سر ه دامپر یا لیز م دتسلط جر ړی له بیخه و باسی او فیو ډالی نظامو نه او د هغه پاتی شو نی طر د کړی او دتو لنیز تکامل نوی پړاو ته و رسیږی .

دغه تکی باید په نظر کی و نیول شی چی ددو لت بهر نی سیاست دبیطر فی ا و سو له غو ښتنی او په ر و غه جوړه کی دگډژ و ند او له ز اړه او نوی استعمار امپر یا لیز م سره دضدیت دسیاست په پیر وی او له پو ځی بلا کو نو سره په نه یو ځای کیدو و لاړ و .دافغانستان دخلك دمو کر اتیك گو ند ددغه شان سیاست پلوی کو له. دغه ر از دتو لیدی قو او دو دی دسستو الی او دافغانستان دز یار ایستو نکو د کړاو ډ ک ژ و ند ستر علتو نه ،فیو ډالا ن محتکر او کمپر ادو ر، ستر سو داگر ، فاسد بیر و کر اتان ،او امپر یالیستی انحصاراتو نمایندگی دی ،چی د هغو طبقا تی گټی ز مو ږ دو لس او خلکو د پر گنو له گټو سر ه په تضاد کی دی.

ددغه تضاد دحل کو لو لپاره په هیو اد کی ملی دمو کر اسی غو ر ځنگ عمده محتوی گڼل کیده .په پر و گر ام کی دملی دمو کر اتیک دو لت دسیاسی بنیاد او بنسټ محر که قوتو- نه ټا کل شوی دی .دملی دمو کر اسی دحکومت سیاسی ستنه ملی متحده جبهه وه په د غه مر ام کی تو ضیح شوی و چی دافغانستان دخلکو دفقر او و روسته والی علت د فیو ډالیز م لا سبر نی او امپر یالیز م دی . او ددغو دو اړو له منځه و ړلو لپاره باید مبار زه و شی. دگو ند لو مړنی

نشراتي ارګان چې په ١٣٤٥ کال د حمل په ٢٢ نېټه يې خپل نشرات پيل کړي و، د همدغه کال د جوزا په مياشت کې چې د ١٩٦٦ کال د مي سره برابر ده د حکومت له خوا له خپريدو څخه توقيف کړی شو. يو کال وروسته يعنې په ١٣٤٦ کال کښې په ګوند کې ديو لړ عيني او ذهني عواملو له امله انشعاب راغی. دغه عوامل په هيواد کې ټولنيزه عقب ماندګي، کتله يي بې سوادي د فيوډاليزم او ماقبل فيوډاليزم وراسته ميراثونه او د ودونه، سلطنتي زوړ او پخواني استبدادي تسلط، د ګوند د ټولنيز ترکيب او جوړښت عدم تجانس کارګري طبقې کمي او کيفي کمزورتيا او لږوالی، د کوچني بورژوازي د روحيا تو او افکارو شته والی داجتماعي پيچلو مسالو د درک د سطحې ټيټوالی او زمونږ د پيري د مترقي انديښنو سره نه بلد تيا برابروي چه له دغو عواملو څخه د ترقي ضد کسانو او په ګوند او نهضت کې رانوتو جاسوسانو پوره استفاده وکړه. خو له انشعاب څخه وروسته دواړو خواو د هغو هدفونو لپاره چې د ګوند د موسس کنګرې او د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند د مرامنامې لخوا په ګوته شوي ؤ، مبارزه وکړه په همدې ډول په ١٣٤٦ کال کې د ګوند دوهم نشراتي ارګان (پرچم) جريدې په نشراتو پيل وکړ. دغې جريدې د ١٣٤٩ کال پورې خپلې مترقي خپرونې پرسخ بوتلې. د پرچم جريدې د انقلابي تيورې په تبليغ او رواجولو او د انقلابي پوهې په قوي وسله د پرګنو په سمبالو لو کې ستر نقش ولوباوه. دغې جريدې د افغانستان د خلک دموکراتيک ګوند لپاره ددې امکان پيدا کړچې د هيواد زيا رايستونکي خلک په ګوند راټول شي او د ګوند لوړ هدفونه په سمه توګه درک کړي.

د پرچم جريدې وکړای شو چې په هيواد کې د انقلاب يانو بشپړ نسل وروزي. دغه جريده د ١٣٤٩ کال د ثور په دوهمه نېټه له دې امله چې په هغې کې د نړۍ د کارګرود ستر مشر و. ای. لينن د سلمې کاليزې په باب يو لړ مطالب خپاره شوي او فوق العاده ګڼه وه، د حاکم هيات لخوا ٩٧ ګڼو له خپريدو څخه وروسته توقيف شوه. د ا. خ. د. ګ د ١٣٤٤ کال څخه نيولې تر ١٣٥٢ کال پورې د بيلو بيلو موضوع ګانو په ارتباط څه د پاسه دوه

زره بیلابیل میټینګونه جوړ کړل. په دغه وخت کې د هیواد په ۳۰ ښارونو کې د ا.خ.د.ګ
د سازماني ستر فعالیت له امله د زیارکښانو لخوا د مې لومړۍ ورځ چې د نړۍ د کارګرانو د
پیوستون نړیواله ورځ ده لمانځل کیده.

ملګري کارمل به تل د دغو مظاهرو او میټینګونو په سازمان ورکولو کې فعاله ونډه اخیستله
د ۱۳۵۲ کال د سرطان په ۲۶ نیټه په هیواد کې، د اردو، د وطن پالو ځوانو افسرانو د
پاڅون له امله شاهي رژیم را نسکور شو، په دغه دولتي کودتا کې نسبتاً محدود افسران
چې د هغو په راس کې د پاچا د تره زوی داود او همدارنګه د افغانستان د خلک دموکراتیک
ګوند غړي شامل و. د همدغه کال د سنبلې په میاشت د داود لخوا د دولت د پروګرام طرحه
(خلکو ته خطاب) په نامه خپره شوه. د ا.خ.د.ګ د ۱۹۷۳ کال د جولای په میاشت کې په
خپله اعلامیه کې د جمهوري اصلاحاتو د پروګرام په باب چې (خلکو ته خطاب) کې تشریح
شوی و، خپل ملاتړ اعلام کړ. په څلورو کالو موده کې د ا.خ.د.ګ د جمهوریت په ارګانونو کې
د خپلو استازو په ذریعه د جمهوري دولت د رهبرانو د مترقي تمایلاتو په لار کې مبارزه وکړه.
خو د دغه مبارزې په مقابل کې یو لړ ستونزې پیدا شوې. او په همدې ډول د ا.خ.د.ګ
د مرکزي کمیټې عمومي منشي ملګري ببرک کارمل د ریم ګوندي کنفرانس ته په خپل رپوټ
کې چې ۱۳۵۴ کال په جدي کې جوړ شو د سرطان د ۲۶ نیټې د کودتا د اجتماعي ماهیت په
هکله یو ژور تحلیل وړاندې کړ.

ملګري کارمل په دغه کنفرانس کې اټکل وکړ چې امکان لري د محمد داود د رژیم په مطلق
العنانۍ رژیم واوړي. او په دې ډول یې په دغه وینا کې د بروکراتیک بورژوازۍ او د
کورنۍ او بهرنۍ ارتجاع د خطرناک تاثیر په هکله هم تائید او تاکید وکړ. له دغې نیټې څخه
وروسته پېښو وښوده چې په دغه کنفرانس کې د ملګري ببرک کارمل اټکل سم راووت
ځکه هغه اساسي قانون چې په ۱۳ فصلونو کې برابر شوی و، په هغه کې یوازې (ملي
جرګه) د محدودو صلاحیتو سره منځ ته راتلله او جمهور رئیس ته یې په دولتي او اداري

برخه کی زیات صلاحیت ورکاوه چې دغه عمل د جمهور رئیس یعنی داود د مطلق العنانی زیاتوله‌او په هیوادکی دیوگوندی‌سیستم دراوستلو لپاره چې د «انقلاب‌ملی» په‌نامه یادیده دگوند دجوړیدو کارپیل کړاو د۱۳۵۶ کال دسرطان په ۲۶ نیټه‌یی ددغه گوند دمرام‌نامی انفاذ اعلام کړ.

دداو د ددغه شان مطلق العنانی سره دمبارزي په‌خاطرد۱۳۵۶ کال داسدپه میاشت کی دا.خ.د.گ دمرکزی کمیټی دپراخ پلینوم‌غونډه‌چې دگوند دوا ړوخواو په‌کی برخه اخیستې‌وه‌جوړه‌شوه، پلینوم ددواړو خواو دځانگړی فعالیت دختمولو او (۱۳۴۳ کال) دموسسی کنگری په‌اساس دگوند دوحدت دتامین او ټینگښت په‌باره‌کی خپل تاریخی تصمیم ونیو، چې دغه‌تاریخی تصمیم‌دا.خ.د.گ دمرکزی کمیټی د غړی میراکبر خیبر په شهادت سره، د اجتماعی او ټولنیز انقلاب داساسی مسالی دحل کولو سبب‌شوا و د ثوربریالی انقلاب چې دا.خ.د.گ دلومړی مراماسی دټولنیزی ترقی دهدفونو ارمانونه پکی ترسره کیدی شو رامنځ ته‌شو.

# دثور انقلاب، ولس او وطن ته د هغه ښیگڼې

دثور انقلاب، په‌خپل بری سره، دبل هر اجتماعی او ټولنیز انقلاب په‌څیر دانقلاب اساسی مسالی‌حل ته‌سم ځواب ووایه. دثور انقلاب تر سره شو، په ۱۳۵۷ کال کی دثور په (۷) نیټه اساسی قدرت (یعنی‌دانقلاب‌اساسی‌مساله دهغه‌په عملی مفهوم دخلکو داکثریت په گټه‌حل شوه. دلومړی ځل‌لپاره، دافغانستان پر اوږده‌او وياړلی تاریخ کی‌د پاچاهی‌د ټولواکی او دداؤد دواکمنی او فردی‌دکټاتوری‌په‌ځای وگړ نیز قدرت رامنځ ته شو. د ثور انقلاب ښیگڼې او گټی‌له‌همدی ځایه پیل کیږی، او لومړی گټی او ښیگڼې‌یی‌په هیواد کی، همدا وگړ نیزه‌واکمنی‌ده. ولی ورته لومړی گټه‌وایو؟ له‌دی‌امله چی دهیواد په څوزره‌کلن تاریخ کی‌دغی لومړی گټی دهیواددا‌سکیرلو خلکو په‌گټه لومړی پانه واړوله، نوی‌باب یی پرانست، او دهیواد دزیاراېستونکی انسان‌سری دهر راز ظلم، بی‌عدالتی، فقر، ولږی، بدبختی، نابرابری، وزگارتوب او له زیښناک له‌منگولو څخه خلاصه کړه. دادافغانستان دخلکو په‌سلاتړ دا.خ.د.گ د هیواد دکارگری طبقی او د ټولو زیاراېستونکوگوندپه لار ښوونه، دثور انقلاب‌او په‌تیره بیاد هغه‌دنوی بشپړ تیایی‌پړاو په بریالیتوب‌سره خلاصه

شوه په دغه بریالیتوب سره زمونږ ټولنې، سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او فرهنګي ژور
بدلون لار پرانسته او د ودې او تکامل په لور لاپسې ګړندۍ شوه . خو هر لیکوال، هر محقق
او هر ژورنالیست چې د ثور انقلاب په هکله، د هغه د ښېګڼو او ګټو په هکله، د تاریخي لوړو، ژورو
په هکله څه لیکي، نو هرو مرو به ورته په دغه موقع د سندرې سرخاین امین او د هغه د باند
انحرافونه چې زمونږ ټولنه یې اوس هم په خپلو اوږدو روندو والي حس کوي ور یاد
شي، د ارتجاع او امپریالیزم لخوا به د ثور انقلاب په مقابله کې جنایت څخه ډکه ستراتیژي
ورته رادمخه شي. د نړیوال امپریالیزم او د هغه په سر کې د امریکا متحده ایالاتو
امپریالیزم لخوا زمونږ د ولس انقلاب، خلکو په خلاف نا اعلام شوې جګړه چې د چین د لوی
غوښتونکي شونیزم او د پاکستان د پوځیګر رژیم او د سیمې د نورو ارتجاعي ځواکونو
په ملاتړ پیل شوې او اوس هم دوام لري په یاد شي. د وارانکارو له خوا د پلونو ړنګول، د
سړکونو خرابول، د ښوونځیو جوماتونو مدرسو روغتونونو د دولتي ودانیو، او د
بزګرانو او کروندګرو د درمندونو سیزل، د بې دفاع خلکو، وړو وزړو، ماشومانو ښځو
او بوډاګانو وژل به ورته رادمخه شي د باندیستانو او د ثور انقلاب ضد عناصرو په زرونو نور
جنایتونه او انساني او بشري ضد اعمال به وي یې پسترګو کې وغړېږي او که دا نه وي ؟
نو د ثور انقلاب ګټې او ښېګڼې به ډېرې زیاتې وي او د انقلاب بري به په هره برخه کې
ډېر او څرګند وي . د خلکو په ګټه او د هیواد په سمسورتیا کې به د وسره ګامونه پورته شوي
وای چې هغه به د یو زوریدلي رېړېدلي او اسکېرلي انسان د ځلانده راتلونکي د امیدونو
غوټې لاپسې غوړولي وي. د هیواد د ابادۍ او ښیرازۍ په لار کې به د انقلابي شهیدانو د
بورو مېندو او او د کونډو ونجونو اوښکې نه وې بیدلې بلکې د هغوی په شونډو به د خوښۍ
او خوشحالۍ مسکا بریښېدې. خو د دغو ټولو ناخوالو، او د امپریالیزم لخوا د نا اعلان شوې
جګړې سره سره د راتلونکي خوشحاله او سمسورې ټولنې د ځلانده امید او ښکلې اینده
په ارزو، د ثور انقلاب په څلورو کالو کې په سیاسي، اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي ډګر کې

د یادولو وړ ګامونه پورته شویدي، چې مونږ یې د خپلو قومونو او قبائلي وروڼو په وړاندې ړدو. په تیره بیا د نوي بشپړ تیایي پړاو ښیکنې چې د هغه له امله د افغانستان د خلك دموکراتیك ګوند د کارګر طبقې او د ټولو زیار ایستونکو د مخکښ ګوند لارښوونکي رول تثبیت شو او عملاً د ټولنیز ژوند په ټولو برخو کې دیو لارښوونکي او سازمان ورکوونکي ځواك په توګه واوښت. په دغه وخت کښې د انقلابي ارزښتونو او د انقلابي ښیګڼو د بیا راژوندي کیدو او پیل کیدو لاړ په مخ و نیول شوه دموکراتیك ضد او انساني ضد مقررات لغوه شول. په خپل سر نیول ـ توقیف کول ـ تعقیبول ـ منع شول. دیني او مذهبي اصولو ته په درنده ستر ګه کتل ـ د عقیدې مذهبي مراسمو او دو جدان د آزادۍ د کورني د اصل رعایت او د شخصي او قانوني مشروع ملکیت د اصل رعایت ـ د فردي امنیت او مصئونیت، راژوندي کول د نوي پړاو د رونښاون په لمړ یو شیبو کې د پنځلس زره بند یانو خوشي کول د دموکراتیك قانون تأمین او د خلکو عمومي غوښتنه او اړتیاوته د پاملرنې ښیګڼې او ګټې یادولی شو. د ۱۳۵۹ کال د حمل په ۲۵ نېټه په هیواد کې د موقت اساسي قانون په توګه د ا.د.ج د اساسي اصولو تصویب ـ د انقلاب د نوي بشپړ تیایي پړاو یوه مهمه او ګټوره ښیګڼه ده، او د هغې له مخې هر سړی د هر راز زور او فشار څخه پرته له آزادیو او دموکراتیکو حقوقو څخه استفاده کولای شي.

او په مستقلانه توګه په سیاسي او ټولنیز ژوند کې برخه اخیستی شي. د ثور انقلاب نوي او بشپړ تیایي پړاو یوه مهمه او ستره ښیګڼه د پلار وطني ملي جبهې جوړیدل او په هغې کې د ملي او ترقي غوښتونکو ځواکونو راغونډیدل دي چې د ۱۳۶۰ کال د جوزا په پنځه ویشتمه نیټه د افغانستان د خلك دموکراتیك ګوند د مرکزي کمیټې د عمومي منشي او د انقلابي شورا رئیس ملګري ببرك کارمل په لنډه وینا په رسمي توګه پرانستل شوه په پلار وطنه ملي جبهه کې ورځ په ورځ د هیواد د ټولو ملي او ترقي غوښتونکو قوتونه د ارتجاع ـ امپریالیزم او د هغه په سر کې د امریکا د متحده ایالاتو د امپریالیزم د چین د هژمونیزم او د پاکستان

دپوځیګر حکومت او د سیمی دنورو ارتجاعی ټولنو په ګډه مرسته دنا اعلام شوی جګړی سره په مقابله کښی دنوی او یو اباد او سمسور هیواد دجوړیدو په خاطر په یوه واحده مورچه کی یوځای کیږی .دثور انقلاب په نوی بشپړتیایی پړاو کی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت بیلابیل اجتماعی او ټولنیز و سازمانونو کی نوی تنظیم راغی،ددغو اجتماعی او د ټولنیز و بیلابیلو سازمانونو .

جرګی- کنفرانسونه -او موسس کنګری جوړی شوی،لکه دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دکرنی لومړي جرګه او وروسته نورفعالیتونه یی دهیواد دښوونکو لومړي کنګره -دطبی کارکوونکو لومړي کنګره دعلماو او روحانیونو لومړي جرګه دافغانستان دځوانانو د دموکراتیک سازمان لومړي عمومی جرګه او ر پسی فعالیتونه یی ، دکابل دښار دروشنفکرانو دجرګی جوړیدل او وروسته بیادژورنالستانو داتحادیی کنګره ،دهنرمندانو داتحادیی لومړی کنګره دلیکوالو او شاعرانو د اتحادیی لومړي کنګره دافغانستان دښځو ددموکراتیک سازمان عمومی جرګه دکرنی دکوپراتیفونو لومړي کنګره دصنفی اتحاد یو لومړي کنګره او نور فعالیتونه یی دملی هیواد پالو ځواکونو ستره جرګه دافغانستان دد موکراتیک جمهوریت داسلامی شئونو لومړي غونډه ،د افغانستان دقومونو -قبایلو و ملیتونو بیلا بیلی جرګی چی ددی کتاب یوه برخه هم دهمدغو جرګو اوسرکوته اختصاص شویده او همدارنګه دثور د بریالی انقلاب او په تیره بیا دهغه دنوی بشپړتیا یی پړاو سره دد غوجرګو ملاتړ او په ټول هیواد کی دانقلاب دمدافیعینو دډلو په داوطلبانه توګه جوړیدل دثور بریالی انقلاب ستری بیګڼی شمیرل کیږی) ددی په څنګ کی د۱۳۵۹ کال دسرطان په ۲۲نیټه دوزارتونو ، ددولتی ادارو او موسسو دفعالیتونو دلوړتیااوګټورتوب دلومړیجرګی پرانستل چی ددولتی نظام دبدلون او داداری نظم وګړنی کولو او اصلاح کولو په برخه کی په زړه پوری ګام بلل کیږی چی البته په دغه جرګه کی دبروکراتیک فسا دله منځه وړلو او د خلکو په خدمت کی ددولت دګومارلو په خاطر مهم تصمیمونه ونیول شول اود زړی

اداری دزوړو کانو دورستو کړیو د منځه وړلو په باب یې ګټوری سپارښتنې وکړې د دې سره جوخت باید ددې یادونه هم وکړو چې د دولتي سیمه ییزو ارګانونو د قانون د طرح وړاندې کول یو بل اغیزمن ګام دی چې د انقلاب په پروسه کې به د خلکو د زیار کښو پرګنو د پراخ ګډون زمینې برابرې کړي او د ثور د بریالي انقلاب د دښمنانو ته به غاښ ماتونکی ځواب و وایي . د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند په دې عقیده دی چې د وروسته پاتې توب د منځه وړل او د ټولنیزې هر اړخیزې ترقۍ ته رسیدل یوازې د انقلابي بدلونونو له لارې ترسره کیدای شي. په یو ځل هیڅ نه کیږي او ترقي او وده کول هم وخت غواړي . له دې امله د ثور انقلاب هم د هر اړخیزې ترقۍ او پرمختګ لپاره عمومي دموکراتیک هدفونه مطرح کړي چې د هغو له جملې څخه مهم یې د فیوډالي او ما قبل فیوډالي مناسباتو او پاتې شونو پوره د منځه وړل، او د ځمکو د دموکراتیکو اصلاحاتو بشپړه اجراء ده چې پدغه برخه کښې ګټه ورګامونه اخیستل شوي لکه ۲۹۶ زره هکتاره ځمکه د هیواد په بې ځمکو او لږ ځمکو بزګرانو او ګروندګرو ۲۹۶ کورنیو باندې ویشل شوي او زمونږ انقلابي ګوند او حکومت اراده لري چې د خاین امین د تیرو اشتباه ګانو د سمولو اصلاحاتو په غرض په راتلونکي کې هم د ځمکو د مسئلې دموکراتیک حل د هیواد د بزګرانو په مخامخ ګډون سره په پرله پسې توګه حل کړي چې په دغه برخه کې هم د ثور انقلاب د نوي بشپړتیایي پړاو څخه وروسته ګټه ورګامونه اخلاقي شوي ا د ځمکې اوا وبودویش دموکراتیک حل په نظر کښې نیول شوي دي. د بزګرانو لپاره کوپراتیفونه جوړ شوي چې د هغو شمیر د تیر کال د احصائې سره سم ۱۲۱۷ ته رسیږي او چې په کښې لږ تر لږه هغوی د وه سوه زره بزګران شامل دي د هیواد د کارګرو اجیرانو او مستخدمینو د ژوندد سطحې د لوړ تیا او د هغوی د اړتیاو د پوره کولو په غرض د هغوی په معاشونو کې په سلو کې له ۲۶ څخه تر پنځوس پورې لوړوالی راغلی دی د کرنې د ماشین آلاتو او د کیمیاوي سرې د پلورلو په بیه کې له دې امله چه د هیواد د بزګرانو سره مرسته شوې وي په سلو کې د شلو څخه تر هغه څلویښتو پورې کمښت راغلی دی دوه زره هکتاره نوې ځمکه خړوبه او د اباري لاندې

راغلي، د۵۶۸ کورنیو او (۶۰۰) مجردو کارګرو د استوګنې په غرض په‌لسو بلاکونو کې کارګري کلي جوړ شوي او څه د پاسه څلورو ملیونو بزګرو ته ۵۷-۵۸-۵۹ د کالونو د مالیاتي جریمو له‌درکه اوه‌سوه او دوویشت ملیونه افغانۍ د حکومت لخوا معاف شویدي د هیواد د بې‌سرپرستو ماشومانو د روزنې او پالنې لپاره د وطن پالنځي جوړ شوي‌دا زبکو، ترکمنو، بلوڅو، نورستانیو-خلکو په مورنۍ ژبه د پروګرامونو خپرول پیل شوي د هیواد د ټولو ملیتونو قومونو او قبایلو د کلتور د معرفي لپاره ګامونه واخیستل شول او دازبکو

ترکمنو-بلوڅو-او نورستانیو خلکو په‌مورنۍ ژبه‌د ښوونې او روزنې د وزارت د تالیف او ترجمې د ریاست په‌چوکاټ کې د لومړنیو زده کړو د نصاب د برابرولو د څانګو جوړولو کار-او د لومړنیو،د وهموا و دریمو ټولګیو د کتابونو برابرول او تهیه کول هغه سترګامونه‌دي چې‌یادول یې ضروري ګڼو د سوادا موزي د کورسونو رقم په ۱۳۵۹ کال کې د هیواد په‌مرکزاو ولایاتو کې ټول نولس زره د وه‌سوه او اتلس ته‌رسیده‌چې په‌دغو کورسونو کښې مجموعاً اوه سوه او څلویښت زره، اوه‌سوه او څوارلس تنو ښځو او نارینه و و زده‌کړه کوله‌ د کورسونو ښوونکي چې‌هم نارینه او هم ښځې پکښې‌شامل‌دي اولس زره پنځه‌سوه او یوڅلویښت تنو ته رسیدل په ۱۳۶۰ کال کې دغه اندازه نوره هم‌زیاته شوه، په همدې‌ډول‌دراد یواوتلویزیون په‌خپرونو د باختر اژانس اطلاعاتي کارونو ورځپاڼو موزیمونو کتابخانو سینماګانو دلوړو زده کړو، ورزش او د بدني روزنې، ترانسپورت مخابراتو او د هیواد په نورو اجتماعي-اقتصادي-او فرهنګي برخو کې د ګټور بدلونونه راغلي دي چې پدې لنډه مقاله کې د ټولو لي هراړخیزې ترقۍ دارقاموا وامارو وړاندي کول ګران بریښي او له‌ځینو ارقامو څخه تیریږو خو د دې ټکي یادونه کووچې د ثور د بریالي انقلاب او په تیره بیا دهغه د بشپړتیاپړاو څخه وروسته چې‌داسپریالیزم نقشې ګډوډې‌شوی

بیاهم د ثور د بریالي انقلاب دښمنان په کرارندی ناست او خپلو شومو هلو ځلو ته دوام ورکوی هراجتماعي او ټولنیز انقلاب له‌ځانه سره ضد انقلاب لري، د ثورد بریالي انقلاب

ضد عناصر هم دامریکا دمتحدو ایالاتو دامپریالیزم پەسردمدا ری کوشش کوی چی دثور

بریالی انقلاب ښیگڼی لەمنځه یوسی او دهیواد دسمسورتیا کارونه په ټپه ودروی-خو

دثورد بریالی انقلاب‌له ښیگڼو څخه ددفاع په خاطر دبهرنی‌تیری سره مقابله داشرارو د ځالو

ورانولو اودمدا فعینو دډلو پەجوړیدوسره، دانقلاب ضدکسانو دسرکزونو اومنظم

مقاومت دنسکورولو او دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دقهرمان وسلەوال پوځ

او ښارندوی پەځنګ کی دجگړی جبهو ته دافغانستان دخلکودموکراتیک‌گوند دقهرمانو

غړیو استول د انقلاب ددفاع پەخاطر اوسنی انقلابی مبارزی اغیزمنی نتیجی دی ، افغانستان

یوسولـه خوښوونکی هیواددی تل یی‌خپلوگاونډیوهیوادوته دسولی او روغی جوړی لاس

غزولی دی دثوربریالی انقلاب هدفونەاوارمانونه پەسوله کی ښەترسره کیږی لەدی امله

دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت او زموږ

دانقلاب نظام دسوله غوښتونکی ماهیت لەمخی په ۱۳۵۹ کال دثورپه ۲۴ نیټه مثبت پیشنهاا

دونه او ابتکارونه مطرح شول او وروسته د۱۹۸۱ کال داگست دمیاشتی اعلامیه خپره شوه

او پدغوبرخەکښی زموږ دانقلابی حکومت لخوا نورگټورگا مونه واخیستل شول چی

هغەټول دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دبهرنی سیاست پەبرخه کی مثبتی ښیگڼی

گټل کیږی او دافغانستان خواوشاه حالاتو دسوله ییزحل وفصل لپاره زموږ د انقلابی

حکومت دښه نیت غوښتنی او ارادی مظهردی . زموږ هیوادودثورانقلاب څخه وروسته

دسولی، دموکراسی او داجتماعی ترقی دځواکونو دنړیوالی جبهی سره یوځای شو. دګډ

سوله ییزژوند مثبت -فعال او دناپیلتوب‌دنړیوال پیوستون -پربنسټ دبهرنی‌سیاست‌په

ډگرکی دافغانستان ددموکراتیک جمهوری حکومت اساسی وظیفی روښانه شوی دشوروی

اتحادسره دعنعنوی دوستی دهراړخیزی همکاری دپراختیا او ټینگښت او دانترناسیونالیستی

پیوستون داصل‌لەمخی دنوروسوسیالستی هیوادوسره ددوستی اړیکودپراختیا پەلاره

کښی گټورگا مونه پورته شویدی. شوروی اتحاد او سوسیالیستی هیوادوته دافغانستان

دخلك دموكراتيك گوند دمركزي كميټي دعمومي منشي او د ا.د .ج دانقلابي شورا درئيس ملګري ببرك كارمل رسمي او دوستانه سفر ونو په زړه پوري نتيجې وركړې او زمونږ دهيواد ونو ترمنځ ئي ددوستي اړيکي نور هم ټينګ كړيدي دثور دبريالي انقلاب سره د پيوستون او ملاتړ په لړکې داسيا او افريقا دسولې او پيوستون دسازمان درئيسه هيأت لسمه غونډه چې د١٩٨١ كال دنوامبر له ١٨ نيټې څخه تر ٢١ نيټې پورې په كابل كې وشوه دثور انقلاب او دافغانستان دخلكو سره دمترقي نړۍ د ټولو ځواكو دپيوستون څرګنده نمونه ده دثور دبريالي انقلاب د ټولې ښيګڼې چې يو څه ناڅه يادې شوې د(ا.خ.د.ګ دهيواد دكارګري طبقې او د ټولو زيار ايستونكو د مخكښ ګوند په لارښوونه چې تر اوسه پورې دا .خ.د.ګ مركزي كميټې په نهو پلينومونوا و د ١٣٦٠ كال دحوت په ٢٣ نيټه دا.خ.د.ګ په سرتاسري كنفرانس كې چې د كابل په ښار كښې جوړشو په بشپړه توګه څيړل شوې ،او د عمل دبرنامې په تطبيق كولو سره به دثور دبريالي انقلاب ګټې او ښيګڼې نورې هم زياتې او پراخه شي.

# پلار وطنه ملی جبهه دخلکو پرگنی سره یوکوی

ملگری کارمل:

«...زه باور لرم چی په تیارو کلیو او کورونو، کیږدیو او سمڅو کی به دمعرفت،عدالت، وروری، برابری او پرمختګ څراغ بل شی. پلار وطنه ملی جبهه وظیفه لری چی دافغانستان دخلکو پرګنی او ولسونه سره یو کړی .

یو شوی خلك نه ماتیږی او خاسخابری ته رسیږی» .

دافغانستان دخلك دموکراتیک گوند، دهیواد دکارگری طبقی او دټولو زیارا یستونکو مخکښ گوند، دانقلاب او دټولو مترقی بدلونونو دهبری کوونکی او لاربنود په توگه هیڅکله دانقلاب په بهیر کی دخلکو دځوا کونو او ملی او مترقی قوتونو دیووالی او یو موټی توب له ضرورت څخه انکار نه دی کړی او په دغه تکی یی دتل لپاره ټینگ باور درلود او لری یی.

دافغانستان دخلکو دموکراتیک گوند دتل لپاره، په دی عقیده وو چی دخلکو دځوا کونو په کته داغیز منی او صادقانه همکاری په لاره کی دگډو هلو ځلو او فعالیت په مقصد او غرض

دشر ایطو پیدا کول ،هغه اساسی وظیفه وه‌چی مخکښ څوا کو نه و رسره مخامخ و ،او گوندباید دغه کار پخوا تر سره کړه و ای ، خودغه کار دثو ر انقلاب او په‌تیره بیا دا .خ .دگ‌په مشری د هغه د نوی بشړ تیائی پړ او په بر یالی توب سره چه د گو نه‌د مشر تابه‌و ړ تیا او حقا نیت یی‌ثابت کړ ،اوگو ندیی بیاهم زیات دتولنی او انقلابی نهضت‌په بیلا بیلو بر خو کی دلا رښود و نکی‌اوسازمان و رو کو و نکی‌په‌تو گه‌په غښتلی‌سیاسی څوا ک‌واړ اوه د دښمنا نو اود ثو د انقلاب دضدعناصر و دپر اخو و را نکا ریو سر‌سره زموږ دهیواد د کارگری طبقی او د تورلو ز یار ایستو نکو گو ند دسنجیده پاخه او اصو لی سیاست له‌امله و کړ ای شو چی په ځان‌دخلکو باو ر پیدا کړی ’او په‌دی تو گه دپلا ر وطنی ملی جبهی دجوړ یدو او دمو سسی کنگری لپاره یی زمینه مساعده کړه خو داسو ال پیدا کیږی چی‌پلار وطنه ملی جبهه د کوم مقصد لپاره جو ړه شوه ؟ دهیو اد ، دخپلو ا کی او ملی آزادی دساتنی او درښتیا نی دمو کراسی او د هیو اد دټو لنیز پر مختګ او دټینگی سو لی دتا مین له‌پاره درښتیا نی یو والی او پیوستون په‌غرض دافغانستان دهیو اد پا لو قو تو نو ارادی او پیو ستو ن ته تحقق و ر کو لو لپاره جو ړه شوی او دهغی لپاره ده .دثو ر دبر یالی او پر تمین انقلا ب په‌تیره بیادهغه دنوی‌او بشپړ تیایی پړاو په‌دی مو قع دپلار وطنی ملی جبهی اساسی وظیفه دافغانستان‌دخلك‌دمو کراتیک گو ندد عمو می کړ ن لاری په پیروی **دخلکو پړ** اخه پر گنی ددمو کرا تیك ا ومترقی افغانستان په‌جو ړ و لو کی دفعال او آگاهانه **گډو ن‌له‌پار ه** ، داسلام مبین دین او د هیو ادد ټو لو قو مو نو او قبیلو او سیلیتو نو ملی تا ریخی **او روحی مخصو** صو دو دو نو او عنعناتو ته په احترام سره را جلب او دا فغانستان دخلك **دمو کر اتیک** گو ند او دافغانستان دمو کر اتیک جـمهـو ر یت د انقلابی‌شو را او حکوت سیاست په زیاته اندا زه تبلیغ او څر گـنـد کړی ، جبهه باید دثور انقلاب دهدفو نو دتحقق اودهغه‌دنوی‌پړاو دو ظیفو دژو ر رتیا په‌خاطر مبار زه کی دارتجاع او امپر یا لیز م دنورو څوا کو نو دهر ډو ل لمسو نو ، لاسو هنو او تیر یو په و ړاندی چی دوسلی په‌زو ر او دد ر و غو او تو ر و نو له‌لاری هڅه کوی دا فغانستان

دملي او دموکراتیک انقلاب دوږدی او بشپړ تیا دلاری خنډ شي او هغه شا ته وتمبوي ، زموږ

دهیواد ملي خپلواکي اوحاکمیت او د ځمکې تمامیت او دسیمې سوله په خطر کی واچوی،

دکلکو او سختو گوزارونو دورکولو په غرض دافغانستان دټولو آزاد او میړنو خلکو

نه ماتیدونکی آزادی او دعملي یووالی تهلکه دپولا دی کلا ونه ماتیدونکی ځواب

په خیر سازمان ورکړی اوسره یو یی کړی .

دپلاروطنی ملی جبهی موسسه کنگره څه وخت جوړه شوه ؟ د ۱۳٦۰ کال دجوزا په

۲۵ نیټه دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دپلاروطنی ملی جبهی لومړی اوموسسه

کنگره په کابل کی جوړه شوه . دجبهی په دغه موسسه کنگره کی نهه سوه او څلو یښتو

استازو برخه اخیستی وه .موسسی کنگری دخپلو وظیفو په ترڅ کی دملی کمیټی غړی

چی هغوی ۹۷ تنو ته رسیدل وټاکل او همدارنگه په دغه کنگره کی پلا روطنی ملی جبهی دملی

کمیټی داجرائیه هیات غړی چی هغه ۲۳ تنو ته رسیږی وټاکل شول .

دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دپلاروطنی ملی جبهی په ډله ییز وغړو کی لومړی

دافغانستان دخلك دموکراتیک گوندشامل دی چی هغه په خپلو لیکو کی څه دپاسه دوه

شپیته زره اصلي او ازمایشي غړی متشکل کړی چی د غه شمیر له هغه تعداد څخه ۱۷۴۱

تنه زیات دی چی د ۱۳۵۹ کال په سنبله کی دگوند دغړیو دسرشما ری په وخت کی حساب

شوی وو .

گوندبرسیره پردی چی لارښوونکی رول لوبوی پخپله دپلاروطنی ملی جبهی دننه

دیو غړی په حیث ددغی جبهی دهدفونو او دارمانو په تحقق کی مبارزه پرمخ بیایی.

دپلاروطنی ملی جبهی بل ډله ییز غړی دافغانستان صنفی اتحاد یی دی ، چی دثور د

بریالی انقلاب څخه وروسته جوړه شوی او تراوسه پوری یی څه دپاسه ۱٦۰ زره غړی

لری . چی ددغو غړیو له جملی څخه څلورنوی زره شپږ سوه او دوه ویشت زره تنه کار

-گران په دغه اتحادیه کی متشکل دی .

ددغې اتحاديې لومړۍ کنگره د۱۳۵۹ کال په حوت کې جوړه شوه چې په هغې کې د نورم له مخې په هر و پنځه سوه کسو، یو استازی کنگرې ته راغلی و. دغې اتحادیې تر اوسه پورې دهیواد په ۲۹ ولایاتو کې ولایتي شوراگانې جوړې کړې چې په هغوی ددغو ولایاتو د صنفي اتحادیو فعالیت تنظیموي. دافغانستان صنفي اتحادیو راز، راز ابتکارونه نه ترسره کړي او د تولیدی سطحې په لوړتیا کې چې دهیواد د کارگرو د ژوند په ښه والي کې مخامخ اغیزه لري پوره کارونه انجام کړي دي. دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت د وزیرانو دشورا لخوا په ۱۳۵۹ کال کې دډله ییزو کارونو قرارداد تصویب شو، چې د کارخانو، موسسو او دصنفي اتحادیو درهبرۍ ترمنځ یې ډله ییز و قراردادونو له اصله دتولیدی چارو په اداره کې، د دغو اتحادیو له لارې د کارگرانو مستقیمه ونډه قانوني کړه. اوس دغو اتحادیو دهیواد په مرکز او ولایاتو کې ۳۶ فابریکو سره ډله ییز قرارداد و نه لاسلیک کړي دي، چې ۱۳۶۰ کال یعنې دثور بریالي انقلاب ددریمې کالیزې په درشل کې یې شپږ وموسسو ترمنځ د کار سیالي پیل شوې چې په هغو کې دجنگلک فابریکې لومړۍ او دولتي مطبعې دوهمه درجه مقامونه ترلاسه کړل. مرکزي شورا دغو موسسو ته په ترتیب سره پنځوس زره او څلویښت زره افغانۍ مکافات ورکړل. د۱۳۶۰ کال په میزان کې هم په ټول هیواد کې د کار سیالۍ او مسابقې اعلام شوې دصنفي اتحادیو مرکزي شورا د پیشنهاد له مخې او دگوندي او دولتي مقاماتو په تصویب د۱۳۶۰ کال په حمل کې دکارگرانو او اجیرانو معاش زیات شو او په سلو کې له شپږو یشتو څخه تر پنځه ویشتو پورې دهغو کارگرانو په معاش کې چې درامد یې کم و، زیاتوالی راغلی دی، کارگران پر سیره پر دې چې دخپل انقلابي دولت داقتصادي بنسټونو په باره کې شپه او ورځ خپله ونډه ترسره کوي، همدارنگه دوی په ټول هیواد کې د سولې دتامین او دصادر شویو اشرارو دمنځه وړلو په خاطر او د خپلو موسسو دامنیت دساتنې په خاطر، دانقلاب

له‌ارمانونو څخه وسله‌واله مبارزه کوي، دهغوی ښه مثالونه بلخ، جوزجان، بغلان، او په ننګرهار کې لیدلی شي.

دهیواد بزګران چې دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دکرنې په کوپراتیفي اتحادیه کې یوموټی شوي دي هم د ا.د.ج-دپلار وطني ملي جبهې ډله ییز غړي شمیرل کیږي. د ثور دبریالي انقلاب څخه وروسته دکرنې کوپراتیفي غورځنګ ته‌پوره توجه‌وشوه، خو دیو لړ انحرافونو له‌امله لکه‌څرنګه‌چې‌باید دغه غورځنګ لاوده‌کړی وی هغسې ونه‌شوه‌او‌داسې‌اقدامات‌ترسره‌شول‌چې دبزګرانو په‌زړونو کې دمبارزې زیاته ګرمي سړه کړه او د کوپراتیفي غورځنګ دکمزورتیاسبب شوه. خو دنوي بشپړتیا ی پړاو څخه وروسته د ۱۳۵۹ کال دقوس په ۲۱ نیټه دکرنې دکوپراتیفونو لومړی کنګره جوړه شوه‌چې په‌هغې‌کې دافغانستان دکوپراتیفي اتحادیو دغورځنګ په هکله نوي تصمیمونه ونیول شول. دهیواد په یوشمیر ولایاتو کې دکرنې دکوپراتیفونو ولایتي او د ولسوالي شوراګانې جوړې شوي او په‌یوشمیر نورو کې به‌ډیر ژر جوړې شي. دافغانستان دزراعتي کوپراتیفونو دمرکزي شورا او په دوستو هیوادو کې‌دورته کوپراتیفونو ترمنځ روابط ایجاد شوي دي. په‌موجوده‌حالاتو کې افغانستان ددموکراتیک جمهوریت‌دکرنې په یوزرودوه‌سوه اولسو کوپراتیفونو کې څه د پاسه دوه لکه، اته سوه او یو شپیته بزګران متشکل شوي او د هغوی پانګه څه دپاسه پنځه پنځوس ملیونه افغانۍ‌ده. دکرنې دکوپراتیفونو اتحادیه دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دپلار وطني ملي‌جبهې‌فعال ډله ییز غړی شمیرل کیږي چې‌دهغې دارمانونو په لار کې به‌مبارزه دریغ نه‌کړي.

دا.د.ج دپلار وطني ملي‌جبهې بل ډله ییز غړی دافغانستان دځوانانو دموکراتیک‌سازمان دی، چې درفش په‌لاس په‌هره‌سورچه کې‌مخ په‌وړاندې وي. درفش جوانان دافغانستان دځوانانو دموکراتیک سازمان نشراتي ارګان دی چې په‌دغه باره کې‌سلګري کارمل‌داځ د س په‌عمومي جرګه کې په‌خپله وینا کې وویل: «درفش کاوه اهنګر هغه زړورمبارز

وچې د ظالم ضحاک پر ضد پورته شوا و د خلکو پر گڼې یې رهبري کړې . ز موږ د خلکو یو هغه ارزښتناکه ویاړ دی چې په حقه کولای شو پرې و یاړو . زموږ ځوانان د هیواد پالنې په احساس د درفش و یاړلي نوم د خپلې جریدې لپاره و ټاکه د جریدې نوم د دې خپرونې د فعالیتونو اساسي اړخونه په ښه توگه څرگند وي ، د درفش کلمه ژوري ریښې لري په پخوا وخت کې د کاوه په نوم یو آهنگر ، خلک د سفاک او رټلې ستمگر یعنې ضحاک پاچا پر خلاف را پاڅول هغه په یوه نیزه باندې د اهنگرۍ د څرمنې ډال و زړاوه او هغه یې د کارد خلکو د بیرغ په نامه پورته کړ او خلک یې د ضحاک په خلاف رهبري کړل او له هغه وخته نه را هیسې د درفش کلمه د افغانستان د خلکو په فرهنگ کې شامله شوې ده » .

دغه سازمان په ۱۳۵۴ کال کې په کابل ښار کې جوړ شوې دی په ډیر لږه موده کې د هیواد د ځوانانو په سر ترسري سازمان واوښت . د افغانستان د ځوانانو دموکراتیک سازمان د گوند د را تلونکو غړیو د روزنې مدرسه، د ثور د بریالی انقلاب څخه وروسته لا پسې پیاوړی شوه . او همدا اوس په دغه سازمان کې څه د پاسه (۶۳ زره) کارگر، بزگر، کسب گر، روشنفکران، سرتیري، لیکوالان، هنرمندان، زده کوونکي او ځوان محصلین چې په هغوی کې نجونې او هلکان شامل دي تنظیم کړي او د گوند او انقلاب دارمانونو په لار کې هره ورځ په هیواد کې د دغه سازمان د مبارزې کار، په کیفي او کمي لحاظ لاپسې پیاوړی کیږي .

د انقلاب ارمانونو ته د عملي ځواب ورکولو او له انقلاب څخه د دفاع په سنگر کې، د افغانستان د ځوانانو دموکراتیک سازمان په اردو کې مستقل کنډکونه جوړ کړي دي . لومړی کنډک، مرکزي قول اردو او دوهم کنډک د ننگرهار یولسمې فرقې او دریم کنډک د بلخ ۱۸ فرقې ته معرفي شوي دي .

دا.ځ.د.س. په ابتکار د ټولنیز نظم بریگاردانو ایجاد یو بل گام دی چې د انقلاب او گوند د ارمانونو په لار کې اخیستل شوی دی او مبارزه کوي . د دغو بریگاردونو زیاته برخه د ځوانانو د دموکراتیک سازمان له خوا اخاړندوی ته معرفي شوي دي ، د ځوانانو

دموکراتیک سازمان په‌ابتکار په‌تولیدی برخه‌کی‌هم‌زیات‌کار و نه انجام‌شوی‌چی دنمونی په‌توگه یی‌د ۱۳۵۹ کال په‌ژمی کی‌دهیواد والوسره د مرستی او خدمت په غرض‌د کرکرد ډېروسکروکان ته‌یوه. ۲۰ کسیزه ډله ولاړه چی دهغوی دکار نتیجه‌ډیره‌په‌زړه پوری په همدی‌ډول‌ددغه‌سازمان په‌کــدرکی‌دلو سړی‌ځل‌لپا ره‌دمخکښا نوروزنی‌یومستقل‌سازمان‌هم جوړشوچی دغه‌شازسان‌په خپله‌بیادافغانستان‌د دموکراتیک سازمان لپا ره ستره او دډېر ویاړ یرمه‌گټل‌کیږی.سلگری اناهیتاراتب زاد ویلی‌دی؟ دا ښ.د.س غیږ دخلکو دنیک

مرغی‌دلاری‌دسرښندو نکو او دانقلاب‌درښتنوسپاهیانو پا لنځی‌دی. زموږدلس‌گونوشهید واوپه‌وینو سروښځولکه شملی، فاضلی، شفیقی‌جبارخیل، گلالی، نورجهان، مخمور، لطیفی،عفیفی، ثریا، عایشی، سهیلا او نورولسگونونوم ورکوښځو ځلانده خاطره‌دانقلاب انگازه زموږدوجدان او فکر په ژورتیاکی دتل‌لپاره ژوندی ساتی...زموږدگران هیواد ښځی په‌هرځای کی‌چی وگومارل شی، مهربانه سوردقیقه میرمن او دکورنی مرکزی

ساتونکی پاتی کیږی»دغه سازمان په ۱۳۶۳ کال یعنی دا.ج.د گ دلومړی‌موسسی کنگری‌اوله جوړیدوځخه‌لږځه‌وروسته جوړشوی دی.او تر ننه پوری دډیرولوړو، ژوروځخه راتیرشوی دی‌خوزیاتی هلی‌ځلی یی‌کړی چی‌په خپلولیکوکی دهیواد په‌ښارونو، کلیو، بانډواوکارگری مرکزونوکی دښځو دیادونی وړغونډی تنظیم کړی. تراوسه په‌ولایاتواومرکزکی دتشکیلاتی کارونو، نوی شیوه په عمل‌کی پلی‌کړی ده. چی‌او ه ښاری شوراگانی ۱۹، ناحیوی شوراگانی اودوه‌سوه لومړنی سازمانونه جوړشوی دی. دا ښ.د.س‌دښځو دنړیوال دموکراتیک فدراسیون غړی دی. او تراوسه دښځو ۶۳ملی‌اوسیمه‌ییزو سازمانونوسره نژدی او دوستانه اړیکی لری او هم دنړیوالو سازمانو نولکه دسلگروملتوسازمان، یونسکو او دیونسف سره‌یی تماس او دهمکاری‌روابط پیدا کړی دی. ددغه سازمان دمرکزی شوراپه سطحه کی، اومرکزی کیمیسونوشته چی‌یوئی دتولیدی چارو کمیسیون دی. دغه‌سازمان دهیواد دسواددزده‌کړی‌په کورسونوکی

فعا له ونډه اخلي او دليک لوست ددوه ويشتو زرو کورسونو دحرفوی او داوطلبو ښوونکو مطلق اکثريت ښځې دی . دغه‌سا زمان۹ ۱۳۰ کال دقوس په‌سياشت کی دښځو سرتر سری کنفرانس جوړ کړ چې په‌هغه‌کی دهيواد څه‌دپاسه زرښځو برخه اخيستی‌وه ، البته‌په‌دغه جرگه‌کی دنړی دسلو هيوادو دښځو دسلي او مترقي سازمانونو او دښځو دنړ يوال دموکراتيک فدراسيون دنمايندگی هياتونو برخه‌ا خيستی وه .

دغه سازمان دافغانستان ددموکراتيک جمهوريت دپلاروطني ملي جبهې سرچې‌دټولو ملي اودموکراتيکو ځواکونو د تشکل او يووالی لپاره يوه‌ښه دپيوستون کړی‌بلل کيږی ، خپل قاطع ملاتړ اعلانوی او ځان ددغي جبهې فعا ل غړی بولی. البته دجبهې په‌ملي کميټه کی‌هم‌ددغه سازما ن لس‌تنه ښځې غړيتوب لری ، او په‌موسسه کنگره کی دښځو ددموکراتيک‌سازمان دځينو برخو داستازو په توگه ۷٦ تنوښځو برخه اخيستی‌وه .

په‌همدی ډول دافغانستان ددموکراتيک جمهوريت دژورنالستانو اتحاديه دهنرمندانو اتحاديه اودليکوالو اوشاعرانو اتحاديه هم‌دپلاروطني ملي‌جبهې ډله ييزوغړيو څخه دی‌چې‌ددغو خلاقو روښنفکرانو دهيوادفرهنگی ودی‌ا ود هيواد دټولو خلکوته‌د حقايقو په‌رسولو کی‌پوره‌گامونه ا خيستی دی . چې داد ری‌واړه اتحا ديی هم دپلاروطني ملي جبهې دهدفونو دتحقق لپاره مبارزه پرمخ بيا يي اوځا نونه دجبهې فعاله غړی‌بولی، په‌همدی ډول دافغانستان دعا لمانو اوروحانيونو عا لي شورا چې د. ۱۳٦ کال دثورپه لومړی نيته جوړه‌شوی او په هغی‌کی‌۳۷ تنه غړی متشکل شوی په خپله دافغا نستان دپلار وطني ملي جبهې دډله آيزوغړوله جملي‌څخه‌گڼل کيږی‌او په‌د غه لارکی‌مبارزه‌پرمخ‌بيايي، همدارنگه د افغانستان دسولی او پيوستون اوددوستی سازما ن، دافغا نستان ددموکراتيک جمهوريت داقتصادی مشورتی شورا ، اودقبا يلو داستازويوه‌عا لي جرگه‌هم دافغانستان دپلاروطني ملي‌جبهې دډله ييزو وغړوله جملي څخه‌شميرل‌کيږی چې دهغی دننه‌به دهغی د هدفونو اودهيواد دسمسو رنيا او ابادی په‌لارکښې‌خپلومبارزوته دوام ورکړی .



ملګری کارمل د ۱۳۶۰ کال د جوزا په ۲۵ نېټه د ا.د.ج. د پلار وطني ملي جبهې لومړي
موسسي کنګري ته چې په کابل کې جوړه شوی وه وینــــا کــــوی.



دی عکس کی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت
جرګه رموز ملی دود دی په دی یوه خنـهه وینی .
دپلار وطنی ملی جبهی دجوړیدو، دلومړنی موسسی جرګی

# د ا.د.ج او شوروي اتحاد ترمنځ د دوستۍ او ښه ګاونډیتوب تړون

دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت او د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد، دافغانستان او شوروي اتحاد ترمنځ په نولس سوه یو ویشتم کال کې دتړون او په نولس سوه یو درشم کال کې دتړون هدفونو او اصولو ته د وفادارۍ په تاکیدسره چې دافغانی او شوروي خلکو ترمنځ یې د دوستۍ دایکو او ښه ګاونډي توب بنسټ ایښې او ددوی ملي حیاتي ګټې پکې دي او د دواړو هیوادونو دهراړخیزې دوستۍ او همکارۍ دلا ټینګیدو په هیله د افغانستان او شوروي خلکو دټولنیز او اقتصادي ګټو پرمختیا بانډې د ټینګ عزم په څرګندولو سره او دهغوی دا منیت او خپلواکۍ په ساتلو او د هغوټولو قوتونو د پوره پیوستون په غوښه طرفدارۍ چې د سوليٰ او ملي خپلواکۍ او دموکراسۍ او ټولنیز پرمختګ په لاره کې مجاد له کوي، او په اسیا او ټوله نړۍ کې دسولې او امنیت دپیاوړ تیا له سرستې د ټینګ عزم په څرګندولو او د هیوادونو ترمینځ دا ړیکو پرمختیا کې دبرخې اخیستلو او په اسیا کې داغیزمنې، متقابلې او دګټوري همکارۍ په ټینګښت اودخپلو حقوقي اړیکو د ستنو پیاوړي کولو ته دپوره ارزښت په قایلیدلو سره او د ملګرو ملتو دمنشور هدفونو او اصولو ته دوفادارۍ په بیا ټینګارسره و پتیبیله چې د دوستۍ ښه ګاونډي توب او

همکا ری تړون لاس لیک او د لاندنیو مر اتبو پەباب‌یی مو افقه و کړه :

لو مړی ما ده .

دو اړه ژ منه کو ونکی لو ړی خو اوی د دو اړو هیو ادو نو تر منځ دخلل نه‌منونکی دوستی دټینګښت او ژ و رتیا او دبر ابر و حقوقو ، دملی حا کمیت، او د خاو ری دتما میت حق تەداحتر ام او یو دبل په کو رنیو چار و کی د ګو تی نه‌و هلو په بنسټ دهر ا ړ خیزی همکا ری دپر اخو لو په باب خپل ټینګ عزم څر ګندوی .

د و یمه ما ده .

دو اړه ژ منه کو نکی لو ړی خو اوی به په‌خپلو کی د دو اړو خو اوو تر منځ دا قتصادی ،علمی او تخنیکی ګټو ری متقا بلی همکاری دپیا و ړ تیا او پر اختیا په‌خا طر کو ښښ‌و کړی ددغه مقصد دپاره‌د وی دصنایعو ، تر انسپو رت‌او مخا بر اتو او کر نی، او له طبیعی منا بعو څخه دګټی اخیستلو او دانر ژی دتو لیددصنا یعو دپر مختیاپه‌ساحه او نو ر و اقتصادی‌ساحو کی همکاری پر اخه او ژ و ره کړی او ملی کدر دز ده کړی‌په بر خه کی او دملی اقتصا د دپر مختیا دپلان جو ړ و لو په‌ساحه کی به همکا ری و کړی . دو اړه ژ منه کو ونکی لو ړی خو اوی به سو داګری‌ته دبر ابر و او متقا بله ګټو او د کامله الو داد داصو لو په بنسټ پر اختیا و ر کړی .

دریمه ماده

دو اړه‌ژ منه کو ونکی لو ړی خو اوی به‌دعلو مو فر هنګ،هنر ،ادبیاتو ، پو هنی،ر و غتیایی خدمتو نو او مطبوعا تو ر ادیو تلو یز یو ن، سینما، ګر ز ند وی،و ر ز ش او نو ر و سا حو کی د همکا ری او د تجر بو در ا کړی‌و ر کړی له پر مختیا سر ه مر سته‌و کړی .

دو اړو ژ منه کو ونکی لو ړ ی خو او ی به ددو اړو هیو ادو نو د خلکو دژ و ندد کا ر او تجر بو او ار زښتو نو سره دژ و ر ی بلد تیا په‌مقصد د حکو متی ار ګا نو نو او ټو لنیز و

سازمانونو او د صنعتي، کلتوري او علمي موسسو او تصديو ترمنځ دهمکارۍ له پراختيا سره مرسته وکړي .

څلورمه ماده

دواړه ژمنه کوونکي لوړې خواوې به ،د دوستۍ او ښه گاونډيتوب دعنعناتو او دملگرو ملتو دمنشور درو حيې له مخې مشوره او ددواړو خواو په موافقه به ددواړو هيوادو دامنيت او خپلواکۍ اودخاورې تماميت دتأمين په مقصد مربوط اقدامونه سرته ورسوي .

دوی به دد واړو ژمنه کوونکو لوړو خواو، دد فاعي قدرت دپياوړ تياپه گټه دسربوطو موافقه ليکونو له مخې په پوځي برخه کې خپله همکاري پراخه کړي .

پنځمه ماده

دافغانستان دموکراتيک جمهوريت له ټولو هيوادونو او خلکو سره د دوستۍ او همکارۍ دټينگښت ته په پام لرنې سره دشوروی سوسياليستي جمهوريتونو داتحاد دسولې سياست محترم گڼي ،دشوروی سوسياليستي جمهوريتونو اتحاد د دافغانستان ددموکراتيک جمهوريت دنا پيلتوب سياست چې دبين المللي سولې او امنيت دساتنې مهم عامل دی محترم گڼي .

شپږمه ماده :

هر ژمنه کوونکي لوړلوري په رسمي توگه اعلاموي چې په پوځي ترونونو يانورو ترونونو کې به گډون ونه کړي او دهيوادونو په ډلو او يا په هغوعمليا تو يا اقدا ماتو کې چې دبل ژمنه کوونکي لوړلوري پرضد وي گډون ونه کړي .

او و مه ما ده :

دو اړه ژ منه کو و نکی لو ړی خو اوی به په را تلو نکی‌وخت کی هم دبین المللی سو لی او د ملتو نو دامنیت‌او د بین المللی کړ کیچ د کمښت دجر یا ن دژ و ر و الی‌او داسیا په گړو ن دنړی ټو لو سیمو ته د هغه دپر اختیا او ددو لتو نو تر منځ د گډو ر و همکار یو په مشخصو لار و چار و کی دهغه دتعمیل او له‌سو له ایزی لاری څخه داختلا ف و ړ مسالو دحل په‌لاره کی‌له هیڅ ډو ل کو ښښ‌څخه ډډه‌و نه کړی .

دو اړه ژ منه کو و نکی‌لو ړی خو اوی به تر بین المللی گډوری څار نی لاندی داتو می‌و سلی دله‌منځه و ړلو په‌شمول په پو ره بی‌و سلی کو لو کی په‌فعاله تو گه مر سته و کړی .

اتمه‌ماده :

دو اړ د ژ منه کو و نکی لو ړی خو اوی به‌داسیاد هیو ادونو تر منځ د همکاری په‌پر مختیا او په اسیا کی دسولی اوگ وند یتوب داړ یکو په‌ټینګښت او دامنیت دگډور سیستم په منځته‌را او ړ و کی دمتقابل باو ر او ددی و چی دټو لو دو لتو نو دگډی هڅی په‌اسا س‌مر سته و کړی .

نهمه‌ماده :

دو اړه‌ژ منه کو و نکی لو ړی خو او ی به‌د تیری کو و نکو قو تو نو دد سیسو په‌ضد او په هر ډو ل او هر ه‌بڼه‌چی‌وی داستعمار او نژ اد پالنی په‌بیخی له منځه و ړ لو کی پر له‌پسی‌مبار زی ته‌دو ام و ر کړی .دو اړه خو اوی به‌د خپلو اکی او استقلال او دحا کمیت دحق او ټو لنیز پر مختګ په‌لار ه کی دخلکو دعادلانه مبار زی په‌ملا تړ کی یو له‌بل او نو ر و سو له‌دو ستو هیو ادو نو سر ه همکاری و کړی .

لسمه ماده :

دو اړه ژ منه کو و نکی لو ړی خو اوی به‌ددو اړ و خو او و په‌گټه دټو لو مهمو بین المالی مو ضو عگانو په‌باب یو له‌بل‌سر ه سلامشو ر ه و کړی .

یو لسمه ماده:

دواړه ژمنه کوونکې لوړې خواوې څرګندوي چې د بین المللي او سنیو تړونو په نسبت د هغوی ژمنې د دغه تړون له مندرجاتو سره تناقض نه لري او وعده کوي چې له دغه تړون سره کومه متناقضه بین المللي موافقه لاس لیک نکړي.

دولسمه ماده:

هغه مسائل چې د دواړو ژمنه کوونکو لوړو خواو ترمنځ د دغه تړون د کومې مادې د تعبیر او یا تطبیق په باب پیداشي په دوه اړخیزه توګه او د دوستۍ او ښه تفاهم او د متقابل احترام په روحیه سره به حل شي.

دیارلسمه ماده:

دغه تړون به د هغه د انفاذ له ورځې څخه د شلو کالو لپاره د اعتبار وړ وي:

که چیرې د دواړو ژمنه کوونکو لوړو خواو څخه یو یې د دغې مودې له تیریدو شپږ میاشتې مخکې د تړون د اعتبار د له منځه وړلو هیله څرګنده نه کړي، دغه تړون به د نورو هرو پنځو کلونو دپاره اعتبار ولري او په دې ډول تر هغه وخته چې د دواړو ژمنه کوونکو لوړو خواو څخه یوه یې د روانې پنځه کلنۍ مودې له تیرید و څخه شپږ میاشتې مخکې د هغه د اعتبار د له منځه وړلو د هیلې په باب لیکلې یادونه ونه کړي.

څوارلسمه ماده:

که چیرې د دواړو ژمنه کوونکو لوړو خواو څخه یوه یې د هغه د انفاذ د شلو کلونو په موده کې د دغې مودې د پوره کیدو څخه مخکې د دغه تړون د اعتبار د له منځه وړلو هیله ولري د هغه د له منځه وړلو له نیټې څخه شپږ میاشتې مخکې د ژمنه کوونکو بل لوري ته د هغه د مودې له پوره کیدو څخه دمخه د له منځه وړلو د هیلې په باب لیکلی خبر ورکړي او په ټاکلې نیټه تړون له منځه وړلی شي.

پنځلسمه ماده:

دغه‌تړون باید تصویب شي او یو بل ته‌د هغه دمصوبه سند ونو دو رکولوله ورځې څخه چې‌په کابل کې به‌وشي داعتبارو ړ به‌شي.

دغه‌تړون په‌دو ونسخو کې هره یوه‌یې په‌دري او روسي ژبې ترتیب‌او دواړو متن یې برابر اعتبار لري .

په‌مسکو کې‌دنولس سوه اته‌او یاوم کال ددسامبر په‌پنځمه نیټه ترتیب شو .

د نور محمد تره‌کی د لاسلیک ځای د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت له خوا دلیونیدبریژنیف د لاسلیک ځای.

دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحادله‌خوا

# شوروی اتحاد ته دملگری کارمل دلومړی سفر په پای کی ددوارو هیوادو دګډی وینا متن

دشوروی اتحاد د کمونست ګوند دمرکزی کمیټی دشوروی سوسیالیستی جمهوریتو نو داتحاد دعالی شورا د رئیسه هیات او د شوروی حکومت په بلنه دافغانستان خلك ددموکراتیك ګوند دمرکزی کمیتی عمومی منشی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم ملګری ببرک کارمل دیو رسمی او دوستانه سفر لپاره شوروی اتحاد ته د ۱۳۵۹ کال د میزان په میاشت کی سفر کړی وو.

پدی سفر کی یو لړ خبری و شوی چی په هغوی کی له افغانستان لوری څخه دا.خ.د.ګ د مرکزی کمیتی عمومی منشی دا.د.ج دانقلابی شورا ریس او صدراعظم ملګری ببرک کارمل دا.خ.د.ګ د مرکزی کمیتی دسیاسی بیرو غړی او د.ج د انقلابی شورا مرستیال او د صدراعظم مرستیال ملګری سلطانعلی کشتمند دا.خ.د.ګ د مرکزی کمیتی دسیاسی بیرو غړی او منشی ملګری صالح محمد زیری دا.خ.د.ګ دمرکزی کمیتی دسیاسی بیرو غړی او ا.د.ج. دښوونی او روزنی وزیر ملګری اناهیتا راتب زاد دا.خ.د.ګ دمرکزی کمیتی غړی او دا.د.ج د بهرنیو چارو وزیر ملګری شاه محمد دوست دا.خ.د.ګ د مرکزی کمیتی غړی او د ا.د.ج دفاع وزیر ملګری

محمدرفیع دا.خ د.گ دمر کزی کمیټی غړی اوداخ.د گ دمرکزی کمیټی د بین المللی اړیکو د څانګی رئیس ملګری محمود بریالی او له شوروی لوری څخه د شوروی اتحاد د کمونست گوند دمر کزی کمیټی عمومی منشی د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاددعالی شورا درئیسه هیات صدر ملګری لیوند ایلچ بریژنف دشوروی اتحادد کمونست گوند دمرکزی کمیټی بیروغړی او دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو اتحاددولتی امیت د کمیټی رئیس ملګری یووی اندرویوف د شوروی اتحا د کمونست گوند دمرکزی کمیټی دسیاسی بیروغړی او دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو د اتحاد د بهرنیو چارو وزیر ملګری اندری گرومیکو، دشوروی داتحاد کمونست گوند دمرکزی کمیټی دسیاسی بیروغړی اوشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاددوزیرانو دشورا درئیس لومړی مرستیال ملګری ن،ای، تیخانف،دشوروی اتحاد کمونست گوند دمرکزی کمیټی دسیاسی بیرو علی البدل غړی او د مرکزی کمیټی منشی ملګری ن فوئومارپوف ، د شوروی اتحاد د کمونست گوند دمرکزی. کمیټی غړی او د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد دوزیرانو دشورا رئیس دمرستیال ملګری ، ای.وی ارخیوف دشوروی اتحاد مارشال دشوروي اتحاد د کمونست گوند د مرکزي کمیټی غړی د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد دوسله والو پوځونو لوي دریستیز او ددفاع وزیر لومړي مرستیال ملګری ن . وي . اگارکوف او دشوروی اتحاد د کمونست گوند د مرکزی کمیټی غړی او دافغانستان په دموکراتیک جمهوریت کی د هغه هیواد سفیر ملګري تابیف فکرت احمد جانوویچ گهون درلود .دافغانی او شوروی مشرانو خبری د صمیمیت ، ملګرتیا دصراحت او دبشپړ تفاهم په فضا کی وشوی .

شوروی لوري افغانی ملګروته د ۱۹۸۱ –۱۹۸۵ کلونو اوتر ۱۹۹۰ کال لودي لپاره دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد داقتصادی اوټولنیزی ودي داساسی اړخونو اودلسم پنځه کلن پلان په وروستی کال کی دکار په برخه کی دشوروی

خلکو دسیاسی لو ړ تیااو هڅو نی په باب دیوي مسو دی دتدو ین په باره کی د شو روی اتحاد د کمو نست گو نددشپږ و یشتمی کنگری لپاره له گو نداو هیو اد دفعالا نه تیاري په بر خه کی معلومات و ر کړي . څرگنده شوه چی دتو لید دا غیز من توب او دمحصو لاتو د کیفیت دز یا تید و پر بنسټ کړ نلا ره به په را تلو نکو کلو نو کی هم دشو روی خلکو دآ را می دلو ړ و لو په گټه په نه بدلیدو نکی تو گه تعقیب شی .

افغانی ملگر و دهغه کار په باره کی چی دافغانستان په دمو کرا تیك جمهو ر یت کی بهر نی تیری او انقلا ب ضد مبارزی دسختو لو دمر بوطو اقدا ماتو په باب د ا ستثما ر گر انو دستم څخه دز یار ایستو نکو پر گنو در یښتینی آز ادی په لاره چی دټو لنیز و او اقتصادی اساسی بدلو نو نو دپر و گر ام دتحقق دجر یان په باره کی او دملی اقتصاد دلو ړ و لو دځمکو داصلا حاتو د دوام ، دافغانستان دمو کر اتیك جمهو ر یت دخلکو دژ و ند دسطحی دلو ړ و لو ، دملی فر هنگ دو دي‌او د..و اددټو لنیز او سیا سی‌ژ و ند ددمو کراتیزه کو لو په منظو ر دافغانستان دخلك دد مو کر اتیك گو ند دمر کزی کمیتی در و ان کال داسد د میاشتی ددر یم پلینو م دتصمیمو نو د تطبیق په منظو رشوی دي څرگندو نی و کړي .

دو اړو خو او و دافغان شو روی داړ یکو دحا لت ا وو د ي له امله چی د۱۹۷۸ کال ددستمبر د پنځمی د ۱۳۵۷ کال د قوس د ۱۴ نیټي ددو ستی ښه گاو نډیتو ب او همکاري دتړ و ن په بنسټ په دایمی تو گه پر اختیامو می خپل ز یات رضائیت څر گند کړ . په دی ترځ کی و و یل شو ل چی دثو ر انقلاب دو هم پړ او دافغانی شو روی داړ یکو دهر اړ خیزي و دي‌لپاره ډیر ښه شر ایط بر ابر کړي دي او د‌و رو رولی د دوستی انقلا بی پیو ستو ن او دانتر ناسیو نالستی اصولو له‌مخی نه دي و روسته هم د دو اړو هیو اد و تر منځ داړ یکو دهر اړ خیزي و دي او تینگښت لپاره د دو اړو خو او و تصمیم څر گند شو .

دو اړوخوا و و په دي بر خه کی خپل تما یل وښو ده چی په را تلو نکی کی‌هم د افغانستان دخلك دمو کر اتیك گو ند او شو روی اتحاد د کمو نست گو ند تر منځ دوستانه

همکاري پر اخه شی او و ده و کړي ، افغانی لو ري له بهر څخه دانقلابی ضد تیري پر خلاف د افغانستان ددموکراتیك جمهوريت په کورنیو چارو کی د امپر یالیستی لاسوهی پر خلاف او دثور دانقلاب دهدفونو او مقصدونو دترسره کولو او په افغانستان کی دټولنیزي برابري اوعدالت پر اساس دنوي ټولنی دجوړولو لپاره دافغانستان دخلکو په مبارزی کی دشوروي خلکو د ملاتړ او هراړخیزي مرستی له امله خپله ژوره مننه څرګنده کړه .

دشوروی له خوا اعلام شوچی دافغانستان د دموکراتیك جمهوريت خلك او حکومت کولی شی په راتلونکی کی هم پهٔدي مبارزه کی دشوروی اتحاد په انترناسیونالستی پیوستون او مرستی تکیه وکړي .

دهغه حالاتو څیړنی په وخت کی چی د افغانستان په شاو خوا کی دافغانستان دموکراتیك جمهوريت پر ضد د ګاونډیو هیوادونو له ټولو زیات د پاکستان له خاوری څخه دبهرنیو تیريو او دهغه په کورنیو چارو کی دامپریالیستی لاس وهنو په نتیجه کی پیداشوي دي او هغه کوي چی بین المللی سازمانونه پکی‌ورګډ کړی د افغانستان د خپلواکی حاکمیت او دخاوری دتمامیت دافغانستان دخلکو دانقلابی ارزښتونو د دفاع په لاره کی ددواړو خوا وو پوره یووالی تائیدشو. دواړو خواوو د افغانستان د دموکراتیك جمهوريت په شاوخوا کی دحالاتو د سیاسی حل او فصل په ګټه چی پهٔدي سیمه کی په حالاتو باندي مثبته اغیزه کوي او دنړي دسیاسی حالاتو له ښه والی سره به مرسته وکړي ، نظر څرګندکړ ، هغوي یوځل بیا څرګنده کړه چیددغه‌شان یوحل‌او فصل خواته لاره د بهرنی تیري دګټور ختمیدو له لاري دافغانستان او د هغه دګاونډیو او له ټولو زیات دپاکستان دحکومتونو ترمنځ د افغانستان د دموکراتیك جمهوری حکومت د ۱۹۸۰ کال دمی د څوارلسمی نیټی د پیشنهادونو له مخی چی د ۱۳۵۹ کال دثور څلیریشتمه کیږي د مربوط توافق د ترلاسه کید وله لاری پرانستل کیږي .

په دي ترڅ کی په خاصه توګه څرګنده شوه هیڅ داسی پلان به په بري سره سرته
و نه رسیږي چی دافغانستان دخلکو حاکمیت ته تاوان ورسوي او یا دهغه په قانونی
حکومت سترګی پتمی کړي .

هغه څه چی دشوروي اتحاد په پوځی محدودو قطعاتو پوری چی د افغان ـ شوروی
د ۱۹۷۸ کال دتړون اودملګرو ملتو دمو سسی دمنشور له مخی د افغانستان دحکومت
په غوښتنه د افغانستان دموکراتیک جمهوریت په خاوره کی دي اړه پیداکوي ، د هغو
دبیر ته ستنیدو په وخت پوري سربوطه مساله دسیاسی حل او فصل په چوکاټ کی او نه
مخکی له دي چی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت پرضد تیري بیخی بندشی او تضمین
ورکړشی چی دافغانستان دخلکو او د هغه د حکومت پرضد دوران کاری فعالیتونه بیانه
کیږی څیړل کیداي شی . د افغانستان دموکراتیک جمهوریت او شوروی اتحاد هیله لري
چی دمنځنی ختیځ په سیمه کی د حالاتو دعادي کولو کړنلاره له سولی او بین المللی
دیتانت سره دتړولو سینه و الوقوتونو جوړ و ونکی ملاتړ کیږي .

دواړو خواوو په داسی حال کی چی دافغان ـ شوروی دتخنیکی ،اقتصادي او تجارتی
همکاریو سطحه لوړه څیړي څرګنده کړه چی دغه همکاري تینګ او همیشنی خوي غوره
کوی او له نوي محتوا څخه ډکیږي .

هغوی د افغانستان د څرګندو هدفونو او دملی اقتصاد دژوندی کولو، اعتلااو زیاتی
ودي دلرلیدپه پام کی نیولوسره دزیاتی پراختیا اود دغه راز همکاریو دبهو دبشپړتیا
په ګټه نظر څرګند کړ . دواړه خواوو د افغان شوروی داړیکو ددایمی ودي دیادونی
په ترڅ کی دفرهنګ پوهنی ، روغتیا او سپورت په برخه کی د دغو اړیکو دزیاتی
هڅونی او تینګتیا لپاره دد واړو خواوو هیله څرګنو، کړه او په دي مقصد یی د دواړو
هیو اد ونو دخلکو له ژوند، کارا نقلابی تجربی او ارزښتونو سره د زیاتی بلد تیا
په غرض له او سنیو امکاناتو څخه دګټی اخیستلو له په نظر کی لرلوسره دګوندي ،

دولتي او تولنيز و سازمانونو او فرهنگي او علمي موسسو ترمنځ دددوه اړخيزي همکاري او تماسونو پراختيا څرگنده کړه .

دواړو خواو و دبين المللي حالاتو اساسي مسالي و څېړلي او څيرگنده يي کړه دهغو د پيچلتياستر علت پخپله گڼه دمترقي تاريخي بدلونونو دبندولو ، په نړي کي دقوتونوداوسني انډول د بدلولو ، په پوځي لوړتيا غوښتني باندي د لاس بري د وسلودزور ازمويلو د نوي پړاو د تحميلولو ددېتانت دړنگولو او د سوړ جنگ دتکرار په غرض دامپرياليستي ټولنو هلي ځلي دي .

د واړو خواو و څرگنده کړه چي بشريت دپاملرني وړ يوه ستونزه هم نه شي کيدی دزور او سياست دد ريځ له لاري حل شي ، هغوي ټينگ عقيده څرگندوي چي د کړ کيچ د کمولو د بهير له ساتني او ټينگښت څخه ډ يره ستره و ظيفه نشته او يو هيواد هم ، يو ـ حکومت هم نه شي کولی د سولي ، بين المللي امنيت اور ښتياني بي وسلي کولو په غرض لەمبارزي څخه گوښه پاتي شي . په دي ارتباط د واړ وخواو و په دي باره کي چي شوروي سوسياليستي جمهوريتونو او دامريکا دمتحدو ايالاتو استازي دي په اروپا کي داتومي وسلو کمښت دمسالو عملي څېړنه پيل کړی پخپلو کي موافقي تەر سيدل په خوښي سره څرگند کړل .

دواړه خواوي دمنگرو ملتو دموسسي دجدي او نه بي لاري کيدونکي منشور د رعايت پر بنسټ دسولي او بين المللي امنيت دساتني په لاره کي ددي موسسي داغيز منتيادزياتوالي پلو يان دي .

افغاني لوري دهغو پيشنها دونو استثنائي اهميت څرگند کړ چي دجنگ دخطر د کمښت دعمومي سولي دټينگښت ، دوسلو دزوراز مو ينو دلو بو دمخنيوي په غرض دشوروي اتحاد له خوا دملگرو ملتو دموسسي دعمومي ټولني پنځه ديرشمي غونډي تەدڅېړ ني لپاره وړا ندي شوي دي ، دملگرو ملتو دموسسي

همد غه رازيي دهغو سوله غوښتونكو فوتونوملا تړ كړي دي چي د وارسا دتړون دغړو دولتونو د مشورتي سياسي جرگه گي دغونډې لهخوا دروان كال دسيپهسياشت كيشوى دياوله هغوځخهږي دبين المللي كړ كېچ دمركزونو دلهمنځهوړلواو د جگړي دپر مختيا باندي دغورلپاره به پهډيره لوړه سو يه دنړي د ټولو سيمو دوولتونو د مشرانو د كتني پيشنها د اعلام كړ .

دغهراز دواړهخواوي لهاهميت نهډك بولي چي پهاروپاكي دي دامنيت او همكاري دجرگي د گډون كوونكو هيوادونو داستازو راتلونكي كتنه پهمادريدكيوشي.او په هغي كيدي دوروستي سند دټولو موادودتحقق په باب دعملي گامونو يووالي تهستره پاملرنه وشي ددي موضوع پهارتباط پهاروپاكي دپوځي ديتانت او بي وسلي كولو په بارهكيدجرگي دجوړيدو پهبرخه كيدمواقفيتر لأسه كيدلستر اهميت لري .

دواړوخواو وداسيا حالاتو تهچيپهدي وروستيو وختوكي داسپر ياليستي او هژمونستي قوتونو پهيووالي سره دعملياتو پهنتيجهكيخطرناك شويدي خاصه پاملرنه وكړه .

دافغانستان ديموكراتيك جمهوريت او شوروى اتحادپهټوله نړي كي دسولي ددفاع او ددي بلني پهترخ كيچي لهجگړي څخه دي ددولتونو ترمنځ دكړكيچونو دحلدوسيلي توگه استفاده ونشي څرگندوى چي عراق او ايران دي پخپل مينځ كي دكړكيچ مسالي له بهرنيلاس وهني پرته دواړو خواووته منلووړبنسټ له مخي دخبرولهلاري حل كړي .

دفارس دخليج لهسيمي څخهدامر يكادمتحد وا يالاتو او دناتوځينو هيوادودپوځيبيړيو وتل ددغهشان حلدلاري دترلاسه كولو او په دي سيمهكي دحالاتو دعادي كولو لپاره مساعده فضا پيداكولاي شي .

د افغانستان ديموكراتيك جمهوريت او شوروى اتحاد دخپل دولت دجوړولو لپاره دفلسطين اوعربو خلكو دحقوقو دتامين پهگډون دهراړخيز حل لهلاري پهنژدي ختيځ كي

دهمشنی او عادلانه سولی دټینګښت لپاره دعر بو خلکو له مبارزی سره خپل بشپړ ملاتړ اعلاموی .

دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت او شوروی اتحادتل او په پرله پسی توګه په اسیا کی د دولتونو په ګډو هلو ځلو سره په دی وجه کی دحالاتو دعادی کولو او په هغه ځای کی د ښه ګاوندی توب دا ړیکو د ټینګولو او د همیشنی سولی او امنیت د ټینګولو په پلوی نظر څرګندوی :

د افغانستان ددیموکراتیک جمهوریت او شوروی سوسیالستی جمهوریتونو اتحاد دویتنام، لاوس ،او کمپوچیاله خلکو سره چی دخپل حاکمیت او خپل واکی دفاع کوی خپل پیوستون اعلاموی .

هغوی هغه جوړوونکی پیشنهادته چی دروان کال دجولای په میاشت کی دویتنام ،لاوس او کمپوچیا دبهرنیو چارو دوزیرانو په غونډه کی تدوین شویدی زیات ارزښت ورکوی .

دغه پیشنهادونه د هند و چین دهیوادونو او داسیادجنوب ختیځی سیمی دټولنی دغړیو دولتونو ترمنځ داړیکو د عادی کولو او دغه راز په عمومی توګه په دی سیمه کی دحالاتو دښه والی لپاره ښه بنسټ دی . دافغانستان ددیموکراتیک جمهوریت او دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو اتحاد داسیا د جنوب ختیځی سیمی دټولنی له غړیو هیوادو سره دښه ګاوندی توب د اړیکو او همکاری دودی او سولی اوثبات په سیمه باندی د اسیا د جنوب ختیځ دبدلولو لپاره دویتنام لاوس او کمپوچیا دهلو ځلو پوره ملاتړ کوی .

دواړه خواوی په اسیا کی دسولی او امنیت لپاره دهند دسوله غوښتنی دسیاست اهمیت مثبت څیړی .

دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت او دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو اتحاددسولی په یوی سیمه باندی دهند دسمندر دبدلولو په باره کی چی هلته بهرنی پوځی اډی له منځه تللی

وي او هیڅوک ددغه سمندر دغاړي دهیوادو امنیت، خپلو اکی او حاکمیت تهدیدنکړي دهند دسمندر دساحلي هیوادو دغوښتني ملاتړ کوي .

د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت او د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونواتحاددسولي په یوه سیمه باندي دهند دسمندر دبدلولو لپاره په ۱۹۸۱ کال کي دیوي بین المللي جرگي د جوړیدو په باب دملگرو ملتو دموسسي دتصمیم دملاتړ په ترڅ کي دي ته تیاردي چي له نورو هیوادوسره یوځای ددي جرگي په بریالیتوب کي مرسته وکړي .

افغاني لوري اعلام وکړچي افغانستان د ناپیلتوب دغورځنگ د یوه بنسټ ایښودونکي دولت په توگه چي مهم عامل یي دسولي او امنیت ساتنه بلل کیږي غواړي په را تلونکي کي هم د دغه غورځنگ داسپر یالیستي ضداساسي اصولو دتعقیب په ترڅ کي په گټه ورتوگه د هغه په فعالیتونوکي برخه واخلي.

شوروي لوري تائید کړچي شوروي اتحاددناپیلتوب سیاست ته چي دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت یي تعقیبوي لکه چي د-۱۹۷۸ کال د دسمبر په پنځمه د۱۳۵۷ کال د قوس په څورلسمه، نیټه دافغان او شوروي ددوستي،ښه گاونډیتوب او همکاري په تړون کي یي اتکل شویدی په درنه سترگه گوري .

د افغانستان دیموکراتیک جمهوریت او دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد دواړ څرگندوي چي ناپییلي هیوادونه به د امپریالیزم دتیري دسیاست پر خلاف ،دسولي، دیتانت بي وسلي کولو ، او د نوریو خپلواکو هیوادونو دسیاسي او اقتصادي خود ارادیت په ټینگښت دخلگودآزادي او خپلواکي لپاره دخلکو په گټه سبارزه کي لاښه او پر اخه برخه واخلي

دواړو خواو و دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد ته دافغانستان دخلک دیموکرتیک گوند دمرکزي کمیتي د عمومي منشي د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا درئیس او صدرا عظم ملگري ببرک کارمل دسفر په نتیجو باندي دژوري خوښي د څرگندولو په ترڅ کي دخبرو ړتولو مسالو کي دپوره نظرورته والي څرگند کړاوو یي و یل،چي شوي

خبری او هغه موافقی چی دکتنی په وخت کی شوی دی دافغانستان او شوروی دخلکو ترمنځ دوروروولی ددوستی په ټینګښت او د افغان شوروی دهر اړخیزو همکاریو او زیاتو مناسباتو پهژورتیا، پراختیا او ټینګتیا کی یو سهم پراوبلل کیږی .

ملګری ببرک کارمل دشوروی اتحاد دکمونست ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی او دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد دعالی شورا درئیسه هیات صدر-لیونید بریژنف او د شوروی اتحاد دکمونست ګوند دمرکزی کمیټی دسیاسی بیرو غړی او د شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحاد دوزیرانو دشورا رئیس الف، ن. کاسیګین ته بلنه ورکړه چی په یو مساعد وخت کی دافغانستان دیموکراتیک جموریت ته سفر وکړی. بلنه دکوروانی په ویلو سره ومنل شوه.

دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت له خوا ببرک کارمل

دشوروی سوسیالیستی جمهوریتونو داتحادله خوا لیونیدایلچ بریژنف .

مسکو د ۱۹۸۰ کال د اکتوبر ۱۶ د ۱۳۵۹ کال میزان ۲۴.



د افغان - شوروي دوستي نننۍ دوستي نه ده بلکې اوږدې تاریخي جرړې لري. په عکس کې غازي امان الله خان د بیلوروس د ریل په سټیشن کې
د تشریفاتو ټولګي معاینه کوي د بدرګه کوونکو په جمله کې ک. ای. وروشیلوف، م. ای کالینن ب. و شاپشنیکوف هم لیدل کیږي.



غازی امان الله خان شوروی اتحاد ته د خپل سفر په وخت کی په هغه موټر کی لیدل کیږی
چی م. ای. کالینن هم ورسره ناست دی.

## دتاریخ اراده نه ماتیږی:

د ثور انقلاب پهخلاف دوا شنګتن ، پیګنګ او اسلام اباد دمحور دسیسی اوس هم روانی دی. دپاکستان د پوځی حکومت جنرالان غواړی چی د تاریخ اراده په شاوګرځوی . هغه وخت چی په پاکستان کی جنرال ضیأالحق ذوالفقار علیبوتو دقانونی حکومت تخته واړوله ،نو دپاکستان خلکو تهیی پهنوی ورځوکی دننه دانتخاباتو وعده ورکړه خو دغه وعده دهغه دخپل پوځی اقتدار دساتلو لپاره پهبهانه تبدیله شوه ، او دابهانه اوس پنځه کلنه بهانهده چیو رځ پهو رځ نوری بهانی زیږوی ،او د پاکستان پهبیوزلو خلکو دخپل پوځی حکومت عمر اوږدوی.لهدی څخه معلومیږی چی دپاکستان پوځی واکمنودخپل شپږ دیرش کلن هغه تاریخ څخه کومه نیتجه نهده اخستی چی څو کاله وړاندی دبنګله دیش دآزادی اوخپلواکی سبب شوه. دپاکستان ټول خلك پهسیمه کی دجنګ جګړو څخه پهتنګ دی ، خو پوځی واکمنان دی چی خپله شخصی اراده پهولس تحمیلوی ، او دخلکو په حقوقو خیټهاچوی دثور د بریالی انقلاب په خلاف پهپاکستان کی او یاکمپوونه جوړشوی دی چی پهدغو ټولو کی دثور انقلاب ضد اشراروته روزنه ورکول کیږی دغه هیواد دثور د بریالی انقلاب له پیل څخه سمدستی دداړه مارانو او تخریبکارانو دمنظمو ټولګیو چی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت پهخلافوسلهوالی حملی کوی ،دیوی اډی رول ولوباوه

چې‌په‌دې سیمه کې سولې‌نه یې زیات‌خطر پیداکړی‌دی . خو هغه وخت دوړانکارو او بانډیستانو تخریبي او ورانکاري فعالیتونو زیات شدت وموند چې دسي، آی ، ای پلان دناکامی سره مخامخ شو ، یعنې دخاین حفیظ‌الله‌امین او داسلامي گوند ترمنځ دیو والي او روغې‌جوړې‌په‌باب پلان دجدي په‌شپږمه‌نیټه شنډاو ناکامی سره مخامخ‌شو. دحالاتو له‌جریان څخه داسې څرگندیږي ،چې‌دافغانستان دموکراتیک‌جمهوریت دثور دبریالی‌انقلاب او په‌تیره بیاد هغه دنوی او بشپړ تیایی پړاو څخه وروسته دبهرینو لاس وهنو مخامخ نښه شوی دی . کوم‌چې غواړي ، دافغانستان خلك او ولس دخپلې‌خپلواکی له‌حق څخه په‌خپله دخپل سرنوشت دټاکلو له حق څخه ، په خپله خوښه له خپلو گټو او د حیاتی ارمانونو سره‌سم د خپل نوی ژوند دجوړولوله حق څخه‌محروم‌او بې‌برخې کړي . په‌پاکستان کې داشرارو په کمپونو کې د هغوی دسمبالتیا په باب‌د سي، آی ، ای برخه اخیستنه بیخي په‌ډاگه‌ده، داپه‌خپله دو اشنگټن پوست‌لیکنه ده‌چې وایي :

سي، آی ، ای‌دامریکې دمتحدو ایالاتو جمهور رئیس په‌سپارښتنه داوږدې مودې په‌ترڅ کې دافغاني الهگوله کونکو اشرارو، په پاکستان کې‌دهغوی په‌مرکزونو یعنې کمپونو کې دټانگ ضد او دد‌افع هوا په‌عصري اومودرنه‌وسله‌سمبال کړل »

پاکستان اوس هر چاته معلوم دی چې، په‌خپله دپاکستان د خلکو دارا دی په‌خلاف، دافغانستان ددموکراتیك جمهوریت او دثور دبریالي انقلاب په‌ضد دیوی اډې‌په‌توگه‌ټاکل شوی‌او دو اشنگټن،پیکنگ‌او اسلام اباد تینگ‌محور ری‌جوړ کړی دی .

ډیلي‌ورډ ورځپاڼې لیکلي دي :

چې‌سي، آی ، ای،دبریتانیا او چین دارتجاعي قوتونو سره‌عیار شوی فعالیت په‌نتیجې کې‌چې دډیرو کلونو په ترڅ کې دوام لری‌په افغانستان کې‌وضعیت په‌فعاله توگه گډوډ او وران کړی دی ، دابايد دهیڅچا لپاره دیوه نوی خبر په‌توگه نه‌وی چې دامریکې متحدو ایالاتو په‌ورځپاڼوکې ډیری داسي مقالې خپرې شوی په کوموکې چې دهغه فعالیت‌په

هکله معلومات خپاره شوي دي، چې په پاکستان کې او همدارنګه په ایران کې په خاصو تعلیمي کمپونو کې ترسره شوي وو.

په وروستي مرحله کې دافغانستان دهغو سرحدي لارو څخه چې نه ساتل کیږي دپوځي قطعاتو په شکل دروزل شوو او وسله والو ارتجاعي طاقتونو لیږل پیل شوي دي، دغه ډول عملیاتو جدیت او فعالیت دومره زیات دي چې انقلاب ته ئې ستر ګوابن پیدا کړي دي.»

په همدې ډول د۱۳۵۹ کال دحوت دمیاشتي په ۲۳ نېټه په حقیقت انقلاب ثور کې د ا.د.ج حکومت اعلامیه خپره شوي چې په هغې کې د امریکا دمتحده ایالاتو دبدنیت دسیاست په هکله ویل شوي دي:

«د۱۹۸۱ دمارچ له نهمي سره سم دحوت دمیاشتي په ۱۸ نېټه دامریکا دمتحدو ایالاتو جمهور رئیس نالډ ریګن دامریکا خبریالانو او دتلویزیون استازو ته په یوه مطبوعاتي مرکه کې په ډاګه وویل: په داسي حال کې چې په اصطلاح افغان مجاهدین چې دامریکا دجمهور رئیس مقصد، غله او د افغانستان دانقلاب ضداجیران دي، دامریکا له متحده ایالاتو څخه وسله او جنګي وسایل وغواړي، دده حکومت به دغه غوښتنه ترغور او پاملرني لاندي ونیسي دغه شان څرګندونې یوه ورځ دمخه هم دامریکا د متحده ایالاتو ددفاع وزیر واین برګر له خوا شوي وي.

البته دغه یو څرګند کار دي چې دامریکا امپریالیستي تولنه له هماغه پیل څخه دافغانستان دملي او دموکراتیک انقلاب په وړاندې څرګنده دښمني غوره کړي ده.

دامریکا متحدو ایالاتو د «سیا» سازمان وظیفه لري چې دپاکستان په خاوره کې داشرارو او انقلاب ضد ډلي تنظیم، وسله والي او سمبالي کړي»

ددغي اعلامیې په بله برخه کې راغلي دي: «دا.د.ج. په وړاندې دامریکا دمتحدو ایالاتو د سیاست دغه بدلیدنه دبین الدول، حقوقو له اساسي موازینو او دملګرو ملتو له منشور څخه د یوې څرګندي سرغړوني څخه پرته بل شي نه شي تعبیر کیدای»

چین هم د قراقرم د ستراتیژیکي لوی لارې په وسیله پاکستان ته پوځي مهمات استوي چې د دغو وسلو ډېره زیاته برخه د انقلابي ضد مزدورو اجیرانو په سبالولو کې په کار لوېږي او په دې ډول له خاین سادات څخه را پاتې رژیم، د عربو ارتجاع او د اسرائیلي صهونیزم د اټول د باندیستانو په سمبالتیا کې ونډه لري لکه چې یو وخت د مصر صدراعظم او د هغه هیواد د جنګ وزیر په دې خبره اعتراف وکړ چې د ثور د بریالي انقلاب ضد باندیستانو د پوځي روزنې او هغوی ته د مالي او پوځي مرستو په لېږلو کې مصر هم ونډه اخلي. په همدې ډول په ۱۳۵۹ کال کې د کونړ په ولایت کې د مصر یو جاسوس محمود ونیول شو او په یوله مهمو مسالو یې اعتراف وکړ چې له هغو شواهدو څخه د ثور انقلاب ضد اشرارو سره د مصر ملګرتیا او مرسته ښه ثابتېږي.

د افغانستان د بهرني سوله خوښوونکې سیاست له کبله د ثور د بریالي انقلاب د دښمنانو شوم نیتونه او هغه پروپاګنډې او بې ځایه آوازې چې ګواکې د شوروي اتحاد محدود قطعاتو، افغانستان نیولی او د هغه په کورنیو چارو کې یې مداخله کړې دا. دج د ۱۹۸۰ کال د مې ۱۴ نیټې د اعلامیې په خبرو نوسره بې اساسه او بې ځایه وګڼل شوې، او د افغانستان د خپه کولو او تجرید ولو پلانونه یې ناکام او د خاورو سره برابر شول. خو نړیوال امپریالیزم او د هغو په سر کې د امریکې د متحدو ایالاتو امپریالیزم او د چین لوی غوښتونکې دسیمې د ارتجاع ځواکونو په ملاتړ خپلو شومو هلو ځلو څخه لاس نه اخلي او د دوی دسیسې او ورانکارۍ اوس هم دوام لري. د پاکستان پوځي واکداران لګیا دي له امریکې څخه وسلې اخلي د امریکا متحدو ایالاتو هم رسماً اعلام کړې چې پاکستان ته به عصري وسله ورکړي. باید د دې یادونه وکړو چې د امریکا د متحدو ایالاتو د سناد خارجي اړیکو کمیټې د ۱۹۸۱ کال په مې کې پاکستان ته د پوځي مرستې نه ورکولو مصوبه له منځه یووړه. او اوس غواړي چې پاکستان ته ۲۰ ام شپږ ټانکونه او اف ۱۶ بم غورځونکي سل الوتکې او نور جنګي وسایل ورکړي. په همدې ډول د امریکا متحده

ایالات اراده لري چې دګوادر په بندر کې سمندري اډه جوړه کړي او په نظر کې دي چې په کراچۍ کې هوايي او سمندري اډې او همدارنګه په پېښور کې يوه هوايي اډه فعاله کړي. په دې ډول دامريکا متحده ايالاتو دپاکستان داتومي برنامې سره هر اړخيزه مرسته کړې ده چين هم په‌اوياو مه‌لسيزه کې په پاکستان کې‌خپل نفوذ ته‌پراختيا ورکړې ده ددوی ديوسرې تړون له‌مخې چين دپاکستان د کراچۍ په‌بندر کې يو سمندري اډه جوړه وې ،د دواړو هيوادو دپوځي هياتونو تګ‌راتګ او پاکستان ته‌دزياتو جنګي وسلو او مهماتو لېږل ،په پوځي برخه کې ددواړو هيوادو په همکارۍ دلالت کوي . دپاکستان پوځي واکداران غواړي‌چې‌دبارو تو په ډېرې کښېږي ،خو دغه دبار وتو ډيرې به‌بالاخره‌دپاکستان‌جنرالان پخپله والوزوي، ځکه‌چې‌اوس‌هم‌دپاکستان‌پوځي‌حکومت‌ته‌داخلي او‌کورني‌سياسي‌پرابلمونه پيداشوي دي ،سره‌لدې‌چې ضياالحق‌هغه‌وخت‌چې‌پوځي‌کودتائي وکړه‌او په‌پوځ يې‌تکيه‌وو‌هله لومړي ګذاريې د۱۹۷۳ کال اساسي قانون‌ته‌ورکړ دهغه مندرجه موادي‌دپښولاندې کړل ، سياسي ګوندونه يې له فعاليت څخه منع کړل ، پرګنيز سازمانونه او د هغوی مشران يې بنديان کړل له قضايي ارګانونو څخه يې صلاحيت واخيست او په پاکستان کې يو پوځي بيروکراتيک رژيم جوړ کړاو په‌دې ډول يو سژمن قانوني‌بحران ،نه يوازې دپاکستان لپاره په‌يوستر خطراوښتي بلکې ددې سيمې سوله او ثبات يې‌هم دسخت خطرسره مخامخ کړي دي جنرالان خوغواړي چې تاريخ په شاو تمبوي خو د تاريخ اراده په‌شانه ځي او نه‌ماتيږي ځکه‌چې دپاکستان پرګنې مبارزه کوي او چغې وهي چې جنرالان غاصبان دي ، حکومت غيرقانوني دي ،ولس ته‌دموکراتيکې آزادي نه ورکول کيږي

پو ځی حکومت انتخابات نه کوی ،د نوی و رځو وعده یی په پنځو و کالو و او ښته د امپر یالیز انحصاری پانگی ساتی ، دملا کانو کتبی خو ندی کوی پانگوال‌لوی فیو ډالان، او ستر بیرو کراتان په کابینه کی ناست دی او دعوا مو په ضدیی اجتماعی، اقتصادی او سیاسی پالیسی په کار اچولی ده. خو ددغه دبر چی د زور پالیسی سر مسره دپاکستان کارگرو بزگرو ، روشنفگرانو او د کوچنی بورژوازی استاز و په ډیره میړانه په پاکستان کی امپریالیستی ضداودموکراتیک نهضت مخ په وړاندی روان کړی دی او جنرالان دثور انقلاب نه شی ماتولی، ځکه چی د تاریخ اراده نه ماتیږی .

# مشت نمونۀ خروار

دانقلابی افغانستان په کورنیـــو چاروکی دامریکادامپریالیزم اودهغه د انهیوالانولاس وهنی څه پټه خبره نده اوپدی خبره ټول پوهیږی د دغولاندنیو عنوا نونو لاندی مو هغه کړ یده چی ددغو لاس وهنو څوبیلگی د ((مشت نمونه خر وار ))په توگه در نـــولوستونکو ته وړاندی کړو :

## ۱ ـ احتجاجیه لیک :

په کابل کی دامریکادمتحدو ایالاتو سفارت په نامه دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دبهرنیو چا رو دو زارت احتجاجیه لیک

دشیخ سلا سیر او مدیر محمدگل په نامه دانقلابی ضداجیرانو د باند دوو تنو غړ یو چی پدی ورو ستیو وختو کی د افغانی مقاماتو له خوانیول شوی داستنطاق په وخت کی شهادت و رکړ یدی چی دتیر مارچ دمیاشتی په و روستیو وختو کی یوه ډله امریکایی ژو ر نا لیستا ن چی د پا کستان له لاری په غیر قانونی ډول افغانستان ته ننوتی و و ددوی له ډلی ملگری شول .

امریکایی ژو رنالستانو په افغانی ملی جامو کی خیره بدله کړی او دفلم اخیستلو سمباله دستگاه و رسره وه .

هغه وخت چی ژو ر نالستان له دغه باند سره ملگری و دباند دغړ یو غلو دافغانستان د سره رود دفتح اباد په کلی باندی یرغل و کړ اودری تنه زیار کښیی چی داو بو لگولو په پروژه کی یی کار کاوه ونیول. یوه امریکائی ژو رنا لیست غلو ته دستو رو رکړ

کارگرانلو سړی ډیر وځوروی او پس له هغه یی سنگسار کړی سر و نه ئی غوخ کړی چی البته امریکا یانو ددغی زړه دردوونکی پیښی فلم وا خیست.

څه موده وروسته د ا ن ریزر په نامه د امریکاد (دسی، بی. ا س) دتلویزیونی شبکی مفسر دکریسچین ساینس ما نیتور له ورځ پا ڼی سره په سرکه کی هغه کیسه بیان کړه چی دمارچ دمیاشتی په وروستیو وختو کی په خپله د فلم اخیستونکو دهیات په مشری په افغانی ملی جامو کی بیځیره بدله کړی په پټه د افغانستان خاوری ته ننوتی او د آزادی لپاره دا فغانانو دجگړی، په نامه یو فلم جوړ کړیدی.

هغه نښی نښانی چی دان ریزر څرگندی کړیدی هغه نښی نښانی دی چی له غلو اجیرانو څخه لاسته را غلی دی بی له شکه په خپله دان ریزر ددریو افغانی کارگرو په ځوروونه او وحشیانه وژ نه کی لاس درلود. په دغه ډول دغه خونړی وژ نه دافغانستان په خاوره کیشو یده. پدی برخه کیشاهدان هم شته او ددغو سړیو ژ ونکو څخه دیوه نوم معلوم دی چی هغه دامریکا دمتحد و ایالاتو تبعه دان ریزر دی.

دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دبهرنیو چارو وزارت د ۱۳۵۹ کال دسنبلی په ۱۹ نیټه په کابل کی دامریکا دمتحدو ایالاتو د سفارت شارژ دافیر د بهرنیو چارو وزارت ته احضار کړ او هغه ته یی یو احتجا جیه لیک سپارلی ، پدغه لیک کی ویل شویدی چی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دبهرنیو چارووزارت پدغه لیک کی دافغانستان له سرحدونو څخه دامریکائی اتباعو دغیر قانونی تیرید وله امله چی دافغانستان دموکراتیک جمهوریت په حاکمیت باندی تیری دی او ددریو افغانانو دوژلو په پیښه کی دهغوی دبرخی اخیستو له امله سخت احتیاج کړی دی.

سربیره پر دی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت د بهرنیو چارووزارت د دغو جنایتکارانو دمحاکمی غوښتنه کړی اوغوښتی یی دی چی دامریکا لوری باید دجبران په توگه دمړو شویو کسانو خپلوانو ته رسیدلی مادی او معنوی تاوان ورکړی.

## ۲ـ دسی ، آی ، ای جاسوس یی رسوا کوی

دمحمد داودسره دغه مرکه د ۱۳۶۰ کال دعقرب په ۱۵ نیټه خپره شویده.

ددرفش جوانان دخبر یال پوښتنه :

مهربانی وکړی خپل ځان معرفی کړی ؟

ځواب : زمانوم محمدداود او دغلام محمدزوی یم او په ۱۹۶۰ کال کی د غزنی په ولایت کی په یوی بی وزلی کورنی زیږیدلی یم او تراتم ټولګی پوری می زده کړه کړی ده. دامریکا په سفارت کی می کارکاوه تر هغه مخکی می په هلال هوټل کی د شاګرداو منیجر په توګه کارکاوه او پدی وروسیو وختو کی می دکندهارد جګ خولوتوپونو په شپږ شپیتمه قطعه کی عسکری خدمت تیراوه.

دنووستی اژانس دخبریال پوښتنه: کله چی ته په کابل کی دامریکا په سفارت کی استخدام شوی دغه شی په توګه دی کارکاوه ؟

ځواب : زه څوکاله مخکی د امریکا په سفارت کی په کارګی شامل شوم دتخنیکی همکاراو همدغه رازدسفارت په مطبوعاتو کی می د پنډی په توګه وظیفه اجراکوله.

دتاس دخبر یال پوښتنه: دامر یکاپه سفارت کی دچاله خوا ا ستخدام شوی هغه څوک چی ته یی استخد ام کړی وی څوک وه په کوم مستعار نوم دی کا ر کا وه ؟

ځواب : دخپلی همکاری په باب در ته و یلی شم چی زه دسفارت دلوړی سکر تر له خوا چی نوم یی گر یفن وه تشویق شوم او تر کومه ځا یه چی ښی په یاددی د۱۹۸۰ کال داپر یل په میاشت کی دسفارت دودانی ددریم پوړ په مخصوص ځای په هغه ځای کی چی نورو افغا نانو په سفا رت کی کا ر کا وه ا و هلته تگ ر ا تگ بند وه زماسره کتنه وشوه، لوړی په مقد ماتی ډول له ماسره دافغانستان ددولت اوشوروی ضد موضوع په باب خبری وشوی اودغه کارد سفارت یوبل کار کوونکی چی هندی مترا جن نومیده و کړ

دباختر اژانس دخبر یا ل پوښتنه : کله چی ته استخد ام شوی چا درسره خبری و کړی او ستا داستخدام په بر خه کی دهغوی رول څه وه ؟

ځواب : په هغه ځای کی چی استخد ام کیدلم یو بل امر یکایی حاضروه چی دامر یکا دسفارت اد اری امر دی .

دچی . تی کا .دخبر یال پوښتنه : کله چی یی ته پدی وظیفی استخد امو لی څوک هلته حاضر وه او ته یی په څه ډول استخدام کړی ، دامر یکا په سفارت کی دخپل استخدام همغه جر یان بیان کړه.؟

ځواب : دخبر و په وخت کی یادخبر و لپاره دسفارت دیو ساموړ له خوا دگر یفن مخصوص دفتر ته ر اوستل شوم چی بیا پخپله انتراجن لاړ ،گر یفن زمادشهرت او زمادژ وندد حالت پوښتنه و کړه او بیا یی دشوروی پوځی قواوو در اتگ او دگونداو دافغانستان ددولت په باب زما نظریه وغوښتله دهغه له خبر و څخه داسی څرگندید چی له مانه یی دڅه ډول ځواب انتظار در لود . دافغانستان د دولت او شوروی اتحاد په بدو و یلو سی پیل و کړ او بیا دافغا نستان ددولت او شوروی اتحاد دهمدغو بدو و یلو په گر یفن باندی یوه ډیره مثبته اغیزه و کړه ، گر یفن له هغه و روسته ماته

د تعهد یوه پا نه ر ا کړه د هغه له هد ا یت سره سم سی هغه لاسلیک کړه چی دتعهد دغه پانه په انګلیسی ژ به برابر ه شوی وه او پر ته له دی چی د مضمون په متن یی و پوهیږ م او دهغی مشوری له مخي چی و ا سی خیسته دتعهد دغه پا نه په مستعار نامه را کړ ل شوه.

دانیس دو رځپانی دخبر یال پوښتنه:

مهر بانی و کړه و وایه چی تا داسی یکا دسفارت په لار ښوونه کوم کارونه و کړل ؟.

ځواب: هغه وظیفی چی د هندی نتر اجن له لا ری چی د گر یفن نه تر لاسه کولی ماته را سپار ل کیدلی او ددغه وظیفو یو جزءدافغانستان ددولت او شوروی ضد اوانقلابی ضدپروپاگندونه او خبری وی چی باید دخپلو ملګر و ،دوستانو او خپلوانو تر مینځ وو ایم او هغوی داسلامی ګوندپه لیکه کی جذب کړ م ، دغه راز د کابل او د خلکو دحا لت په باب معلومات را ټول کړ م او هغوی ته یی وسپارم او گر یفن پدی و روستیو ختونو کی معلومات تر لاسه کړی و وچی ز ه عسکری خدمت ته جلبیږ م،د هغه دلارښوونی له مخي چی ماته ئی و ویل شول،له هغه وخته چی دوسله وال پوځ په لیکو کی او سم زیات ګټه و اخلم وسرتیری او پو ځیان دولتی ضد، اسلامی ډلو ته وهخوم ، د دغو وظیفو داجراءلپاره ګریفن ماته اتیا ز ره افغانی را کړی .

دحقیقت سربا ز دخبر یا ل پوښتنه :

کله چی ته په وسله وال پوځ کی شامل شوی گر یفن په مشخصه توگه تا ته څه وظیفی در کولی چی په وسله وال پوځ کی کوم کا رونه و کړه؟

ځواب: په وسله وال پوځ کی لومړی ماته دغه ډول مشخصه وظیفه نه وه را کړ شوی خو د ا سی وه کله چی له سفارت نه و تلم ګر یفن ما ته د خوشیا نو یا دونه و کړه چی دسفارت نه وتلم په هر ځای کی چی سی بست تیاکل کیده باید دشفر په توګه داسی یکاسفارت ته لیک و یکم

په همدغه لیک کې باید معلومات ورکړم چې چیرته او په څه ډول سي بست تها کل شویدی.
دغه راز باید دهغو جز وتاسو نو دحالت په باب چې زه هلته عسکري خدمت کوم سفارت
ته یي ولیکم باید وویل شي چې گریفن ماته څرگنده کړی وه له هغه وروسته چې له سفارت نه ووځم
زه به گوگرد په نامه یادشم چې د ا زما استعار نوم وه چې دگریفن له خوا را باندی ایښودل
شوی وه او راته یي وویلی وه او هر چیری چې کوم څوک تاته په دغه نامه دگوگرد غږ کوی
دامعنی لري چې هغه سړی دگریفن له خوا درغلی او دهغه ارتباطي سړی نوم صابون فروش
وه چې باید زه هغه په صابون فروش یاد کړم او په دغه ډول مو له یوبل سره ارتباط نیوه او زه مجبور
مکلف وم چه ددغه سړی ټولی لارښووني چې له ما سره یي ارتباط نیوه د وظیفي په توگه اجرا کړم.
دبراتیسلاو دحقیقت دجریدی دخبریال پوښتنه: تاپه کوموقطعاتو کی وظیفه اجراء
کړه او هلته دی کوم تخریبي کارونه عملي ډول سرته ورسول ؟
ځواب: د ۱۹۸۱ کال دجنوری دمیاشتی په لومړیو ورځو کی زه وسله وال پوځ له
خوا جلب شوم او دکندهار دجگ خولو توپونو دقطعي په ۶۶ غنډ کی سي بست وتها کل
شو او تر هغه وروسته د ۱۹۸۱ کال دجنوری په وروستیو ورځو کی مادامریکا سفارت
ته لیک ولیکه، مادلومړی ځل لپاره د کجکی په بند کی له یوه سړی سره چې پیژندمی نه، وکتل او
هغه داوه چې دښار په بازار کی یوتن راغی او ماته یي دگوگرد په نامه غږ وکړ او کله چې
ماهغه ته دصابون فروش په نامه ورغږ کړ هغه له ما سره خبری وکړی او وپوهیدم چه
داسړی دگریفن له خوا راغلی او له وعدی سره سم مو څو ځله دکجکی په هماغه بند کی
بیلو بیلو برخو کی سره ولیدل. او سلا مشوره مو وکړه او دوظیفي داجرا غرض هغه
صابون فروش چې اصلی نوم یي نه پیژنم دسید محمد په نامه دسیمي داشرارو هغه قوماندان
چې هلته یي افعالیت کاوه ماته معرفی کړ او هغه سپارښت چې هغه زماد پاره له گریفین
څخه اخیستی وه، داوه چې لومړی زه باید دکنډک یوشمیر پوځیان او سرتیری داشرارو

باندونو ته په تسلمیدو وهڅوم او و روسته د دغه کندک نور افراد هر څنګه چې وي باید تسلیم کړم او کولی شول او بریالی شوم چې د کندک دوه ویشت تنه پوځیان د کندک تسلیمولو ته وهڅوم او همداوه چې د هغه تسلیمي د مارچ د میاشتې په اوه ویشتمه نیټه پلان شوې وه په بتریه باندې د بریداشاره داوه چې زه د کندک قوماندان ووژنم.

پوښتنه: و بخښې که چیرې و وایې چې تاسې څنګه و نیول شوې ؟ د هغه د نیولو د جریان کیسه و کړې:

ځواب: د هغې وظیفې په وخت کې چې ما ته سپارل شوې وه د صابون فروش د سپارښت له مخې د ۱۳۶۰ کال د حمل د میاشتې په اوومه نیټه په شپږو بجو او پنځلسو دقیقو ماد کلاشینکوف په واسطه د کندک په قوماندان جګړن بهرام خان باندې ډزو کړې چې په نتیجه کې جګړن بهرام خان ژوبل شو او هغه وخت وه چې زه د نورو عسکرو له خوا ونیول شوم او هغه ملګرې چې له هغوی سره مې زیاتې خبرې کړې وې او د کندک د تسلیمیدو په برخه کې مو ورسره خبرې کړې وې د هغوی هیڅ کوم یو زما ملاتړ و نه کړ.

د باختر اژانس د خبریال پوښتنه:

مهرباني و کړې په کابل کې د امریکا د سفارت د نورو استخباراتي فعالیتونو د نورو اړخونو په باب معلومات را کړې او هم و وایاست چې هغوی هم په دغو استخباراتي فعالیتونو کې برخه درلوده یا څه ډول ؟

ځواب: تاسو ته به عرض کړم په ځلورو کلونو کې چې ما د امریکا په سفارت کې کار کاوه و لیدل چې امریکا نیانو زموږ د دولت پر خلاف ډیر له د ښمنۍ ډک عملیات کول په تیره بیا هغوی د کابل په باب په ډول ډول لارو چارو معلومات راټولول او د شپې له خوا یو سپین رنګه شورلیت موټر و چې نمبر سی یې په یاد نه دی د سفارت له ساحې څخه وتلو، تاسې ته و وایم چې د نمه موټر د مخا برې په بیلو بیلو سایلو سمبال وه.

پوښتنه: د شبنامو د خپرولو په برخه کې د امریکا سفارت څه رول درلوده او یا تاسو په دې باب

کوم معلومات لری او که لری یی پخوا سو پدی باب له چا سره خبری کړیدی، که نه؟

ځواب: ډیر ښه، دادرته وویلی شم یوه ورځ چی ما د سفارت په مطبوعاتو کی چی د کمونیکشن کوټی ته مخامخ په زیر زمینی کی دی کار کاوه لیدل می چی هلته زیات شمیر شبنامی د افغانستان د دولت او شوروی اتحاد پر ضد چاپیږی چی وروسته بیا دغه شبنامی د کابل په ښار کی خپریږی او د کار په وخت یو تن چی د دغه نوم می تاسی ته یاد کړ، دغه شبنامی یی ان د دغه له چټل نویسو سره له ځانه سره وړلی، چا ته یی نه ښودلی او په دغه باب ما یوه شبنامه لیدلی وه او نتر اجن ته می وویل: نتر اجن ماته وویل چی په دغو خبرو پسی مه ګرځه او د دغو مسالو په عواقبو پسی هم مه ګرځه او د هیچا په مخکی دغه خبری مه کوه، نور نو زه نه پوهیږم چی دغه شبنامی د چا له خوا خپری او د چا له له خوا سفارت څخه ایستل کیدلی.

د انیس دوهم ځپا نی د خبریال پوښتنه:

مهربانی وکړی وو وایاست چی تاسی له دغه عمل څخه چی تر اوسه مو کړی پښیمانه یاست که نه؟

ځواب: هو زه له خپل دغه عمل څخه پښیمانه یم او اوس پوه شوی یم چی ډیر سخت ګمراه شوی وم او د امریکا د دښمنی دفعالیتونو او د دښمن د تبلیغاتو تر اغیزی لاندی وم او اوس زه له خپلو خلکو او انقلابی دولت څخه بخښنه غواړم او زه حاضر یم چی اوس خپله دغه لویه ګناه جبیره کړم.

## ۳ـ بیا هم جاسوسان دخبر یالانو په جامه کی

زموږ دهیواد پرضد دارتجاع او امپریالیزم دپرله پسی تیریو او زموږ په کورنیو چارو کی دهغو دنمایندهگانو او جواسیسو سیده لاسوهنه دمزدورو خارجیانو دنیولو په تعقیب بیا هم پهدی وروستیو وختونو کی دوهتنه فرانسوی اتباع چه ژوران الکو بی چه سطبوعاتی مستعار نوم یی فرانوامیسن مسلکی خبر یال او فرانسوی عکاس انتوان ارنو دکندهار په ښارکی پهداسی حالکی چی زموږ دخلکو ملی کالی یی اغوستی او دانقلاب ضد عناصرو په پټو ځایوکی ونیول شول.

دچاخبره دغه خبر یالان چی دجنایتکارو انقلاب ضد عناصرو سره یی اړه درلوده دسی، آی، ای لهخوا لهفرانسی او پیښور څخه پهغیر قانونی توګه زموږ هیواد تهوارد شول او په انقلابی ضد فعالیتونو یی لاس پوری کړ.

## ۴ـ دضد انقلاب دبې ننګی کارنامه

په اصطلاح دحزب اسلامي، دانقلابي‌ضد باند پوری مربوط فولادخان دانقلاب او تیره بیادهغه دنوی بشپړ تیایی پړاو دحقایقو په‌درک کولو سره ځان امنیتی مقاما تو تسلیم‌او دانقلاب ضد دجنایتونو شخه‌چی‌نشو کولای له‌هغو سترګی پټی کړو پرده پورته کړه.

فولادخان نه یوازی د «حزب اسلامی» تش‌په‌نامه باند پوری ارتباط درلود بلکی ددغه جنانت کاربانددرهبر یعنی دګلبدین سره یې‌ښخا مخ تماس درلود او دافغانستان دانقلاب دهغو دښمنانو د رذیلانه او بې شرمانه عملونو عینی شاهد دی چی‌په ریاکارانه توګه‌یې داسلام اومسلمانی ماسك په‌مخ اچولی دی.

موږ دهغو پیښو خبری کووچی په خپله فولاد خان ویلی دی دهغو تر خو پیښو په‌باب چی دسری‌دبدن ویښته نیغ دروی او دسړی هډوکی‌په‌لرزه راولی.

له‌فولا دخان شخه یی او رو: «مثلاءادم‌خان ته‌د ګلبدین‌له خواله‌پاکستان شخه دستور راسیږی' فعلافلانی سړی ددولت ماموردی اوله انقلاب او دولت شخه دفاع کوی‌دهغوی کورو سوزوی ځامن یی ووژنی ، مثلاء سرکونه وران ، کړی ، مینونه ښخ کړی، مثلاً

جوماتونه سوزوي او د هغه ملا امام وو ژني، مثلاً د خلکو درمندونه وسيزي چې په خپله دولت بدنام شي.

او خلك وو ايي چې دغه کارونه دولت کړي دي ... مثلاً خلك په ناحقه وو ژني، پلونه ړنګ کړي، ښوونځيو ته اور واچوي د ښوونځيو چپړ اسيان له مينځه يوسي او له هغو خلکو څخه چې خپله لوري يي هغه چاته چې په دولت کې کار کوي ورکړي وي لونه يې پاکستان ته راولي.»

دغه د ضد انقلاب د بې ننګی کارنامه څوڅوك د دغو ټولو تيريونښه دی ؟ په دغه ډله کې څوك خپله هستي او خپل ژوند او خپل بوداونبود له لاسه ورکوی ؟ د دغو ټورمو خونړی ګوزار د چا په تنده کيږی ؟ ځواب څرګند دی:

زموږ د هيواد شريف او بې ګناه خلکو لکه ښځو، ځوانانو، ماشومانو او سپين ږيرو باندی. خو له دی څخه چې تيرشو دانقلاب ضد جنايتونه يواځې په همدغو وژنو تړنو، او راچولو، او له منځه وړلو باندی پای ته نه رسيږی، دغه ريښه له دی څخه هم اوږده ده.

بياهم دګلبدين دموټروان فولادخان خبرو ته مراجعه کوو.

فولادخان چې يوه ورځ يې دوه تنه امريکايان او د ګلبدين د بانډ دوه تنه غړي پاړه چنار ته بيول دراګرځيدو په وخت کې دانجنير اصف سره چې د دغه تور بانډ يو غړی دی، په زړه پوری پيښې سره مخامخ کيږی پاتی خبره په خپله د فولاد خان له خولی څخه اورو:

«...ما او انجنير اصف حرکت وکړ، د پيښور په لور روان شو، په لاره کې يوه چينه وه، انجنير اصف ماته وويل چې موټر ودروه چې زه خپل مخ او لاسونه پری ومينځم، ما موټر ودراوه انجنير آصف له موټر څخه راښکته شو. ما خپل موټر چك کاوه، وسی ليدل چې ديوی نجلی آواز پورته شو مافکر وکړ چې داڅه چل دی، فکر می وکړ چې يوه نجلی ده لاړم ... غوښتل يې چې دهغی په حيا تيری وکړی، زه لاړم انجنير آصف ته می عذرزاری وکړی چې دا سپيڅلی نجلی خوشی کړه موږ او تاسی داسلام (!) په خاطر دلته راغلی يو او ... زموږ په جيب

کی قر ان شر یف ؤ هغه سی ر او و یست د دی قر ان په خاطر دغه نجلی ېر یږ ده ، هغه قر ان
شر یف په‌لاس و و اهه او هغه یی گذار کړ .

دغه‌دی هغه «اسلام؟» چی‌گلبدین او د هغه‌بانډیستان یی‌لا پی کوی .

دغه‌ده هغه«مسلماني؟» چی‌انساني ضداو اخلاقی ضدا عمال مجاز گڼی ' سپیڅلی قر ان په‌پښو
و هی، او هر ر از تیری عادی تیری گڼی ! دغه نو اسلام نه‌دی او دغه عملو نه په‌خپله داښیی
چی‌دغه دتڼ و یر تګی او در یاپر ده چی د افغانستان دانقلاب ضد کسانو داسلام په‌نامه
په‌مخ اچو لی ده .

خو دفو لادخان خبری څینی نو ر و ا قعیتو نه هم‌را سپړی او هغه دفقیر اباد په‌بندی‌خانه
کی دغو لیدلو او بی گناه کسانو دبی رحما نه شکنجو وا قعیتو نه‌دی داختطاف‌شو یو هیو اد
و الو له‌ډله ییزی و ژ نی و ا قعیت چی په اصطلاح دتحقیق په‌نامه و رسك ته‌و ړل شوی
و و او داسی نو ر هغه کیسه کو ی : « ... په‌یو چل بندی خانی ته‌و رننو تم و سی لیدل‌چی
په دیو الو نو او ددیو الونو څنډو ته‌په ز رو نو قطعی عکسو نه لګو ل شوی وو .داسی و لیدل
او د بندیانو جامی سی‌هم و لید لی. فکر سی‌و کړ چی داخو هغه افغانی بندیان دی چی تاله
فقیر اباد څخه ر او ړی و و . په‌داسی حال کی چی دوی ویل‌چی‌له‌دوی څخه تحقیقات کیږی،
هغه تړول و ژ ل شوی و و ...د افغانستان ز یات ځلمیا ن چی‌په بیلو بیلو لارو او بی لار و
پا کستان‌ته‌را ځی‌دپیسو له‌خاطر ه او یادهغی دښمنی له‌خا طر ه‌چی په‌و طن کی‌لر له...په
ز رو نوچلو نو هغه نیسی او و ژ نی او له مینځه یی‌و ړی .

او فو لادخان دیو مشهو رخاین یعنی گلبدین په‌هکله حقایق په‌ډا که کړی دی :

...په اسلام‌او قر ان کی‌خد ای پا ك و یلی دی چی تاسی عدالت و کړی . ایاداعدالت‌دی
چی مهاجر ین‌په‌پا کستان کی‌په کمپو نو او خیمو کی ژ و ند کوی او هغوی له تندی ، بی
دو ائی داسی‌و رځ نشته چی‌لس، پنځلس تنه‌ما شو مان ، او ښځی نه‌مری ، کو مه‌و رځ ده‌چی
هغوی ته‌یو ه خمځی دال او چپاتی و یشل کیږی او دو یش په‌و خت کی افر اد نه‌و ژ ل کیږی



د سي-آی-ای جاسوس محمد داؤد کله چې د کورنۍ او بهرنۍ خبریالانو د پوښتنو په وړاندې په خپلو خیانتونو اعتراف کوی او زموږ په هیواد کې د دښمنانو لاس وهنې بربنډوي.




ددین ، وطن او د ترقی دښمنانو په هیڅ سرپروانه کړه او حتی په جوماتونو او سپیڅلو ځایو کی د قرآن پاڼی هم وسیزلی.



د انقلاب ضد باندو لیسانو، لاره وهونکو او شوکمارو د جوماتونو امامان، د خدای او رسول په لاره
روان ملایان او سپین ږیري هم ووژل او په هغې یې نوم کیښود «د اسلام دفاع !؟»



د انقلاب ضد عناصر چې د علم او معارف دستي دښمنان بلل کېږي، د هېواد ښوونځي، پلونه، جوماتونه
موسسې او د عامه شتمنو ودانۍ سیزی پر دې عکس کې د یو ښوونځي د ودانۍ کنډوالې وینئ .



د ثور انقلاب ضد باندیستان د هیواد پر ماشومانو هم رحم نه لری او د
هغوی د ماشومتوب ښکلی دنیا په وینو لـــړی .



وګورئ هغه وسلې چې د بشريت او انسانيت د تباهۍ له پاره نړيوال امپرياليزم او هغه ئې سرکې د امريکا متحده ايالات او هغه نور ګوډاګيان ئې د وطن د دښمنانو په لاس ورکړي خو د ثور انقلاب ساتونکو ئې په مېړانه د هغوی له منګولو څخه اخلي .

او گلبدین دیو کور کر ایه ۱۸ زره کلداری ورکوی او هره سیاشت کی د یرش زره کلداری معاش لری، ۱۵۰ عرادی ریکشی په کراچی او نور خوسوتره شخصی او خو دبارو ړلو لاری هم لری .

او دادی دانقلاب ضدمر بوطو حقایقو یوه شمه، پر یږدی چی زموږ لوستونکی پخپله قضاوت وکړی چی څومره ژوره فاصله ادعاګانی او چغی سوری له واقعیتونو څخه جلا کوی .
پر یږدی چی ټول پوه شی چی د انقلاب او افغانستان دښمنان مسلمانان نه بلکی داسلام واقعی دښمنان دی .

پر یږدی چی ټول پوه شی چی ددغو ټولو غوښتنو، دغو ټولو لاپو شاپو، او د دغو ټولو تمساح او ښکو شاته چی په اصطلاح داسلام او اسلامیت لپاره یی کوی څومره ستر فریب پټ دی .

# سوله زموږ شعار دی

## ۱ـ ا . د . ج د حکومت اعلامیه :

دافغانستان دخلکو د ۱۳۵۷ کال دثور په‌ملی او دموکراتیک انقلاب سره خپله وروستی لاره غوره او دبرابری او عدالت پر اصولو باندی دیوی ولاړی نوی ټولنی او د فرد له‌خوا دفرد له استثمار څخه دخلاصی ټولنی دجوړولو لاره وټاکله افغانی نوی ټولنه به‌زموږ دخلکو دملی تاریخی فرهنگی او مذهبی دودونو په‌ژور درناوی او رعایت او په‌پای کی داسلام دمقدس دین داصولو دجدی رعایت او د مذهبی مناسکو دآزادی په‌بنیا د لکه‌څرنگه چی قانون دمسلمانانو له‌پاره تضمینوی ولاړه وی .

دافغانستان خلک غواړی دسولی له لاری له‌مسلمانو گاونډیو هیوادو او د نړی له ټولو دولتو نوسره ددوستانه مناسباتو او همکاری دپرمختیا په‌شرایطو کی دخپل ځان له پاره‌نوی ژوند جوړ کړی دافغانستان خلکو پیټیلی دەچه خپل ټولنیز او اقتصادی نظام دټاکلو له‌پاره دهیواد دآزادی او خپلواکی او د خپلو حقوقو دفاع وکړی :

په‌دې باندې ټینګار سره‌چې دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت‌داساسي اصولو له مخه چې سوله کې دګډژوند‌انه د ناپیلتوب دفعال او مثبت سیاست په اصولو ولاړدی دافغانستان دموکراتیک جمهوري حکومت اعلاموي چې مصمم دی دافغانستان پرخلاف تیري کوونکو عملونو وړانکارو فعالیتونو او هیوادپه کورنیو چارو کې دبهرنی لاس وهنی دنورو بنو دپوره او تضمین شوي پای‌له پاره دسیاسي حل یوه‌لاره ولټوي‌چې په‌دې ترتیب هغه کړکیچ چې‌پدغه سیمه کې پیداشوی‌له منځه یوسي‌او اختلافونه دروغې جوړې او دخبرو له لارې حل کړې کیدی شي ددغه سیاسي حل پروګرام ددغو مفرداتو په‌اساس ولاړوي .

۱ـ دافغانستان دموکراتیک جمهوري حکومت دایران اسلامي جمهوري حکومت ته پیشنهاد کوي‌چې ددوستانه او هراړخیزو ومناسباتو او ددواړو خواو په ګټه همکاری دپرمختیاپه خاطر **دی** ددواړو هیوادترمنځ دیوې موافقي‌دطرحې له پاره خبرې پیل شي.

**دغه** راز دافغانستان دموکراتیک جمهوري حکومت دپاکستان حکومت ته‌پیشنهاد کوي چې دافغانستان او پاکستان ترمنځ مناسباتو دعادي کیدو په باب دې دیوې‌دوه اړخیزې موافقې دطرحې لپاره خبرې وشي .

دغه‌شان موافقې دې ملي حاکمیت ته‌دمتقابل احترام دښه ګاونډي توب او دیوبل په کورنیو چاروکې دلاس‌نه وهلو داصولو په‌بنسټ دروابطو دپرمختیا له‌پاره دتیاري په برخه کې دمنلو وړد اصولو باندې ولاړوي .دغه رازد یوه‌له خاورې څخه دبل پرخلاف دوسله والو فعالیتونو او دښمنې دنورو فعالیتونو دجایزنه ګڼلو په‌برخه کې‌داساسي مسولیتونو په غاړه اخیستل پکې شامل دي .

۲ـ دافغانستان دموکراتیک جمهوري حکومت یوځل بیا له هغو افغانانو څخه چې په موقتي توګه دیو شمیر دلیلونو له مخې دپاکستان په خاوره‌او دنورو ګاونډیو هیوادو په خاوره کې اوسیږي‌غوښتنه کوي چې خپل‌وطن ته راستانه‌شي او ټینګار کوي‌چې **دهغې عمومي بخښنې له‌مخې‌چې د (۱۳۵۸) کال دجدي په‌یوولسمه نیټه دحکومت په‌لومړۍ اعلامیه**

کی او له هغی څخه روسته اعلامیو کی ابلاغ شوه د هغوی درناوی کیږی او د هغوی پوره آزادی او خوندی توب تضمینیږی .

او په‌آزادانه توگه‌دخپل ژوند انه‌ځای او کسب تاکلی شی داسی چه‌دهغوی له پاره به‌تهولی ضروری اسانیتاوی برابری شی.

دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت له‌پاکستان مقاماتو او نورو گاونډیو هیواد و له مقاماتو څخه‌غوښتنه کوی‌چی افغانستان ته‌ددغو کسانو د راستنیدو له پاره‌لازمی اسانتیاوی برابری کړی سره د دی هم که‌چیری له‌د غو افغانا نو څخه ځنی و نه‌غواړی خپل‌وطن ته‌راستانه شی نو کیدی‌شی په‌هغو پوری مربوطی‌مسالی‌هم‌ددوه اړخیز وخبرو په جریان کی‌حل شی.

۳:دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت ددواړو خواو و د منلو وړحلو لو یوی لاری ته درسیدو سرمسم لکه‌چی لوسړی اودویمه مفرده‌کی وویل شول او-ا فغانستان او دهغه گاونډیانو ترمنځ داړیکو اعاده کیدو سرمسم به‌چمتووی .چی‌دهغو مسالو په گډون چی‌یوه زیاته سوده داختلا فونوسوضوع دەددوه اړخیز واړیکو نوری مربوطی مسالی وڅیړی .

۴—دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت چی‌له‌هیڅ ډول مځکنیوشرا یطوڅخه پرته‌له خپلو گاونډیو هیوادوسره دوه اړخیز و خبرو پیشنهادکوی په‌کلکه دی ته سترگی په‌لاردی چی‌دهغو په‌جریان کی‌لویدلوسره‌دافغانستان پرخلاف له‌دښمنی ډک‌فعا لیتونه دوام ونه‌کړی .

په‌همدی ډول دسیاسی حل دعملی په‌پیل سره دهغو دولتونو له‌خواچی په دغولاس وهنو کی‌برخه‌لری . دافغانستان په‌کورنیو چاروکی‌دوسله والولاس‌وهنواونوروډول ډول لاس وهنو دبندولو ثبوت له‌پاره‌عملی‌تدبیرونه‌نیول کیږی .

٥ــ دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت عقیده لری چی دافغانستان او پاکستان او ایران ترمنځ په یولړ دوه اړخیزو موافقو بر سیره دځینو دولتونو له خوا سیاسی لازم ضمانتونه چی دافغانستان او په دوه اړخیزو موافقو کی دنوروشاملو اړخونو له پاره د منلو وړوی باید دسیاسی حل یوه نه بیلید ونکی برخه وبلله شی چی له هغو څخه دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت په عقیده دشوروی اتحاد او امریکا د متحدو ایالاتو نوم اخیستلای شو ددغو تضمینونو اساسی مضمون باید دغه ټکی وی چی ضمانتکوونکی هیوادونه په ـ خپله دافغانستان پاکستان او ایران ترمنځ دد غو دوه اړخیزو موافقو دملاتړ احترام او په خپل صلاحیت کی دهغو ملاتړ وکړی ترکومه ځایه پوری چی دامریکا دمتحدو ایالاتو په تضمین پوری اړه لری دغه شان تضمینونه باید په ډاګه دهغو فعالیتونو په ګډون چی ددریم لړو هیوادو له خاوری څخه په کارا چول کیږی دافغانستان پر خلاف دوران کارو ــــ فعالیتونو دبندولو په باب په څرګندښو یو مکلفیتونو کی شامل دی .

٦ــ دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت اعلاموی چی دسیاسی حل په چوکاټ کی له افغانستان څخه دشوروی اتحاد دمحدود و پوځی قطعاتو دوتلو پوښتنه بایدحل‌شی . ددی خبری بندول او تضمینول چی پوځی تیری او د افغانسـتـان په کورنیو چارو کی دلاس وهنی نوری بیا تکرا رنه شی هغه عو امل له مینځه وړی چی دافغانستان حکومت یی دی ته اړ کړ چی لشوروی اتحادڅخه خپلی خاوری ته ددغو قطعاتو را لیږل وغواړی په مشخصه توګه له افغانستان څخه دشوروی اتحاد دقواو دوتلو مسا له‌دافغانستان او پاکستان او افغانستان‌اوایران ترمنځ ددوه اړخیزو موافقو په‌ارتباط کی‌دګټورو تضمینونو د پوښتنی په حل پوری اړه لری .

٧ــ دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت په‌داسی حال چی دهندپه سمندراو د فارس په‌خلیج کی‌دمتحدو ایالاتو دپوځی شته‌والی دزیا تیدو له‌امله دنورو دولتونو په اندیښنه کی‌شریک دی دسولی په‌سیمه ددغی سیمی دبدلولو او په هغه ځای کی دټولو

پوځي اډو دړنګولو دموبوطو پیشنهادونو ننګه کوی او د هغوی تدبیر و نو ملاتړ کوی چی دکړکیچ کموالی او دهغه دامنیت دټینګښت په غرض نیولی کیږی .

دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت دسیاسی حل دپاره ددغو پیشنهادونو په وړاندی کولو سره یوځل بیا اعلاموی چی دافغانستان په ګټو پوری په مربوطو مسالو باندی دافغانستان حکومت له ګډون پرته او یا په هغه باندی دسترګو په پټولو سره خبری نشی کیدی او حل کیدی نه شی له دی سره جوخت دافغانستان حکومت دخبرو دپیل دپاره دلاری اسانولو په مقصد د نورو دولتونو کوښښونه ګټوربولی پدغه ارتباط دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت له هغه نوښت څخه چی دکیوبا دجمهوریت په وسیله چی د ناپیلتوب دغورځنګ درئیس په توګه دهغه دواک په چوکاټ کی شوی او دغه راز دهغه جمهوریت دګټورو کوښښونو هرکلی او ننګه کوی . دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت هیله لری چه دسیاسی حل اساسی پروګرام لکه چه دافغانستان له خوا پشنهادشوی دایران د اسلامی جمهوری حکومت له تفاهم او ښه عکس العمل سره مخامخ شی دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت دی ته سترګی په لاره دی چی له پاکستان سره د مناسباتو د عادی کولو لپاره دهغه پیشنهادونه د پاکستان دحکومت له سم او مثبت عکس العمل سره مخامخ شی.

په هغه صورت کی امکان پیدا کیږی چی ددغو مسالو حل دخبرو له لاری په عملی توګه پیل شي.

۱۳۵۹ ثور ۲۳

## ۲ـدا . د ج دحکومت اعلامیه

دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت یوځل بیالازم بولي چي په اصطلاح د افغانی گډوالو دقضیې په باب خپل دریځ په دی ډول بیان کړی :

هغه مثبت بدلونونه چي په افغانستان کی دثور انقلاب په نوی پړاو کی پیل شوی دی د هیواد زیارکښو خلکو دپراخو پرگنو له خوا له پخوا زیات درک او دملا تړ وړ گرځی.

دغه بدلونونه په هیواد کی دوگړنی حکومت دپیاوړتیا داقتصادی پرمختیا دځمکو د اصلاحاتو دتطبیق او د نظم او قانون دټینگښت او دحالاتو داعادی څرگندوی دی .

دملی او وطنپالو ځواکونو جرگه چي په دی وروستیو وختونو کی د پراخی پلار وطنی ملی جبهی دبنسټ ایښودلو په غرض ددغه وا حدمحور په شاو خوا ندی زموږ دحفیظ الله امین دټولنی او په هیواد کی دحالاتو دټینگښت دلیل د هغو کسانو له پیزراتښتیدل دی چي دحکومت دویری او ډار دحالت له امله د ۱۳۵۸ کال د جدی له شپږمی نیټی څخه مخکی له وطن څخه تللی وو. یوازی په دی وروستیو وختو کی په لسگونو زره تنه دښارونو او کلیو اوسیدونکی وطن ته راستانه شول او ددغو راستنیدو لواند ازه ورځ په ورځ دزیا

ـتوالی پهحال کی ده، خو دثور انقلا ب دښمنانو دناوړو او درو غجنو تبلیغاتو داغیزو پهنتیجه کی یوه برخه هغه افغانان چی لهوطن څخه تللی وو تر اوسه پوری له هیوادو څخه پهبهرکی پاتی دی .

دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت پهد اسی حال کی چی دزړه لهکومی هیله کوی چی هغوی هم ډیر ژر خپل وطن کورونو او کورنیو تهراشی یوځل بیاددی هیواد ټولو وطنوالو او بچیانو تهچی پهسوقتی توگه دغولوونکو تبلیغا تو او د پخوانیو ظلمونو پهنتیجه کی په غربت کی لویدلی بلنه ورکوی چی وطن تهراستانه شی او دهغو کسانو دعمومی بخښنی په باب چی لاسونه یی د خپلو وطنوالو پهوینو کی ککړ شوی نهوی د افغانستان دحکومت لهفیصلی څخه استفاده وکړی .

دغه عمومی بخښنه مخکی اعلام شوی او پهدوامد اره توگه دتطبیق وړده .حکومت تضمینوی چی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت داساسی اصولو لهمخی به دد غوکسانو لپاره ځانی امنیت ،داستوگنی دځای دکارډ ول دټاکلو، آزادی او د ځمکو داصلاحاتو له تطبیقاتو څخه دپیدا شویو دځمکو دمسالو په حل کی دحقوقو برابری او دنوی او سمسو ر افغانستان پهجوړښت کی په وطنپالو نکی روحیهپهعامه چارو کی دهغوی دسیاسی برخی اخستنی او د هیواددفاع پهلارکی دگډون امکان ورکړشی.

دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت لههیوادڅخه د بهر افغا نانو د منلولپاره دتیاری پهاعلانسره څرگند وی چی هغوی بهزموږدگران وطن دسوکالی پهخاطر دپتمن ژوندانه دټولنیز کاردگټور فعالیت ټول لازم شرایط تامین شی.

حکومت دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت داساسی اصولو لهمخی یوځل بیاتضمینوی چی دکوچیانو قبایلو اوما لدارانو لپاره نهیوازی لهځړځایونو څخه پهعادلانه توگهوړ یا استفاده برابریږی بلکی په هیواد کی دهغوی دآزاد حرکت پرحق باندی ټینگار کیږی.

دافغانستان حکومت هغه خنډونه چی پهدی وروستیو وختونو کی پاکستان تهله افغانستان

ښځه او ددی پر عکس د کوچیانو داوسینو تلو را تلو په لاره کی پیداشوی غندی .

باید څرگندشی هغو مثبتو بدلونو نوچی په هیواد کی دسر ته رسیدو په حال کی دی او له وطن ښځه دبهر افغانانو و رځ په ورځ زیا تیدو نکی را ستنیدلو دامپر یالیستی او ار تجاعی ټولنو دغوسی سببو نه برابر کړی دی .

هغوی غواړی چی ددغه بهیر په لاره کی ستو نزی پیدا کړی او د هغوی اجنټا ن ددی غرض لپاره ، په تر و ریستی او له گوا بڼ نه ډکو فعا لیتو نو لاس پو ری کوی .

دمثال په توگه له هغو افغانانو ښځه چی په بهر کی او سیږی په زو را و جبر افغانستان ته دصدو ر لپاره اجیر ان گو ماری .

یو ازی دپا کستان په خاو ره کی په او سنی و خت کی داجیر و ترو ر یستانو په لس گونو پو ځی ار دو ځایو نه او درو زنی مر کز و نه شته چی امر تیکئ یی، چینایی، پا کستانی' مصری ا و نور ښو و نکی هغوی ر و زی .

ذافغانستان دمو کر اتیک جمهو ری حکو مت گاو نډیو هیو ادو نو ته بلنه و ر کوی چی – افغانی ضد فعالیتو نه پای ته و رسوی او خپل وطن ته د کو چیانو داو سنی حر کت او دافغانانو دستنیدلو په لاره کی خنډو نه پیدانکړی ، چی البته دغه شان کار به دغه هیو اداو افغانستان تر منځ اړ یکو له اعا دی سر ه هم مر سته و کړی .

دافغانستا ن دمو کر اتیک جمهوری حکو مت په دی اعلامیه کی هم په خپل هغه د ریځ چی پخوا یی د ۱۹۸۰ کال دمی په څوار لسمه نیټه څر گند کړی و یو ځل بیا ټینگار کوی او چمتو دی چی ددغه د ریځ پر بنسټ له گاو نډ یو هیو ادو سر ه دخبر و دمیز تر شا کښینی او پر هغو مسالو خبری و کړی چی په سیمه کی د کړ کیچونو دپیدا کیدو سبب گیږی .

دافغا نستان دمو کر اتیک جمهوری حکو مت ډاډلری چی ددغی سیمی دهیو اد و تر منځ په ر ښتینی تو گه دښه گاو نډ یتوب داړ یکو دټینگید لو له لاری دغیر لا زمو خنډو نو لری کو ل په سیمه او ټو له نړی کی دگټو سو لی او امنیت ځواب و ایی.

# ۳ـ دا . د . ج د حکومت اعلامیه

> «دا .د . ج د وزیرانو شورا د ۱۳۵۹ د سنبلې په دوهمه لـه غرمې وروسته د وزیرانو د شورا رئیس ملګري سلطانعلي کشتمند په مشرۍ د وزیرانو د شورا په مقر کې غونډه وکړه.
> په دې غونډه کې دا.د.ج د بهرنیو چارو وزیر ملګري شاه محمد دوست دا.د.ج حکومت د بهرني سیاست په باب یو مفصل رپوټ وړاندې کړ.
> په دې غونډه کې د وزیرانو شورا د سیاسي حل و فصل د مسالې په باب دا.د.ج حکومت اعلامیه د رأیو په اتفاق تصویب کړه : »

۱ــ د سیاسي حل و فصل ستر هدف او اساسي محتوا باید دافغانستان په کورنیو چارو کې له بهر څخه د وسله والو لاسوهنو او نورو لاسوهنو د بهو پوره او ډاډه بندول او په راتلونکي کې د هغو د نه تکرار لپاره د باورو ړ تضمین تشکیل کړي .

۲ـ په دې علت چې په اوسني وخت کې په افغانستان کې وسله وله لاسوهنه او نور تخریبي عملونه له تولو زیات د پاکستان له خاوري څخه کیږي دافغانستان ددموکراتیک جمهوري حکومت غوښتلی دپاکستان حکومت ته پیشنهاد کړی او بیا هم پیشنهاد کوي چې

ددده اړو هیوادو استازی داړیکو دعادی کولو په لاره کی دموافقی د ترلاسه کولو په غرض دخبرو دپیل دسربوطو مسالو په باره کی خبری وکړی .

دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت به چمتووی چی ددغه شان خبرو په جریان کی نوری هغه مسالی هم ترغور لاندی ونیسی چی د افغانستان او پاکستان ترمینځ شته چی دافغانستان او پاکستان ترمینځ اړیکی عادی شی ثبات او ارامی تامین شی.

دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت یوځل بیاددواړو هیوادو ترمینځ دسوداگری ، اقتصادی همکاری اوترانزیت دمسالو او فرهنگی اړیکو په گډون ددوستانه اړیکو او په متقابله توگه دگټورو هراړخیزو همکاریو دپرمختیاپه باره کی دموافقه لیک دتدارک په غرض دخبرو د پیل لپاره دایران اسلامی جمهوری حکومت ته دخپل پیشنهاد په باب ټینگار کوی .

دافغانستان او پاکستان او افغانستان او ایران ترمینځ موافقه لیکونه بایدملی حاکمیت ته دمتقابل احترام، دنه گاونه یتوب داصولو پر بنسټ داړیکو دودی لپاره د تیاری او دیوبل په کورنیو چارو کی دنه لاسوهنی په باب دتولو دمنلو وړ اساسات احتوا کړی ودغه راز دیو هیواد پرضد دبل هیواد له خاوری څخه دوسله وال فعالیتونو اودنورو له منځه وړلو د هرډول فعالیتونو دمنع کولو په لاره کی مشخصی ژمنی پکی وی .

۳-- دا. د.ج حکومت به دپاکستان او ایران دلوری دتمایل په صورت کی له پاکستان او هم له ایران سره ددواړخیزو خبرو دپیل گټورتیاته په ترجیح ورکولو سره چمتووی چی په دری اړخیزو خبرو هم پیل وکړی .

خو دخبرو د کولو لپاره ددغو هیوادو دیو هیوادنه تمایل باید دهغوی ترمینځ دمربوطو موافقو دترلاسه کولو لپاره دافغانستان او دریم هیواد ترمینځ دمفاهمی دپیل لپاره او دغه راز ددغو موافقو دوروستی تحقق لپاره کوم خنډنه وی .

څرگنده ده هغه هیواد چی لومړی له خبرو څخه ډډه کوی کولای شی وروسته له هغو سره

په یوځای کې اویادافغانستان لەد مو کر اتیك جمهوریت سرەمستقلی خبری و کړی .

دافغانستان دمو کر اتیک جمهوری حکومت ددی مخالف ندی چی دملګر و ملتو دمو سسی سر منشی او یاد هغه استازی دپاکستان او ایر انله حکومتو نو سره د افغانستان ددمو کراتیک جمهوریت پەخبر و کی کەدغه خبری دواړه او یادری اړخیزی وی ګډون و کړی .

۳— دافغانستان دمو کر اتیک جمهور ی حکو مت بەلکه څنګه چی دعمو سی بخښنی پەباب دانقلابی شو را درئیسه هیات د ۱۳٦۰ کال دجو زا د۲۸ نیتی پەفرمان کی چی د۱۹۸۱ کال دجون له۲۸ سره سمون خوری او دا .د.ج په نو رو رسمی سندو نو کی یی یادو نه شوی هغه شمیر افغانانو تەچی دبیلوبیلوعلتو نو لەمخی دپاکستاناویادنو روګاونډ یوهیوا دو په خاو ره کی پەموقتی توګه ژوند کوی وطن ته دهغوی درا ستنیدلو په صو رت کی پو ره آزادی او مصونیت تامین کړی . .

دا.دج .حکو مت ددغه را ز کسا نو لپاره امنیت داستوګنی دځای دغو ره کو لوآزادی دځمکو اصلاحاتو په چوکا ټ کی دځمکی دمسالی پەحل و فصل کی بر ابرګډون تضمینوی اوَ دهغوی لپاره بەدژ وند ' کار او دوطن پەګټه دټو لنیز ګټورفعا لیت لازم شر ایط برابر کړی .

د کو چیانو قبایلو اومالدارانو لپاره نەیوازی لە مر اتع څخه دو ړیا او عادلا نەاستفادی حق بلکی په هیو ادکی دآزاد تګ راتګ حق تضمینیږی.

دغەرا زلەافغانستان څخەپاکستا ن تەاو بر عکس د کو چیانو مو سمی ، عنعنوی تګ را تګ بایدبیله خنډڅخه عملیشی.

هغه دو لتو نەچی دهغو په خاو ره کی پەاوسنی و خت کی دافغانستان اتباع پەموقتی توګه استوګنه لری باید دافغانستان دديموکر اتیک جمهوریت پەنسبت ددښمنیٔ د هدفو نو خاطر لەهغویڅخه لەاستفا دی نەډډەو کړی او خپل وطن تەدبیلەخنډه ستنیدلو لپاره دهغوی حق تەدرناوی و کړی .

دا فغانستان دموکراتیک جمهوري حکومت اه خپلو ټولو ګاونډیانو سره ددې مسالې دعملي اړخونو په باب دخبرو لپاره خپله موافقه څرګندوي که سره له دې هم یوه برخه افغانان سینه و نلري چې وطن ته را ستانه شي، په دې صورت کې دهغوی په وروستي استوګنې پورې مربوطې مسئلې باید مربوطې موافقې ته د رسیدلو په غرض دخبرو په جریان کې مطرح شي.

۵—دسیاسی حل و فصل متشکله برخه باید دوسله والې لاسوهنې او دافغانستان په چاروکې دهر ډول بلې لاسوهنې دبندولو او نه پیل کولو په باب د ډاډ ورکوونکو بین المللي تضمینونو او موافقې وي.

هغه دولتونه چې دغه تضمینونه ورا ندې کوي باید پخپله په غوڅه توګه د دغه شان لاس وهنو له عملونو څخه ډډه وکړي او دخپل نفوذ او اعتبار څخه په استفادې سره د ترلاسه شویو موافقو سلاتړو کړي د دمقصد ولپاره تضمینونو کې دولتونه کولی شي مربوط سندونه طرح او تصویب کړي او په هغو کې ژمنه وکړي چې دافغانستان دحاکمیت او خپلواکۍ او دځمکې د تمامیت دحق او دیونا پیلیې هیواد په توګه دهغه دد ریځ درناوی وا ورعایت یې کړي ،دا.د.ج دځان له خوا دسولې او ناپیلتوب له سیاست سره خپل پلوي او له ټولو هیوا دواو په لومړي ځل ګاونډیو هیوادو سره ددوستانه اړیکو له پرمختیا سره خپل تمایل اعلاموي.

سره له دې چې دا.د.ج په اوسني وخت کې د تضمین کوونکو هیوادونو بشپړه ترکیب مخکې له مخه نه ټاکی دپخوا په څیر عقیده لري چې د شوروي سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد او دامریکا متحدو ایالاتو او دغه راز ځینې نور هیوادونه چې هم دافغانستان لپاره او هم دهغه ګاونډیو لپاره چې له افغانستان سره خبرې کوي د منلو وړو ګرزي باید په دې ترکیب کې شامل وي . دبین ا لمللي تضمینونو او د نورو ټولو هغو مسئلو دحل طرح او

تنظیم چی دافغانستان لهگټو سره ا ړ یکی لری باید دافغانستا ن ددموکرا تیک جمهوری حکومت پهګډو ن صورت ومومی پهعین حال کی ا.د.ج حکومت ددی کار مخالفت نهدی چی د بین‌المللی تضمینونو پهطرح او تنظیم پوری دسر بو طومسئلو پهباب خبری دی دافغانستان، پاکستان او ایر ان تر منځ لهدوه اړخیز و یاد ری اړخیز و خبر و سره جو خت پیل او له هغه سره سم دی جر یا ن ومومی.

پهلو مړ یو پړ او و نو کی دغهشان خبری کیدلای شیچی دخواړخیز و غیر رسمی سلامشو ر و بڼه ولری او بیاپهیوه بین المللی سر بو طه غو نډه کی مطرح شی.

٦- دافغانستان پهکو رنیو چارو کی دوسله والو لاس و هنو او د لاس و هنی دنورو بڼو دتضمین شو یو بند یدو او نهتکر ار پهصو رت کیبه هغه علتو نه چی افغانستان یی‌مجبو ر کړ دشوروی جمهور یتو نو لهاتحاد څخه دافغانستان خاروی‌ته دخپلو پوځی محدو د و قطعاتو دلیږ لو غو ښتنه و کړی له منځه لاړ شی لهدی سرهسم سیاسی‌حل او فصل تهرسیدل دبین‌المللی تضمینونو دطرح او دتنظیم پهګډو ن بهدغه امکان بر ابر شی چی ددو اړو خو او افغانستان اوشو روی اتحاد دموافقی لهمخی‌له افغانستان څخه دشوروی دپوځی قطعاتو دستنیدلو دوخت او یا په بل عبارت دجدولونو تر تیب او تنظیم و ټا کل شی. دشوروی دپوځی محدو د قطعاتو ستنیدل بهدتر لاسهشو یو مو افقوله تحقیق سره جو خت صو رت و مو می پهدی تر تیب هر څومره چی دافغا نستا ن پهچارو کی د لا س‌و هنی د منع کو لو په باب مو افقی ژ رتر لا سه او عملی شیپه همغه اندازه بهبدشو روی پوځو نو وتل ژ ر پیل او تر سره شی اوبر عکس .

۷- لکه څنګه چې له پورتنیو سوارد وڅخه معلوسیږي دا . د.ج ژوره عقیده لري چې د-
افغانستان په باب دحالاتو سیاسی حل او فصل چې دهغه طرح تنظیم او عملی کول کیدلاي
شی پراو په پراوسرته ورسیږي نه یوازي دافغانستان دخلکو او دګاونډ یو هیوادو دخلکو
ګټوته څواب وایی بلکی د هغو کړکیچونو د لري کید لو سبب به شی چې په عموسی
توګه په سیمه کی پید ا شوي دي .
که چیري دبرخه و الو اکثریت موافق وي په دي ارتباط دا. د ج حکومت ددي مخالف
نه دي چې دافغانستان دشاوخو اسئلی په بین المللی اړخونودي دخلیج په سیمه کی د سولی
او ا منیت دتا مین له مسئلوسره یوځاي خبري وشی .
خود دغه شان خبر واو دواړو ، مسئلو دګډي څیړنی په باب نه موافقه باید دافغانستان په
باره کی دحالاتو دسیاسی حل او فصل دپیل د څنډ ولو سبب نشی .
۸- په هرډول دوه اړخیز و' دري اړخیز و اویا څواړ خیزو خبر و کی له هغو څخه په هغه برخه
کی چې له تضمینونو سره اړیکه لري په افغانستان کی په اوسنی نظام د هغه دحکومت
په ترکیب او یاد هغه په نورو کورنیو مسئلو پوري په مربوطو مسئلو خبري نه کیږي دغه
مسئلی یوازي دافغانستان دخلکو په وسیله نه د بل چاله خواحل کیږي او په راتلونکی کی به
همد سی وي .

## ۸ــ د ا . د . ج . دحکومت اعلامیه

دمارچ له‌نهمی سره سم دحوت دمیاشتی په۱۸ نیټه دامریکا دمتحدو ایالاتو جمهور رئیس رونالډریګن دامریکا خبریالانو او د تلویزیون استازوته په یوه مطبوعاتی مرکه‌کی په ډاګه وویل: په‌داسی حال‌کی چی‌په‌اصطلاح افغانی مجاهدین‌چی د امریکا دجمهوررئیس مقصد غله‌او دافغانستان دانقلاب ضد اجیران دی‌دامریکا متحدو ایالاتو څخه وسله‌او جنګی وسایل وغواړی دده حکومت به‌دغه غوښتنه ترغوراو پاملرنی لاندی ونیسی دغه‌شان څرګندونی‌یوه ورځ هم دامریکا دمتحدو ایالاتو ددفاع وزیر واین برګرله خوا شوی وی البته دایو څرګند کاردی چی دامریکا امپریالیستی ټولنه‌له‌هماغه‌پیل څخه د افغانستان دملی او دموکراتیک انقلاب په‌وړاندی په‌څرګنده دښمنی‌غوره کړیده .

دامریکا دمتحدو ایالاتو دسیاسازمان دثورله‌انقلاب وروسته سملاسی‌د ا .د ج پرخلاف دوسله والو پراخولاس وهنو اولمسونو په تنظیمولو پیل وکړ.

دسیا سازمان وظیفه ترلاسه کړه دپاکستان په‌خاوره‌کی داشرارو او انقلاب ضد ډلی‌تنظیم ، وسله‌والی او سمبالی کړی .

دغه رازدسیاسازمان لەخپلو اجیروګوډاګیانو څخه پەاستفا دی‌سره‌هلی‌ځلی وکړی‌چی داشرارو ډول‌ډول ډلی دافغانستان دانقلاب ضدپه یوواحدو را نکاری جسم با ندی بدلی کړی کیمیاوی وسلی‌په ګهون د امریکا وسلی او جنګی مهمات لەبیلو بیلو لاروڅخه داشرار واو اجیرانو دمرکزونو پەلور ولیږدول‌شول .

حفیظ الله امین دغەد متحده ایا لاتو د (سی .ای .ای ) دمعلوم الحا لەجا سوس لەمرګ وروسته د۱۹۷۹ ددسامبر لەاووه‌ویشتمی سره‌سم د ۱۳۵۸ دجدی‌پەشپږمه نیټه‌دثور انقلاب نوی او بشپړ تیایی پړاو پیل‌شوچی دثور انقلاب لەضد باندو نو او عناصر وسره دامریکا دملاتړ اندازه زیاته شوه .

پەهرحال ـ دافغانستان پەکورنیو چاروکی دامریکا لاس وهنه تر اوسه پوری په خصوصیت‌درلود او دامریکا دمتحدو ایالاتو رسمی تولنی دافغانستان دانقلابی ضد عناصروپه فعالیتونوکی هرډول مستقیمه برخه اخیستنه‌رد وله.

دریګن پە مشری دامریکا نوی حکومت تصمیم ونیوچی پەډاګه دافغانستان دانقلابیو نو ضدپه‌ځنګ کی ودریږی او ا.د.ج پەکورنیو چاروکی دخپلی لاس‌وهنی سیاست دیو رسمی سیا ست په توګه اعلام کړی .

دا.د. ج پەوړاندی دامریکا دمتحده ایالاتو دسیاست دغه بدلید نه دبین الدول دحقوقو لەاساسی مو ازینو او د ملګرو ملتوله منشورڅخه دیوی څرګندی سرغړونی څخه پرته‌بل نەشی تعبیرکیدای .

دغه دریځ دمتحدو ایالاتو دامپر یالیزم دماجرا غوښتنی او تیری کوونکی نړیوالی ستر اتیژی یوه برخەده چی‌هدف یی‌دامپر یالیز م پەګټه دقو او دانډول بدلون ،ددیتانت دبهیر پەشارا ګرځول . دوسله والو زورازمویلو زیاتوالی او دپر مختیایی هیوادوخپلو اکی اوملی حاکمیت ته دخطر مخامخ کول دی .

څرګنده دەچی دامریکا امپر یالیز م دهندپه سمندراو دخلیج پەسیمه کی‌خپل پوځی‌فعالیتونه

زیات کړل او په‌مصر ،عمان صوما‌ل او کینیا کی په بیړه دپوځی او دیوی شبکی د جوړولو په‌حال کی‌دی او له هغه‌سره جوخت یی‌دخلیج په‌سیمه کی دتیلو دزیرمو دساتلو په پلمه په‌اصطلاح چټک گوزار یز قوت په‌جوړولو پیل کړی دی .

دامریکا نوی حکومت دافغانستان په‌باب هڅه کوی‌له همغه چال چلنداو سیاست نه‌کار واخلی چی دنړی په‌نورو برخوکی و رڅخه استفاده کوی . یعنی دوسله‌وال سیاست او لاس‌وهنی له‌چال چلند څخه دمترقی رژیمونو دبی ثباته کولو او د کتاتوری ا وگوډاګی نظامونه درا منځته کولو او تهګبنت لپاره هلی‌ځلی.

خو هغه وخت تیر شویدی چی‌دامریکا امپریالیزم دنړی په‌سوله دوستو هیوادونو باندی دخپلی ازادی ضد عملی کول، وا شنګتن نورنشی کولی په نورو ملتونو باندی دخپلی خوښی وړ رژیمونه‌ومنی.

په‌نړی کی دپوځ انحلول نن داسی دی چی دامریکا دامپریالیزم ماجرا غوښتونکی‌او تیری‌کوونکی نقشی په‌ناکامی محکومی دی ځکه امریکا ملاتړ وکړی که‌ونه کړی‌د افغانستان دپرتمین انقلاب ددشمنانو ناولی پلان به دخلکو او افغان اردو دمبارزی له امله په اوبو لاهو شی باید و وایو چی دا .د.ج په.کورنیو چاروکی دامریکا دمتحدوا یالاتو دغه‌راز څرګندی او دسپین سترګی نه‌ټکی لاس‌وهنی‌به یوازی له سیاسی لاروڅخه د افغانستان په‌خوا او شاکی دحالاتو دسیاسی حل دځنډیدو سبب شی چی‌دهغی په‌باب دمتحدو ایالاتو سیاست مداران پته‌خوله‌دی.

ددی پرځای چی دمسلی د حل‌لپاره مناسب شرایط پیداشی دامریکامتحده‌ایالات‌اختلافونو ته په‌لمن و هلوسره حالات نورهم خرابوی چی البته‌دمتحدو ایالاتو له‌دغه چال‌چلند څخه‌پیدا شوی مسو لیت به په‌خپله هغه هیواد ته‌متوجه‌وی .

## ٥ـ دا . د . ج . دبهرنیوچارودوزارت اعلامیه

**دبهر نیــو چارو وزیر مــلگــری شاه محمد دوست د ۱۳٦۰ کال دثور ۲٤ نیټه په یوه مطبوعاتی مرکه کــی چې دبهر نیو چارو په وزارت کــی دکورنیو بهر نیو ، ژور نا لستانو په ګډون وشوه ګډون وکړ. اولــه ایران او پاکستان سره داړیکو دعادی کیدلو په باب یی دا.د.ج د حکومت د ۱۹۸۰ دمی ۱٤ نیټی دپیشنهادونو په ارتباط د خبر یالانو پو ښتنوتــه ځواب ورکړ دبهر نیو چارو وزیــر ددغی مطبو عاتی مرکې په پیل کی پدی برخه کی دا.د.ج دولت دبهرنیوچارو دوزارت دغه اعلامیه ولوستله.**

دا. د.ج دثور انقلا ب په تیر ء بیا دهغه دنوی بشپړ تیایی پړ او دلو ړو اصولو او اساسانو په پیر وی په غو خه تو ګه او ثبا ت سر ه سو له غو ښتو نکو او د نړی له ټولو دولتونو سره دسو له ییز ګډژ و ند او هر اړخیزی همکا ری بهر نی سیاست تعقیبوی .

دثو ر انقلاب دنوی بشپړ تیایی پړ او له پیل څخه دا .د .ج په یو لړ نو ښتو نو بر یالی شوی او داسی ګامو نه یی پر مخ اخیستی دی چی هد ف یی د اسیا په جنوب لو یدیځه سیمه کی د حالاتو عادی کیدل دی .

البته دا یو څرګند کار دی چې زمونږ په سیمه کې حالات دافغانستان دانقلاب پر ضد دامپریالیزم او هژمونیزم ددسیسو او توطئو په نتیجه کې خراب شویدی دغه منابع دګاونډیو هیوادو له خاوری څخه دا. د.ج پر ضد دوسله والو لمسونو او تیریو له پاره د ټوپ دیو تختې په توګه کار اخلي. او دګاونډیو هیوادو په خاورو کې دافغانستان په ضد اجیر باندونه په وسلو سمبالوي او روزي یې هغوی هره ورځ افغانستان ته رالیږي چې د افغانستان دخلکو په وړاندې له زور زیاتی نه ډک وحشیانه عملونه وکړي. له ګاونډیو هیوادو سره

دسوله ییزو لارو د مناسباتو داعادې په اراده سره او ددغو هیوادو خاورو څخه د افغانستان ضدفعالیتونو دختمولو په لاره کې په هلوځلو سره دا.د.ج حکومت یو کال مخکې د ۱۹۸۰- کال دمې په ۱۴ نیټه یو لړ پیشنهادونه چې هدف یې دافغانستان دشاوخوا حالاتو یو سیاسي حل او له پاکستان او ایران سره دمناسباتو عادي کول دي وړاندې کړل. دا.

د.ج.حکومت د ایران حکومت ته پیشنهاد وکړ چې ددواړو هیوادونو منځ ددوستانه اړیکو او د هراړخیزې متقابلې ګټورې همکارۍ د پرمختیا دښه والي په غرض دیوې مناسبې موافقې دبرابرولو په باب مستقیمې خبرې وکړي.

دغه راز دا.د.ج.حکومت دپاکستان حکومت ته دخبرو رکولو پیشنهاد وکړ چې هدف یې دا.د.ج.او پاکستان داړیکو دعادي کیدو په باره کې ددوه اړخیزو موافقو برابرول دي. دا.د.ج.حکومت دهغه شمیر افغانانو دستونزې دحل په خاطر چې دبیلو بیلو دلیلونو له مخې په موقتي توګه دپاکستان او دنورو ګاونډیو دولتونو په خاوره کې یې استوګنه غوره کړیده دپاکستان او دنورو ګاونډیو دولتونو له مقاماتو څخه وغوښتل چې په آزاده توګه افغانستان ته دهغوی د راستنیدو په لاره کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.

دغه راز تیاری یې څرګند کړ چې پدې برخه کې دخبرو ورسالي دد وه اړخیزو خبرو په جریان کې مطرح کړي. دا.د.ج.حکومت دعمومي بخښنې له مخې هغوی ته امنیت آزادي او

داستوگنی دغوره کولوحق تضمین کړ اود هغوی دژوند اوگټور کارلپاره یی‌ټول‌لازم شرایط برابر کړل .دغه راز دا .د.ج.حکومت پیشنهاد وکړچی دافغانستان او پاکستان افغانستان او ایران ترمنځ په دوه اړخیز وموافقو سر بیره دځینو هغو دولتونو لخوا چی افغانستان او دموافقی دشاملو اړخونو دمنلو وړشی مناسب سیاسی تضمینونه باید دسیاسی حل یوه‌برخه وی . په تضمین کونکوکی دشوروی اتحاد اومتحده ایالاتو نوم‌اخیستل شوی ؤ . تر هغه ځای پوری چی دامریکا لخوا په تضمینونو پوری اړه پیدا کوی ایجابوی چی ژمنه وکړی چی‌ددریم هیواد له‌خاوری څخه ددغه شان فعالیتونو په‌گډون هیڅکله دافغانستان پرضد دورانکاری فعالیت‌ونه‌شی.

دا .د.ج.حکومت اعلام کړه‌چی دیوسیاسی حل په‌چوکاټ‌کی له‌افغانستان څخه‌دشوروی عسکرو د محدو ودوقطعاتو د تګ پوښتنه مطرح شوی حل شی او ټینګاریی وکړ چی د افغانستان‌په‌کورنیو چاروکی د پوځی یرغلونو اودلاس وهنی دنورو بهو دنه‌پیدا کید و بندول او تضمین ته‌هغه اسباب اودلایل له‌منځه یوسی‌چی له‌شوروی اتحاد څخه د دغو محدود وقطعاتو دبللوسبب شوی دی له هیڅ ډول مخکنیو شرایطو نه‌پرته له گاونډیو هیوادوسره ددوه اړخیزه‌خبرو د سرته‌رسیدولپاره دتیاری په‌څرګندولو سره دا .د.ج. حکومت تصور کاوه چی دافغانستان په وړاندی به‌د دغو هیوادونو سلوک ددښمنی له فعالیتونو سره‌ملګری نه وی او دسربوطو دولتونو لخوا به‌دا فغانستان په‌خاوره‌کی دهر ډول وسله‌والی لاس‌وهنی دپای‌ته رسیدو په‌غرض‌عملی‌تدبیرونه ونیول شی .

دافغانستان دشاوخوا حالاتو د سیاسی‌حل جوړونکی پیشنهادونه چی د۱۹۸۰دمی په څوارلسمه نیټه دا . د.ج لخوا وړاندی شوی وودنړی دټولو مترقی اوسوله دوستو هیوادونو لخوا پراخه هرکلی وشو. دغه‌رازدغه پیشنهادونه‌په پانګوالولویدیځو هیواد و کی دواقعبینوسیاستمدارانو لخوا په مثبت ډول وڅیړل شول .په‌تیرکال کښی دا .د.ج.

حکومت د ۱۹۸۰ کال دمی دخوارلسمی نیټی داعلامیی په‌خپر یدوسره خپوسوله ییزو نوښتونوته پرله پسی او په غوخه توګه دوام ورکړاود خپلو پیشنهاد ونو تطبیق په لارکی یی چی مقصد یی له ګاونډیو هیوادونو سره د اړیکو عادی کول دی ټینګ ګامونه پورته کړی دی د ا . د . ج . حکومت په مستقیم ډول دپاکستان او ایران له حکومتونو څخه غوښتنه وکړه او هغوی ته ئی بلنه ورکړه چی ممکن په‌چټکی سره دهغوستونزو دحل په‌خاطر دوه اړخیزی خبری پیل کړی چی موږ سره جلاکوی دافغانستان حکومت په‌ټولو بین‌المللی مهموټولنو کی‌خپل پیشنهادونه بیان او تشریح کړل . دمثال په‌ډول د ۱۹۸۱ کال دفبروری دمیاشتی دملګرو ملتو دټولنی دعمومی اسامبلی پنځه دیرشمه غونډه په‌نوی ډیلی کی‌دناپیلو هیوادونو د بهرنیوچارود وزیرانو جرګه او نوری غونډی چی دهغوی مثالونه دی .

په‌دغه پیشنهادونو باندی یوځل بیاپه تیره فبروری کی‌په طایف کی داسلامی جرګی دټولنی ددولتونو دمشرانو دغونډی په‌ارتباط دافغانستان دموکراتیک جمهوریت د بهرنیو چارودوزارت په‌اعلامیه کی ټینګار وشو .

دافغانستان دموکراتیک جمهوریت دحکومت په سوله ییز نوښتبا ندی د ۱۹۸۰ کال داکتوبر په‌شپاړسمه نیټه دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت او شوروی اتحاد په اعلامیه کی‌یوځل بیازیات ټینګار وشوچی دشوروی حکومت لخوا یی پوره ملاتړ وشو. دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت د ۱۹۸۰ کال دمی دمیاشتی دخوارلسمی نیټی له‌خپلو تاریخی پیشنهادونو څخه هیڅ کله‌یوانچ هم پاشانه دی تللی چی‌په خپل‌ذات کی دنوی‌او انقلابی‌افغانستان‌دبهرنی‌سیاست‌دوفادا ری دا صولو خصوصیاتو او امانت داری څرګندشاهد دی بایدوویل‌شی‌چی دپاکستان حکومت ځوځله په یوځه‌مبهمه اراده د

افغانستان له دموکراتیک جمهوریت سره د تماسونو او خبرو له پاره خپل تیاری وښود خو هر وخت چې د افغانستان د دموکراتیک جمهوري حکومت د دغو طرز العملونو هرکلی وکړ پاکستانیو مقامونو نوی شرایط وړاندې کړل چې د افغانستان او پاکستان د خبرو تحقق یې ناممکنه کاوه د پاکستان د دغه دریځ له غوره کولو څخه داسې بریښي چې پاکستاني مقامات د افغانستان له حکومت سره په خبرو کې څه مینه نلري بلکې د مسئلې په خوا او شاکې یوازې تبلیغاتي تمرینونه په کار اچوي یو وخت یوګام پرمخ اخلي او بل وخت دوه درې ګامې پرشا ځي. خو افغانستان په خپل وار ددې پلوي وچې د پاکستان مقامونو غوښتنې پدې مقصد چې په هغو ستونزو باندې چې د پاکستان لخوا ئې اشاره شوې بریالی شي .

د افغانستان دموکراتیک جمهوریت حکومت چې تل پراخ نظر لري او تیار دی د سیمې د حالت د سیاسي حل او د دوا ړو هیوادونو ترمنځ مناسباتو عادي کولو په ارتباط له جوړو ونکو پیشنهادونو باندې خبرې وکړي . د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د بهرنیو چارو د وزارت وزیر شاه محمد دوست په تیره فبروري کې د نا پیلو هیوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو په جرګه کښې د ګډون په غرض نوي ډیلي ته در سیدو په وخت کښې په ډاګه اعلام وکړ چې افغانستان چمتو دی له پاکستان او ایران سره له هیڅ ډول مخکنیو شرطونو پرته خبرې وکړي.شاه محمد دوست ټینګار وکړ چې هیڅوک باید د خبرو د کیدو لپاره زمونږ د ښه نیت او نیکې ارادې په باب شك او تردید پیدا نه کړي . د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د اصولي سیاست له مخې حاضر و د پاکستان او ایران له استازو سره د ملګرو ملتونو د موسسې د سرمنشي ډاکتر کورت والدهایم یاد هغه استازي په حضور کې وګوري خو تراوسه پوري د افغاني لوري د غه نرم دریځ ته د ایران او پاکستاني مقاماتو لخوا هیڅ ډول عکس العمل نښته . له وروستیو پیښو څخه داسې بریښي چې د افغانستان د شاو خوا حالاتو د سیاسي حل په لاره کې ستر خنډ د ناتو د امپریالستي ټولنو تیري کوونکي سیاست په تیره بیا د امریکا د متحده ایالاتو سیاست دی . د امریکانوي حکومت

مشر یې ریګن دی او د بین الدول د قانون له اساسي نورمونو او د سلګرو ملتو له منشور څخه یې د «... سختې سرغړونې په ترڅ کې په څرګند ډول د افغانستان د انقلاب ضد باندستانو لوری غوره کړیدی او له هغوی سره یې د پوځي‌نویو وسلو او مهماتو د برابرولو ژمنه کړیده دغه راز امریکا له پاکستاني مقاماتو سره په حیرانوونکې توګه د پوځي نویو وسلو د برابرولو معامله پیل کړیده د هغوی پیچلو او ناسمو خبرو په رڼا کې چې د ناټو د هیوادونو په ګډه غونډه کې چې د روان کال د سې د میاشتې له څلورمې نیټې څخه تر پنځمې نیټې پورې روانې وې د افغانستان د شاوخوا حالاتو د یو سیاسي حل ضرورت یوازې یوه ریاکاري او ټګي څرګندوي دغه بې‌اساسه اشارې او یادونې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د خبرو په باب د ناټو د تیري کوونکو ټولنو د منفي او کارماتوونکي چلند د پټولو په غرض بلل کیږي او د هغه امپریالیستي زوراچونې نتیجه ده چې تر اوسه پورې د پاکستان واکمنې ټولنې پدې نه دي بریالي شوي چې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت سوله ییزو نوښتونو ته ځواب ووايي یا دا چې د یو سیاسي حل په لور عملي ګامونه پورته کړي د سیاسي حل په باب د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د حکومت د سیاست له مخې عملي ګامونه پورته کړي پیشنهادونه له ګاونډیو سره د پخوا په شان جوړوونکي او ټینګ پاتې دي په هغه وینا کې چې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې د عمومي منشي د افغانستان دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د رئیس او صدراعظم ملګري ببرک کارمل لخوا د ثور انقلاب د دریمې کالیزې له امله وشوه د مسئلې په باب یې داسې وویل :

پدې برخه کې مو لازم او نوي ګامونه پورته کړیدي او اوس زمونږ د ګاونډیو هیوادونو ایران او پاکستان په مشرانو پورې اړه لري چې دوی تر کومې اندازې پورې د سیمې د حالت د عادي کولو او د اوسني حالت د درک کولو په غرض د مسولیتونو په باره کې فکر کوي. او زمونږ پیشنهادونه ته څه عملي ځوابونه وايي .

# دنړۍ زیارایستونکو مسلمانانو ته پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

**د( تعاونو علی‌البروالتقوی) له‌مبارکه آیت سره سم دنړۍ زیار استونکو مسلمانانو ته پیغام.**

**موږ دافغانستان له مسلمانو زیارایستو نکو اوسوله دوستو خلکواود افغانستان له انقلاب سره د آسیا او افریقا دخلکود پیو ستون‌دسازمان دبین‌المللی پیوستون دجرګی برخه وال چې دعقرب د میاشتې په ۲۷ نیټه چې د ۱۹۸۱ کال د نومبرله ۱۸نیټې سره سمو ن خوری دا.د.ج په‌مرکز کابل کی جوړه شوه دنړۍزیار ایستو نکو مسلمانانوته په خطاب کی دغه پیغام ابلاغووچی:**

دثور دپر تمین انقلاب او د هغه دنوی بشپړ تیایی پړاو په بریالیتوب سره په افغانستان کی دوجدان دآزادی او د ملی او دینی مراسمو دمذهبی‌سننواو عبا دتو نو داجرا دبشپړی آزادی دپوره تاسین‌او تضمین‌په لاره کی ټول امکانات او لازم شرایط برابرشوی دی دا د.ج. اساسی اصول اسلام مقدس دین او په ا.د.ج کی دمذهبی نو رو ادیانو او پیروانو ته‌دکلك درناوی قانونی او عملی څرګند بیان دی. ددی هیواد زیارا یستونکی مسلمانان

اوس په‌آزاده توگه او له هر ډول ویرۍ او نا اراامۍ څخه پرته په جوماتونو او معبدونو کې مذهبي عبادتونه کوي او د ا. د ج دولت د زیارایستونکو مبارزو او سوله دوستو مسلمانانو د عبادت ځایونو په ساختمان، ترمیم او بیا جوړولو سره په دې برخه کې ستری اسانتیاوې برابرې کړې او برابروي یې .

د دینی او مذهبي مراسمو په‌آزادی پوره سر بو طعیني او واقعیتونو او حقایقو د ا. د. ج. په پلار وطنه‌ملي‌جبهه کې د دولت په‌دغې تولنیزې اړه کې د زیارایستونکو مسلمانانو او هیوادوسنو روحانیونو د پرگنو برخی اخستنی او رول او د هغې له لارې د افغانستان د انقلابیونو ضد کسانو پر خلاف مبارزه کې د انقلاب د ارزښتونو په‌دفاع او د نوې تولنې په‌جوړولو کې دهغوی برخی اخستنی د امریکا د متحده ایالاتو د امپریالیزم په‌مشری بین المللی امپریالیزم د پیگنګ د هژمونستانو، دعربو د ارتجاع او د سیمې د ارتجاع په‌تولو درو غجنو او له دښمنې نه ډکو تبلیغاتو باندې د بطلان کرښه راکښلې او ښې چې نور له اسلام سره له لیونتوب نه په‌ډ که‌توگه د امپریالیزم او هژمونیزم د غوغولو ونکې مینې دخرگندولو په برخه کې د امریکا د امپریالیستانو او د هغوی د لاس پوالانو تلفاتو خپل رنگ بایللی دی .

د تولې نړۍ زیارایستونکو مسلمانانو !

اوس د ا. د. ج. مسلمان خلک د تولنیزې مبارزې په‌مشخص پراتیک پوهیدلي دي چې د امریکا د متحدو ایالاتو وحشي صفته امپریالیزم او د هغه ځینې لاس پوالان او مرتجع هیوادونه دي چې په ډول ډول تودو او زهرجنو وسلو سره د انقلاب‌ضد مزدو رواجیرانو په وسله‌وال کولو او په‌هغه‌ناعلام‌شوي جنگ کې د نړیوالو سړې‌ژونکو په‌تنظیمولو سره چې پاکستان له‌خاورې څخه د دیموکراتیک او انقلابي افغانستان پر ضد پیل شویده دهغوی ارام ژوند گډوډ وي او جوماتونو، معبدونو، مدرسو او ښوونځیو ته په‌اور اچولو او د زیارکښو مسلمانانو مذهبي‌مقدساتو ته په‌سپکاوي، دفر هنگي مرکزونو ر وغتونونو او عام‌المنفعه

موسسو په‌سوزولو اودبی گناه‌خلکو معصوموماشومانو ښځو اوزړوکسانو په وژلو سره دافغانستان د خلکو اودیموکراتیک جمهوریت پرضدناوړه اوله جنایت نه ډکو عملونو ته‌لاس اچوی دغوټولو انسانی ضدجنایتونوپه‌اصطلاح د ثمرته رسولوله پاره بین المللی امپریالیزم‌او پیگنگ دشونستانواو دافغانستان دانقلابی‌ضدعناصر وتبجنی هلی ځلی ناکامی ، بی‌اغیزی او په‌ماتی محکومی دی .

دنړی زیارایستونکو مسلمانانو :

دافغانستان‌دزیارایستونکو خلکو اودا.د ج .حکومت په‌وړاندی‌د امریکا دامپریالیزم دغولوونکو نقشو اودتاچرله دښمنی ډک دوه پړاو ییزه پلان ماتی‌چی‌ګڼ بازاراود پانگه والی اودستر و هیوادو په‌بی شرمی سره‌هغه‌سم‌وباله خرگنده‌ده .

اودامریکا جمهوررئیس ریگن اودهغه انگلیسی اوچینائی انډیوالان هغه کوی چی دا. د. ج . پرخلاف د پاکستان له خاوری څخه پوځی تیری اولاس وهنی ابعاد پراخه‌کړی خوډیره سهمه نتجیه د حالاتو دبشپړ تیا لـه‌طراز بندی څخه ترلاسه‌کیدای شی داده چی‌دامپریالیزم دسیسی یو په‌بل پسی‌له‌شرموونکی ماتی سره مخامخ شوی اودافغانستان دانقلابیونوضد ناوړه اوبده خیره‌چی دثور انقلاب‌د بریالیتوب‌له‌هماغه پیل څخه دپاکستان په‌خاوره‌کی دامریکا دامپریالیزم او د هژمونیست چین دپوځی ښوونکو له‌خوا دافغانستان دانقلاب‌پرخلاف سازمان ورکړی شوی

اوپوځی زده کړه ورکول کیږی ورځ په‌ورځ دافغانستان اونړی دمسلمانو زیارایستونکو په‌وړاندی د(۱۳۵۸) کال دجدی له‌شپږمی نیتی وروسته‌دا.د.ج.مدبرانه اوله سنجش ډک سیاست چی‌دا.د.ج.حکومت (۱۹۸۰ کال دمی دخورالسمی نیتی په اعلامیه کی‌اود (۱۹۸۱) کال داگست دخلیرویشتمی نتیی په‌اعلامیه کی‌منعکس شوی اودافغانستان‌دشا وخوا حالاتو دسیاسی حل وفصل په‌باب لازم انعطاف او وشخص پیشنهاد د ونه پکی‌دی د ټولی

نړۍ دمسلمانو زيارايستونکو دقشرونو پراخ ملاتړ ترلاسه کړی دی. اوس ددیوخت رارسیدلی دی چې دنړۍ ټول سوله دوست هیوادونه، او خلک دافغانستان او د اسیادجنوب ختیځ دفارس دخلیج او دهند دسمندر دسیمی دخلکو په وړاندی د امپریالیزم او هژمونیزم ددسیسو پرخلاف خپل داعتراض او ازلاوچت کړی او خپل اقدامات دی خواته اړم کړی چې دا.د ج.پرخلاف دتیری او پوځی لاس و هنی ټولی بنې دی بندی شی او دا.د ج د ۱۹۸۱ د اگست د اعلامی په باب دافغانستان د شاوخوا حالاتو ټولی مربوطی پیښی حل شی.

دټولی نړۍ دټولو زیارایستونکو مسلمانانو وظیفه ده چې دآزادی سولی او ټولنیز عدالت لپاره او دامپریالیزم ،هژمونیزم پوځی توب ،فاشیزم ، صیهونیزم او اپارتاید پرضد په ګډه مبارزه کې دیو والی لاس سره ورکړی او د زیارایستونکو له طبیعی اندیوال یعنی دسولی او ټولنیزی ترقی له اردوګاه سره یوځای دسولی دغه دبشریت دپتمن ارمان لپاره په مبارزه کې وجنګیږی .

وړاندی دد غه مقدس کارد پشپړتیا دبشریت دګټو دتامین په لارکی ! ژوندی دی وی په ټوله نړۍ کې سوله !

ورک دی وی بین المللی امپریالیزم په سرکی یی دامریکا انسان خوړونکی امپریالیزم

# دافغانستان خلکو ته پیغام

**په‌کابل کی د۱۹۸۱کال د نوامبرله ۱۸ څخه تر ۲۱ نیټی پوری‌دآسیا او افریقادخلکو دپیوستون دسازمان‌درئیسه هیات دلسمی غونډی له‌خوا**

مو ږله ۱۶ هیوادو نو څخه زیاتو سلې او بین المللی‌سازمانونو ٬ داسیا او افریقا دخلکو دپیاوړی‌غو رځنګ برخه‌وال استازی چی‌دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت په‌مرکز کابل کی‌را غونډ شوی یو ددغی تاریخی شکلی خاوری ټولو زړورو خلکو ته دزړه له کومی درود استوو ، مونږ دافغانستان مهربانو او یارو لو خلکو ته چی‌دملی خپلواکی لپاره دامپریالیزم په‌خلاف ضد جګړه کی ددوی تیر و نیکه کانو کارنامی ټولو ته‌روښانه دی درود استوو .

مونږ دافغانستان دپلارنی خاوری زلمیو او نجونو ته‌چی دخپل ګوند او دولت تر رهبری لاندی دخپلو هیوادو الو دهوسایی او نیکمرغی لپاره هلی ځلی کوی درود داستوو.

مونږ دافغانستان مسلمانو خلکو ته چی دخپل ځلانده تاریخ مذهب دودونو په‌دوام کی تل دګاونډیو لپاره نیک ستر لارښود او دسیمی دټولو خلکو ګټه په کی پرته‌ده،درود استوو ستاسو دخلکو ټولو ریښتینو زامنو ، دثور له انقلاب څخه‌چی داقتصادی پرمختګ‌لاره اوار وی دزړه له کومی هرکلی وکړ.

په‌داسی حال کی‌چی دافغانستان خلکو ته ډیر ژور احساسات وړاندی کوو ، یادونه کوو چی دټولی نړی څخه دافغانستان دآزادی غوښتونکو او نژدی ملیونی دوستانو څخه یو ، دغه دعادی خلکو غوښتنه ده ٬ چی‌دژوند انه‌ستر ارښت ،دهغه‌ټوتی په‌ډ ودی کی چی‌په‌ر بړ سره یی‌تر لاسه کوی ،دهغوپلرو نـواو میندو خوښی چی کورنی‌په‌تودومینه کی سوله

پیز ژ وند کوی ښه درک کوی ' دغه خبری زموږ له زړونو څخه راوتلی دی او موږ باورلرو چې ستاسو په زړونو کی به ځای ونیسی .

دغه غوښتنه ډیره مهمه او کلکه ده' دخپلی جګړی په پراختیا سره په خپل هیوادکی دامپریالیزم تیری یوازی ستاسو دښمنان، ستاسو دپلارنی هیوادو دښمنان ستاسو د خلکو او ماشومانو دښمنان و ینو تو یولو ، سرګ او ستاسو دلرغونی خاوری دویجاړولو ته اړ دی امپریالیزم او په هغوی پوری تړلو ، تاسی په سخت او ویرونکی حالت کی راوستی یاست ،ستاسو دپولو کراری ګډوده کړی ده د وی هڅه کوی چې دافغانستان له خلکو څخه سوله او سوکالی،چی دثور انقلاب دهد فونو دتطبیولو دبری په لټه دی، واخلی یوازی دهغه کسان چی خپلی ګټی او دعادی خلکو دزبښیلو غیرقانونی امتیاز و نه یی له لاسه ورکړی دی او یوازی هغه کسان چی دثور انقلاب دغه امتیاز ونه ورڅخه اخیستی دی په دغو ورانکار یواوویری اچونـی خوښـیږی .

دافغانستان ریښتنی هیوادپال چی له دغوسختواز مو ینو څخه سرلوړی راوتلی دی او نن ورځ هم دخاوری دسلی تمامیت او دټولو خلکو دیوموټی توب دسپیڅلی کارلپاره چی ترسخت ګوابن لاندی دی جنګیږی بریالی کیږی .

موږ دیلابیلو هیوادونو او خلکو استازی باورلرو ، چی دافغانستان ډیر ښه زامن د پلار وطنی ملی جبهی په اډانه چی ټول ریښتنی مبارزان او هغه کسان چی دخلکو دژوند دښه کولو لپاره راپورته شوی دی او د کارګرانو ' بزګرانو ،سلی او هیواد پالوسوداګرو مترقی روحانیو نو ، روښان فکرانو او ځوانانو په ګډه دکارغـوښتونکی دی او د خلکو دنیکمرغی او دهغو ځواکونو دراتلونکی ځلاندی غوښتونکی دی چی!دحقیقت اونیکی له پاره جنګیږی په خپل څنګ کی لری ، را ټـولیږی .

سو ږ دګاونډیو هیوادونو (دایران او پاکستان داختلا فونو دسوله ییز حل لپاره دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دابتکاراتو څخه چی پرته دخبرو اترو له لاری ددغو

اختلافونو دلری کولو لپاره بله‌لاره نشته ،ملاتړ کوو ، دغه خبری اتری باید دمتقابل
درناوی ، ملی حاکمیت ساتلو او دلاس‌نه‌وهنی په پرنسیپ ټینگی وی .

دافغانستان دموکراتیک جمهوری حکومت، چی‌په ټولو امکاناتو سره‌یی‌دملی وحدت
دفاع کړی ده ، دهر یوه‌افغان‌لپاره دغه‌حق‌چی‌وکولای شی‌سوله ییز ژوند چی دیوانسان
او مسلمان لپاره وړوی ولری او دهیوادربړ ونه حل کړی ،جوگه کړی دی فردی مصونیت
او امنیت یی‌ټولو کسانوته چی دوسله وال ترور مخالف وی اودستونزو دسوله ییز حل
په‌لاره کی چی‌په‌خپله په‌کی‌په‌نیغه ونهه لری دپلارو طنی ملی جبهی تریوغ لاندی راټول
شی، بښلی دی .

سونږ دافغانستان له‌ټولو ځوانانو اونجونو څخه‌چی ترا وسه پوری دسوله ییزی‌لاری
څخه له‌ملی هیوادپالوځواکونو‌سره‌دی یوځای شوی،غوا ړو چی د پلارنی‌وطن غوښتنی
ته‌غوږ کیږدی .سونږ باورلرو چی دحالاتو عادی کول دهیواد سملاسی اړتیاده په داسی
سختو شیبو کی یوازی افغانستان ته خائنان داسی اړی ته‌اهمیت نه ورکوی دافغانستان
خلك اوددوی ځلانده تاریخ به‌دوی‌محکوم کړی پریږدی چی‌دافغانستان د دموکراتیک
جمهوریت خلك په‌خوښی اوسوله کی ژوند وکړی.

# داووم پیلینوم مصوبه

(دا.خ.د.گ.دمرکزی کمیټې داووم پلینوم مصوبه چې ۱۳۶۰ دقوس په ۲۸ شپه درادیو او تلویزیون له لاری دګوند دمرکزی کمیټې دسباسی بیرو دغړی او د ا.د.ج دوزیرانو دشورا درئیس لخوا ولوستل شوه) .

بسم الله الرحمن الرحیم

دا.د.ج.ټولو ملیتونو قومونو ته‌دا.خ .د.ګ دمرکزی کمیټې او دا.د.ج دولت خطاب :

ګرانو هیوادوالو پښتنو ،تاجکو ، ازبکو ترکمنو،هزاره و بلوڅو، نورستانیو او زموږ په، واحد ،هیوادآزاد،خپلواک ، ناپیلی افغانستان کی اوسید ونکوورونو ټولو ملی‌لږ ه کیو !دثور بریالی انقلاب زموږدګران او ګړیدلی هیواد دنیکمرغی او ترقی لپاره په‌افغانستان کی‌دټولو اوسیدونکو ملیتونو اوقومونو دسوکالی اود فرهنګ دغوړید نی په‌خاطر او دهیواد دټولو بچیانو په‌خاطر وشو ، دانقلاب‌ارزښتونه بیله دی چی‌د افغانستان دخلکو دزړیدوځای او زموږدواحد هیوادګران افغانستان په اوسیدونکو ورونو، ملیتونو اوقومونوپوری دهغوی اړیکی په پام کی‌ونیول شی په هغوی ټولو پوری اړه لری .

سوېدثور انقلاب او په تيره بيا دهغه دنوي بشپړتيا يي پړاو دبريا ليتوب په برکت دهيواد په تاريخ کي دلومړي ځل لپاره په رسمي توگه دهيواد دټولو مليتونو اوقومونو دسياسي حقوقو برابري اعلام او زموږ گوند دا.خ.د.گ زموږ په هيواد کي يوازني سياسي ځواک دي چي تل او پرله پسي دملي مسالي په ارتباط دتيرو استثماري رژيمونو دغير عادلانه او تو پيري سياست پرضد چي حاصل يي دهيواد دملېتونو اوقومونو ترمنځ بې اتفاقي، بدبيني، ظلم او ستم او نا برابري وه پاخيدلي او د هغې له منځه وړل يي غوښتي دي.

دا.خ.د.گ دمرکزي کميټې عمومي منشي او دا.د.ج د انقلابي شورا رئيس ملگري ببرک کارمل ان دظاهر شاه درژيم دتسلط په وخت کي دپارلمان له تريبيون څخه په هيواد کي داوسيدونکو مليتونو اوقومونو په وړاندې ملي ستم ته دپاي ته ورکولو او دهغوي لپاره دحقوقو درښتياني برابري دتامين غوښتنه وکړه.

تاسي ، ټولو دا.د.ج اوسيدونکي دافغانستان په وړونو او برابرو مليتونو اوقومونو پوري دتعلق په نظر کي نيولو پرته دقانون په وړاندې يوشان ياست ستاسي دغه حق زموږ د هيواد په ستر قانوني سند دا.د.ج په اساسي اصولو کي ځاي شوي او تثبيت شوي دي. ستاسي دغه حق دقانون په وسيله تضمين شويدي ددولت لخوا ساتل کيږي او هيچا ته اجازه نه ورکول کيږي چي هغه تر پښو لاندې کړي. گوند او حکومت په دوامداره او پرله پسي توگه دځمکو ديموکراتيک اصلاحات چي دملت او قوميت په پام کي نيولو پرته بيځې د بزگرانو او د کرني د کارگرانو په گټه دي سر ته رسوي موږ بزگرانو ته ځمکه او او به ورکوو، دغه ځمکه او او به په يوازې په هغو کسانو پوري اړه ولري چي زحمت کاږي نه هغو کسانو ته چي له هغو څخه دځان دزيات شتمني کيدلو اودنورو د بې وزلي کيدو لپاره کار اخلي.

يوازي دثور انقلاب دبزگرانو دمايوني پرگنو دژوندانه دپنسمېز ښه والي او دازادي او عدالت دټولو لپاره دځمکو او او بو په باره کي د هغوي دپخوانيو ارزوگانو دتحق

لپاره لازم شرايط او مقدمات برابر کړل ګوند او حکومت د هيواد له بېلو بېلو قومونو او مليتونو څخه د جوړ شويو زيار ايستونکو د مادي حالت د ښه والي په لاره کې په يو لړ پراخو اقداماتو لاس پورې کړيدی د کارګرانو او مستخدمينو معاش زيات شوی دا ستوګنې د کورونو د جوړولو پراخ پروګرام سر ته رسيږي د خلکو د ښوونې او روزنې او عامې روغتيا او ته زياته پاملرنه کيږي او له بې سوادۍ سره مبارزه روانه ده .

د نيول شويو تدبيرونو په برکت او س په ازبکي ، ترکمني او بلوچي ژبو يو لړ جريدې چاپيږي او د هغو ولايتونو په مرکزونو کې چې پښتو اپکي د غه شان جريدې نه وي د بېلو بېلو مليتونو په ژبو د جريدو د خپرولو لپاره تياری نيول کيږي . دافغانستان د مليتونو په ژبو په ښوونځيو کې لوست او راديويي خپروني پيل شوي دي د تلويزيون او راديو مطبوعاتو له لاري په افغانستان کې داوسيدونکو مليتونو فرهنګ معرفي او تبليغ کيږي او ښوونې او روزنې د نوي سيستم بنسټونه د هغو مليتونو او قومونو د ګټو په پام کې نيولو سره چې پخوا له دې حق څخه بې برخې وو سنځته را غلي او پراختيا او پرمختيا کوي .

دا.خ،د،ګ مرکزي کميټې او دا.د.ج انقلابي حکومت په ځای ګنې پر هغه څه سربېره چې عملي شوي دي زموږ د هيواد د مليتونو او قومونو ترمنځ د حقوقو د برابرۍ او همکارۍ د تامين په لاره کې ګلک تدبيرونه په کار واچول شي دد ې مقصد لپاره په داقتصادي ټولنيزو او سياسي تدبيرونو پراخه سيستم طرح او تحقق ومومي په سياسي ډګر کې ګوند او حکومت پټييلې ده چې له استثنا پرته د ټولو مليتونو د سياسي او ټولنيز فعاليت د زيات والي په لاره کې په هغو ولايتي جرګو کې چې د دولتي قدرت او اداري د سيمه ايزو اوګانو دقانون په طرح کې اټکل کيږي د هغوی د نمايندګی د تامين او پراختيا لپاره په ګوندي سازمانونو او د ولتي اورګانونو د پلار وطني ملي جبهې په اجرائيه کميټو او ولايتي کميټو او په پلار وطنه ملي جبهه کې په شاملو ټولو ټولنيزو سازمانونو کې د دغو مليتونو او قومونو د وړ

او له درناوي ډکو او اتوریته لرونکو استازو په وجود کې د هغوی د نمایندګۍ د تامین او پراختیا په لاره کې خپله کړنلاره په پرله پسې ډول تعقیب کړي په هغو سیمو کې چې د خلکو اکثریت په ټولو کلي ملیت او یا قوم پورې اړه لري په دولتي اوټولنیزو ارګانو نو او سازمانو نو کې رهبري او له هغې سره سم دخو کیو لازم شمیر به د هغه ملیت په قوم په استازو پورې اړه ولري په عین وخت کې د هغو ملیتو نو او قومونو مدني حقوق دودونه او تاریخي ،مذهبي او فرهنګي ارزښتونه چې په دغو سیمو کې لېږ دي دقانون په وسیله تضمین کیږي او په لازمه بڼه مراعات کیږي په لازمو شرایطو کې به دهیواد په اداري تشکیل کې داو سیدونکو ملیتو نو او قومونو پر اساس او دملي مسالي دبنسټیز حل په غرض اساسي نوي نظر وشي.

په اقتصادي برخه کې په ګوند او حکومت پخپله پاملرنه، د هغو ملیتونو او قومونو د استو ګنې دسیمو چټکې ودې ته واړوي چه په اوسني حالت کې یې له اقتصادي پلوه ډېره لږه وده کړیده .د لوړ نیو اړتیاو ړ سالونوله پلوه دهیواد دبیلو بیلو ملیتونو او قومونو د و سیدنې دسیمو دهغوی دعنعنوي محصولاتو دپلورلو داسا نتیاو و او دهغوی لپاره دعادلانه بیو ټینګښت دتامین دښه والي لپاره به لازم تدبیرونه ونیول شي.

په فرهنګي برخه کې موږ د ټولو ملیتونو او قومونو په فرهنګي میراث او دردونو کې دټولو ښو او ارزښتناکو عناصرو ساتنه او وده تامین او تضمینو و ټولو ملیتونو ته دآزادۍ ټاکنې له مخې په مورنۍ ژبه دزده کړې حق ورکول کیږي . ګوند او دولت دافغانستان دملیتونو او قومونو دژبو او لهجو دودې لپاره د هغوی دلیک دود ، تاریخ او فرهنګ دساتلو او دهغوی دهراړخیزې ودې په غرض د ټولو ملیتو نو او قومونو دنږدې والي او همکارۍ لپاره ټول لازم تدبیرونه نیسي.

دا.خ.د.ګ مرکزي کمیټه او دا.د.ج حکومت اعلاموي چې هغوی به هغه ملي سیاست چې په دې اعلامیه کې په رسمي توګه څرګند شوی دی پرله پسې او په ټینګار سره په عمل کې سرته ورسوي مونږ داډ لرو چې:

د افغانستان ملیتونه او قومونه به په دې کار کې له خپل ګوند او انقلابي حکومت سره لازمه مرسته او ملاتړ وکړي.

ګرانو هیوادوالو! دامریکا د امپریالیزم د چین هژمونیزم او د سیمې د ځینو هیوادو ارتجاعي رژیمونه په ټول قوت هڅه کوي چې زموږ دانقلاب تاریخي ارزښتونو له منځه یوسي او په افغانستان کې د نوي ټولنې د جوړولو بهیر ودروي. همدوی وو او دي چې په افغانستان کې یې د وروروژنې جګړه واسوله او لمسوي یې او ټولې هلې ځلې په کارا چوي چې د هیواد ملیتونه او قومونه په خپلو کې واچوي او دیوبل پر ضد یې راوپاروي. هغوی د خپلو کرغېړنو امپریالیستي او هژمونستي هدفونو د ترسره کولو لپاره هڅه کوي چې په ټولو ممکنو لارو سره زموږ په هیواد کې د اسلام دمقدس دین اساسات کمزوري او تحریف کړي چې زموږ خلک دواحد ومعنوي ارزښتونو له درلودلو څخه بې برخې کړي هغوی له ډول ډول انقلاب ضد باندو نو څخه په استفادې سره د هیواد پالو مسلمانانو وینې توېوي مذهبي شخصیتونه تهدیدوي او وژني یې او جوماتونو او مدرسوته اوررا چوي.

پتمنو هیوادوالو، له دې امله ستاسې هیوادني او ملي وجیبه ده چې د هیواد زړور وسله وال پوځ له لیکو سره یو ځای شي او د هغه د ټینګښت په کار کې فعاله برخه واخلي دهغه دپتمن رسالت په سرته رسولو یعنې زموږ د ګران هیواد افغانستان په دفاع کې هرډول لازمه مرسته او کمک وکړي.

زموږ په افغانستان کې اسلام دیوداسې مقدس دین په توګه پېژنو چې نابرابرۍ او دخورۍ او د انسان په وسیله د انسان استثمار غندي له دې امله موږ تاسو ته بلنه درکوو چې یوسوټي شئ او اسلام د دښمنانو پر ضد غوڅه مبارزه وکړي.

د دې لپاره چې تاسې ټول په ډاډه ډول ژوند او کار وکړئ او زموږ ګران هیواد سمسور او نیکمرغه کړی سولې ته ضرورت دی موږ د دې مخالف یو چې انسان یو پر بل ډزې وکړي

تاسی زموږ دهیوادبشپړ و حقوقو لرونکو افراد و په‌توگه بایدپه فعاله او زړوره توگه ددولت دا داری لاری‌چاری زده کړی او ددولتی قدرت دسیمه ییزوارگانونو په کار کی چه‌په‌مرکزکی‌وی‌اوکه په ولا یتونو ولسوا لیو او علاقه داریوکی چی‌زموږ په هیوادکی داوسیدونکو ملیتونو اوقومونو او دخلکو اساسی پرگنی جوړوی برخه‌وا خلی دملی اقتصاد دموسسو دکار په نوی والی او تنظیم کی‌چی هغه فابریکی، کارخانی کانونه او داو بولگولو سیستمونه په کی شامل دی چی دانقلاب ضدکسانو په وسیله ورانی او گډوډی شویدی ستاسی مرسته ارزښتناکه‌ده. زموږ په هیوادکی یوازی‌هغه کسان د درناوی ،ستاینی او ویاړ وړدی چی په‌خپل کاراو مبارزی سره هیوادودا نوی‌او دخپل گوند اوانقلابی حکومت دسیاست یعنی دزیارایستونکو پراخو پرگنو دنیکمرغی اوارامی دتضمین ملاتړ کوی.

دا.ح.د.گ مرکزی کمیته او د ا.د.ج دولت عقیده لری چی دافغانستان دملیتونو او قومونو دمسالو دعادلانه‌اودیموکراتیک حل‌لپاره له همدی لاری پرته چی په‌دی اعلامیه کی څرگنده شوی ده بله لاره نشته یوازی په گډه توگه یوله‌بل سره یوموتی او په یوه و احده لیکه کی موکولی‌شوغوڅوبریالیتوبونوته‌ورسیږو،' دخپلی‌آزادی‌دفاع وکړوا وسوله تامین کړو گوندا و انقلابی حکومت ټولوگرانو هیوادوالو پښتنو' تاجکواز بکو، ترکمنو هزاره وو بلوڅو نورستانیو او د افغانستان نورو ملیتونو اوقومونو ته بلنه ورکوی زموږدهیواد او انقلاب دشمنان پرضدچی‌هڅه کوی افغانستان پرون ورځی ته منځنیو پیړیو دوران ته‌له کړاو نه‌ډک دبی وزلی بیرته پاتی والی او بدمرغی‌حالت تـه‌ستون کړی‌په‌متحده توگه مبارزه وکړی زموږدهیواد تاسی آزاد او د بشپړ وحقوقو لرونکی وگړی تاسی‌ایماندارمسلمانان باید په‌آگاه هانه ډول او له تزلزل نه‌پرته‌د نور و په زړگونو هیوادپالو په څیر دانقلاب دمدافعانو په گډه لیکه کی و دریږی دهیواد او وطن دښمنانو پرضد داسلام او آزادی‌ددښمنانو پرضد داسلام‌او آزادی ددښمنانو پرخلاف او د

عدالت او ترقي ددښمنانو پر ضد دمبارزې لپاره دزړورو او قهرمان وسه‌وال پوځ د وګړني خارندوی دانقلاب دزړورو مدافعانو له لیکو سره یوځای شي‌په دې ډول تا سي دهیواد نیکمرغی او سمسورتیا دخپلو ماشومانو دنوي افغانستان ددغو جوړو ونکو خوشحاله او آرامه راتلونکی تامینوی .

زموږګوند او انقلابي دولت ټولو هیواد پالو نکو ته‌بلنه ورکوي چې دروښانې اوځلاندې راتلونکې له‌پاره دپلاتفرم یادمبارزې او کار دګډسر امله‌سخی‌زموږ دګران هیواد دپرمختګ سمسورتیاخیر او سوکالی‌په‌نامه متحدشی.

ژوندی دې‌وی ،زموږ واحد هیواد انقلابي افغانستان !سوږ بریالی کیږو !

# ټولو پښتنو قومونو او قبایلو ته د ا . خ . د . ګ د مرکزي کمیټې او د ا . د . ج د انقلابي دولت پیغام

## بسم الله الرحمن الرحیم

د ډېرو ګرانو پښتنو ورونو ! السلام علیکم. نن د خپل ملک ـ ملت د تاریخ په دې نازکه او مهمه مرحله، چې زمونږ تاریخي دښمنان او نوي او زاړه بدخواهان د انقلاب په راتګ او د نوي اباد ،خوشحال او مترقي افغانستان په جوړېدو خفه دي ټول لاسونه سره یو کړي دي . او زمونږ د خپل هیواد ځینې وګړي ئې اخیستي دي ـ غواړي چې زمونږ او ستاسو داو یاړلي لرغوني هیواد افغانستان د نااعلان شوي جنګ په لمبو کښې وسوزوي او د دې هیواد باشهامته نجیب او شریف اولس په خپلو کښې وجنګوي او په وینو کښې ئې ولمبوي.

نن چه مونږ ته کومه مسئله را پېښه ده دا یوازې زمونږ د حزب او د افغانستان د دموکراتیک جمهوري دولت مسئله نه ده ، دا زمونږ او ستاسو د ټول ملت مسئله ده او د هغو ټولو پښتنو ورونو مسئله ده چې د افغانستان په خاوره د دې ملک په استقلال او خپلواکۍ کښې د هغو وینه میړانه او غیرت شامل دي ځکه مونږ دا مسئله ستاسو د ټولو په وړاندې ږدو.

مونږ چې دا خبرې کوونو زمونږ د سترګو په وړاندې د تاریخ هغه ویاړلي پاڼې دي،

چې کله په افغانستان داسې وخت راغلی دی، نو د ټولو قومونو او قبایلو مشرانو او سپین ږیرو خپل شخصي، کورني، قبیلوي او نور اختلافات شاته کړي دي د خپل شریک هېواد د ساتنې او ژغورنې او د خپل یو متحد ملت د آزادۍ او استقلال، د خاورې پت او د ملي او دیني ناموس د پاره یې شریکه جرګه کړې ده. او په یوه خوله یو زړه او یو اواز یې یو ملي تصمیم نیولی دی بیا پاڅېدلي دي ملا یې تړلې ده او خپله خاوره او ناموس یې د هر دښمن نه ساتلی دی.

افسوس، سل افسوس چې نن داسې وخت دی چې زمونږ شهیدانو او غازیانو، نیکونو او پلارونو چې کوم جنایت کوونکي او استعمارګر انګریزان تښتولي وو نن د هغه دښمنانو لاس پوڅي کښې کار کوي او مونږ لکه دورونو پخپل کور کښې د خپل مستقبل دپاره جرګو او فیصلو ته نه پرېږدي بلکې پخپلو کښې موجنګوي او زمونږ د ورونو د لاسه زمونږ هېواد په وینو لمبوي او خپله ملي او دیني سورخور او نور وژل غواړي او وژني یې.

سلام دې وي د هېواد په هغو ملي او روحاني مشرانو، د هغوی په ورونو او قبرونو چې دې ملک کښې یې د جرګې او سلامشورې عنعنه په تاریخ کښې ژوندۍ ساتلې ده، او د دې ویاړلي عنعنې په رڼا کښې یې داسې فیصلې کړې دي چې د هغې لاندې زمونږ شهیدانو او غازیانو نیکونو او پلرونو د الر غوني افغانستان تر دې وخته د هر دښمن نه ژغورلی دی.

ای پښتنو ورونو!

تاسو هر ځای چې مېشته یئ که د خپلې قبایلي ورولۍ په غرنیو سیمو کښې پراته یئ، بره او سیبرۍ، او که کوزه، ټول زمونږ ورونه یئ او زمونږ داد جرګې او مشورې خبرې تاسو ټولو سره کوو، هیله لرو چې تاسو به زمونږ داخبرې د پښتو غیرت او ایمان په غوږ واورئ د خپل تاریخ د مېړنو نیکونو او پلارونو غوندې به په دې خبرو د خپلې مورنۍ خاورې ملي ناموس او دیني غیرت د غوښتنو سره سم غور وکړئ او عمل ته به چمتو شئ مونږ د خپلې عقیدې او ارادې د دې اظهار نه پس د هغه ټول مسولیت سره،

چې دخدای پاک په رضا نن مونږ ته دګوندي‌ملګرو، انقلابي شورا او حکومت په سلاتړ حاصل‌دي تاسو ته دافغانستان دموکراتیک جمهوري دولت او دسیاسي ګوند دافغانستان دخلک دموکراتیک ګوند، له‌خوا یقین درکوو چې دانقلابي افغانستان او دهغه‌هر وګړي چې دهغه په رګونوکښې افغاني وینه ده او یا په زړه کښې ایماني جذبه ده، دمور او پلار نجیب اولاد دي او په رګ او پوست کښې ئې دغلامي او قام فروشي، بوی نشته هغه ستاسو دلوړ تاریخ په وړاندي داحترام سرټیټوي. ستاسو هغه جهادو نه‌غز اګانې زیارونو افتخاراتو ته دقدر سلام وړاندي کوي، چې‌تاسو، د خپل غیرت او ملي شرافت په برکت داسلام دروښانه دین او تعلیماتو په‌رڼا کې دخپل دین، خاوري او ناموس د پاره په‌خپل روښان تاریخ کښې خصوصاً دانګریزي استعمار سره غزاګانو کښې ترلاسه کړي دي او دافغانستان داستقلال او خپلواکي په‌لاره کې موستر نقش‌لوبولی دی.

نن‌چې تاسو په‌خپله خاوره کښې خپلې وروروولي،جرګو او خپلې پښتو-حیا-او ناموس سرکو، دپاره‌آزادي ستاسو دمور او لورد حیاپړونی، محفوظ دي، ستاسو عقیدي،ستاسو دیني وجیبې او ستاسو مذهبي کردار، دامریکائي، انګریزي او چینائي داړه‌مارانو د جعلي مذهبي فرقو دفتنونه‌کو هغو تحریفاتو نه‌چه کوزه‌تول مسلمانان‌یې په‌فساد اخته کړي دي، په‌امان دي، نن‌چې تاسو کښې دپلارنیکه پښتو پاتي ده اسلام دپیغمبر،، صلی‌الله علیه‌وسلم سنت شته او داصحابو کرامو خصلت او شریعت موجودي داتول،ستاسو دغه‌تاریخي او ملي د قربانیو او شجاعت برکت دي،او نن چې دافغانستان دانقلاب‌په‌وړانګو کښې‌دابادي خوشحالي او امن په لوروان دي، دي کښې‌ستاسو دغو غزاګانو وینې برخه‌شته مونږ تاسوته یقین درکوو او تاسو سره وعده کوچې په‌دي‌انقلابي افغانستان کښې ستاسو داحق، داو یاړاو دابرخه هیڅوک نه‌هیرولی شي-نه‌خوړلی شي‌او نه ورک‌کولی شي.

تاسو ته‌داډورکوچې ترخو دانقلابي افغانستان شته تاسو یې ستاسو حق‌شته، ستاسو ملي

افتخارات شته، ستاسو تاریخی و یاړشته ستاسو دینی عقایداو د هغی پالنه شته‌او ستاسو د روښانه مسقبل تامین‌او تضمین شته.

باور و لری چی دانقلابی افغانستان نن‌دخپلو غیور و او شجاع ځامنو په‌سپړ انه او سر بازی او زمونږ دخپلو گوندی او بین‌المللی دوستانو په‌ملگر تیا دو مره قوی‌او مضبوط دی چی‌دنړی په‌مخ هیڅ طاقت دهغه دابادی او خوشحالی مخ‌نشی نیولی

گرانو ورونو !

زمونږ او ستاسو ملی او تاریخی دشمنان هم‌پوهیږی چی داانقلاب په‌شا کیدونکی نه دی دښمنانوچه خه‌دپاسه‌دری کاله خپل زوروا زمایلو ډیری کلداری اوډالری بی‌خرڅی کړی ، ډیری‌وسلی‌یی راولیږلی‌خپل ډیرتجربه کار، دسیسه گراو وران کاری موظف کړل دانقلاب خلاف یی‌ډیر پلانونه‌جوړ کړل ډیر تخریب کار یی تربیه کړ او زمونږ او ستاسو هیواد ته یی راولیږل هر ډول تجاوزات او تخریبات یی وکړل ، ولی‌دافغانستان‌انقلاب‌ته یی هیڅ ډول نقصان و رنکړی شو بلکی انقلاب ورځ په‌ورځ پیاوړی کیږی او ددښمنانو قدم په‌قدم شکست په نصیب کیږی‌نو او س‌داټول دښمنان او اجنټان‌مایوس شوی دی او په مایوسی کښی‌یی دافغانستان په‌ضدداسی‌اماده گی نیولی ده‌چی زمونږ او ستاسو داهیواد داکور کلی‌او داولسونه، پخپلو کښی وجنگوی په‌وینو کښی یی ولمبوی او په اورونو کښی یی وسوزوی دښمن پوهیږی چی‌ددی شیطانی‌عمل نتیجه کښی د هغوی لاسو ته هیڅ نشی ورتللی ،ولی دخپل بدنیت او عداوت له کبله زمونږ داویا ړلی هیواد او باشهامته ملت خرابول او تباه کول غواړی .

تاسو مطمین اوسی انقلابی افغانستان او دهغه امنیتی قواوی ددښمن دهری دسیسی او هر پلان نه خبر دی او دو مره توان او قوت لری چی دد ښمن حرکت په هرځای او هر ډول چی‌ښکاره کیږی هم هلته به خاموش کیږی او محو کیږی .

• دافغانستان انقلابي دولت دااراده کړې دهچې ډېر ژر داد شهيدانو او غازيانو پاکه او مقدسه خاوره، د هر ډول شر، فساد، تجاوز کارونه پاکه کړي انشاالله تعالیٰ ډېر ژر دا غرونه، دادرې، دالارې دا کلي، کورونه او د دې هيواد گوټ، گوټ به د هر تخريب او تخريبکارانه تصفيه شي.

ولې ای زمونږ پښتنو ورونو!

ای دازادۍ او داستقلال دلارې دشهيدانو او غازيانو ځامنو او ورونو!

اوای چه ستاسو د پلارنيکه دميړاني او سرباز ی دلاسه هغه انگريزي استعمارچي په مستعمره کښې يې لمر نه ډوبيده دری واره شکست خوړلی او ستاسي دخاورې نه نامراده تښتيد لی دی.

ستاسو ملي غيرت او ديني فريضه او ستاسو رگونو کښې دخپلو شهيدانو او غازيانو نيکونو او پلرونو دوينه تاسو ته څه وايي؟ په داسې وخت کښې ملي وظيفه او ديني وجيبه څه ده ساستو غير تي او پښتو وړې شران کنن ژوندی وای هغوی به څه کړي وای آيا هغوی به غفلت کړی وای او دښمن ته به يې موقع ورکړی وه چې د هغوی نوکران او اجنټان زمونږد ملي ناموس. او اسلامي مقدساتو سره لوبې وکړې او که نه هغوی به ملاتړ لی وه ميدان ته به راوتلي وو او چې چا په دی خاوره په بد نيت او ناوړه آراده قدم ايښو دای دهغوی پښې به بې ماتې کړې وای. لکه څنگه چې پرون ستاسو نيکونو او پلرونو په خپله خاوره ناموس او غيرت دانگريزي استعمارگرانو هيڅ قسم بدماشی او تيری زغملی ندی نن هم مونږ يقين لرو چې ستاسو دملي غرورنه ډک سر، ايماني جذبې نه ډک زړه او دخپل پلار نيکه دغيرتي وينې ډک رگونه، پخپله خاوره ناموس او غيرت دامريکا دامپرياليزم دجنايت کوونکي انگريز او چين هيڅ قسم بد ماشي او تيری زغملی نشي ځکه مونږ يقين لرو چې تاسو به دخپل ملي غرور، ايماني جذبې او دپلار نيکه دغيرتي وينې په تقاضا نن داسې راپاڅيږی لکه چې ستاسو مشران په داسې موقعو او مرحلو پا څيدلي دی.

وروڼو! ټول یو موټی یو سنګر شی دېد ښمنان دغړ ونو نه وا خلی دتودو او بو تـر غاړه پوری ټول دپښتنی پت او شجاعت یوداسی فولادی دیوال شی چې څوک د ر سره سر جنګوی خپل سر به یې ماتیږی او په دی ډول دخپل شهید و او غازی بابا ګانو دتاریخی میراني میراث وساتی نڼی دنیاته یو ځل بیا خپله پښتنی توره و ښایی خپلو راتلو نکو نسلو نو ته د غیرت تاریخ جوړ کړی او دخپلی خاوری او دین ناموس دخپلی لور او خور حیا او پرده د امریکا د امپر یالیزم او په نړی او منطقه کی د هغه دتیری کوونکو متحد ینو دېد نا موسه اجنټانو د لاسو نه وژغوری .

ځکه مونږ تاسو ته ستاسو دملی نوامیسو ایمانی جذبی او دپلا رنیکه د غیرتی وینی په نامه نن آواز درکوچی ....

ای پښتنو وروڼو !

هرڅوک چې یی' هر چیرته چې او سیږی که په غرونو کښی پراته یی که په میدانونو کښی که کورکی یی که د کورنه دباندی په خپلو کښی ګیله من یی که ناراضه یی دخاوری دناموس ددین او غیرت او دخپل مستقبل دابادی او خوشحالی دپاره او دخپل لروغونی و یاړلی هیواد دچپاولګرو دشر او فساد نه د ژغورلو د پاره راپاځی، ملاو تړی' او خپل هیواد او خپل اولاد دښمنانو نه په امان کړی .

ستاسو جمهوری انقلابی او دموکراتیک افغانستان دخپل ټول مادی او معنوی قوت سره چمتو دی تاسو چې د کوم ځای یه ورته د و ر و ر و لـی ا و کمک اوازو کړی، مونږ دخپل ټول مسولیت سره تاسو ته وعده درکوو چې ستاسو انقلابی افغانستان به تاسو ته لبیک و وایی' تاسو راپاځی، دخپل پلار نیکه دپښتو په پګړی ملاوتړی په دینی کلمه خپل ایمان تازه کړی او دخپلی لرغونی پښتو په لار په کارپیل و کړی دا کارونه مونږ تاسو ته شمیرو :

اول : زمونږ او ستاسو هغه وروڼه چې په څه وجه پرون خفه شوی دی او په څه سبب

یی زړه ز خمی دی ګیله من او غصه دی او په خپل کور کلی یی پریښی دی دانقلابی افغا نستا ن مخالفت کوی هغوی سر ه جر ګه و کړی او تسلی ور کړی ا و خپل پلر نی او مور نی کور سره جوړ کړی.

د و یم: زمو ږ او ستاسو هغه و رو نه چی دانقلاب نه چاو یر و لی دی یا یی څه زیان او تاوان لیدلی دی او دقهر او انتقام په لار ه ر و ان دی هغوی سر ه سر که و کړی او و ر ته اطمینان ور کړی چی انقلابی افغانستان ستاسو دعزت ګټو او شته منی او ستاسو خو شحا لی او مطمئن مستقبل تضمین کو ی .

در یم: هغه ر و حانیو ن او ددین مبین عالمان او اما مان چی چا تیر ایستلی دی یا په څه وجه ز و ر یدلی دی هغوی ته یقین و ر کړی چی مسلمان انقلابی افغا نستا ن کښی هیڅو ک د دین عقیدی مذهبی فر ایضو ، قرآنی احکام او سنت نبوی مخا لفت نشی کو لای که چا و کړ مو نږ تو ل به یی دښمنان یو ر ا شی خپل جو ما تو نه تکیه خا نی خپلی خانقا وی ،خپلی دینی مدرسی ابادی کړی ، او د خپلو خو اری کښو مسلمانا نو دینی او مذهبی ر هنما ئی و کړی .

څلو ر م : د اقو امو او قبا یلو هغه مشر ان او سپین ږ یری چی چا دخپل انقلابی هیوا د نه و یر و لی یازو رولی دی ، او نن یو ځای او بل ځای در په در دی هغوی با ندی جر ګه شی ا و و ر ته و وا یی چی انقلابی او جمهوری افغانستان کښی ستاسو ټو ل اجتما عی حقو ق تضمین او ستا سو عزت او حیثیت تا مین دی ـ خپل کو ر او کلی ته ر ا شی او دپلا ر نیکه حجره جو مات او پو له پټی اباد کړی .

پنځم : زمو ږ هغه هیو ادو ال چی دانقلابی افغانستان دحز ب یااشخا صو سر ه دنظر اختلاف لری هغو ته و وا ئی چی په جنګ او شر کښی د ټو ل هیو اد ا و ټو لو مسلما نا نو هیو اد و الو تبا هی ده را شی چی تو ره او ټو پک کیږ دو دو ز بند کړ و ـ دبحث او نظر او دلیل

دا وسند دلاری دخپل ملك او ملت د ابادید و او خوشحا لید و فکر و کړ و ـ دیو بل یی
وژ ل او سوزو ل پر یږد و یو بل ته اسن حوصله وکړ و او دخپل پلا ر
نیکه په شا ن په دی خپل شر یک هیو اد کښی په ژ و ند تیر و لو غیرت او ایمان پیدا کړ و .

شپږ م . زموږ هغه هیوادو ال چی زموږ د معلوم الحال تاریخی ، ملی د ښمنا نو نه
کلد اری دالر او وسله اخلی او په هغی دخپل پلا رنیکه هیو اد ـ کورونه جماتونه
فصلونه او نخښی نښانی و رانوی او خپل ملی او دینی و رونه او خوینده وژ نی هغوی
ته و ایی چه داد چادپاره جلادان شوی یی؟ او ترخو پوری به د دښمن په دالر او وسله
خپل و رو او کور تباه کوی ـ خپل وطن اخرو طن دی او د و طن و رو راخر و رورد ی
ـ صبا به په دی عمل پښیمانه یی خو و خت به در باند ی تیر وی ، دتاریخ په پانو او دخوشحال
افغانستان په مستقبل کښی خپل مخ مه تو روی ، نو ر دی ناو ړه عمل ته خاتمه و رکړی
ځان دهیو اد دهغه ځامنو په قطار کښی و دروی چی ر و ښانه افغانستان به پری فخر کوی .
ای د جرګو ، مرکو ـ ننګیالیو ، میړ نیو مسلمانانو پښتنو .

تا سودا کار و کړی او موږ دریو حزب ، دولت او حکومت له خوا خپل پ شپږ
مسوولیت دمقام نه داوعده کوو چه په دی لړ کی ستاسو هره جرګه سو نږ ته قبوله ده موږ
در کوو که تاسو په دی کارپیل وکړی نو خدای تعالی (ج) به په کښی بر کت وا چوی ،
زموږ خپل کوراو زموږ لرغونی ویاړلی هیو اد به ژرجوړ شی داستعمار او دهغه دا یجنټانو مخ
به تور شی ، درو غ به دروغ شی او رښتیا به رښتیا شی .

اول به زمو نږ په خاو ره امنیت تامین شی دزر ، تخریب ، تجاوز مدا خلت او خونریزی
به بنده شی هغه هیوادو ال و رونه چی د خپل وطن دمور دپا کی لمن نه جدا شو دی ،
هغوی به دخپلی مقدسی مورسینی ته بیر ته راشی او دافغانستان تول باشرفه او باشها متـه
وګړی به دسولی او امن په فضا کی په خپل کور او کلی کښی دخپل مستقبل دتعمیر
اود هیو اد دترقی په لار ه کښی په مینه او افتخار په کار مصروف شی .

دویم په د وست او ګاو نډی ملك شوروی اتحا د هغه محدو د قطعات چی دبیرونی

تجا و زاو حملي دمخنيوي دپاره دلته رابلل شوي دي دا فغا نستا ن دمو کراتيک جمهوري حکومت دمنبلي ددو همې نيتي داعلا ميي سره سم چه دسيا سي حل او فصل دمسا لي په باره کښي صاد رمشوي ده هر کله چي دافغانستا ن په کو رنيوچار وکي دوسله والو لا س وهنو او د لاس وهني دنور و بهود بنديدو بين المللي تضمين اوسوافقي ترلاسه اوعملي شي دشو روي اتحاد محدود يوځي قطعات به خپل سوله دوست هيواد ته بيرته لاړشي زمو نږ د پلار نيکه په وينه ساتلي داوطن به مو نږ پخپلو لا سو نو او خو اري خپلو آينده نسلو نو د پاره لکه دجنت ښا يسته او خو شحال جوړ کړ و او په صلح او امنيت کي به په کار او زيار بوخت شو.

که داسي و نه شي او هغه کسان چي ددښمن په صفو نو کي و لاړوي او زمو نږ او ستاسو تاريخي او ملي دښمنان سره لاس يو کړ وي دهغوي پيسي او وسلي ته سترګي نيولي وي او دهغوي دناوړه اغراضو دپاره خپل دجنت همسي وطن افغانستان او ددي وطن دمسلما ن اولس دوژلو اوسوزولو کار پر مخ بيا يي، زمو ږ روغ نيت ته هم نه ګوري، ستاسو جرګو او منت ته هم نه نو بيا د داسي اشرارو ور کول زمو نږ او ستا سو ملي، ايما ني او و جد اني وظيفه ده، مو نږ داسلام دروښا نه دين او دخپل ملت دو يا ړلي عنعني له مخه تاسو درنو پښتنو ته دا اختيار درګو وچي تا سو خپله غا ړه خلاصه کړ ي دوي پوه کړي او دشر او جنګ دلا ري نه يي مخ و اړوي او که ستا سو جرګه او منت نه مني نو بيا دخپل پښتني تاريخي عنعني او نرخ و رواج مطابق او د دي قراني نص د حکم په رڼا کښي داسي اشرارو دريښو دو ر کو لو پسي را پا څيږي دا هم پښتو ده هم اسلا م.

«وان طايفتان من المومنين اقتتلو فاصلحو بينهما بغت احدهما علي الاخر فقا تلوو ا التي تبغي حتي تفي الي امر الله (ج) «۲۶ پاره ـ دا لحجرات سو ره»

تر جمه:ـ که دمو منانو دوه طا يفي خپلو کښي جنګيري نو تاسو ددي و رونو تر منځ صلح وکړي که چيري په هغو کښي يوه طا ئفه ستاسو د جرګي د منلو نه انکار او بغاوت

کوی نو بیاهغی طائیفی مره قتال او جنگ کوی تر هغه چه دحق لاری ته راوگرزی زمونږ پښتنو و رونو !

دا یو خوخبری وی چی مونږ دلوی خدای په وړاندی ستاسو دپښتو ،ایمان او غیرت په نامه دخپل وجدان په آواز دخپل حزب ،د ولت او حکومت دتاریخی مسئولیت په منظور په ډیر واضح ډول تاسو ته په دی اراده و کړی چی زمونږ غاړه خلاصه شی .

مونږ خپله غاړه خلاصه کړه اوس ملی تاریخی او عرفی مسؤلیت ستاسو دی اوس خپل خدای خپل وجدان خپلو آینده نسلو نو او تاریخ ته داجواب ورکول ستاسو وظیفه ده چی تاسو دشر درفع کولو، دامنیت دتامینولو' دهیواد دخاوری ناموس ،ملی استقلال او دینی اساس دژغورلو دپاره څه کړی دی ؟مونږ یو ځل بیا تاسو ته یقین درکوو چی دافغانستان دخلك دموکراتیك گوند او ستاسی انقلابی دولت په دي لړ کښی نور هیڅ ډول غفلت نه کوي او هلیه لرو چی تاسو هم خپل ملی تاریخی او دینی مسولیت ته ښه چمتو شی.

خدای دي وکړي چی مونږ ټول پدی تاریخی مرحله کی دخپلو ویاړلو نیکو نو او پلرونو په شان سلاوتړو د خپل او هیواد ددښمنا اود هغوي هرډول اجنتانو نه وژغورو انقلابی افغانستان دسولی او امنیت فضا کښی د ابا دی او خوشحالی په لور روان کړو او نوی دنیا کښی نوي گلالی افغانستان خپلو اینده نسلو نو ته تحفه پریږدو .

و من الله التوفیق

# دافغانستان خلکو ته دا.خ.د.گ دسرترسری کنفرانس پیغام

دانسان دسولی او آراسی کرامت اوورتیالپاره د ا. خ. د. گ ښه وائی او ښه غواړي:

بسم الله الرحمـــن الرحیـــم .

گرانو هیواد والو ورونو اوخویندو دهیوادلریو اونژدی سیمومسلمانانو او پتمنو اونجیبو هیواد پالونکو

سونږ دا.خ.د.گ دغه دکارگری طبقی اود هیواد ټولوزیار ایستونکود مخکښی گوند استازیو دخپل گوندی کنفرانس کار چی په هغه کی مهمی مسئلی وڅیړل شوی پای ته ورساوه . دغه ټولی مسئلی په یوه جمله کی لنډولی شو او هغه داچی ښه باید وشی چـــی زمونږ دکړیدلو خلکو دحیاتی اولرغونو ارمانونو اوهیلو تحقق چی دهغوله پاره د ثور انقلاب وشو چټک کړی شی .

دانقلاب توفان فیودالان اودهغوی انډیوالان چی دهیواد عادی اوساده خلکو په حساب یی خپل بی شرمه اوطفیلی ژوند پرمخ بیوه راوپرزول اوزمونږ سپیڅلی خاوره ئی دهغوی له وجود څخه پاکه کړه زمونږ هیوادنوریودموکراتیک هیواد دی چی دهغـــه سرنوشت خلک تاکی .

وړونو اوخویندو زمونږ هیواد حساسی اوسختی شیبی تیروی څه دپاسه دری کاله کیږی چی زمونږ دګران هیواد پرضد دکورنی او بین‌المللی ارتجاع دامریکا دامپریالیزم دچین دهژمونیزم اودهغوی دلاسپو الانو دمتحد و څواکونو نا اعلام شوی اوورانکاره جنګ دوام لری زمونږ انقلاب دهغوی له ګتو سره سمون نه خوری ځکه له‌پیرته‌پاتی‌والی څخه یی دپرمختګ خواته زمونږ دخلکو دبشپړتیا لپاره لاره پرانستی او زمونږ هیواد په یوپیاوړی او خپلواك هیوادبدلوی ارتجاع دخپل قدرت اوطبیعت په لحاظ نشی کولای چی‌دستمګرانو د قدرت‌اوحاکمیت له پای ته رسیدلو او د بزګرانو او دکرنی دکارګرانو په ګټه دځمکو دموکراتیکو اصلاحاتو له تحقق سره جوړښت وکړی او پخلاشی .

زمونږ دهیواد پرضد دامپریالیزم او ارتجاع جنایتکارانه جګړی په نتیجه کی یوزیات شمیر بی ګناه او زیار ایستونکی هیواد وال وژل شویدی دهیواد اقتصاد ته سخت تاوان رسیدلی دی په ځینو صنعتی موسسوکی چی خلکو ته مهم اوحیاتی محصولات تولیدوی دکار جریان پری شوی داو بولګولو شبکو ته تاوان رسیدلی اودځمکو پومبی او چغندرو محصولات کم شویدی اوکه چیری تر اوسه پوری دوطن آزادی ساتل شوی او زمونږ خلك له لوړی څخه ندی‌مړه‌شوی داردودامنیتی ارګانونو انقلاب دمدافعینو دډلو دسر ښندونکو د.ا.خ .د. ګ اج.د .س.د صنفی اتحادیو د ا. خ د. س. اونوروتولنیزو سازمانونو دغړو او دټولو پتمنو هیواد پالو دزیاتی میړانی زړورتیا اواتلی برکت دی چی په میړانه او وسله په لاس زمونږ دهیواد دپت ناموس ،آزادی ،خپلواکی ، ملی یووالی او دځمکی دتمامیت په دفاع کی په سر ښندنی سره دریدلی دی .

زمونږ له انقلاب سره دنړی د ټولو مترقی ځواکونو او په سرکی یی دسترشوروی اتحاد ملاتړ شته . دافغانستان له خپلواکی ،ملی حاکمیت او دخاوری له تمامیت‌څخه دستر وروړ شوروی اتحاد دفاع زمونږ دټولو زړونه له مننی او کورودانی څخه ډك کړی .زمونږ کنفرانس دعمل پروګرام تصویب کړاو مونږ غواړوټول پتمن

مسلمانان او ټول هیواد پالونکو دغه په محتوا خبر اوسی او ډاډه یو چې آن یوتن یې

هم نشي کولی ددغه پروګرام دتحقق په باب له کار څخه ګوښه شي او اوږه تری خالی کړی

مونږ څه غواړو او څه پیشنهاد کوو ؟

مونږ غواړو چې دټولو زیارایستونکو لپاره دکار د تأمین دکاردعادلانه ګټې دتثبیت د زیارایستونکو لپاره دکوردجوړیدودپراخ کار دپیل دبیود کنترول او د خلکوله پاره دطبی خدمتونو دښه والی او دعمومی لوښو نیو ښوونو دتأمین لپاره ز مونږ تدبیرونه او پلانونه ډیر ژر او چټک عملی شی .

زمونږ انقلاب دانسان دحقوقو لپاره دغوښی او کلکی مبارزی بیرغ وړپا وه — په افغانستان کی هیڅوك باید ځان تحقیر شوی .هیری شوی او کړیدلی احساس نه کړی دهغو ساده خلکو په وړاندی دظلم او زورزیاتی وخت چې دتیر و فیوډالانو دعمل دایمی لاره وه په نه ستنیدونکو توګه تیر شویدی او مونږ په هیڅ ډول اجازه نه ورکوو چې تکرار شي

نوی انقلابی حاکمیت ترټولو دمخه دهغو کارګرانو او بزګرانو حالت ته پاملرنه کوی چی پخوانیو ستمګرو رژیمونو دهغوی اړتیاوو ته پام نه کاوه دصنایعو په ودی سره کارګرانو ګټه زیاتیږی او د هغوی دکار او ژوندشرایط ښه کیږی ګوندا و حکومت به ټول لازم تدبیرونه ونیسی چی کارګرطبقه دهیواد په سیاسی او ټولنیز ژوندکی زیاتیدونکی رول سرته ورسوی .

دا.خ.د.ګ او دا .د.ج دولت هڅه کوی چی په ډیره لنډه موده کی هر بزګر دځمکی او اوبو خاوندشی او دسودخورو له اسارت څخه دژغورنی په غرض ددولت له مادی مرستو څخه ګټه واخلی .

انقلابی حکومت غواړی له تیاری څخه دبزګرانو دژغورلو لپاره مرسته وکړی او دهغوی ماشومانو ته ښوونه او روزنه ورکړی .

بزگران دهیواد په انقلابی نوی جوړښت کی دبرخه والوزیات شمیر تشکیلوی او دا.خ.د.گ ډاډه دی چی هغوی دانقلاب او خپلی نیکمرغی لپاره فعالی مبارزی ته ډیر زیات جلبیږی دا.خ.د.گ پوره تصمیم لری چی دافغانستان درو شنفکرانو دنوښت او خلاقیت امکانات پراخه کړی او دهیواد دمهمو پرابلمو نو په حل کی دهغوی برخه اخیستنه و هڅوی . خلك په خپلو هیواد پالو روشانفکرانو ډاډاو باور لری او دهغوی مرستی ته سترگی په لاردی .

دهیواد کوچنی سوداگراو کسبگر باید ډاډه وی چی گوند او وگړ نی حکومت دهغوی په تولیدی او تجارتی فعالیت کی په ژوره توگه گټه لری موږ کو چنی‌سوداگر او پتمن کسبگر دهیوادپه‌انقلابی‌بهیر کی شریكبو لواوله‌هغوی‌سره به‌هرډول‌مرسته‌وکړو

دا.خ.د.گ هغه شمیر ملی سوداگر اوملی پانگوال هم دانقلابی بهیر دبرخه والو په ډله کی بولی چی دافغانستان دسمسور تیاله کار سره مرسته کوی .

دولت له هغوی سره مرسته کوی او دبهرنی پانگی دسیالی پهوړاندی دهغوی دفاع کوی او له دولتی سکتور سره دگټوری متقابلی همکاری لپاره برابر شرایط پیدا کوی .

دا. خ.د.گ دهغوشرایطو دپیداکولو لپاره چی په هغوی کی‌له استثنا پرته دافغانستان ټول ځوانان دخپلو استعدادونو دآزادانه ودی او دهیواد په انقلابی بدلونونو کی دپراخی برخی اخیستنی امکانات ولری یولړ پلانونه طرح کوی دولت بهدکارگرانو دماشو مانو ښارنه‌وکړی او په انجنیری ،طب ،حقوقو ،پوځی ښانگو او نورو ښانگوکی به دلوړو تحصیلا تو لپاره دهغوی دځوانانو دهڅی ملاتړ وکړی .موږ دهیواد زیارایستو نکوځوانانو ته بلنه ورکوو چی دا.خ.د.س‌له لیکوسره یوځای شی چی په هغوکی په چټکی سره له ټولنیز وچارو اووظیفو سره بلدشی اوزموږ دهیواد په گټه خپله انرژی دوستی او استعدادونه پنت په کار واچوی .

دا. خ. د.گ خپله وظیفه بولی چی‌دهیواد په ټولنیز اوسیاسی ژوندکی دښځو دخپلی

خوښې برخه اخیستو لپاره ټول لازم شرایط برابرکړی انقلابی حکومت نه یوازی د افغانستان دښځو دحقوقو دفاع بلکی دهغوی دروغتیا ساتنه او دفرهنګی اوسیاسـی سطحې په لوړولو کی مرسته اودهغوی دماشومانو په روزنه او نوروکی مرسته خپله وظیفه بولی دا. ښ.د.س وظیفه لری چی دهیواد ښځوسره دهغوی دحقوقودتأمین په کارکی دایمی مرسته وکړی .

دملی مسئلو په وړاندی اوله قبایلو سره په ارتباط کی بهدارادی دآزادی اوقانـع کیدو داصل په رعایت سره ټولو لپاره دحقوقودو اقعی برابری اودامکاناتو دبرابری په باب کړنلاره تعقیب کړی مو ږ به دهغوی په منځ کی دنژدیوالی همکاری متقابل تفاهم دوستی او وروروولی دبهیر چټکوالی سره مرسته وکړو لهدی کار څخه پرتهیو پیاوړی اوسمسور افغانستان وجود لرلی نه شی .

پتمنو مسلمانانو اونجیبو هیواد پالونکو !

تاسو وینی چی دا. خ.د.ګ غواړی هغه څه چی پخوا نیو واکمنانو خلکو تهدهغوی له ورکولو څخه ډډه کوله او هغه دروغجن مسلمان ډوله کسان چی نن هڅه کوی دښرل شویو واکمنانوځای ونیسی او هغه ځان ته اختصاص کړی خلکو ته وسپاری خلك باید هغه څهچی انقلابی حاکمیت یی هغوی تهورکوی په لاس کی واخلیدغه کار لپاره تاسو باید دانقلابضد کسانو پرخلاف مبارزه کی دانقلابی قدرت دسیمه ییزوارګانونو اودپلار وطنی ملی جبهیدکمیټو په کار کی چی باید په ټولو ولایتونو ښارونو ولسوالیو اوعلاقه داریوکی جوړی شی په پوره زړورتیا سرهاو پهفعاله توګه برخه واخلی .

خلك ددولت په ملاتړ پیاوړی دی اودولت دخلکو په ملاتړ !

خلك باید له خپلانقلابی حکومت سره وروستی ستر هدف یعنی زمونږ ګران هیواد کی دسولی اوآرامی دتأمین دلاسته وروړلو په لاره کښی هڅه وکړی په ټول افغانستان

کې یوازې د جنایتکوونکو باندو نو د ډلو مشران دي چې سوله نه غواړي او په عملي توګه یې ګډو ډوي هغوی سولې ته ضرورت نلري ځکه یوازې په جګړه کې دي چې خپله شتمني زیاتوي د جګړې په پای ته رسیدو او د سولې په ټینګښت سره به هغوی ته نور امپریالیستان او هژمونیستان څه شی ورنکړي او هغوی به هم ونه کولی شي نور له مجازاتو پرته د کسبګرو او کوچنیو سوداګرو په شوکماری لوټماري او چپاول ګري لاس پورې کړي باید ډیر ژر د اشرارو او تیری کوونکو باندو نه وځپو باید په هرې ولسوالي او علاقه داری کې د انقلاب د مدافعینو او د مقاومت داوطلبې ډلې جوړې شي .

حکومت له دغو ډلو سره د مهماتو . جامو . د ارتباط او ترانسپورت د وسایلو له پلوه مرسته کوي اشرار و دغو مسلمان ډولو کسانو ته په خپلو ښارونو او کلیو کې لاره نه ورکوو پریږدي چې ځکه دغلو لوټمارو او زورویو نکو ترپښو لاندې او رواخلي مسلمانانو سو ږیو ځل بیا په رسمي توګه اعلامو و چې د اسلام د مقدس دین احترام زموږ د ګوند او انقلابي حکومت د سیاست یوه برخه ده د ادانقلاب ضد کسانو جنایت کوونکي فعالیت دي چې د اسلام مخالف دي نه د مسلمانانو د زیار ایستونکو پرګنو د لرغونو هیلو د لاس ته راوړلو په لاره کې دوګړني حکومت هڅه چې په قرآن مجید کې یې یادونه شویده لدې اسله موږ د کنفرانس برخه وال ټولو مسلمانانو ـ عالمانو ـ ملایانو امامانو ـ خطیبانو ـ او لنډه داچې ټولو روحانیونو ته بلنه ورکوو چې د لوی خدای په نامه د مقدس دین او زموږ د کړیدلو خلکو د ښمنانو په وړاندې دغو څ او بې امانه مبارزې له پاره عدالت برابروي او له استثمار سره ضدیت ته د اسلام د تاریخي بلنې په نامه سر ه یو شي. زموږ

زړورا او قهرمان وسله وال پوځ د خپلې هیواد پالنې د وظیفو په پوهید و سره په ځان تیریدنې او سرښندنې سره د انقلاب د کورنیو او بهرنیو د ښمنانو په وړاندې د قهرماني مبارزه پیل کړې او د انقلا ب د ارزښتونو د دفاع کوي دغه نوی اردو د خلکو اردو ده دغه ډیر لوړ و یاړ خلکو ته خدمت دی نه د خلکو دغوسې په وړاندې دیوموټې

ستمگرانو دفاع موږ داردو ،خارندوی او دا منیتی ځواکونو ټولو کارکوو نکوته دلك مهارت او دسپلین دهراړخیز ښه والی او بشپړ تیا او د خلکو په ښنگ کی دهمیشنی دریدو بلنه ورکوو .

گرانو دوستانو او ملگرو زموږ دقهرمان وسله وال پوځ له لیکو سره یوځای شی چی دوطن په فضأ کی دسولی اوآرامی دپوره ټینگښت ورخ ډیره ژر را ورسیږی .

پتمنو هیواد پالونکو !

زموږ په هیواد کی دنوی ټولنی د جوړولو لپاره مبارزی داقتصاد دسطحی لوړتیا سره دمرستی او غیر فعالو موسسو دبیاپه کاراچولو اود نویو پروژو دجوړولو په گډ کار کی ستاسو برخه ارزښتنا که ده داکار به زمونږ په ملگونو زړورو هیوادوالو ته کار ډوډی اوکور برابر کړی .

داکار دخلکو دژوند دسطحی دښه والی په لاره کښی دطرح شویو پلانونو دتحقق لپاره ضروری وسایل برابروی چی دافغانستان دسمسور تیاز موږ دهیواد دهر هیواد پال مسلمان او پتمن سړی دلرغونو هیلو دترلاسه کولو په لاره کی لومړی گام دی.باید په خلکو پوری مربوطی شتمنی .فابریکی .کارخانی .پلونه .سرکونه دبرښنا دستگاوی داوبولگو لوکانالونه . ښوونځی .روغتونونه اونور ددښمنانو له تیری څخه خوندی کړو دښمنان هغه رنگوی چی دهغوی دورانولو په سرسته دجنگ حالت ته دوام ورکړی هغوی د خلکو دځوریدو بد مرغی اوبی وزلی په وړاندی بی توپیره دی له لوټماری او ورانی څخه دگرا ن هیواد ژ غورل دافغانستان د ټولو پتمنو مسلمانانو او هیواد پالونکو په حیثیت اوناموس پوری مربوط کاردی .

موږټینگه عقیده لروا وپوهیږو چی دانقلاب ضدکسا ن چی هرڅوسره وحشیتوب او لوټماری وکړی او امریکائی امپر یالیستان او چینا ئی هژمونیستا ن زموږ ددښمنانو په ملاتړ سره هرڅوسره زورولگوی بیاهم دهغوی ناوړه پلانونه او ناولی هیلی په ماتی محکومی

دی هغوی د دی وس نه لری چی یو ځل بیا زموږ د خلکو په غاړه د سرئیتوب فیوډالی او استثماری جغ کښېږدی . .

دافغانستان پتمنو او نجیبو خلکو !

گوندزموږ دگران هیوادد خلکو دآرامی او سوکالی په لاره کی له خدمت نه پرته نوری گټی نلری گوند دخلکو له پاره د هغه څه هیلی لری چی هر افغان سړی یی غواړی سوله کار او ډوډی خود انقلاب په ضد ځواکونو زورو یونکو او باندیو یستانو باندی بریالی توب په خپله نه تر لاسه کیږی .دغه بریالیتوب زمونږ دټولو ځواکونو او مادی امکاناتو میږ نتوب .ثبات او مقاومت پوره تمرکز غواړی موږ باید په همیشنی توگه دلیکو یووالی او دهیواد دټولو هیواد پالونکو یووالی او پیوستون پیاوړی کړو مونږ هغه وخت بریالیتوب تر لاسه کولای شو چی ټول یوځای متحد او په گډه دهغی لپاره مبارزه وکړو.

زموږ دگران هیواد دافغانستان بچیانو !

مونږ تاسو ته بلنه درکووچی دا. خ. د. گ په شاوخوا راټول شی او د هغه تر رهبری لاندی دانقلاب ضد کسانو د ځپلو کار ځپل چی زمونږ دخلکو د نیکمرغی په لار کی خنډونه پیدا کوی پای ته ورسوی .

پریږدی چی زموږ په خپله گرانه او مقدسه خاوره کی سوله او آرامی ټینگه شی .

پریږدی چی زمونږ په وطن کی انسانی کرامت او ارزښتو نه حکم وچلوی .

د ثور انقلاب تر بیرغ لاندی د نیکمرغه خپلواك اوسمسور افغانستان په لاره کی سخ په وړاندی .سره دوی دانقلاب ضد ارتجاع او امپریالیزم مونږ بریالی کیږو .

# سروازې لیک

کابل افغانستان

دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دننګرهار ولایت داستازو له خوا دارو پایي پارلمان په نامه سروازی لیك.

۱۹۸۲ ـ دمارچ ۳ نیټه :

موږ دقومونو او قبایلو استازي دنړۍ دخبرسونکو اژانسونو له لارې، دارو پایي پارلمان دهغه فیصلې په باره کې خبرشوچې د۱۹۸۲ کال دمارچ په ۲۱ نیټه دیورمارش او میټنګ په ترڅ کې دافغانستان له فراریانو څخه ددفاع او ملاتړ څرګندونه کوې. موږ له ارو پایي پارلمان څخه پوښتنه کوو چې ولې دافغانستان دهغو خوکسانو فراریانو او باغیانو ملاتړ کوي چې د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کښې ئې خپلې ګټې له لاسه ورکړې دي. تاسې اروپایي پارلمان اشتباه کوئي، تاسې چې ځانونه دافغانستان دخلکو دګټو مدافع کوونکي بولې. ولې او څرنګه حاضرشوي یاست چې دافغانستان دموکراتیک جمهوریت دخلکو دپراخو پرګنو او زیارکښو وسونو له ګټو څخه سترګې پټوي. ولې زموږ دخلک

مسخره کوی. ؟ایا دافغانی بانله یستانواو سړی وژ و نکو له هغو جنا یتو نوځخه‌چی د پاکستان
په‌خاو ر و کی‌دنړ یو ال‌امپر یا لیز م‌او ار تجاع له‌خو او ر ته و سله‌و ر کو ل کیږی‌سو ږخاوری‌ته
ا ستو ل کیږی ا طلاع نلری ؟ مو ږ ،تاسی ددی‌سرو ازی لیك په ذر یعه دد غو بانله‌یستانو له
نجایعو او جنایتو نوځخه خبر و و .په‌ننگر هار ولایت کی‌یوځای دی چی‌هغه دخو گیانیو په‌نامه
یاده‌یږی هلته تاسی پو هیږی چی‌جنایت کو و نکو با نله یستانو کوم کا ر و نه کړی دی ؟

دوی د ۱۹۸۱ کال دسی‌په اولسمه نیټه توره شپه‌کی دشیر زاد په کلی حمله و کړه‌حتی
دوی په‌ماشو مانو هم‌رحم و نه کړ .شپږ ماشو مان او ۲ ٥سړی او ښځی یی بی رحمانه تـو گه
وویشتی ددغـه کلی کورو نو تـه‌یی او ر وا چـا و ه .دهغوی‌مال او شـته یی چور او لو ټ
کړ ل . یوولس ځو انی نجو نی یی‌له ځانه سره یو وړی . داشرار و با نله‌و نو په‌دغه کلی کی‌او
دهغه په‌شاو خوا کی کابو ۳۰ ښوو نځی او پنځه جو ماتونه وسیز ل.

ددوی دجنایتو نو بله‌نمو نه: دجلال اباد دښار په جنو بی‌بر خه کی هله پر ته ده‌چی په‌هغی
کی‌زمو ږ دهیواد دبو دا یی نهضت ار زښتنا ك اثار وتار یخی مو زیم شته‌دی دشپی‌له
خوا پر هغی حمله‌وشوه ټو ل هغه اثارچی لیږ دیدل هغه ئی‌غلا او لو ټ کړ ل .او پاتی
و دا نی او مو زیم ته یی او ر و اچاو ه .
یو بل مثال:

دننگر هار و لا یت مر بوطه په‌گو شته کی‌د ۱۹۸۱ کال دجو لای په ۱۲ نیټه دحمیدمو سند
لیسه و سیز له. دمحمداسیر د کلی دجو ماتملاچی هیو اد پال شخص و .له‌کو ر څخه‌ر او و ست
او د هغه سر یی‌له‌تن څخه جلا کړ . دملاسیر سنی چی دخپل میړه‌دخلاصو ن لپاره یی‌ناری‌سوری
و هلی دټو پك دگو لو خو را ك کړه . زیات شمیر بزگر ان بی‌و و ژ ل او دهغو مال‌او شته‌ئی
و تښتو ل . جو ماتو نو ملا یانو

او خطيبانو ته گوابښ کوی چی جوړ شاتو نو ته دلمانځه لپاره لاړ نه شی. ښوو نځیو ته دسبق دلوستلو لپاره د زده کوونکو ممانعت کوی .

دبزگرانو زراعتی حاصلات او څاروی غلا کوی او لوټوی یی. لنډه دا چی و یلای شو چی دغه لو تیماران او لاره وهونکی دخپلو تللوگټو دپیاتر لاسه کولولپاره ، د وجدان او انسانی شرف په خلاف را پا څیدلی او د هر وینو او چرسو قاچاق دد وی دشرموونکو اعمالو بله نمونه ده. دغه جنایتونه یوازی دنمونی پتوگه یا دشول . او کله نه ددغو بانډ ستا نو جنا یتونه او سړی وژنی په ټول هیو اد کی دو مره زیاتی دی چی په حساب کی را تلای نه شی.

تاسی ارو پایی پارلمان ولی له افغانی فراریانو څخه په د فاع کولو، ځانو نه دهغو په جر مونو کی شریکوی تاسی خوځان ته د خلکو دحقوقو مدافع وایی. نوولی دافغانستان د دمو کراتیک جمهوریت دپراخو پرگنو او و لسونو څخه دفاع او ملاتړ نه کوئی.

موږ له تاسو څخه څو پوښتنی کوو:

تاسی ، پو هیږی چی دنړیوال امپر یالیزم او ارتجاع دجلادانو او مزدو رانو پو ځیانو په لاس. هره و رځ دالسلوادور په زرگونو بی گناه خلک قتل عام کیږی ولی دهغو په مرسته کی همدردی لپاره سار ش او میټنگ نه کوی ؟

ولی دجنوبی افریقا دنژاد پالونکی او فا شیستی دولت دانسا نی ضد اعمالو په نسبت خپله کرکه او انزجار نه څرگند وی ؟ ولی دفلسطین درېږیدلو خلکو په مقابل کی داسرایلو د ننگینو اعمالو په خلاف اعتراض نه کوی ؟ ولی دافغانستان دمو کراتیک جمهوریت ته یو هیات نه را لیږی چی دپیښو جریان له نږدی څخه مطالعه کړی ؟

موږ دننگرهار ولایت باصلا حیته استازی تاسو دارو پایی پارلمان غوړو نو ته دغه حقیقت رسوو چی دافغانستان دمو کراتیک جمهوری حکومت دخپل تاسیس له وخت څخه مذ هبی عقیدی رسوم او عادات او زموږ ملی او فر هنگی موسسی آزادی او مصئو نی اعلان کړی دی.

سو ږ کولای شو خپل ملي ژوند له کوم خنډه څخه پرته ترتیب کړو. زمو نږ د هیواد په تاریخ کې د لو مړي ځل لپاره زمو ږ د هیواد زیار کښا نو ته دا جتما عي سازمانو نو اود خلاقو اتحا دیو د جوړو لو حق ورکړ شو. دنار ینه و او ښځو حقوق مسا وي او برابر اعلان شو ل. د بې سوادۍ د منځه وړلو لپاره فعالیت د ملي عمومي مقیاس بڼه غوره کړه کابو څلو رو کالو کې څه د پا سه زر ښوونځي او نوري تعلیمي موسسې پرانستل شوې. څه د پا سه یو میلیون تنو بزگرانو او کارگرانو د بې سوادۍ د منځه وړلو یعنې د سواد اموزي په کورسونو کې په زده کړه پیل وکړ.

کتابتونونه جوړ شول. د افغانستان په دموکراتیک جمهوریت کې د او سیدونکو وړو نو ملیتـو نواو قو مونو د فرهنگي پر مختیا په لار کې لو مړ نی گامو نه پورته شو ل. په همدې مقصد په ازبکي. ترکمني او بلوچي ژبو درسي کتابونه. ورځپاڼې. او مجلې چاپ او پیل شوې.

د ملي لړ ه کیو په ژبو تلویز یوني او را دیویي برناسې او پروگر امونه شروع او پیل شو ل.

د انقلاب بری او په تیره بیا د هغه نوی بشپړ تیایي پړ او زمو ږ و لسو نو ته د دی امکان ور کړ چې زمونږ د هیواد د خو پیړیو په عقب ماند گی غلبه او بری حاصل کړي. او د ملي صنعت په جو ړ ید و ا و د خلکو د ژو ند. د سطحې په لو ړ ید لا س پو ری کړي. بې ځمکواو لږ ځمکو بز گر ا نو ته ځمکه و و یشل شوه.

حتی په لنډ ه موده کښې اسپریا لستي او طا غو تي ځوا کونو د سیسو سره سره زیات کارونه تر سره شو ل.

د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت خلکو د پلار وطني ملي پراخې جبهې په جوړو لو سره د خپل پر له پسې پیړیو په اوږ د ه تاریخ کې د دې حق تر لاسه کړ چې د هیواد د سیاسي اجتماعي او اقتصادي سهمو مسلو په حل کې برخه واخلي او د میلونی زیار کښا نو په سخ

دراتلونکی‌ترقی او پرمختګ لاری خلاصی کړی . موږ دقومونو اوقبایلو استازی هیڅاته ددی اجازه نه‌ورکوو چی‌زموږ د هیواد په‌کورنیوچاروکی لاس‌ووهی.په‌موږ خپله اراده تحمیل او زموږ‌سرنوشت په‌لاس کی‌واخلی.

داپه خپله‌زموږ مسلم حق‌دی. موږ ته خپل هیوادګران دی .دثور انقلاب‌اودهغه له‌بشیګنو څخه چی‌زموږدا نقلابی اوویاړلی هیواد زړوروقهرمانوځامنو په‌قیمتی وینه ترلاسه شوی‌دوروستی سلګی پوری دفاع کوو. او هیڅاته‌به ددی حق ورنه‌کړو چی زموږ د

ټولنی عینی جریان ځنډ کړی او بیادملا کانو،سودخوړونکواواستعمارګرو تسلط ټینګ کړی داموږ ووچی دنړی په دی سیمه کی مودا نګریزانو دامپراطوری زوړ استعمار پښه نګو ټوکړ تاسی زموږ د هیواد دتا ریخ‌پانی او مخونه وګوری چی څرنګه زموږ د پلرونو او نیکونو دویاړونو،قهرمانیو او زړورتیا څخه ډک دی موږ دقومونو اوقبایلو استازی په‌لوړ اواز اعلا موو‌چی دافغان ـ شوروی ولسونو دوستی خلل نه‌منونکی اوعنعنوی دوستی‌ده . دزمانی دازموینی له بتی څخه بریالی راوتی او دویاړ په احساس سره څرګند ووچی دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت اودشوروی اتحاد دوستانه اړیکو په افق کی‌په ٦٣ کالوکی هم حتی دوریځو یوه‌ټوټه او یاکومه توره لړه نه‌ده لید ل شوی شوروی اتحاد زموږ دهیواد دخلکو دژوند د سطحی دلوړتیااو دپرمختیایی پروژو په‌کارکی فعاله ونډه اخیستی اوا خلی. زموږسره زیاتی مرستی کوی موږ دافغانستان دد موکراتیک جمهوریت خلک دشوروی اتحاد دغه ستری او دوستانه مرستی هیڅکله نه‌هیروو. له‌ثور انقلاب څخه وروسته‌د حفیظ الله امین دتسلطپه زمانه‌کی د هیوا د د شمنانو دسیسی دی حد ته ورسیدی چه‌زمونږ هیواد خپلواکی او د ځمکی تمامیت دخطرسره مخامخ شو. دا شوروی اتحا د ووچی زموږ دعادلانه غوښتنی او دپوځی محدود و قطعاتو دمرستی په‌لړکی مثبت ځواب راکړ او زموږ هیواد ئې دتجز یه کیدوخطرڅخه خلاص

کړ. هغه وخت چې زموږ دهیواداو دخپلوا کی دښمنانو تیری له منځه لاړشی او زموږ په هیواد کی امنیت ټینګ شی دشوروی اتحاددوست هیواد محدوده قطعات به خپل هیوا د ته ستانه‌شی .موږ دقومونو اوقبایلو استازی له‌اروپای پارلمان څخه غواړوچی زموږ په‌حال په‌ریاکارانه دمکر په‌ډول اوښکی توی نه‌کړی .اود افغانستان دخلکو ددفاع په‌بها نه‌زموږ په‌سرنوشت اومستقلانه اراده کی‌لاس ونه وهی موږآزادیو حق‌لرو ' خپل وطن خپله‌تولنه اوخپله خاوره څرنګه چی غواړو، جوړه کړواو ابادیی کړواو داجتماعی پرمختګ نیک مرغی اوخوشبختی لاره دخپلو زیار کښو کسانو په‌مخ خلاصه کړو.

موږسوله غواړو ' اوله جنګ اوتیری څخه کرکه کوو. ژوندی دوی سوله ' آزادی‌او دموکراسی !

مړ دی وی جنګ عداوت اودښمنی!

ورکی‌دی اسپریالیستی لاس وهنی!

## د م.م د سرمنشي د استازي سره مرکه

د ملګرو ملتو د سرمنشي استازي ژویر پریز د وکوئیر ۱۳۶۰ کال د اسد په ۱۹ نېټه له افغانستان څخه له روانېدو مخکې د کابل په بین المللي هوایي ډګر کې له باختر آژانس سره یوه مرکه وکړه چې د ادې متن یې وړاندې کېږي.

پوښتنه: محترم جلالتماب د افغانستان دموکراتیک جمهوریت له مشرانو سره خپلې خبرې څرنګه څېړې؟

ځواب:

له ټولو مخکې غواړم د هغې تودې میلمه پالنې او د زړه له کومې هرکلي له امله چې د افغانستان دموکراتیک جمهوري حکومت ما او زما ملګروته وکړل مننه او کورودانې څرګنده کړم.

موږ پدې سفر کې د افغانستان د خلک دموکراتیک ګوند د مرکزي کمېټې له عمومي منشي او د انقلابي شورا له رئیس ملګري ببرک کارمل د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د وزیرانو شورا له رئیس سلطانعلي کشتمند او د بهرنیو چارو له وزیر شاه محمد دوست سره ډېرې په زړه پورې خبرې وکړې.

پدې سفر کې ښوه شوه چې د افغانستان مشران د ملګرو ملتو د سرمنشي له رول سره بوره تفاهم لري او ددې جغرافیایي سیمې د ربوطو مسالو د حل په لاره کې مرستې سره خاصه مینه لري.

غوارم د هغه بشپړ تفاهمله اسله چې د وی خرګند کړ مننه وکړم د وی چمتودی چې د ملګرو ملتو له سرمنشي او له ماسره خپلې سرستې ته دوام ورکړی. دغه رازله دی اسله خوشحاله یم چه په راتلونکی سپتامبر کې به زه او دملګرو ملتو سرمنشي له شا محمد دوست سره په نیویارک کې زیاتې خبرې وکړو او خپلو مهمو خبرو اتروته به دوام ورکړو

زه اوس اسلام اباد ته ځم او په هغه ځای کې دڅو ساعتو له تیرولو وروسته به لندن ته لاړ شم چې دافغانستان او پاکستان ته دخپل سفر او ددغو دواړو هیوادو له مشرانو سره دخبر په رپوټ باندی کورت والدهایم خبر کړم . .

غوارم په خوښی سره وو ایم دافغانستان دموکراتیک جمهوریت او مقابل لوری دملګرو ملتو دسرمنشي له هلو ځلو سره خپله مینه ښکاره کړې ده.

پوښتنه: دافغانستان دموکراتیک جمهوریت ته دسفر په باب ستاسي نظر څه دی. ؟

ځواب :

دادوهم ځل دی چې کابل ته سفر کوم په دغو سفرونو کې مې چې د دغه هیواد دخلکوا و مشرانو نه ستړی کیدونکي او پرمختللی کار وکوت زه پوهشوم چې هروکړی په ګلکه کارکوی او هیله من یم چې ژر خپلی ستونزی حل کړی .

غوارم وو ایم چې ملګری ملتونه دیونیم یوال سازمان په توګه د کړکیچونو د کمښت په باب دمرستې له تنفا هم سره مینه لری .

پوښتنه :

د خپل ماموریت لرلید څه ډول څیری ؟

ځواب : زه فکر کوم چې هلی ځلی روانی دی موږ خپل کار تعقیبوو. د افغانستان او پاکستان حکومتونه د ملګرو ملتو له هلو ځلو سره مینه ښود لی ده او زه د هغه تنفا هم له اسله چې پدی برخه کې دافغانستان له حکومت او خلکو سره شته ډیر خوښ یم .

## دم.م دسرمنشي له استا زيږسره کتنــه

دا.خ.د.گ دمرکزي کميتي عمومي منشي اودا.د.ج.دانقلابي شورا رئيس ملگري ببرک کارمل د ۱۳۶۱ کال دحمل په ۲۶ دملگرو ملتو دسرمنشي استازي ديگوکورد وويز په‌داسي حال کي چي‌دبهرنيو چارو وزير ملگري شاه محمد دوست هم‌حاضر و دانقلابي شورا په‌مقرکي ومانه.

دېدغې کتني په‌جريان کي دملگرو ملتو دسرمنشي خاص استازي په سيمه‌کي دخپل ما موريت په‌باب څرگندوني وکړي.

ملگري ببرک کارمل دا.د.ج.دسوله ييزسياست دبيانولو په ترڅ کي‌څرگند کړه

لکه څنگه چي په بيلو بيلو وختونوکي تينگار شوي د ا .د.ج.په‌رښتيني توگه د افغانستان دشاوخواحالاتو دسياسي حل غوښتونکي دي پدي برخه‌کي داد ج.حکومت د ۱۹۸۰ کال دمي د۱۴م نيتي او د ۱۹۸۱ کال داگست د۲۴م نيتي پيشنهاد ونه تولو ته‌څرگند دي.

دا.د.ج .دگټي لروئکي هيوادو يعني افغانستان -پاکستان -ا وايران ترمنځ دخبردو

کیدو له‌لاری دحل دیوی لاری د پیدا کولو په‌غرض دملگرو ملتو دسرمنشي او ددوی داستازي دیگوکوردوویز هلو ځلو ته‌دقدر په سترگه‌گوري .

مونږ عقیده لرو چې له‌دغې پیچلې موضوع سره دچلند دیره گټوره لاره دسربوطو حکومتونو ترمنځ مستقیمې خبرې دي خوداسې بریښي چې‌بل لوري لا مستقیمو خبرو ته چمتو نه‌دی او پیچلې او غیرگټوره لاره پیشنهادکوي چې‌له‌اصلي هدف څخه لرې پاتې کیږي .سره‌له‌دې په‌هم دا.د.ج.حکومت دښه نیت دروحیې او له‌کاونډیو هیوادو سره دښوا ړیکو دټینگولو لپاره دربښتینې هیلې‌په پیروي په سیمه‌کې دستروسسالو حل او دسولې د ټینگښت په‌غرض داوسنیو مسالو اوستونزو دحل او دسولې یو هراړخیز اودوامدار حل ته‌درسیدو په لاره‌کې خپلو هلو ځلو ته‌دوام ورکړی .

دیوبل خبر له مخې دا.خ.د.گ.د مرکزي کمیټې دسیاسي بیرو غړی اودا.ج.دوزیرانو دشورا رئیس ملگری سلطانعلي کشتمند د حمل په ۲٦ نیټه له‌غرسي مخکې په‌یوولسونیمو بجود ملگرو ملتو دسرمنشي له‌مرستیال دیگوکوردوویز سره وکتل.

پدې کتنه‌کې داستازي دښه‌نیت دماموریت په‌باب خبرې وشوې دغه‌راز دحمل په‌۲۵ له غرسي مخکې دبهرنیو چاروو زیر دملگرو ملتو دسازمان دسرمنشي له‌استازي دیگوکوردوویز سره بهرنیو چاروپه‌وزارت کې‌وکتل اود علاقې وړموضوع‌گانو په باب یې خبرې اترې وکړې .

دیوبل خبر له مخې په‌همدې ورځ له‌غرسي وروسته ملگری شاه‌محمد دوست اودملگرو ملتو دسازمان دسرمنشي داستازي دیگوکوردوویز ترمنځ دد ویم پړاو خبرې دبهرنیو چارو په‌وزارت کې وشوې . دیگوکوردوزیر دحمل په‌۲٦ له‌غرسي وروسته له‌کابل نه‌اسلام اباد ته لاړ.

## په ژنیو کې دافغانستان او پاکستان دخبرو لوسړی پړاو

دافغانستان او پاکستان ترمنځ دخبرو لوسړی پړاو چې دملګرو ملتو دسا زمان دسرمنشي داستا زی ډیګو کورو ویز په هلو ځلو پیل شوی ؤ وړمه ورځ په ژینو کې پای ته ورسید دژنیو په خبرو کې دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دهیات مشر دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دبهرنیو چارو وزیر شاه محمددوست او په دغو خبرو کې دپاکستان دهیات مشر دهغه هیواد دبهرنیو چارو وزیر صاحب زاده یعقوب علی خان و.

شاه محمد دوست دخبرو د نتیجو په باب له له خبریا لانو سره د یوې مرکې په ترځ کې ټینګار وکړ چې دافغانستان دد موکراتیک جمهوریت او پاکستان دهیا تو نو ترمنځ هغه خبرې چې په ژینو کې پای ته ورسیدې داو سنیو ستونزو دحل په لاره کې یو ګام دی او دغه خبرې دهغو بهیر و نو دمساعدې پرمختیا دتامین په خاطر چې پیل شوی په ژنیو کې دبرخه والو دهلو ځلو څرګندوی دی.

# د جرګو وطن

## جرګه زموږ د خلکو مثبت ملي دود

جرګه د افغانستان د ټولو ورونو ملیتونو او په تیره بیا د پښتنو قومونو او قبایلو لرغونی او تاریخي دود دی جرګه یوه قومي غونډه ده چې د قومي او قبیلوي کړکیچنو مسئلو د حل لپاره جوړیږي په جرګه کې د قومونو او قبیلو مشران سره راټولیږي او په ټاکل شوو مسئلو د خبرو اترو وروسته پریکړه کوي. د جرګې د پریکړو څخه تیری سخت مجازات، او ناغه لري زموږ د ګران هیواد افغانستان زیات شمیر سیمه ییز او ملي مهم مسایل د وړو او لویو جرګو په وسیله حل شوي دي او حل کیږي. د ثور د ملي او دموکراتیک انقلاب او د هغه د نوي بشپړتیایي پړاو په بري سره د پراخو ولسونو مذهبي عقاید دود او دستور او ټول مثبت او ګټور فرهنګي ارزښتونه مصئون اعلان او د فیوډالي ارتجاع ټول زاړه بنیادونه ړنګ شول هیواد د پیړیو د اوږده خوب څخه را ویښ او د پرمختګ دموکراتیک ټولنیز عدالت او خپلواکۍ په لور په مخ په وړاندې وخوځیده د خلکو د ټولنیزو او سیاسي ژوندانه په رګونو کې وینې وچلیدې. پراخې پرګنې د نویو ولولو او نویو ارادو سره په حرکت کې راغلې د انقلابي او بښتون له پیل سره سم زموږ هیواد د فیوډالي ارتجاع او نړیوال امپریالیزم د تیري

او تجاوز هدف وګرځید او زموږ زیارایستونکی اولس دی ته اړ شو چې نه یوازې د داخلي ارتجاع ، بلکې د نړیوال امپریالیزم سره نېغ په نېغه وجنګیږي ارتجاع او امپریالیزم هغه کوږ چې زموږ دهیواد د ټولنیز پرمختګ عیني جریان و دروي او له سره بیا دفیودالیزم لاسبري ټینګ او خلک په لویه بې وسی خواری ناپوهی او بد مرغی محکوم کړي خو انقلاب په شانه ځي او دغه ارمانونه ورځ په ورځ د خلکو زړونو ته لار باسي دانقلاب دښمنان به خپل ناولي ارمان ګور ته یوسي. انقلاب په وړاندې روان دی او هره ورځ

دېری نوی سنګرونه لاسته راوړي چې پښتنو قومونو داخ د.ګ د مرکزي کمیټې او ددموکراتیک جمهوري دولت په پیغام کې دغه مطلب ته داسې اشاره شوې ده:

«زموږ او ستاسو ملي او تاریخي دښمنان پدې پوهیږي چې دا انقلاب په شاکیدونکی نه دی دښمنانو څه د پاسه دری کاله خپل زور روازمایلو ډېری کلداری او ډالري خرخ کړل. ډېری وسلې یې راولیږلې خپل ډیر تجربه لرونکی وراندکاران یې موظف کړل د انقلاب خلاف یې ډیر پلانونه جوړ کړل ولې دافغانستان انقلاب ته یې هیڅ ډول نقصان ونشو رسولای بلکې انقلاب ورځ په ورځ پیاوړی کیږي او دښمنانو ته ګام په ګام ماتې ورپه برخه کیږي.

دهیواد خلکو او انقلاب د دښمنانو د ټګو لو او بیځی ورکی یوه ډیره ښه لاره هم چې په عمل کې یې څرګندې نتیجې ورکړې د ملیتو قومونو او قبایلو جرګې د پراختیا او سالمې ودې او رهبري مسئله ده ځکه دغې جرګې دیوی خوانه د یوو الې او پیوستون ستنې ټینګوي او له بلې خوا د دښمنانو ټولې وړانکارې ځای پرځای له مینځه وړي د همدې دلیل له مخې د ه چې د انقلاب د نوی تکاملي پړاو له برې نه بیا ترننه پورې د ګوند او انقلابي دولت د تکړه استازو په ګډون څه د پاسه دری سوه جرګې د هیواد په بیلابیلو برخو کې جوړې شوې. همداشان د پښتنو قومونو او قبایلو د جرګو د تاریخي دود پر بنیاد د هیواد په ختیځ زون کې د پښتنو نورستانیو او پشه یی قومونو او قبایلو سره ستری جرګې جوړې شوې پدغو جرګو کښې د جرګه والو سره د انقلاب د لوړ وانساني اهدافو د بیانولو

برسیره دخلکو سره دگونداو دولت د ټینګ پیوستون او ستقا بلې مرستې او همکارۍ په باره باار زښته خبری او مشوری وشوی . په هغو نژ دی سل جرگوکی چی دصا فیو .نو رستانیانو پشه یانو .گوجرو. مشوا نیو . شینوا رو .سا لا رزیو .ما موندو .مهمندو، ا تما نخیلو. افریدو او خوگیا نو دخلکوسره وشوی هغوی ته دانقلاب ماهیت څرگنداو دهغه هدفو ونه چی په حقیقت کی زموږ درنځید لی اولس داوږدو کلونو ارما نونه دی بیا ن کړل‌شوه او دغه حقیقت روشانه شوچی انقلاب دګټو پرګڼو په ګټه دملی خپلوا کی ترقی‌نیکمرغی اودموکراسی په لورامکانات برابرکړل انقلا ب په خپل بری سره دهیواد ټول زیار- گا لونکی دځمکه والوسودخورو اواستثمار کونکوله جغ څخه وژغورل .دښځواو نارینه وحقوق برابرکړل شوه دبی سوادی له اوږده رنځ څخه دژغو رنی په هکله چټک انقلابی گامونه اوچت‌شول‌دپراخی پلاروطنی ملی‌جبهی اوسیمه ییزوارگا نونو په تحقق سره زموږ دهیوا د ټول اوسید ونکی خلك دلمړی ځل دپا ره په تاریخ کی په دولتی اوټولنیز وچاروکی دبرخی اخیستو حق‌ترلا سه کوی .دحوادثو ددغه چټک اودخلکو په گټه بهره وه چی دانقلاب ددښمنانو سترگی یی ړندی کړی اودنړ ی وال امپریالیزم په مرسته یی ورانوونکی فعالیتونه راپیل کړل .څکه هغوی خپلی گټی‌اوخپلی وروستی ناولی اوارتجاعی هیلی دنابودی په‌حا ل‌کی ولیدی چی دغه‌حالت‌ورته بی له شکه‌دزغم وړنه وه دوی دخپلو شومواوناپاکو مقصد وونودپټ ساتلولپاره داسلام او افغانستان په خطرکی دی دروغجنی اوخا ینا نه نا ری سوری پو رته کړی ولی زموږ خلك د دغونارو‌سورو سره تاریخی آشنایی لری په همدی د لیل دی ،چی دجرگو برخـــه والودا وپتیبله‌چی هرڅه زیات خپل یو والی پیوستون او هوښیا ری دخپل انقلاب‌خلکو او هیواد نه‌په دفاع کی لاپسی ټینګ اودښمنا نوته خوله ماتوونکی ځوا ب ورکړی. دوی دخپلی جګړی په عادلا نه توپ خپل باور څرګند اودخپل هیواد شرف اووجدان‌څخه یی دانقلاب په رڼاکی خپل ملا تړ وښود دجرگو برخه وا لوته دګونـدا وانقلابی دولت

داستازیو له خوا داخبره وړاندی شوه چی ایاداشرارو پلاس په بی رحمی سره زموږ د
کوچنیانو ، نارینه واو ښځو و ژل ماشو نه لوټول کورونه سوزول او دا باد یو ړنګول
مسلمانی ده . ایا دامریکا .انګریز ،چین او پاکستان دخبرو نو او ناپاکو هدفونو له
پاره جنګیدل جهاد دی . دغه شان دګوند او دولت داستازیو له خوا جرګه وال ته د باندنی
تیری دمخنیوی په خاطر دشوروی اتحاد دمحد ودو پوځی قطعاتو درا تګ او د دغه
هیواد دسترو اقتصادی او فرهنګی مرستو په هکله او ږدی خبری وشوی چی درجرګو
دبرخه والو د بشپړ قناعت سبب وګرځیدی منشی سحرګل عیسی خیل مهمندخیل د اتما
نخیلو دقبیلو مشر ملک شیر محمد دافریدو د قبیلو استازی مولوی زهیر او یوزیات شیمر
نورو مشرانو په ګډه داخبره ومنله چی موږ پښتانه قبایل پدی پوهیدلی یو چی نه
افغانستان په خطر کی دی او نه اسلام دا دافغانستان او دانقلاب ددا خلی او خارجی د ښمنانو
توطئه او جوړه ونه ده . دغه دښمنان نه غواړی چی موږ ترقی وکړو او وطن موا بادشی
شوروی اتحاد د زموږ سره لویه تاریخی مرسته وکړه او زموږ هیواد یی د دښمنانو له
خطر څخه وژغوره دغه مرسته موږ هیڅکله نشو هیرولی زموږ سره دشوروی اتحاد د
محدوده نظامی مرسته زموږ دلرغونی او تاریخی دودمطابق کاردی که کله شوروی
اتحاد زموږ څخه دمیړ و مرسته وغواړی نو موږ به هم ورسره مرسته وکړو . ددغو قومی
جرګو په پای کی لاندی قومی پریکړه دپښتنی تاریخی دود پر اساس وشوه .

موږ دحقایقو په پوره تشخیص په خپله خوښه او سلاداشرارو دورانکاری مخه نیسو له اشرارو
څخه خپل کلی، لاری او سیمی ساتو . اشرار نه پریږدو چی دافغانستان او انقلاب خلاف زموږ له
سیمو څخه نارواګټه واخلی . داشرارو دتیری او تجاوز په مقابل کی په میړانه جنګیږو .

که په دګران افغانستان په آبادی او سمسورتیا کی فعاله ونډه اخلو . د دښمنانو
توطیی کشفو واو شنډوو یی دوطن او انقلاب په ساتنه کی هر ډول سرښندنی ته تیار یو .

که په موږ کی څوک ددی تړی او پریکړی خلاف کار وکړی دناغی په دود دهغه کورسو زوو .

مفتاح الدین صافی

**ملگری کارمل :**

## دنو رستان زړه ور خلک به‌دخپلی خاوری څخه د فاع وکړی

**دا. خ . د. گ دمر کزی کمیټی‌عمومی منشی دانقلابی شورا رئیس او صدر اعظم ملگری ببرک کار مل‌د ۱۳۵۹ دقوس په ۱۵ نیټه‌دنور ستان دپټمنو او زیار کښو خلکو یو زیات شمیر استا زی د دلکشاه په ماڼی کی ومنل او له صمیمیت‌نه‌په پاکه اودیمو کراتیکه‌فضاکی‌یی له‌هغوی سره خبری وکړی.**

ملگری‌ببرک کارمل د نورستان د خلکو هر یو استازی سره له روغبړ او احوالـــه‌ء پوښتنی و روسته دگوند او دولت له خوا د نورستان پټمنو خلکو ته چی دثور انقلاب او په تیره بیادهغه دبشپړ تیا یی‌نوی پړاو د دفاع په لاره کی یی خپل بیدر یغه تیاری څرگند کړی دی خپله ژوره مننه او کورودانی و رساوه دخپلی و یناپه ترخ کی یی‌وویل :

دنورستان زړور میړنی ' پټمن او پاك خلك د افغانستان په‌ټول تاریخ کی چی‌دافغانستان دټولو خلکو دملی تاریخ یوه‌برخه ده ځانته یو پاك اوعالی تیروخت او یو تاریخ لري .

نورستان دفرهنگ کلتور ، اودزړورو، قهرمانو ،ملی وطنپالو شخصیتو نو خاوند دی

او وي به‌اولکه ښنگه چې دافغانستان ټول قومونه ، ملیتونه اوقبایل پاك او پتمن دي‌زموږ ګران نورستان‌هم‌افغانستان د نورو ورو نو خلکو په لیکه کې له نورقومونو ملیتونو ـ اوقبایلو سره اوږه په اوږه په‌یو واحد سنگرکې دوطن د ناموس اودګران افغانستان د پت دفاع کړي او په میړانه جنگیدلی دي .

ملګري کارمل زیاته کړه‌په خواشینی سره دثور انقلاب له‌څو میاشتو وروسته زموږ زاړه اوپخوانی دښمنان دتوطئې او دسیسې له‌مخې چې په‌واقعیت‌کې هغه انگریزان دي‌په‌نوریتهو په امریکا یې چینا یې ،او پاکستانی څیرو څرگند شوي او وبی کولاي شول‌چې‌خپل یو جلاد جاسوس او یو ایجنت دافغانستان په‌گوند او د دولت باندي او دافغانستان‌په‌خلکو او د افغانستان په انقلاب باندي په وحشیانه توګه تحمیل کړي اودغه څیره جلاد ـ

حفیظ‌الله امین او د هغه جنایتکاران با ند وچې دخپلو جنایتکارانه عملونو په‌سرته‌رسولو سره یې د گوند د ولت او خلکو ترمنځ یو واټن او بیلتون پیدا کړ . حفیظ الله‌امین‌دغه امین نا امین له‌خپل جلاد باندسره زموږ دنورستان د پتمن اوزیارایستونکی قوم یوشمیر شخصیتونه ،ځوانان ،روشن فکران او روحانیون چې ډیر پاك او هیواد پال شخصیتونه‌وو

په‌بی رحمی سره د مسولیت‌له‌احساس ښخه پرته او بی له ویری په‌رزیلانه توګه شهیدان کړل .سوږ دخپل هیواد ټولو هغو شهیدانو ته دلوی خدای (ج)په‌د ربار کې د آرام او همیشنی روح غوښتنه کوو چه‌په ظلم او ستم شهیدان شوی او له منځه تللی‌دی .

ملګری ببرگ کارمل زیاته کړه دنورستان پتمنو او میړنیو ورونو لکه ښنگه چې‌ستاسو پریکړه لیک سی‌و اوريد دافغانستان دخلکو ټو لو د ښمنانو ته‌یو زورور او غا بښ‌ماتوونکی ځواب دی ، ستاسو پریکړه‌لیک‌دتاریخ هغه‌سهم سنددی‌چه‌دتوری ارتجاع ټول شیطانی‌قدرت دامریکا امپریالیزم ،بین المللی امپریالیزم دانسانیت دښمنان دپت او اخلاقو دښمنان او دنړی دواقعی مسلمانانو دشمنان لړزوی .

د انقلابي شورا رئیس او صدر اعظم د نورستان د پتمنو زیارایستونکو او مسلمانانو خلکو واقعي استازو ته په خطاب کې وویل ستاسو هغه وروڼه او زامن چې دافغانستان دخلک د دموکراتیک ګوند په نامه یادیږي کله چې دثور انقلاب په دوهم پړاو و دژوند په یوه حساس پړاو کې په میړانه زړور رښتیا یو ستر مسؤلیت په خپله غاړه واخیست ولې یې په دې حساس وخت کې دغه دورند او دغه غمرلي مسؤلیت په غاړه وا خیست او دهیواد پالنې داحساس له مخې یې و سانه ځواب څرګند دی ځکه په هغه وخت کې افغانستان د اسې پړاو ته رسیدلی و چې یاافغانستان باید موجود وي او یا افغانستان باید د ځمکې له نقشې څخه له منځه لاړشي او داسین له بانداو پخپله له اسین سره جوړښت کې دامپریالیزم د توطئې له مخې پریکړه داسې وه چې افغانستان باید تجزیه شي.

ملګری ببرک کارمل څرګنده کړه موږ غواړو یو آزاد، خپلواک، سوله دوست او ارام هیواد اوسو، موږ غواړو په هیواد د خپل کې ارام او مصئون اوسو، غواړو زمونږ بزګران په ځمکه کې کار وکړي زموږ بچیان په ښوونځو کې زده کړه وکړي روغتونونه جوړ شي زموږ خلک د کور او ژوند خاوندان شي. تر اوسه زموږ خلک په سمڅو کې اوسیږي ایا موږ دغه ژوند خوښ کړو

ایا افغانستان پر مختللی او مترقي نکړو او ایا زمونږ د غه مترقي کارونه چه زمونږ دانقلاب دښمنان هغه دانقلاب ضد بولي د اسلام په ضد دي دتولي د امپریالیزم او ارتجاع پلمې دي چه زمونږ په مقدس هیواد کښې توطیه او دسیسه جوړوي استازي او خپل خلک ووژني. او زمونږ انقلاب وماتي سره مخا مخ کړي.

په اصطلاح مجاهدینو په نامه افغانستان ته را لیږي، چې زموږ مسلمان، پتمن او زیار ایستونکي خلک ووژني او زمونږ انقلابي د ماتې سره مخامخ کړي. ملګری کارمل د افغانستان د زیارایستونکو خلکو د دښمنانو بې شرمه او رزیلانه توطئې محکومې کړې زیاته یې کړه، هغه تعهد چې دافغانستان د خلکو په مخکې

او د خپل خدای په و ړ اندی سو کړی دی هغه څه چی و ایو په کی ربښتین یو او ربښتین به او سو.

ملګری ببرک کارمل د خپلی وینا په پای کی د نورستان پتمنو خلکو ته چی پخپله خو ښه په پتمنه وصادقا نه توګه یی پلټبیلی ده چه په غوڅه توګه دخپلی خپلو اکی، دځمکی دتمامیت ملی نوامیسو او دثور دپر تمین انقلاب او دخپل ملی و مترقی د ولت دفاع وکړی او پدی سیمه کی سوله تامین کړی یو ځل بیا خپل تاوده سلامونه او نیکی هیلی و رسولی زیا ته یی کړه.

هیله لرم دنورستان پتمن او میړنی خلک او زمو ږ دګران هیوادنوری قبیلی او پتمنو زړو ر ورونه د خپلو ونیکونو او پلر و نو په سبک اولاری قومی جرګی جوړی کړی، خپلی ستونزی پخپله حل کړی او له خپلی سپیڅلی خاوری څخه دامپریالیزم او دهغو دزر خریدو نوکرانو ناولی لاسونه لنډ کړی.

په پای کی دنورستان دخلکو دوو تنو پتمنو استازویو ډاکتر اتش او حاجی عزیز الله وینا وکړ دثور انقلاب ددفاع په غرض یی دتیاری په کی ترڅ کی څرګنده کړه چی مو ږ د دغی خاوری بچیا ن یو او تر هغه وخته پوری چی مو ږ د سپیڅلی خاوری دښمنان له خپل هیواد څخه ونه شړو خپله وسله په ځمکه نه ږدو.

و رپسی د نورستان د زړ ورو خلکو یو استازی اکبر شور ماچ د نورستان دخلکو هغه پریکړه لیک چی په نورستان کی په یو قومی جرګه کی تصویب او صادر شوید ی او دخپلو استازیو په وسیله یی مرکز ته لیږلی دی ولوست.

په پای کی دنورستان دخلکو استازی په داسی حال کی چی ملګری ببرک کارمل و رسره و ودلکشاده مانی دبڼ انګړ ته لاړل دملی اتڼ په کولو سره یی په داسی حال کی چی وسله یی په او ږه و ه دهیوادپالنی احساسات څرګند کړل.

## دنورستان دخلکو پریکړه‌لیک

نورستان د خلکو د هغه پریکړه‌لیک متن چې د ۱۳۵۹ کال د قوس په ۱۵ نیټه دا.خ.د.گ د مرکزي کمیټې له عمومي منشي دا.د.ج دانقلابي شورا له رئیس او صدر اعظم ملگري ببرک کارمل سره دهغوی داستازو د کتنې په ترڅ کې ولوستل شو.

د مرکزي نورستان دویگل او پارون دخلکو د ۱۳۵۹ کال د قوس داتمې نیټې مصوبه پریکړه لیک.

موږ د نورستان خلک دملي حاکمیت، دځمکې دتمامیت او دهیواد دخپلواکۍ په ساتلو کې دیموټې خپلواک او مستقل افغانستان په چوکاټ کې له کلونو کلونو را هیسې دهیواد له نورو ملیتونو سره یوځای بې‌شمیره قرباني ورکړې دي.

له هیواد او خلکو سره مینه زموږ په ختمه کې اشکل شویده ،په هیوا د کې مولمسولی او امنیت سره مینه درلودلې ده او هیڅ کله موهغې گهوډې ته‌لاس ندی اچولی چې زموږ دخلکو

پەژوند پوری اړه پیداکوی او د هیواد د تخریب پە غرض سوله‌جګړی اوويني بهولو خخه سخته کرکه کړی ده، موږ دثوردپرتمین انقلاب له‌لومړیو رڅوخخه خپله وفاداری اعلام کړیده‌خوداسین دباندږدجابرانه واکمنی دوران پرموږباندی په زور داسی شرا یط تحمیل کړل چی‌مونږ یی‌دځان‌دفاع ته‌اړ کړو. پەسلګونوتنه‌بند یان شول، پەلسکونوتنه چارساری شول‌او زموږ سوله‌ییز ژوندیی‌له‌سخت خطرسره مخامخ کړ،خودا.خ.د.ګ. پەمشری دببرک کارمل په مشرتابه دجدی دشپږمی نیتی له‌بریالی پاخونه‌وروسته‌پەګران هیواد کی پەسوله او امنیت کی‌ژوند وکړو او دانقلاب دګټو دفاع وکړو او خپل هیواد ودان کړو.

دسولی غوښتنی ددی مفکوری له مخی دولت‌ته وفاداری څرګنده‌وو او د هغه ملاتړ کووا‌و دغه پریکړه لیک صادروو.

۱ـدثوردپرتمین انقلاب پەتیره بیادهغه دبشپړتیایی نوی پړاوفعاله دفاع او ملاتړ.

۲ـموږ پوره باورلرو چی انقلابی شورا او دموکراتیک اوملی جمهوری دولت‌زموږ دوست دولت شوروی اتحادته‌بلنه ورکړه له‌بهرخخه د خطردمخ نیوی په غرض چی زموږ دهیواد پولی‌یی تهدیدولی. له‌افغانستان سره‌ګټوره مرسته‌وکړه دد ولت‌ددغه‌اقدام‌چی دملی حاکمیت دساتنی دځمکی دتمامیت، دهیواد دخپل واکی، آزادی او امنیت پەغرض دی کلک ملاتړ کوو.

۳ـ موږ دببرک کارمل پەمشری دافغانستان دخلک دیموکراتیک ګوند ملاتړ کوو.

۴ـ موږ د خپل هیواد دوست او د ښمن ښه پیژند لی دی، دافغانستان دخلکوستردښمن اسپریالیزم پەسرکی‌دامریکا اسپریالیزم، دچین شوونیزم او د پاکستان ارتجاع ده، دهغوی دتیری دپوره لری کولو پەلاره کی‌له خپل دموکراتیک اوملی دولت سره هراړخیزه مرسته وکړو.

۵- د اشرارو او انقلاب ضد عناصرو د له منځه وړلو په غرض چې زموږ د هیواد اراسی او امنیت یې په خطر کې اچولی د دولت په لاره ښودنې د انقلاب د دفاع د کمیټو په جوړولو لاس پورې کوو.

۶- د هیواد په ګټه په سیمه کې د امنیت د تامین له اسله له صافیو ورونو سره ګډ کار ته دوام ورکوو

۷- دوا حد، آزاد، خپلواک افغانستان په چوکاټ کې د ګران هیواد نورو او سیدونکو ورونو ملیتونو په ارتباط په دموکراتیک ډول د ملي مسائلو حل زموږ تر نظر لاندې دی له دولت سره د هغه هراړخیزه همکاري کوو.

۸- هغه جنګي شرایط چې په تیر وخت کې د امین د باند د طاغوتي واکمنی په وخت کې موږ باندې په اجباري توګه تپل شوي وو ژ منه کوو چې له خپلې وسلې څخه په هیواد کې د پوره امنیت تر پید اکیدو پورې د کورنیو او بهرنیو دښمنانو پر ضد کار واخلو.

## ملګری کارمل :
## زموږ دردونه یو دي، ځکه زموږ کور یو دی او ګډې غوښتنې لرو

**دا. خ.د . ګ دمرکزي کمیټې عمومي منشي دافغانستان د دمو - کراتیک جمهوریت دانقلابي شورا رئیس او صدراعظم ملګری ببرک کارمل ۱۳۵۹ کال د قوس په ۱۷ نیټه دانقلابي شورا د مقر ګلخانې په ماڼۍ کې د صافیو له شریفو او نجیبو قومونو سره خبرې وکړې**

ملګري کارمل په خپلو خبرو کې وویل :«لومړی دا .د.خ.د ګوند او حکومت له خوا خپل کورته ستاسو دراتګ له امله ښه راغلاست وایم.

کړانوورونو او مېړنو هیوادوالو اوس دلته چې تاسو راټول شوي یاست ستاسو په ټولو دردونو او کړاوونو پوهېږم او په هغه له غمه ډک ژوند چې پخوا مو تېر کړدی او اوس ئې هم تیره وی په ښه توګه پوهېږم ستاسو او زموږ دردونه یو شي دي ځکه کور یو دی او ګډې غوښتنې لرو.

موږ دلته خپله جرګه دیو مسلمان په توګه او د اسلام په نامه جوړه کړیده چې د اسلام عنعنو له مخې موږ ته خاص افغاني اهمیت لري.

ملګري ببرک کارمل زیاته کړه تر کومه ځایه چې د کونړونو دشریفو، نجیبو او مسلمانو

خلکو ژوند سي له نژدې څخه کتلي او درک کړي سي دي او ویلی شم چې د هغه ځای د خلکو ژوند د زړه سوي وړ دی د کونړ د شریفو خلکو له جا سو څخه نیولي تر کور، باندو او خوراک پورې ټول دردوونکي او خواشینوونکي دي په هغه ظلم او ستم چې د ظاهرشاه او داود په دوره کې او په تیره بیا د جلا داو وینې څښوونکي امین په وخت کې صافیو په ازادو او غیر تمنو خلکو شوي دي پوره خبر یم او ځان له تاسو سره شریک بولم.

انقلابي شورا رئیس او صدراعظم زیاته کړه.

که یو ځل خپل ویاړلي تاریخ ته وګورو او د خپلو میړنیو نیکونو او پلرونو قهرمانۍ رایادې کړو چې څه ډول ئې زموږ له آزاد او ویاړلي هیواد څخه انګریزان درې ځله وشړل د دغه کار یادونه موږ ته را زده کوي چې باید یو واحد خپلواک او آزاد افغانستان چې بیرغ ئې په نړۍ کې لوړ شي جوړ کړو.

د حیرانتیا او خواشینۍ ځای دی چې نن هماغه انګریزان او جاسوسان چې د امریکا په امپریالیزم د چین په لویۍ غوښتونکو او د پاکستان په یو ځي مرتجعینو سر بیره، البته نه د پاکستان ورونه خلک چې مسلمانان دي او له موږ سره ورونه دي. موږ ته د اسلام درس راکوي، تاسو هغه منئ ؟

ملګری ببرک کارمل وویل چې موږ د خپلو پلرونو قهرمانۍ او زړورتوب ندی هیر کړي او خپل عنعنات او دودونه چې موږ ته ګران دي سپیڅلي ګڼو.

له که څنګه چې موخو ځله له افغانستان راډیو څخه اعلام کړیدي موږ ته ټول دودونه عنعنې ولسجرګې او دیني او اسلامي مقدسات مقدس دي او ژمنه مو کړې چې هغو ته نه یوازې احترام و لرو بلکې د هغو په لوړتیا، پراخوالي او پراختیا باندې لاس پورې کړو او خپله دغه و ینا په عمل کې تطبیق کړو. البته دا زموږ د پلرونو پتمن میراث دي چې موږ یې نن د رناوي کوو.

ملګری ببرک کارمل وویل نن د افغانستان د ټولو ورونو قومونو او ملیتونو وظیفه ده چې ټول

بایدسره یوموتی‌شو او دخپل گډدښمن په‌مقابل کی‌مبارزی ته‌را پاڅیږو او پدی لارکی له‌خپلو باوری او بشردوستو دوستانو څخه سرسته وغواړو.

باید زیا ته کړو چی دافغانستان اوشوروی اتحاد ترمنځ اړیکی او دوستی له‌کلونو کلونو را هیسی شته او تاسو ته ډاډ درکوم چی امپریالیزم او د هغه دنوروملا فقوانډیوالانو بهرنی لاس وهنی زموږ د گران‌هیواد افغانستان له‌خاوری څخه بندی‌شی دد وست هیواد شوروی سوسیالیستی جمهوریتونو محدود پوځی قطعات بیرته خپل هیواد ته‌ځی.

په‌پای کی ډاډ درکوم ترکومه ځا یه پوری چی‌حکومت وسلری تا سو او دافغانستان نوروورونو اوزیارایستونکی قوموته به‌لکه څنگه چی‌دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت‌په‌اساسی اصولوکی په‌ډاگه‌شوی دی‌خدمت‌وکړی‌چی‌یوهوسااونیک‌مرغه‌افغانستان‌جوړشی

کله‌چی‌ملگری ببرک کارمل دگلخانی دما ڼی تالا رته تشریف یوووړد کونړدولایت دپیچ دچپی‌دری، دیوه گل‌باڼډیل اومزار دری دصافی قوم لخوا یی‌تود او په‌پرله پسی چکچکوسره هرکلی وشوملگری‌ببرک‌کارمل‌له‌هغوسره‌روغ‌بړاودحوال‌پوښتنه‌وکړه.

له‌دغو قومونوسره دملگری‌ببرک کا رمل دکتنی په‌وخت‌کی دسرحد ونواوقبا یلو چارودوزارت معین اودکونړوالی‌هم حاضرو.

ددی غونډی په‌پیل کی‌دقرآن مجید څوایتونه ولوستل شول او له هغه وروسته چی‌د افغانستان دديموکراتیک جمهوریت ملی‌سرود خپورشوملگری ببرک کارمل دصافیود قومونوله‌پتمنواوشریفو خلکوسره خبری پیل کړی.

دملگری ببرک کارمل له څرگند ونووروسته دصافیو دقومونو څوتنو دنورو په نمایندگی دوینا وو په ترڅ کی‌دفاشیست امین اودهغه‌دجناتیکاربا نډ دظلم اوستم ترخه یادونه وکړه. ووی ویل:

اوس چی دصافیو زړور خلک دامین دطاغوتی دوری له تیریدو وروسته په خپل انقلابی

دولت او خپلو دوستو خلکو باندی داسې پیدا کړ په داګه څرګندوو چې د هر ډول تیری او ناروا په وړاندی تر وروستی سلګی پوری به د خپلی متد سی خاوری د ملی او مترقی دولت دفاع وکړو .

په پای کی دا. د جلهګوند او دولت څخه دصافیو خلکو دننګی او ملاتړ په باب یو پریکړه لیک ولوستل شو او د دغی غونډی په ترڅ کی سلګری ببرک کارمل ته دصافیو خلکو لخوا پیشنهادونه وړاندی شول او څرنګه چې دعه پیشنهاد ونه دا. د جلهاساسی موازینو او اصولو له سپیڅلی دین او دافغانستان دخلکو لهو یا ړلو دود ونو سره سم وو دملګری ببرک کارمل لخو اهم دتایید او ملاتړ وړوګرځیدل .

ددغی کتنی په پای کی دملګری ببرک کارمل دصافیو له پټمنو او زیارایستونکو قومونو سره دانقلابی شورادمتړ په انګړ کی یادګاری عکسونه واخیستل شواو وروسته یی له هر یو سره مخه ښه او خد ای پامانی وکړه.

## دصافي قوم پریکړه لیاك

بسم الله ار حمن الر حیم.

دپیچ ،باډیل' دیوه گل او مزار درو دصافیودقوم د ۱۳۵۹ کال دقوس دلسمی نیټی پریکړه لیک.

موږ دصافیو قوم ددغو ځاورودرو او سیدونکی چی دظا هر شاهی دظلم ا و استبداد په دوره کی دهغه لهاجنټانو سره په تو ده جگړه کی جنگیدلی یوپه دغه رازدظا لم ا و وینی څښونکی امین دامپر یالیزم ددغه نوکر داستبداد پهمقابل کیچی تر وسه یی د صافیو سر بوط ددغو ځلورو درو په اوسیدونکو باندی ظلم او استبداد وکړ دصافیو قومچی میړا نه او غیرت ورته له نیکو نو څخه پهمیر اث پاتیدی پهزړو رتیا مقابله وکړه ا وس چی دجدی شپږ م او ژغو رنده پاځون بر یالی شو او دظلم مانۍ ړنگه شوه اوگر ان افغانستان د افغانستان دخلك ددمو کر اتیك گوند دمرکزی کمیټی دعمومی منشی دانقلابی شورا د رئیس او صدراعظم ببرك کارمل پهمشری او دافغانستاندخلك دمو کر اتیک گوند پهرهبری دسولی، ا رامی او نیکمرغی پهلور پرمخ روان دیموږ هم دپلرنی وطن دملیجبهی دا رمانونو لهمخی څا نو نه دانقلاب کلك ملاتړ بولو او خپل پریکړه لیکپدی ډول وړاندی کوو.

۱ـدثور دپر تمین انقلاب پهتیره بیادهغه دنوی بشپړ تیایی پړاو کلك ملاتړ کوو.

۲ـ موږ دهغې ګټورې مرستې چې دوست هیواد شوروي اتحاد دافغانستان ددموکراتیک جمهوري دولت دغوښتنې له مخې زموږ دهیواد دملي حاکمیت پرخلاف د تیریو ددفع کولو لپاره کړیدی کلک ملاتړ کوو.

۳ـ موږ دببرک کارمل په مشرۍ دافغانستان دخلک ددموکراتیک ګوند ملاتړ کوو.

۴ـ موږ خپل دوست او دښمن په ښه توګه پېژندلي دي چې په عمده توګه امپریالیزم او دهغه په سرکې دامریکا امپریالیزم، دچین لوئي غوښتونکي او دپاکستان ارتجاع ده له هغوی سره په مبارزه کې له خپل دموکراتیک او ملي دولت سره هر ډول همکارۍ ته تیار یو.

۵ـ داشرارو دډلو، دوطن دښمنانو او دانقلاب ضدعناصرو په وړاندې چې هیواد امنیت ګډوډوي دافغانستان دانقلابي دولت په لارښوونه دانقلاب دفاع دډلو دجوړولو لپاره خپل تیاري اعلاموو.

۶ـ له نورستاني ورونو سره چې دسیمې په ساتنه کې شریکه برخه لري خپل ګډ کار او عمل ته دوام ورکوو.

۷ـ دملي مسالو دحل په لار کې دازاد او خپلواک افغانستان دجوړولو لپاره ددولت په مشرۍ له ټولو ملیتونو سره په دموکراتیکه توګه خپل تیاري څرګندوو.

۸ـ هغه جنګي شرایط چې دا سیمه او دهغه د توربانو لخوا په موږ باندې په زور تحمیل شوي وو اوس دا ډ ورک کوو چې دسیمې او وطن دپوره امنیت دتامین لپاره له خپلې وسلې څخه په استفادې سره ددښمنانو په مقابل کې جنګیږو سرلوړي دې وي ګران افغانستان

## ملگری ببرک کارمل :
## یوازی‌وا کمنی‌او په‌خلکوباداری‌او ظلم کول خیانت‌دی.

دافغانستان دخلك ددموکراتیک گوند دمرکزی کمیتی عمومی منشی اودافغانستان دیموکراتیک جمهوریت دانقلابی شورا رئیس اوصدراعظم ملگری ببرک کارمل وړمه ورځ د ۱۳۵۹ کال دقوس په ۱۸ نیټه وروسته‌دکند هارولایت دسپین بولدک دولسوالی سربوطه دنوروزیو دزیارکښو اوپتمنوخلکود هیواد پالنی داحسا ساتو په‌څپوکی د انقلابی شورا دمقردگلخا نی په‌ما ڼی کی‌وویل: پدی ځای‌کی‌د خپلوتاسو زړوراو پتمنو وروڼو تشریف راوړلوته دگوند اودولت لخوانبه راغلاست وایم اوله تاسوڅخه‌مننه‌کوم افغانستان یوسسلمان او قهرمان هیواد دی پریږدی دا نگریز بچیان هرڅه چی یی‌زړه غوښتی‌وی ویی وایی اوحقایق واړوی. خوخدای شاهد وبینادی چی دافغانستان ټول خلك ستاسی گوند اوستاسی دولت‌چی ټول ستاسو بچیان دی ټول پاك شریف او پتمن‌مسلمانان دی.

دحیرانتیاځای دی چی اوس انگریزان اوپه هغوی‌پوری تړلی‌جاسوسان دامریکا د امپریالیزم دمرتد اولویی غوښتونکی چین اوپاکستان دپوځیانو په‌لاس یوکولو او

همکاری البته کله‌چی دپاکستان پوځیان وایو زما مقصد دپاکستان شریف او مسلمان‌خلك ندی ځکه هغوی‌زموږ وروڼه دی بلکی دپاکستان پوځیان چی دا نگریز جاسوسان او د هغوی پلورل شوی استازی دی چی داسلام اوداسلام دمقدس دین په‌جامه کی یی‌خپلی طاغوتی اوشیطانی خیری پټی کړیدی غواړی ځان دا سلام مدافع وبولی. موږ په‌خه‌ډول منلی‌شوچی نن دانگریز جاسوسان داسلام مدافع شویدی .

گنی نن‌زموږ دهیواد خلك ژوندی ندی چی دخپل اسلام او الله اکبر دفاع وکړی .البته چی‌دی‌لکه‌څنگه چی زموږ میړنی پلرونه مسلمانان وو دهغوی بچیان هم مسلمانان دی .

دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم دامپریالیزم او بی شرمو لاس وهونکو دکړغیړنوله غرض نه‌ډکو هدفونوا و دافغانستان دخپلواکی او آزادی په باب دهغوی دخاینانه تبلیغاتو دخرگندولو په‌ترڅ کی‌زیاته کړه تاسوته ډاډ درکوم چی افغانستان آزاد اوخپلواك‌دی.

ملگری ببرك کارمل وویل چی نن دافغانستان دقدرت په‌سر کی نه‌کوم پاچانه کوم شهزاده نه‌کوم سردار، نه‌کوم امین یا داود دی،چی‌په چوکی یی‌تکیه وهله‌په شرمونکی غرورسره یی خلکوته کتل او خلك یی سپکول اوس دا ډول ندی، حکومت ستاسو خدمتکاردی او باید هم‌وی‌لکه‌چی په‌محمدی غراشریعت کی‌هم داډول دی چی گوند او دولت باید دخلکو خدمتگاروی نه دهغوی بادار او اغا .

یوازی واکمنی او په خلکو باداری کول اوظلم کول کفردی‌داډول‌واکمنی خیانت‌دی خوستاسو اوسنی حکومت ملی او وگړنی حکومت‌دی چی‌دافغانستان ددیموکراتیك جمهوریت په‌اساسی اصولو متکی دی چی په هغو کی‌زموږ ټولی عقیدی او نظریی ځای شوی او خپله وظیفه بولو چی دخپلو ورونواو زړورو قومونو په‌ارامی او هوسایی کی چی‌دخپل گران هیواد دملی‌حاکمیت او دخاوری دتمامیت لپاره جنگیږی او په میړانه او ویاړ دهغوی دفاع کوی هلی‌ځلی وکړو .

ملگری ببرك‌کارمل زیاته کړه ستاسو دولسوالی له‌ټولو گڼه وډیو څخه چی‌هلته او به

نشته او د هغه ځای پتمن خلک له زياتو ستونزو سره مخا مخ دی خبر یم تاسو او دخپل هیو اد و رونیو ته بلنه و رکوم چی راشی ټول په ګډه سره دخپل ګران هیو اد افغا نستان پهودانۍ او آبادی کی په شریکه او یو والی سره برخه و اخلو او یو پتمن او شریف ژوند ځانته جوړ کړو.

دافغانستان دخلک دیموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی انقلابی شورا رئیس او صدر اعظم دخپلو څرګندو نو په پای کی دسپین بولدک دولسو الی شریف او نجیبو خلکو څخه و غوښتل چی زموږ دګران هیو اد افغانستان ددښمنا نو تبلیغا تو ته غوږ و نه نیسی او په دغو خاینا نو و نه غو لیږی او د خپلو خلکو دارامی او نیکمرغی لپاره هلی ځلی کړی خپلو میړنو او هیو اد پالو پلرونو په څیر دښمنا نو له منځه یوسی.دبا ختر آژانس خبر یال رپوټ را کوی دد غو مراسمو په پیل دقران پاک څو ایتو نه ولوستل شول او و روسته دافغانستان ددیموکراتیک جمهوریت ملی سرود خپور شو.

له هغه و روسته ببرک کارمل په خبرو پیل وکړ چی دنورو زیو دپتمو اونورو خلکو لخوا یی دتودو و لولو نه ډکو احساساتو په څیر ګندولو سره هرکلی و شو.

کله چی ببرک کارمل دګلنخانی تالارته ننوت حاضر ین و دریدل او خپل دانقلابی شورا رئیس او صدر اعظم ته یی دپر له پسی چکچکو او دګلو نو په شیندلو سره تود هرکلی و وایه.

و روسته ببرک کارمل له حاضر ینو سره روغبړ او داحوال پوښتنه وکړه.

دباختر اژانس خبر یال خبر را کوی د ببرک کارمل دڅرګند ونو په پای کی څو تنو حا ضرینو دنورزیو دنوروشریفو او پتمنو خلکو په نما یندګی له دی اسله چی په یوه پوره دوستانه او له صمیمیت نه په ډکه فضا کی یی دانقلا بی شورا له رئیس او صدرا عظم سره خبری اتری وکړی مننه او قدردانی وکړه.

ملګری ببرک کا رمل ته یی ډاډ ورکړ وی ویل لکه څنګه چی زموږ میړ نیو پلرونو او نیکونو په میړانه او و یاړ سره خپلی مقدسی او پا کی خاوری چی دمو رحیثیت لری دفاع وکړه . موږ تاسی ته وعده درکوو چی د خپلو میړنیو پلرونو په څیر دخپل ګران

وطن افغانستان دفاع وکړ او دهیواد او انقلاب دښمنانو ته ئې غاښ ماتوونکی او مرګونی ځواب ورکوو.

دغې کتنې په پای کې دنوروزیو پښتنو خلکو له دې اسله چې دملګری ببرک کارمل په وړاندې یې خپلې پاکې او پښتنې ولولې ښودلې وې دا حترام او قدر کولو په دود خولې اولونګې دانقلاب شورا د رئیس او صدراعظم په سر کیښودله او وروسته یې له دوی سره یوځای دانقلابی شورا دمقر په انګړ کې یادګاری عکسونه ونو اخیستل.

**ملگری کارمل :**

**زموږ اوسناسی وظیفه داده چی سره یولاس شو .**

**دا . خ. د. گ د مرکزی کمیټی عمومی منشی د افغانستان د دیموکراتیک جمهوریت دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم ملگری ببرک کارمل د۱۳۵۹ کال د جدی په دو لسمه نیټه دپکتیا ولایت د بیلو بیلو قومو نو دمشرانو انتخابی استازی دانقلابی شورا د مقر د گلخانی په ماڼی کی ومنل اوله هغوی سره یی په ډیره دوستانه او صمیمانه فضا کی خبری وکړی.**

ملگري ببرک کارمل لومړي دگوند دمرکزي کمیټی دانقلابی شورا او حکومت له خوا او دخپل ځان له خوا دپکتیا دزړورو هیوا د والو له استازو څخه په هغه جرگه کی دیرخه اخستلو له امله چی دپلرنی وطن دپراخی سلی جبهی دموسسی کنگري دمقدماتو دتدارک لپاره جوړه شوه مننه وکړه او بی ویل :

گوند او حکومت دلوي خداي په حضور او دخپلو خلکو په وړاندي ژمنه کړي چی تل رښتیا ووایی او عوام غولول ونه کړی ،اوس هغه وانتونه اولریوالی چی پخوا دخلکو او حکومت ترمنځ موجود وو له منځه تللی دي اوس دولت حکومت او خلک یو دي او حکومت دخلکو خدمتگار دي او هم باید خلک په پوره یووالی او اتفاق له خپل حکومت سره سرسته وکړی

ملگري ببرک کارمل دتیر و مستبد و حکومتو نو دبی شرمه میراثو نو په باب چی آن‌دخلکو ژوند هم تضمین‌نه وه‌خرگند و نی و کړي و بی و یل حکومت په یو از یتوب نه‌شی کولی، په هیو اد کی نوي او سمسو ره‌تهولنه جوړه کړي تر څو زمو ږ تول هیو اد پا ل قو تو نه‌او زیار ایستو کی خلک له ځپل ـ حکومت او دولت سره همکار نه وي‌ځکه مو ږ وحشي‌د ـ ښمنان لر و او د ایوازي زمو ږ نني دښمنا ن نه‌دي بلکی څر نگه چی پخپله خبر یاست‌په‌تیره‌بیا تاسو د پکتیازړورا ومیړ نی خلک چی زمو ږ د وطن د غو د ښمنا نو په وړاندي مو ږ ز یاتی قر بانی و رکړ یدي او د افغانستان له تاریخ څخه پوره خبر یاست چی‌انگر یز انو څوځلی په افغانستان باندې بر ید و کړ او س هم دهغوی هماغه سیاست دي چی دو ام لري، خوا و س یوا زي هغه انگر یز ان نه دي امر یکاییان، چینایان پاکستانیان‌او نور ـ ار تجا عی‌هیو ادو نه دا ز اد و او خپلو اک افغا نستان پـه وړانـد ي پـه یـو ه نـا مقد سه جـبهه کـی در ید لـی‌دي، زه‌بـایـد پـه ډاگـه وو ایم چـی هغـو غـوښتل افـغانستان تـجز یـه شي

۱ـ، خود‌ثو ر انقلا ب بشپړ تیابی ـ پر او، انسانی هیلی درک کړي او دزړه له‌کو می دهغه دفاع او ملاتړ کو و و.

۲ـ زمو ږ د دولت دوستان زمو ږ د خلکو دوستان او زمو ږ دوستان دي دخپلو دوستانو ـ هزارخیزي سر ستی، دخپل ځان او هیو اد په گټه بو لوا و د هغوپو ره ننگه کو و.

۳ـمو ږ ته دانقلاب په سو ده کی معلو مه شوه چی زمو ږ دخا و ري او خلکو دوستا ن‌څو ک دي، او د دښمنان څوک دي، په تیره بیا مو ز دپکتیا قو مو نو چی دپر نگی استعمار او دهغه دگو ډاگیا نو پرضد د وطن دا زا دي غوښتو نکو مبا رزو یـو سنگر یو، تش داسلا م، په نا و رنه غولیږو ا نسا ن وژونکی جوما ت سو زو ونکی ا و ښو نځی سو زو نکی زمو ږ د زمو ږ دوطن دښمنان دي مو ږ لو ړه کو و چی دخپلو نیکو نو او پلر و نو په څیر دانقلا ب اووطن دفاع کو و.

۴ـ دامریکا امپریالیزم، چین لوبی غوښتونکی دپاکستان پوځیان دسادات په څیر له مسلمانان دښمنو او اسرائیلی ـ صهیو نیستانو او د دوي له گوډ اگیا نو سره چې زموږ د وطن خلکو اوزموږ دمسلمانانو دښمنان دي سونړله دوی سره له مبارزي نه هیڅ سرته غړوو اوپدي لاره کی قرباني خپله د ژنه غنعنه بولو.

۵ـ موږ هیڅ چاته داحق نه ورکووچې زموږ دسیمې امنیت گډوډ کړي، زموږ په کلو، باندو، تړ و، دروبه د هیڅ وطن دښمن قدم کښینږدي او نه به ورته اجازه ورکړو.

۶ـ موږ دنقلاب ضد، وطن او انسان ضد دښمنانو پرضد دانقلاب ددفاع ډلی جوړ ووانقلاب دفاع ډلی جوړول، زموږ دیووالی او وحدت مظهر په گڼه او زموږدبري ضمانت گڼو.

۷ـ دافغانستان دنورو ټولو وروڼو ملیتنو، قومونوسره شریک درد او غم لرو حیاتی چاروکی به هیڅکله له هغوی سره خپله مرسته ونه سپمو و.

۸ـ دپلارنی وطن دملی جبهې چې دپښتنو دجرگې اومرکې ډیر لوړ شکل دي ملاتړ کوواو په هغه کی ونډه اخستل افغانی غنعنه بولو.

بسم الله الرحمن الرحیم

دافغانستان د خلک دموکراتیک گوند دمرکزی کمیتی عمومی منشی دانقلابی شورا رئیس او صدر اعظم محترم ملگری ببرک کارمل !

موږ دپکتیا ولایت داحمد زیو منگلو ، ځاځیو ،او دمیدان ځاځیو ، ځدرانو ، ځمکنیو مقبلو ،تڼیو ابوبکر خیلو صبریو ، اسمعیل خیلو ،ننگرهارو ،تریزو ، مندوزیو ،متون ،گربزو طوطاخیلو زرمتیو ،گردیزیو ،خروټو ،موزیو ،سلمانخیلو ،اندړو ،نیازیو ،وزیرو مسودو اودوړو قومونه چی په کلونو کلونو دگران افغانستان دپاکی خاوری په ساتلو کی هروخت دیو مورچل خلک و واویو ،موږ انگریزی استعمار او نورو استعماری قوتونو پرضد په میړا نه جنگیدلی یو او تر وروستی مسلکی مو استعمار او دهغه گوډاگیانو ته سر ندی ټیټ کاکړی، پخپله خبره پخپله پښتو او پخپله ژبه ټینگ ولاړ یو.

موږ چی پخپلو قومونو او د افغانستان په نورو ورونو قومونو باندی دامین دخونړی رژیم او دهغه دانډیوالانو هر راز زور زیاتی ولید . هغوی چی زموږ په عنعناتو ، دودونو پښی کیښودی ، موږ دامین دررژیم پرضد خپله کرکه او مبارزه ښکاره کړه .

پروسږ کال هم دا وخت چی دا.خ.د.گ دببرک کارمل په مشری دامین شرمیدلی رژیم له منځه یووړ او دانقلاب نوی بشپړ تیا یی پر او پیل شوله هغی نیتی څخه راهیسی

تر اوسه دخپل انقلابی دولت په و یناوو زموږ باور پیدا او پوخ شو ، دببرک کارمل حکومت چی په رښتنی توگه د پښتنو قومونو دود عنعنی ،دستور ،جرگی ،سرکی ،تیږی او اوخلی ته درناوی لری او همدغه جرگی سرکی ته په احترام سره پدی زموږ باور لا ټینگ شو، چی موږ اودولت سره نه جلا کیدونکی یو دولت زموږ خدمتگاردی او زموږ د ټولو رواجونو او دودونو احترام کوی .

پدی اساس دپکتیا دقومونو جرگه دخپل باور او عقیدی له مخی له خپل انقلابی دولت، انقلابی گوند او ببرک کارمل سره پوره ملاتړ څرگندوی او همدغه ملاتړ دخپل (نرخ) او (ځلی) یوه عمده برخه بولو او دغه پریکړه لیك صادروو .

نوی پړاو دهغوی دغه کرغیړن او لوټمار پلان په اوبو لاهو کړ .

ملگری ببرک کارمل دخپلو خبرو په ترڅ کی زیاته کړه چی دحکومت اساسی ستنی خلك دی او دخلکو په مرسته باندی له تکیی پرته نه شی کولای کوم کار پرمخ بوزی نو تاسو دپکتیا دزړورو او پتمنو خلکو استازی کله چی په خیر سره خپلو کورونو ته ځی باید خپلو خلکو ته حقایق ووایاست او ددشمنانو درواغجن تبلیغات رسوا کړی .

ملگری ببرک کارمل دخپلو خبرو په پای کی وویل : زموږ او ستاسو اساسی وظیفه داده چی په یو لاس خلك او هیوادد پلرنی هیواد په یوه پراخه ملی جبهه کی سره یو موټی کړو او یو اسلامی انسانی او په رښتیا سره سوکاله او ویاړلی افغانی ټولنه جوړه کړو .

دملگری ببرک کارمل دخبرو په پای کی چی په هره برخه کی یی دحاضرینو له خوا په دپرله پسی چکچکو هرکلی کیده دپکتیا ولایت دبیلو بیلو قومونو څوتنو استازو او مشرانو دنورو په نمایندگی دملگری ببرک کارمل دخبرو په تائید او ملاتړ و یناوی وکړی وی ویل:

موږ دپکتیا لویان او سپین ږیری و یاړو چی دافغانستان دغوره دودونو په پیروی په یوه سالمه او آزاده فضا کی دیوی انتخابی او دړندی جرگی په توگه له خپل انقلابی مشر سره دوستانه

خبرې کوو .

دجدې دشپږ سی نیتمی

د جدې دشپږ سی نیتمی دبر یالی بدلون په منځته راتلو سره وینی ښبونکی امین ناامینی او دهغه جنایتکار باندړ او پرزید او په ربښتیاسره دافغانستان دټولو قومونو په تیره بیا دپکتیادقومونوپه زړونو کی دهیلوځلاوځلیده او د خبرو او دوګړ نیز و جرګو دجوړ یدو لاره چی زموږ غوره عنعنه ده خلاصه شوه .

بندیان آزاد شول ، سپین ږیرو او لو یانو ته احترام پیداشو او دبرچی او ټوپک پرځای دقومی دوداو رواج او عنعناتو په اساس دګډوور خبرو لاره پرانستل شوه .

د پکتیا ولایت استازیو دانقلاب په تیره بیاد هغه د بشپړ تیا دنوی پړاو ودار زښتونو دفاع کی پوره تیاری څرګند کړ . ددغی دوستانه کتنی په پای کی یو پریکړه لیك همدرایو په اتفاق صادر شو .

**ملگری کارمل :**

## موږ ځانو نه دخلکو بچیان بولو

**د افغانستان د خلک دیموکراتیک گوند د مرکزی کمیټی عمومی منشی ، دانقلابی شورا رئیس اوصدراعظم ملگری ببرک کارمل د ۱۳۵۹ کال د دلوی په ۲۷ نیټه د انقلابی شورا د مقر گلخانی په ماڼی کی‌د بغلان او بدخشان دولایتونو دپښتنو خلکو استازی حضور ته‌ومنل له هغوی سره یی خبری وکړی.**

ملگری ببرک کارمل ددغو ولایاتو دخلکو له‌استازیو سره دخبرو په وخت کی‌وویل: موږ خپل ځان دخپلو خلکو بچیان بولو او هیله لرو چی لوی خدای موږ ته توان‌اووس‌را کړی چی دخپلو زیارکښو خلکو خدمت وکړو ، نه‌دهغوی کورنیو خدمت چی زموږ په‌پښتنو خلکو باندی بی‌ظلم او زور کړی او زموږ دخلکو په‌وینو سزی چړچی کړیدی .

ملگری ببرک کارمل زیاته کړه ، له‌بده‌مرغه زموږ په‌گران هیواد کی واکمنانو ، باچایانو او امیرانو خوسره چی‌یی کولای شول زموږ پښتنو او زیارکښو خلکو ته‌یی دروغ ویلی او هغوی‌یی‌غولولی دی او دهغوی په‌شنگ کی‌زموږ د خلکو بهرنیو دشمنانو چی هماغه انگریزان او دهغو گوډاگیان و،زموږ دخلکو، قومونو او ملیتونو ترمنځ بی بی‌اتفاقی واچوله اوپخپله یی‌له‌دغی بی‌اتفاقی اوبدبختی څخه استفاده وکړه خوموږ پوره

ایمان لروچی ظالم دتل لپاره ظلم کولای نشی او دخپلو کرغیړ نو عملونو جزاو ینی، لکه چی خاین حفیظ الله امین او دهغه جنایتکار بانډ دخپلو خاینانه او لوتمار و عملو نو نتیجی و لید لی.

ملگری کارمل دحفیظ الله امین ظلم او استبداد ته اشاره وکړه زیاته یی کړه تول پتمن ورونه دحفیظ الله امین په ظلم او استبداد دانقلاب ددښمنانو په خاینانه دسیسو او توطئو خبر دی اوس دمیړ انی او مبارزی وخت دی . مونږ باید د خپلو اکی او سلی نو امیسو او د خپل هیواد دښمنانو پر خلاف مبارزه وکړ و . افغانی غیرت مونږ ته اجازه نه را کوی چی څو تنه غله او اشرارچی په پاکستان کی روزل کیږی زمونږ هیواد ته را ننوزی ، زیار ایستو نکی خلك و وژنی ښو ونځی او روغتونونه وسوزوی پلونه او لاری ورانی کړی او زمونږ په گران هیواد کی ویره وحشت او ناکراری پیدا کړی

ملگری ببرک کارمل زیاته کړه نن زمونږ زیارایستو نکو خلکو دخپلو خلکو او هیواد دښمنان چی دډالرو ، پونډو او کلدارو په زور هیواد ته راځی ، ناارامی او بی امنیتی پیدا کوی په ښه توگه ښه پیژندلی دی . مونږ باید تول ددغو نوکرانو په مقابل کی یوموتی شو ، قوی جرگی جوړی کړو دخلکو او هیواد ددښمنانو په وړاندی خپلی لیکی دگوند او دولت په څنگ کی لاپسی یوموټی کړو او خپل تول قوت دگران افغانستان دکړ ید لو خلکو دنیکمرغی او سوکالی په لاره کی پکارواچوو .

ملگری ببرک کارمل وویل لکه څنگه چی تل مو خپلو خلکو گوند او د افغانستان دموکراتیک جمهوریت ته ویلی دی یو ځل بیا ډاډور کوم چی هیڅ قدرت او قوت به پیدانه شی چی زمونږ له خلکو څخه ددوی دین ، مذهب دودونه ، نوررواجونه فرهنگ اوژبه واخلی ، دافغانستان دخلك دیموکراتیک گوندله خپلو هدفونو او پالیسی سره سم نه یوازی د دین مذهب او دملیتونو د دو دونو او فرهنگ ننگه او ملاتړ کوی بلکی د هغو د پرمختیا او رو زنی زمینه به برابره کړی او په دی لاره کی به له هیڅ ډول هلی ځلی نه ډډه و نه کړی .

سلگری ببرک کارمل دخپلی وینا په پای کی د بغلان او بدخشان دولایتونو استازو ته په خطاب کی زیاته کړه:

پوره باور لرم چی ژر یا وروسته زموږ د خلکو د نیکمرغی او خوشبختی دښمنان له منځه ځی او زموږ پتمن خلك دافغانستان دخلك دیموکراتیک گوند په مشری په یو والی او پیوستون سره یو آزاد، اباد او پر مختللی افغانستان جوړوی.

دباختر آژانس خبریال رپوټ راکوی چی دملگری ببرک کارمل دوینا هره برخه دبغلان او بدخشان دولایتونو دپتمنو خلکو داستازیو دولولو په څرگند ولو او پرله پسی چکچکو سره بدرگه شوه.

په پای کی دبغلان او بدخشان دولایتونو دپتمنو خلکو خوتنو استازوو ویناوی وکړی دخپلو ولایتونو دزیارکښو خلکو په نمایندگی یی ژمنه وکړه دژوند تر وروستی شیبی پوری دثور انقلاب دارزښتونو ددفاع په لاره کی چی هدف یی دافغانستان د خلکو سوکالی او نیکمرغی او دگران افغانستان پرمختگ دی له هیڅ ډول سرښندنی او له ځانه تیریدنی څخه ډډه ونه کړی.

## ملگری کارمل :

## وزیرستان زموږ ټینګه اوپایداره کلاده

**دافغانستان د خلک دیموکراتیک گوند مرکزی کمیټی عمومی منشی، دافغانستان د دیموکراتیک جمهوریت دانقلابی شورا رئیس اوصدراعظم ملگری ببرک کارمل دوزیرستان داو تما نځیو، وزیرو او سیدگی دبیلا بیلو قومونو له استاز یو سره د ۱۳۵۹ کال د حوت په ۲۴ نیټه دانقلابی شورا په مقردگلخانی په ماڼی کی وکتل .**

کله چی ملگری کارمل دگلخانی ماڼی ته ننووت تهول ودریدل او په چکچکو او داحساساتو په څرگندولو سره یی دهغه هرکلی وکړ.

ملگری ببرک کارمل له استازیو سره دخبرو په پیل کی لوړی دحکومت اوگوند او خپله دځان له خوا کابل ته دهغوی دراتگ ښه راغلاست ووایه او زیاته یی کړه :

ستاسو زړورا و قهرمان شخصیت ثابتوی چی دوزیرستان شریفو خلکو دکلاپه څیر تل له هیواد څخه دفاع کړی او تل دانقلاب او هیواد دفاع ته را پاڅیدلی دی .

ملگری کارمل له استازیو سره دخبرو په یوه برخه کی و ویل:

اوس دپاچا هانو، شهزادگانو او خانانو وخت تیر شویدی او اوس حکومت ستاسی خدمتگاردی نه ستاسی باداراو اغا.

دامانې ستاسي دی او زموږ او ستاسي ترمنځ ګوم تو پیر نشته موږ په ګارونو کې ستاسو څخه مشوره غواړو.

دوینا په یوه برخه کې ملګری کارمل هغوی ته په خطاب کې زیاته کړه:

موږ په افغانستان کې دوزیرستان په خیر ټینګه او پایداره ګلالر وچې دهغه ځای زړور او جنګیا لی ددښمنانو په وړاندې و دریږي او د افغانستان له ننګ او ناموس څخه دفاع ستاسي شخصیتونه جوړوي.

ملګری کارمل له استازیو سره دخبرو په پای کې وویل: زما پیغام و نه دوزیرستان پښتنو او مسلمانو خلکو ته ورسوی او ټولو قومونو او قبیلو ته وواياست چې، افغانستان یو مسلمان هیواد دی. دافغانستان ټول دودونه او رواجونه پرځای دی او ژوره درناوی کیږی.

په مقابل کې د استازیو یوتن دوزیرستان دپښتنو خلکو په نمایندګی د پریکړه لیک په لوستلو سره دانقلاب ګوند او دافغانستان دیموکراتیک دجمهوری دولت ددفاع په لاره کې هر راز ملاتړ او ځان تیر ید نه څرګنده کړه او وویی وویل:

موږ په خپلو سترګو ولیدل چې په افغانستان کې هیڅ جوماتاو عبادت ځای له منځه ندی تللی او په افغانستان کې هیڅ خوک زموږ دعبادت څخه شوی ندی.

نوږ یرښه څرګنده شوه چې افغانستان تل آزاد او خپلواک دی موږ دوزیرستان خلک دثور انقلاب او په تیره بیا دهغې دنوی بشپړ تیایی پړاو کلکه دفاع کړو او دافغانستان دخلکو د دښمنانو په وړاندې و دریږو.

ددی وینا په پای ته رسیدو سره داستازیو یوتن ګردنی (قطار و زمه) چې دافغانستان دیموکراتیک جمهوریت له ګوند او دولت سره یې د وزیرستان د خلکو د پیوستون د څرګندولو په مقصد له ځان سره راوړی وه د ملګری کارمل په ملا او ږه پوری وتړله.

ملګری کارمل په مقابل کې هغوی ته داسی وویل:

داهم او سی چې ستاسي داامانت به دتل لپاره وساتم.

ددی ګتنی په پای کې ملګری کارمل له استازیو سره یادګاری عکسونه واخیستل.

## ملګری کارمل :

# افغانستان سرلوړی آزاد او خپلواک دي

**د. ا. خ. د. ګ. د مرکزی کمیټې عمومی منشی دا. د. ج دانقلابی شورا رئیس او صدراعظم ملګری ببرک کارمل ۱۳٦۰ کال د حمل په ٦ نیټه د وزیر ستان دموسی نیکه دوزیرو داحمد زیو دقوم مشر ان سپین ږیری او استازی دانقلابی شورا د مقر ګلخانې په ماڼی کی د کتنی لپاره ومنل او په ډیره دوستانه اوله صمیمیت نه په ډکه فضا کی یی ورسره خبری وکړی.**

ملګری ببرک کارمل حاضرینو ته په خطاب کی وویل: پریږدی د افغانستان دخلکو دښمنان هرخه چی غواړی وادی وایی هغوی چی داسلام ضد او انسان ضد دی په بی شرمانه توګه تبلیغ کوی چی په افغانستان کی خدای دی نه کړی داسلام مقدس دین تر تهدید لاندی دی او احترام یی نه کیږی موږ او ناسی قران عظیم الشان لرو او همدا اوس مو د قران پاک خوایتونو تلاوت واوریداو دا یو ښرګند حقیقت دی چی دافغانستان خلک د دنړی له ریښتینو مسلمانانو څخه دی. وروسته بیا تاسو اوس یوسرود هم واوریداو هرهیواد دخان لپاره یو ملی او قومی سرود لری چی دهغوی دآزادی او خپلواکی نښا نه ده دغه راز تاسو دلته بیرغ ګوری دا هم ددی نمونه ده چه افغانستان سرلوړی آزاد او خپلواک دی.

ستاسو دوزیرستان دپښتنو وروڼو تاریخ ډیرلهویاړه اوغرورهډک تاریخ دی او ستاسو دمبارزو اوقهرمانیو ددی څرګند وی دی چی تلسو په میړانه اوزړهورتیا سره دآزادۍاو دخپلی پاکی خاوری دځمکی دتمامیت دفاع کړیده.

اوس زه ددغی خاوری دیوه ربښتني اووفا دارخدمتګار په توګه و یاړلرم دحکومت پهمرکز کی لهتاسو سره ګورم او پهپوره دوستانه فضاکی یوله بل سرهخبری کوو.

دولت ،حکومت او پهخپله زه په هغودردونواو کړاوونو پوره پوهاوخبریو چی زموږ په تاسی زړورو اوپتمنو وروڼو تحمیل شوی وو.پوهیږو چی ځمکهنلری، او بهنلری فابریکه ، روغتون،ښوونځی نلری،سم کوراو کالی نلری نو باید پوښتنه وشیچی ولی دغه دردونهاو کړاوونه پرستاسی تحمیل شوی دی ځواب یې روښان او څرګنددی چی دانګلیس دبین‌المللی امپریالیزم او دامریکا دامپریالیزم استعمار اوګړنی ضدسلطنتونه ووچی دپښتنو وروڼوزموږ دهیواد دزیارکښو قومونو اوقبایلو ترمنځ ددی لپاره چیپه یوالی او اتحاد سره ونهکړی شی یومترقیاو پرمختللیافغانستانجوړ کړیپهقصدی او عمدیتوګهیی‌بی‌اتفاقی اچوله اوله کړاواو مشقتنهډک ژوند یی پری تحمیلاوه اوس هغه وختونهتیرشویدی او دثور دپرتمین انقلاب په بری سره دامپریالیزم مزدوران او اجیران لهانقلابی افغانستان څخه وشړل شول خوبیا هم دغه بدنام استعمارګران غواړی دپاکستان له لاری زموږ په کورنیو چاروکی لاس ووهی اوسوله او ارامی په خطرکی واچوی.پدی حساس او تاریخی پړاوکی ستاسو پتمنو اوزړورو خلکو هیواد پالو نکی وظیفی ډیری مهمی او درندی دی چه دخپلی لویشت خاوری دخپلو پلرونو او دنیکونو په څیر دهغی دذری ذری‌په خپلو وینو او سرونو بـاندې دفاع وکړي او وی ساتـی دافغانستاندموکراتیک جمهوری حکومت ستاسو دغه وګړنی حکومت دخدای پاک او دافغانستان دزیار ایستونکو پتمنوخلکو په وړاندي ژمنه کړیده چی دافغانستان دخلکو

دنیکمرغی او سمسورتیا په لاره کی صادقانه خدمت وکړي او دگران هیواد دخاوري آزادی ، خپلواکی لپاره ربښتینی خدمتگاراوسی زسوږ دگوند . دولت او حکومت هدفونه او مقصد ونه پوره څرگند او روښانه دي هغه لاره چی موږ غوره کړي سمه لارده او داهغه لارده چی دپاک خدای خوښی پکی پرته ده دقران عظیم الشان له لارښوونو سره سمه ده . موږ دخپلو پلرونو په دودونو او روا جونو باندي اتکاء لرونه یوازی درناوي ئی کوو بلکی هڅه کوو چی په خپلو اسکا ناتو سره دهغوی په ساتنه کی مرسته وکړو.
تاسی زموږ په نمایندگی ټولو ورونو او دقبایلو بیلو بیلو قومونو ته دغه حقیقت ورسوي چی قومی دودونه .رواجونه او جرگی بیخی آزادي دي او حکومت هیڅکله نه غواړي چی ستاسی دغوره دودونو او رواجونو په وړاندي ودریږي.
دملگري ببرک کارمل دخبرو په پاي کی دوزیرو داحمد زیو قوم خوتنو مشرانو دنورو په نمایندگی دا.خ دگ.دمرکزي کیمټی لهعمومی منشی دانقلابی شورا له رئیس او صدراعظم سره له کتنی څخه مننه څرگنده کړه وبی ویل :
ستاسو ارزښتناک نصیحتونه ټول زموږ په خاطر وکی پاتی دي او ژمنه کووچی دگټی او سود غوښتونکو استعمارگرانو له زیان څخه دخپلی مقدسی خاوري دساتلو په لارکی ترو روستی سلگی پوري ولاړیو. دغه راز هغوي له خپل انقلابی دولت سره د همکاري او د ثور دپر تمین انقلاب او دهغه دنوي بشپړتیایی پړاو ادد فاع په لاره کی ملگري ببرک کارمل ته داډ ورکړ ورپسی هغه پریکړه لیک چی دوزیرو داحمد زیو دقوم له خوا دگوندا و دولت دهدفونو او پاکونیتونو دملاتړ په باب صادرشوي ودد غه قوم دیوسپین ږیري شاه حکم له خوا ولوستل شو. ددي کتنی په پاي کی ددود په توگه دوزیرو داحمد زیو دقوم یوه تن یوه لونگی ملگری ببرک کارمل ته وړاندي کړه چی په خوښی سره ومنل شو.

**ملگری کار مل :**

## قومی جرگه زموږ نړ ښه دود دی

**دافغانستان د خلك دموکراتیك گوند دمرکزی کمیټی عمومی منشی دافغانستان د دیموکراتیك جمهوریت دانقلابی شـــورا رئیس او صدراعظم ببرك کارمل ۱۳۶۰ کال دثور په پنځمه نیټه دکونړ ولایـت د شونکړی دسرحدی دری د صافیودمیړنی قوم سپین ږیرو او استازی دانقلابی شورا د مقر د گلخانی په ماڼی کی ومنل .**

په دغه کتنه کی لومړی دقرآن عظیم الشان څو آیتونه ولوستل شول وروسته ملگری ببرك کارمل حاضرینوته په خطاب کی اوږده شفاهی وینا وکړه چی په هره برخه کی یی دحاضرینو له خوا دوامداره په ډرگندولو او پرله پسی چکچکو هرکلی وشو .

ملگری ببرك کارمل په خپله دغه وینا کی وویل : ترټولومخکی کابل اوپه خاصه توگه دانقلابی شورامقرته ستاسو دراتلوله امله ښه راغلاست وایم .او داچی دلته سره راټول شوی یوزموږ له دودونو او رواجونو سره سمه یوه قومی جرگه ده چی سرمخبری

کو و او داقوسی جرګی زمو ږ نیکو نوستر میراث دی همد غه جرګی دی چی دهغو له مخی ټولی مسئلی په و رو رولی حل کو و .

ملګری ببرک کارمل و و یل : ما په کو نړ کی دغاز یانو او شیهیدانو ډیری هدیری لیدلی دی زمونږ نیکو نه یوازی زمو ږ دپخوانیو دښمنانو انګلیسانو په و ړاندی زمونږ دملـــی نوامیسو او خپلواکی او دخاوری دتمامیت دساتنی لپاره دری ځله جنګیدلی دی خو امپریالیزم دافغانستان پخوانی او پیژندل شوی دښمن او س هم دافغانستان دبیر ته پا تـــی والی لپاره ناولی پلانونه جوړوی او زمو ږ دانقلاب په و ړاندی خنډو نه پیدا کوی. دا یو حقیقت دی ټول باید په دغه حقیقت و پوهیږی او دا زما یوه فریضه وه چی باید تاسو ته مسی روښانه کړی وای

ملګری ببرک کارمل له هغه و روسته چی په عربی هیواد و په تیر ه بیا فلسطین کی یی دبین المللی امپریالیزم ،شو و نیزم او ارتجاع دناولو عملو نو په باب څرګندونی و کړی زیاته یی کړه : -

انګلستان ،چین او امریکا په غربی هیواد و نو کی هڅه کوی چی اسلا م دله منځـــه تللو سره مخامخ کړی خو زمو ږ په هیواد کی داسلام مدافعه کوی دایوه تشه غولو نـــه ده لکه چی دغازی امان الله خان په وخت کی یی تری کار و اخیست او په غازی امان الله خان د کفراونورونوسونوتورولګاوه

ملګری ببرک کارمل دضیاالحق داستبدادی حکومت د څرنګوالی په باب رڼاو اچوله زیاته یی کړه .هغه کسان چی په پاکستان کی پوځی کمپونو کی روزل کیږی څوک دی دهغوی مشران څوک دی پدی برخه کی بایدپوره غور و کړی او هغوی باید و پیژنی هغوی داسلام په نامه باندی څه جنایتونه ندی کړی . هغوی هغه وسلی چی لــــه امریکا ،چین ،مصر او نورو ارتجاعی او امپریالیستی هیوادونو څخه یی اخلی دسر حدونو لاری یی دغلو او قاچاق وړونکو په خیر زمو ږ هیوادو ته رانښاسی او زمو ږ پلرونه ،میندی خویندی ،او ماشومان پری وژنی زمو ږ جوماتونه .روغتونونه ،ښوونځی سوزوی او

بندونه ، ویالی اوفابریکی ورانوی ایا دا دمسلمانانو کاردیدایوازی ددښمنانو کاردی ملګری ببرك کارمل زیاته کړه : سو ږ غواړو چی دهغه انقلاب دفاع وکړو چی زموږ د هیواد دپرګنو په اراده بریالی شوی اویوآباد، سمسور ،اوله فردځخه دفردله استثمار نه خلاص افغانستان جوړ کړو ستاسو دګوند ستاسو دحکومت اود پلاروطنی ملی جبهی هدف دادی چه دلته سوله او امنیت ټینګه وی نه یوازی زموږ په هیواد کی بلکی په سیمه او ان په نړی کی سوله او امنیت ټینګ وی .

دغه کارونه په یوه ورځ یایو کال کی سر ته نه رسیږی ستاسو د پیوستون تشکل او یووالی په اساس په خپل هیواد داسی جوړ او سمسور کړو چی دافغانستان ټول ملت په پوره امن اوآرام تیا کی ژوندو کړی . پدی غونډه کی حاجی محمد یوسف دکونړ دو لایت دشو نکړی ددري دصافیو دقوم دسپین ږیرو او استازیو په نمایندګی وینا وکړه او دهغی په ترڅ کی یی دملګری ببرك کارمل وینا وی تأئید او دهغو غوڅ ملاتړ یی وکړ. دغه رازدخبرو په پای کی دحاضرینو له خوا یو پری کړه لیك صادر او ولوستل شو .

**ملگری کارمل :**

## زموږ لاره دحق او ازادی لاره ده

**دافغانستان دخلك دمو کراتیک گوند دمرکزی کمیټی عمومی منشي دافغا نستان د موکراتیك جمهوریت دانقلابی شورا رئیس اوصدراعظم ملگری ببرك کارمل د۱۳۶۰ کال دثور په۲۷ نیټه دغور ولایت دپټمنو خلکو له استازو سره دانقلابي شورا دمقردگلخانی په ماڼی کي دیوی کتنی په ترڅ کی په یوه آزاده او له صمیمیت نه په ډکه فضا کی خبری وکړی .**

ملگری ببرک کارمل په خپلو خبرو کی وویل: هیله لرم په ګډه او یو دبل په همکاری ستونزی حل کړو او دګران افغانستان دمترقی او پرمختللی ټولنی دجوړولو او زموږ د ګړیدلو خلکو داراسی نیک مرغی او خوشبختی په لار کی دیوسوټی په توګه یوځای پرمخ لاړ شو.

ملگری ببرک کارمل په داسی حال کی چی دهغوی و یناوی دغور ولایت دزیار ایستونکو خلکو داستازو دچکچکو او دهیواد پالنی داحساساتو په څرګند ولو سره بدرګه کیدی د خپلی وینا په یوه برخه کی زیاته کړه .

ګرانو ورونو هغه میراث چې له تېرو وختونو څخه موږ او تاسې ته په میراث پاتې دی یوه ویروونکی دروند او له خواشینې ډک میراث دی ددغو ستونزو حل چې په افغانستان کې د مستبدو پاچاهانو له لوري څخه پاتې دی د یوې ورځې، یوې اونۍ او یوې میاشتې کار ندی زموږ لاره له سختیو څخه ډکه او له لوړو ژورو څخه ډکه ده. زموږ لاره دقیق لاره ده د آزادۍ لاره د عدالت او د نیکمرغۍ لاره ده ددې لارې وهل زیات کار او مبارزه او ډېر وخت غواړي ملګري ببرک کارمل د خپلې وینا په یوه برخه کې زیاته کړه د ثور انقلاب د افغانستان د خلکو دارادې په اساس وشو یعنې د افغانستان خلکو تکل درلود چې د استثمار ظلم او ستم دې له منځه لاړ شي او یو سوکاله او نیکمرغه ژوند دې یې په برخه شي خو دا واقعیت باید و منو هغه نسل چې انقلاب کوي نه یوازې د ځان د سعادت او نیکمرغۍ له پاره نه بلکې د خپل هېواد د زامنو او د اوسنیو او راتلونکو نسلونو د نیکمرغۍ لپاره انقلاب کوي انقلاب د راتلونکو د سعادت او نیکمرغۍ لپاره دی یو پتمن مسلمان او پتمن او واقعي افغان هغه څوک دی چې نه د ځان لپاره بلکې د خپل اولاد او اوسنیو او راتلونکو نسلونو لپاره کار وکړي او زیار وګالي.

موږ انقلاب وکړ کار او مبارزه کوو چې نیکمرغه او هوسا ټولنه جوړه کړو. دا زموږ هدفونه دادي زموږ شعار او دادی اسلامیت، انسانیت او افغانیت، موږ د خپلو لپاره قرباني ورکوو او پوره باور لرو چې زموږ د پتمنو خلکو په اراده او همکارۍ د خپلو دغو انساني او اصولي هدفونو په ترسره کې بریالي کیږو.

ملګري ببرک کارمل حاضرینو ته په خطاب کې زیاته کړه، زه د غور ولایت زیار ایستونکي او مېړني خلک ښه پېژنم داهمغه ویاړلی غور دی چې یو وخت د تمدن او پرمختګ

مرکزو خودتیرو واکدارانو بی پروائی او په تیره بیا په ټول افغانستان او له هغه څخه دغور په ولایت کی دحفیظ الله امین ظلم او استبداد نه هیرېدونکی دی.

زه دغور ولایت دزړورو خلکو په زیاتو دردونو کړاوونو او دافغانستان دانقلاب ددښمنانو خائنانه کارونو او وحشانه جنایتونو چی په هغه ولایت کی یی کړی دی پوره خبریم پوره ډاډ ورکوم چی دلوی خدای په مهربانی اوګران افغانستان پتمنو زړورو اوزیاتونکی خلکو په همکاری ډیر ژر دافغانستان دخلکو دهوسایی او ارامی ټول دښمنان له منځه ورل کیږی او دافغانستان نوی او غوړیدلی ټولنه جوړیږی.

په مقابل کی دغور ولایت دپتمنو خلکو څوتنو وینا وی وکړی له ګوند او انقلابی دولت سره یی دملاتړ دڅرګندولو په ترڅ کی یوځل بیا ژمنه وکړه چی دپلرنی وطن دځمکی دتمامیت ملی نوامسیسو او ګران هیواد افغانستان دخپلواکی او ازادی دفاع اودانقلاب دارزښتونو دساتلو په برخه کی دژوندتر وروستی سلګی پوری مبارزه وکړی او دافغانستان دپتمنو خلکو قسم خواره دښمنان به له منځه یوسی.

په پای کی یو استازی له انقلاب دولت سره دملاتړ په باب دغور ولایت دزیاراېستونکو خلکو پریکړه لیک ولوست چی حاضرینو یی داحساساتو په څرګندولو او چکچکو سره هرکلی وکړ

**ملګری کارمل :**

## موږ باید د ټولو ستونزو او کړاوونو په علت پوه شو

**دافغانستان د خلك دموکراتیك ګوند دمرکزی کمیټی عمومی‌منشی او د افغانستان دموکراتیك جمهوریت دانقلابی شورا رئیس ملګری ببرك‌کارمل د ۱۳٦۰ کال داسدپه ۱۹نیټه دفاریاب ولایت د قیصار د ولسوالی د پټمنو خلکو استازی‌دانقلابی شورا د مقر د ګلخانی په ماڼۍ کی ومنل او له هغوی سره‌یی له‌صمیمیت نه‌په‌یوه ډکه‌او دموکراتیکه فضا کی خبری وکړی .**

ملګری ببرك کارمل دخبرو په پیل کی دګوند ، انقلابی شورا او حکومت درهبری لخوا کابل‌ته او دانقلابی شورا په مقر کی دقیصار دولسوالی دپټمنو خلکوله استازیو ورتګ ته‌ښه راغلاست ووایه او په‌ساده کلمو سره‌یی هغوی ته‌په خطاب کی‌وویل : ګرانو او محترمو ورونو ستاسو په دردونو خبریم، ستاسو په ستونزو پوهیږم او دا چی په‌تیرو شرایطو کی څه دردونه‌او ستونزی‌زغمی ټولو ته‌معلومه‌او څرګنده ،ده موږ باید

دغو ټولو ستونزو کړاوونو او رنځونو په علت پوه شو او باید وپوهیږو چې ولې د افغانستان دخلکو دنیکمرغی ددښمنان او دثور انقلاب دښمنان نه پریږدی د افغانستان خلك دسولې ارامي او امنیت په فضا کی ژوندو کړي او ولی هغوی په ورورو ژنی او مسلمان وژنی لاس پورې کوي .

ملگری ببرک کارمل دانقلاب ددښمنانو دطوطئی دسیسی اووحشیانه جنایتونه بیان کړل.

وی وویل: دثور د انقلاب گوند دولت او زموږ دحکومت هدف دگران افغانستان آزادی نیکمرغی خوشبختی ، پرمختگ او لوړتیا ده خوامر یکااسپریالیزم دچین هژمونیزم دپاکستان

پوځی ټولنی او دسیمی ارتجاع چې دافغانستان دخلکو پخوانی دښمنان دی غواړی د افغانستان دپرمختگ مخه ونیسی او زموږ گران هیواد په بیوزلی لوبی وروسته پاتی والی ظلم او ستم کی وساتی هغوی غواړی خوتنو اشرافو ،اعیانو او سود خورو ته دخپلو استازیو په توگه په افغانستان کی قدرت ورکړی او زمونږ له کانونو او د کارگرانو اه انرژی څخه گټه واخلی او زموږ ملی شتمنی لوټ کړی او خپلو هیوادونو ته یی یوسی دافغانستان دانقلاب دښمنان ویریږی چې دافغانستان انقلاب دسیمی هیوا دونه تر خپلی اغیزی لاندی راولی او له همدی سببه یی زموږ پوشمیر زیار ایستونکی هیواد والوځولو لی او په افغانستان کی یی دورورو ژنی او د غیر انسانی عملونو سرته رسولو ته هڅولی دی

ملگری ببرک کارمل زیاته کړه :

مونږ غواړو چې زمونږ په گران هیواد کی ډیر ژر امنیت او ارامی تامین شی ظلم او استبداد له منځه یوړل شی . ټولنیز عدالت ټینگ شی، له ټو پیر پرته دافغانستان د ټولو پټمنو خلکو دحقوقو او انسانی کرامت درناوی او رعایت وشی او یو سمسور او پرمختللی افغانستان جوړ شی دغه انسانی هدف ته درسیدلو لپاره باید خلك له حکومت سره یو موټی او یو شی او دیو او سپنیز سوک په څیر دافغانستان دپرمختک او لوړتیا دښمنان چې له بهر څخه صادر

شوي او زموږ په ګران هیواد کې په سړي وژنې، د عامه شتمنیو په لوټولو او خیانت لاس پورې کوي او ځپي او له منځه یې یوسي.

ملګري ببرک کارمل زیاته کړه: ـ له نیکه مرغه د پلار وطني ملي جبهې په جوړیدو سره نن د افغانستان ټول خلک حق لري د هغې غړي او سي پلار وطنه ملي جبهه د افغانستان د پټمنو او دزیارایستونکو خلکو د داوسه ددې وخت را رسیدلې دی چې افغانستان ټول خلک په اتفاق او یو والي سره پلار وطني ملي جبهې غړیو په توګه دانقلاب د دښمنانو په وړاندې دځپل اعتراض او از پورته کړي دمشرانو او لویانو له لارې هغه کسان چې د دښمنانو غولولي د ثور دانقلاب حقانیت ته متوجه کړي، د وطن دښمنانو ناولي او له خیانت نه ډکه هدفونو رسوا کړي.

ځوانان د وطن، د وطن د ناموس او د ثور دانقلاب دفاع ته وهڅوي او پوره باور لرم چه د لوی خدای په تکیه او د افغانستان د آزاد او اتلو خلکو په اراده دښمنان ډیر ژر له منځه ځي، امنیت او ارامي تامینیږي وروسته والي له منځه ځي او پیاوړی او پرمختللی افغانستان جوړیږي.

ملګري ببرک کارمل په داسې حال کې چې د ینایي له استازیو په پرله پسې چکچکو سره تائید یدله او هرکلي یې کیده په پای کې زیاته کړه: زموږ ګوند دولت او حکومت هغه ژمنه چې د افغانستان د ازاد او پټمنو خلکو په وړاندې یې کړې ده هغې ته وفادار دی، زموږ حکومت په ټل دخلکو او وطن خدمت ګاروي او زموږ خلک به په راتلونکو کې وګوري چه په هیواد کې دامنیت او ارامي په تامین سره دخلکو د نیکمرغی او خوشبختي او دګران افغانستان د پرمختګ په لاره کې څه ستر پرمختګونه او بدلونونه راځي او زموږ ګران هیواد به په څومره چټکۍ سره جوړ او سمسور شي. په پای کې دقیصار د ولسوالي د پټمنو خلکو یو استازي ببرک کارمل ته د هغې ولسوالي دخلکو تاوده او له مینې ډک سلامونه وړاندې کړل وی ویل:

مونږ حاضر یو د ګران افغانستان د ازادي په خاطر د پلار وطني ملي جبهې په لیکو کې دخپلو نیکونو په څیر د مبارزې وسله په لاس کې واخلو او د خپلو وینو په تویولو سره خپل ګران هیواد له پردیو له تیري څخه وژغورو او د ثور انقلاب انساني ارمانونه عملي کړو.

## په هیواد کی د اسلام تول فرایض او سنن جاری دی

دآزاد سرحد دمومند وقومونو دیوی ستری قومی جرگی په ترخ کی چی ۱۳۶۰ کال دعقرب دننگرهار ولایت دسرحدونو دلوی مدیریت په انگړ کی و شوه دثور انقلاب په تیره بیا دهغه له بشپړ تیایی نوی پړاو سره خپل ملاتړ او ننگه څرگنده کړه وی ویل دمومندو دقومونو مشرانو خلك له دی څخه و روسته دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت دښمنانو ته اجازه نه ورکوی چی دمومند وله سیمو څخه دافغانستان دموکراتیک جمهوریت پر خلاف په ورانکاری جاسوسی او وسله والو اقداماتو لاس پوری کړی .

پدی جرگه کی چی دخویزو، بابازو، کوډاخیلو، اوتمان خیلو، عیسی خیلو، خوگاخیلو ماماخیلو، دوړخیلو او میتها خیلو قومونو عالمانو او سپین ږیرو استازو پکی گډون کړی ؤ لمړی دقران پاك څو ایتونه ولوستل شول وروسته یو گوندی مسؤل وینا وکړه .

وروسته ملك الف خان ملك شیر احمدخان، ملك دادل خان، پهلوان خان، حاجی لونگ خان حاجی محمد حسین خان، منشی سهار گل خان، حاجی میرزا، حاجی محمد، دوار خیل او ملك افریدی دمومندو دقومونو په نمایندگی وینا وی وکړی دثور انقلاب دلوړو مقصدونو په تطبیق او

دافغانستان دد ښمنانوپه له سنځه وړلو کی دافغانستان دد موکراتیک جمهوریت لهګوند او دولت سره خپل بشپړ پیوستون څرګند کړ.

ددغی جرګی په پای کی دجرګی دبرخه والو لهخوا دغه پریکړه لیک تائید او تصویب شو.

بسم‌الله الرحمن الرحیم

د ۱۳۶۰ کال دعقرب په شپا ړلسمه نیټه دمومندو دقومونو ټولو برخو دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت لهاستازی سره دجلا ل اباد پهښار کی جرګهوکړه او پهدی جرګه کی دغه فیصلی وشوی.

۱- دا فغانستان ددولت ټول هغهکورنی او بهرنی دښمنان چیډ پاکستان دحکومت په لمسونه او دامر یکایی، چینائی او انګریزی دولتونو او نورو ارتجاعی او استعماری قومونو لخوا وسلهوال او ملا تړ یی کیږی او بیرته دجنګ او یا پرو پاګنډ او ورانکاری لپاره افغانستان ته لیږی کیږی دمومند و د ټول قوم دښمنان ګڼل کیږی او له دی ورو سته د مومند و سیمی خلك هغوی پخپله سیمه کی نهپریږدی او اجازه نهورکوی چیدمومندو له سیمی څخه دافغانستان ددموکراتیک جمهوریت پرضد، جنګ، ورانکاری او جاسوسی وکړی ۲-دمومند و قوم خپل ځان دافغانستا ن دټولو قومونو وروږګنی، دهغوی دښمنان خپل دښمنا ن او دهغوی دوستان دځان دوستان ګڼی.

۳- پهافغانستان کی دشوروی اتحاد پوځی محد و د قطعات تیری کوونکی ندی ،بلکه دځمکی دتمامیت، حاکمیت او دافغانستان دملی خپلواکی دساتنی لهپاره او پخپله دافغانستان دد موکراتیک جمهوریت پهغوښتنه دافغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ دپخوانی موافقه لیك پهاساس افغا نستان تهرا غلی دی او کلهچیپه افغانستان کی بهرنی لاس وهنی پای‌ته ورسیږی دشوروی اتحاد محد و د قطعات بهبیرته خپل هیوادته لاړشی موږ د مومندو ستر قوم افغانستان او شوروی اتحاد ترمنځ دوستی دد واړو هیوادو په ګټه بولو.

۴- مونږ دګوند او دولت مشر ملګری ببرک کارمل یو پوه او وطنپال مشر بولو او د ملاتړ کو .

۵- په افغانستان کې د دین آزادی او اسلام ټول فرایض او سنن جاری دي او پدې برخه کې د کورنیو او بهرنی ارتجاع تبلیغات هیڅ حقیقت نه لري.

۶- دمو سند و هر وګړی حاضر دي چې دافغانستان په دموکراتیک جمهوریت کې هر کار او کسب چې ورته سپارښتنه کېږي کار وکړي او هم په ملکي او پوځي چارو وګوماړل شي او برخه واخلي.

## ملګري ببرک کارمل :

## په هیواد کې باید سوله او امنیت ټینګ شي

**دا خ .د . ګ دمرکزي کمیټې عمومي منشي او د.ا. د ج دانقلابي شورا رئیس ملګري ببرک کارمل د ۱۳٦۰ کال د جدي په شلمه نیټه دفاریاب دولایت داندخوی دولسوالي دمشرانو ، سپین ږیرو او زیار ایستونکو یو شمیر استازی د انقلابي شورا د مقر ګلخانې په ماڼۍ ومنل .**

**او له هغوی سره ئې د دوستۍ او ورورولي په فضا کې خبرې وکړې.**

ملګري ببرک کارمل په خپلو خبرو کې چې په هره برخه کې یې تو ده ر کلی کیده لومړی دانقلابي افغانستان مرکز کابل او د انقلابي شورا مقر ته د دوی د راتګ له امله ښه راغلاست وواېه او له هغوی سره یې دنیکمرغۍ او هوساتوب لپاره جوړو لو کې دافغانستان دټولنو خلکو دغوښې برخې اخیستلو په باب خبرې وکړې .

ملګري ببرک کارمل وویل : ستاسو ګوند دولت او حکومت دخپلو شمالي سیمو دهیوادوالو په دردونو ، ستونزو ، او پرابلمونو پوره خبردی ،له پېړیو پېړیو راپه یخوا دافغانستان په زیار کښو خلکو باندې ټولنیز ستم کلتوري ستم ، اقتصادي ستم ، قومي ،ژبني ،مذهبي تو پیر موجود و لازمه ده چې ددغو مظالمو او کړاوونو د پای ته رسولو لپاره مو ږ او تاسې ټول په پوره یووالي فکر وکړو او په دې لاره کې صادقانه ترټولو مخکې او ډېر مهم په هیواد کې د سولې او امنیت ټینګول دی ، تر هغه وخته پورې چې په ټولنه کې سوله او امنیت ټینګ نشي د هیواد د پرمختګ او ترقۍ لاره

په آساني سره صورت سوندلی نه شي .

دانقلابي افغانستان پر خلاف دیین المللی امپریالیزم ' په سر کی یی داسر یکا دامپریالیزم لو یی غوښتو نکی چین داسرائیلو دصهیونیزم او دعربوو او دسیمی دارتجاع هدف بیخی څرگند او روښانه دی امپریالیزم چی خپل اجیران او مزدوران یی دپاکستان په خاوره کی تر روزنی لاندی نیولی دی او زموږ هیواد ته یی د ویری اچونی چوروړلو، ورانکاری، دعام المنفعه ځایونو دله مینځه وړلو او بی گناه خلکو دوژلو لپاره ر الیږی. دلته وظیفه لروچی ددغو ورانکارو او شر اچوونکو باندونو دځپلو لپاره لاسو نه سره ورکړو او هغوی بیخی له مینځه یوسو .

دافغانستان دخلك دموکراتیک گوند دهیواد دکړیدلو خلکو دنیکمرغی لپاره له ۱۷ کالو راپدیخوا دسطنتی نظامونو پرضدمبارزه کړی او اوس خپلی هغه ژمنی چی تولی بی د هیواد دملیونی پرگنو په گټه دی عملی کوی .

ملگری ببرك کارمل بیا هم په هیواد کی دسولی او امنیت په تأمین ټینگار وکړ زیاته یی کړه هیڅ گوند، هیڅ دولت ،حکومت او یا جبهه د خلکو له ملاتړ نه پرته نشی کولی دپرمختك او ترقی لوړو هدفونو ته ورسیږی ، موږ باید داسی کار سرته ورسوو چی گوند ،دولت ، جبهه دیوقوم له لوړوالی پرته او له توپیر پرته سره راغونډ شو د یوپو لادی سوك په څیر دهیواد او خلکو دښمنان ورك او نابود کړو او یوسو کاله او نیکمرغه ژوند پیل کړو .

ملگری ببرك کارمل په مفصله توگه دافغانستان دحالاتو دبیانولو په ترڅ کی وویل: دیوی ټولنی بدلون په یوه ټولنه کی دپرمختیا ترقی ، او عدالت مینځته راوړل ، د یوی ورځی یوی او ونی یوی میاشتی یوکال او دوو کالو کارندی باید زغم ولرو او زه له تاسو سره ژمنه کوم چی که دپرون ورځی په شرایط کی ددغه رازیوی سوکالی

او پر مخ تللی تولنی جو ړیدل په سل کاله کی ترسره کیدل نن و رځ دامنیت او سولی دتأمین په صورت کی په لسو کالو کی ترسره کیږی .

ددغی کتنی په ترځ کی پداسی حال کی چی دا ،خ،د، گ دمرکزی کمیټی دسیاسی بیرو غړی ملگری داکتر نجیب‌الله او دغه را ز دفاریاب والی هم حاضر و و دلیکوالو او شاعرانو داتحادیی غړی او دپلار وطنی ملی جبهی غړی رحیم چولاق دفاریاب دولایت داندخوی دولسوالی دهیواد پالونکو او زیارایستونکو خلکو په‌نمایندگی وینا وکړه وی ویل :

زه داندخوی دپتمنو او زیارکښو خلکو په نمایندگی وعده درکوم لگه څرنگه‌چی پتمن او انقلابی خلك له‌قهرمان وسله وال پوځ ،څارندوی او دافغانستان دخلك د موکراتیک گوند له غړیو سره او ږه په اوږه ولاړدی او دثور انقلاب دښمنان او زموږ دترقی او پرمختګ‌د لاری د شمنان یی د هیواد په هرگوټ کی ځپلی دی داند خوی دولسوالی زیارایستونکی خلك هم دتل په څیر دثور انقلاب دښمنان ځپی او وبه یی ځپی .

ددغی کتنی په پای کی ملگری ببرك کارمل دفاریاب ولایت داندخوی دولسوالی له پتمنو خلکو څخه وغوښتل چی په پوره آزاده او دموکراتیك فضا کی خپلی ستونزی او غوښتنی مطرح کړی .

ددغی ولسوالی څوتنو زیار ایستونکو دکرنی او او بولگولو په ارتباط خپلی‌اوسنی ستونزی او پرابلمونه طرح کړل چی د ملگری ببرك کارمل له خوا د دغوستونزو داصلاح او له منځه وړلو په برخه کی ددولت داسکان په حدود وکی‌وعده ورکړشوه

**ملگری کار مل :**

## ددښمنانو دسیسې به عملي نه شي

**دافغا نستان د خلك دموكراتيك ګوند دمركزي كميټې عمومي منشي اود افغانستان د دموكرا تيـــك جمهوريت دانقلابي شورا رئيســـس ملــگري ببــرك كار مــل د ۱۳۶۰ كال د جدي په ۲۹ نيټه سمنګانــو ولايت دخلم دولسوا لي د پتمنــو خلكو يوشمير لويان او سپين ږيري دانقلابي شورا دمقر ګلخانې په ماڼي كي ومنل اود دوستۍاوصميميت په فضا كي يې دهغوی سره خبرې وكړې.**

ملگري ببر ك كارمل دخلم ولسوالي پتمنو خلكو له استازوسره داحوال لـــه پوښتنې اوروغبړ نه وروسته دخپلو خبرو په ترڅ كي وويل : دګوند اودولت يو. ستر هدف دادې چې دخلكو ګوند اودولت ترمنځ ژور اونه شليد ونكي اړيكي ټينګ شي او خلك دجرګو او داستازو دټاكلو له لارې دحكومت اداره په خپل لاس كي ولري.

ملگري ببرك كارمل زياته كړه زموږ دهيواد په اوسنيو شرايط كي مهمه مسئله دامنيت ساتنه ، په هيواد كي دسولې اوآرامې تأمين اودګران افغانستان ترقي او پرمختګ دی نور دافغانستان زيار كښ خلك ددې زغم نلري چې د بيسوادۍ او ناپوهۍ په تياره كي ژوندوكړي اودانقلاب ضدكسا ن لخوا ترور، وحشت اوسړي وژنه

دهغوی ژوندله منځه یوسی زموږ ټولو وظیفه ده چی دآباد ،نیکمرغه ،مترقی اوود ان افغانستان دجوړولو په لاره کی فعاله برخه واخلو .

ملګری ببرک کارمل . زیاته کړه زموږ هدف دادی چی دافغانستان د ټولو خلکو یوالی او پیوستون او دحقوقو برابری تأمین شی دافغانستان دټولو خلکو ترمنځ پوره ټولنیز عدالت له تو پیر پرته ټینګښی ددغه هدف ترسره کول یوازی او یوازی دګوند اودولت کارند ی ،دافغانستان د پتمنو خلکو وظیفه‌ده چی خپل یووالی او پیوستون له ګوند اودولت سره دیوفولادین موټی په توګه تأمین کړی په ټول هیواد کی سوله او امنیت منځ ته راوړی .

ببرک کارمل په‌داسی‌حال‌چی‌حاضر ینو دولولو په‌خرګند وولواو په‌پرله‌پسی‌چك‌چکو ددوي دخبر و تایید او ملا تړ کاوه زیاته کړه: موږ پوره باورلرو چی دلوي‌خد اي(ج) په حکم او دافغانستان دزیار کښو خلکو په اراده زموږ انقلاب خپل پوره‌بري‌ته‌رسیږي او هیڅ قدرت نشی کولاي دهغه دوروستی بري‌مخه‌ونیسی‌ځکه زموږلاره‌د حق‌لاره‌او زموږ مبارزه دباطلو پرضد دحق مبازره ده او په دي مبارزه‌کی ا مپر یالیزم ارتجاع اودهغوي دنوکرانوماتی حتمی ده .

ملګري ببرك کارمل دخپلو خبرو په پاي کی‌حاضر ینو ته‌په‌خطاب کی‌وویل: تاسی پتمن ورونه خپل آواز زموږله آوازسره‌یوځا ی‌کړي‌دسمنګانوټول‌ولایت او دهیوادشمالی سیموته و رسوی چی زموږ پتمن خلك پخپلوسیمو کی‌سوله او امنیت تامین کړی او اجازه ورنه کړي چی دهیواد دښمنان په‌زهرجنو تبلیغاتودویري ډار، ترور په‌پیدا کولواو سږي وژنی‌سره زموږ دپتمونو خلکوداند یښنی اونا رامی سبب شی‌اوز موږ دګران افغانستان دترقی‌او پرمختګ په لاره کی خنډ پیداکړي .

دغه راز په مقابل کی ملابدل شاه ،حاجی عبدالله مجلس‌خان‌او حاجی‌نادر دحاضر ینو په نمایندگی دخلم دولسوالی دپتمنو خلکو سلامونه‌او ښی‌هیلی‌ببرک کارمل ته‌ورسولی یوځل بیایی ژمنه وکړه چی دانقلاب‌دشمنانودځیلو او دانقلاب دارزښتونو ددفاع په‌لار شپه ورځ سر ښندني اوله ځانه سره تیریدنی ته چمتو دي‌او دښمناته‌نوبه‌وخت‌ورنه‌کړي‌چی خپلی خاینانه دسیسی او پلانونه دخلم په ولسوالی کی عملی کړي .

حاضرینو په پای کی دافغانستان دخلکو دنیکمرغی اوآرامی اوپه ټول‌هیواد کی‌د سولی او امنیت دتامین دپاره دعاوکړ اوله لوي خداي (ج) څخه‌یی‌زموږدګوند‌اوانقلابی دولت زیاتوبریالی توبونوهیله وکړه .

**ملگری کارمل :**

## ټولې مسالې په جرګو حل کوو

**دافغانستان د خلك دموکراتيك ګوند دمرکزی کميټې عمومي منشي او دافغانستان د دموکراتيك جمهوريت دانقلابي شورا رئيس ملګری ببرك کارمل دپکتيا ولايت دمنګلو، ځاځيو، ځدرانو، احمد زيو، او طوطاخيلو د قومونو مشرانو او استازی د۱۳۶۰ کال دجدی په۲۸ نيټه انقلابي شورا دمقر ګلخانۍ په ماڼۍ کې و منل اوله هغوی سره يې دپوره صميميت په فضاکې خبرې وکړی.**

ملګري کارمل له دغو قومونو سره دخبرو په ترڅ کې په داسې حال کې چې دهغوي له خوا يې هرکلی کيده وويل :

ګرانو هيوادوالو ورونو !

زمونږ هيواد په يوه حساس پړاو کې پدی پړاو کښې زمونږ دټولو ديره مهمه وظيفه په هيواد کې دسولې او امنيت تامين دي . موږ ټول بايد يو بل ته لاس ورکړو او ددغه پټمن ارمان دسرته رسولو په لاره کې يوله بل سره سرسته وکړو .

ملګري کارمل زياته کړه : ستاسي حکومت پوره وس لري چي د هيواد د ښمنان يعني هغه کسان چي د سړي وژني او زمو ږ په ګران هيواد کي د سولي او امنيت د ګډو ډولو له پاره دامريکا ئي ، چينائي ، او پاکستاني ښوونکو په سرسته روزل کيږي وځپي د غه راز په کارد ي چي د هيواد خلك پدي لاره کي له حکومت سره مرسته وکړي .

ملګری ببرك کارمل پښتنو قومونواو قبايلو ته دافغانستان د خلك دموکراتيك ګوند د مرکزي کميتي او دافغانستان د دموکراتيك جمهوري دولت د هغه پيغام اهميت ته اشاره وکړه چي دافغانستان دخلك دموکراتيك ګوند د مرکزي کميتي په اووم پلينوم کي تصويب شوی دی اووی ويل او س دد ي وخت راسيد لی دی چي ټولي مسالي په جرګه او مشوره حل او فصل کړو تاسي د پکتياولايت د پښتنو قومونو مشران او استا زي وظيفه لري چي د دغه پيغام محتوا د پکتياولايت پښتنو خلکو ته ورسوي او د هغه په رڼا کي له دولت سره د هغوی د لا زيات نژد يوالی زمينه برابره کړی .

ملګري ببرك کارمل زموږد هيواد په کورنيو چارو کي دارتجاع او امپر ياليزم په سرکي دامريکا د امپر ياليزم د بي شرمو لاس وهنو او تيريو په ارتباط يو لړ مطالب بيان کړل وي ويل : موږ سوله او امنيت غواړو چي له ګاونډيو هيوادو سره دافغانستان د شاوخوا مسالي دخبرو له لاري حل و فصل کړو خو د پاکستان پوځي ډوله مقاماتو دخپل تاسيس له وخت څخه د افغانستان د خلکو پرضد د ښمنيو ته د وام ورکړي دي.

ملګري ببرك کارمل دخپلو خبرو نه په پاي کي وويل دافغانستان د دموکراتيك جمهوريت د دولتي اداري د قدرت د سيمه ييز وارګانو قانون به په دي نژدي راتلونکي کي تصويب شي د هغه په انفاذ سره قدرت په خپله په خلکو پوري اړه پيدا کوي خلك په هغه صورت کي دخپل هيواد د راتلونکي سرنوشت په باب کلو او جوړ ونو کي پخپله تصميم نيسي. ' دغو نډي په وخت کي دانقلابي شورا د مقر د ګلخاني دماني تالارته دافغانستان د خلك دموکرا-

تیکګوند دمرکزي کمیتي د عمومي منشي او دافغانستان دموکراتیک جمهوریت د انقلابي شورا د رئیس ملګري ببرک کارمل درسید لو په وخت حاضرین ودریدل او له وړ لو نه د ډېرو احساساتو په څرګند ولوسره یې دملګري ببرک کارمل هرکلی وکړ.
په داسې حال کې چه دقومونو او قبایلو وزیر سلیمان لایق هم حاضر و وکیل امان‌الله شیر محمد، حاجي محمداقبال ځاځي او ببرک خان ددغوقومونو دمشرانو په نمایندګۍ خبري وکړي او هریوه په وار سره د ثور انقلاب په تیره بیاد هغه دنوي او بشپړ تیایي پړاو د ازرښتونو ددفاع او د ګوند او دولت د هدفونو د سرته رسولو په لاره کې خپله سر ښندنه او له ځانه تیرید نه څرګند کړه دامنیت دتامین او زموږ د هغه شمیر هیواد والو چې دانقلاب ضد عناصر غولولي دي دبیرته راستنیدو په برخه کې دپکتیا ولایت دخلکو دهمکاریو ډاډ ور کړ.

**ملگری کارمل :**

## ستاسوله‌ستونزواو دردونو خخه خبریم

**دا.خ. د.گ.دمرکزی کمیتی عمومی‌منشی او دا.د.ج‌دانقلابی شورارئیس ملگری ببرك کارمل د ۱۳۶۰ کال ددلوی په لومړۍ‌نیټه دبدخشان ولایت سپین ږیرۍاو مشران دانقلابی‌شورا دمقر دگلخانی په مانۍ کی ومنل او دهغوی سره یی دمینی او محبت په‌ډکه فضا کی خبری وکړی .**

له هغه وروسته چی ملگري کارمل‌دبدخشان دولایتت له‌هیواد پالو استازیو سره‌روغبړ وکړ دهغه ولایت یوتن سپین زیري عبد الود ودوویل:

«د ا.خ د.گ دمرکزي کمیتی عمومی منشي او دانقلابی شورا ر ئیس محترم ببرك کارمل زموږ خلکو دزړه له کومی دغه ارزو درلوده چی کابل دغه دانقلاب‌تاتو بی ته راشی اوله نژدي تاسوسره وگوري او تاسوته داډدرکړي چه موږدگوند او دولت رشتینی همکار یواو عملاموهم وښودل چی پخپلی دغی ارزو کی وفاداره وو.نودغه اعتماد اوباوروچی ستاسوپرزعامت یی لرو لکه دوروتوپه شان‌به‌خپلی‌ستونزي هم تاسوسره مطرح

کړو.»

ده زیاته کړه: موږ دبدخشان په لرو سیمو کی پرتو خلکو دتیرو ظالمو اوستبدو رژیمونو څخه دظلم بید اد ګري، بیکاري اولوږي پرته بل څه نه وولید لی خو دانقلاب په بري سره موډیر امید درلود څو دتیري زمانی تحمیل شوي ظلمونه جبران شوي واي خو دامین رژیم او دهغه وینی څښونکی مزدوران دهیواد پر ټولو خلکو او په تیره بیا زموږ پردردیدلو دخلکو داسی وژنی، ناروا وي او ظلمونه وکړل چی دموږ زړګونه تنه خلک زاړه او ځوانان په خاورو او وینو کی لیت پیت شول زمونږ شته منی لوټ او زمونږ کورونه ړنګ شول له نیکه مرغه د جدي د شپږمی نیتی بدلون راغی او پاتی خلک دجلادانوله تیري توري وژغورل، شول داچی انقلاب خپلی اصولی کړنلاري سره هره ورځ بشپړیږي موږ تاسو او دګوند او دولت ټولو کارکوونکوته ډاډ درکووچی په جدي توګه دخپل دولت مترقی او ملی کړنلاري ملاتړ کوو ددفاع په سنګر کی ولاړیو او دهیواد داوسیدونکی ملیتونو او قومونو دټولو حقوقو د برابر تامین په منظور دملی مسالی دطرحی او حل په رابطه کی دا. خ .د.ګ دمرکزی کمتیی داوم پلینوم له فیصلو څخه دزړه له کومی ملاتړ کوو .

ملګر ی ببر ک کارمل د خلکو د ستو نزو له اور یدو وروسته چی دهغه ولا یت د خلکو د استا زیو په ویـنا د تیـرورژیمـو نـو او د انـقلاب ضد عناصر و دجنایتونو او خیانتونو نتیجه ده دبدخشان دپتمنو خلکو استازیو ته په خطاب کی وویل :

د بدخشان ولایت ډیروګرانو او زړه وروورونو !

زه پخپله تاسو دبدخشان دهیواد پالو او پتمنو اوسیدونکو په ډله کی ځان لکه دیو

وروړ په شان احساسوم .

دهغه پخوانی پیژندنی او روابطو له مخی چی دهیواد نورو سیمو په شان د بدخشان پوه او بافرهنګ انقلابی خلکو د تاریخ او ځانمو سره یې لرم او تل دهغه ولایت دزیار ایستونکو خلکو سره زماروحی او فکری پیوندو ،دی او وی به ،دتاریخ او دپیړیو په اوږدو کی په بدخشان کی یوه ځانګړی اګاهی وه سوږ دبدخشان د علم پالونکی د سیړنوله ډکی خاوری څخه زیات شمیر ،ادبی ،سیاسی او انقلابی شخصیتو نه لروچه دافغانستان دملی تاریخ یوویاړدی .دغوخلکو تل دافغانستان دنورو برخود اوسیدونکو ورونو سره دملی آزادی ببنوونکو غور ځنګونو او مبارزوپه جریان کی فعاله او څرګنده ونډه اخیستی ده .

ملګری ببرک کارمل زیاته کړه : ستاسو له ستونزو او در دونو څخه خبریم او په رښتیا سره ستاسی ستونزی دهغه غرنی اوسختو لارو د خاص موقعیت دلرلو له امله زیاتی دی ، اودا د تیرو رژیمونو میراث دی لکه چی زموږ محترم وروړ هم هغی ته اشاره وکړه

ملګری کارمل ،دپاکستان د پوځیګر و په ملګرتیا د امپریالیزم هژمونیزم اوار تجاع خاینانه توطئو دیادولوڅخه وروسته چی د افغانستان دملی او دموکر تیک انقلاب او دخلکو په خلاف یی نااعلام شوی جګړه پیل کړی وو یل : هغوی دانقلاب ضد باندونه له پولو څخه د هغی خوانه زموږ خاوری ته ، د ترور ، ښوونځیو سو لو ، جوماتونو ړنګولو او د معصوموماشومانو او روحانیو نودبی رحمانه وژنی لپاره رالیږی ، وزموږ دخلکو دسپیڅلو احساساتو څخه ناوړه استفاده کوی ،خو زه تاسی نجیبو او شریفو هیواد والو او ستاسی په ذریعه دبدخشان ولایت ټولو شریفو خلکو ته ډاډدرکوم چی زموږ انقلاب په شانه ګرځی او د سمسور تیا ،ابادی او دټولنی دودانولو په خاطر خپله لاروهی .



ملگری ببرک کارمل د نورستان له ټينو خلکو سره د دلگشا په ماڼۍ کې د خبرو په وخت کې.



ملګري ببرک کارمل کله چي د ګلخانی په ماڼۍ کی د کونړ ولایت د شونکړي د دری د صافو د قوم سپین ږیری او استازی منلی او له هغو سره خبری کوي.



ملګري ببرک کارمل په داسي حال کي چي د نورزائي قوم له خوا د سوغات په توګه ورکړ شوي خولي او لنګۍ يي
په سر ده د دغه قوم له استازو سره د خوښۍ او صميمت په فضا کي يادګاري عکس واخيست



ملګري ببرک کارمل د پکتیا ولایت د منګلو، ځاځیو، ځدرانو، احمدزیو او طوطاخیلو له مشرانو سره له خبرو وروسته د هیواد د آبادۍ په هکله
د دعــــا په حـــال کې



ملګری ببرک کارمل د بدخشان د ولایت یو سپین ږیري سره د روغبړ په حال کې .



ملګری کارمل د وزیرستان د بیلا بیلو قومونو له استازیو سره له کتنی وروسته له هغوی سره یادګاری
عکس واخیست



د وزیرستان د خلکو یو تن استازی د خپلې سیمې د دود سره سم ملګری کارمل ته ګردنۍ (قطاروزمه) ورکوي



ملگری کارمل د احمدزیو وزیرو قوم له استازیو سره له کتنی وروسته یادگاری عکس واخیست



دغور د ولایت د شریفو خلکو د استازو نړیوتن د ببرک کارمل سره د کتنې پر وخت کې د خپل انقلابي دولت او ګوند نه خپل ملاتړ څرګند وي.



ملگری ببرک کارمل کله چې د فاریاب د ولایت د قیصار د ولسوالۍ د زیارکښو خلکو استازي یې د انقلابي شورا په مقر د ګلخانې په ماڼۍ کې منلي او له هغو سره یې په ډیره دوستانه فضا کې خبرې کوي.



ملگری ببرک کارمل د انقلابي شورا په ماڼۍ کې د فاریاب ولایت د اندخوي د ولسوالۍ د استازو او سپین ږیرو سره د خبرو په حال کې



د افغانستان د خلق دموکراتیک گوند د مرکزی کمیټې عمومی منشی او د انقلابی شورا رئیس ببرک کارمل کله چې د سمنګانو ولایت د خلم د ولسوالی
له یو شمیر لویانو او سپین ږیرو سره خبرې کوی.



ملګری ببرک کارمل د وزیرستان د سیمی د مداخیلو وزیرو د زیارکښو خلکو یوی درندی جرګی سره چی د انقلابی شورا په مقر ګلخانی ماڼۍ کی منلی دی - خبری کوی.

په دغه کتنی کی حاجی بیگ او نصرالدین گوندا و دولت څخه دملاتړ په ترڅ کی یوځل بیا د خپل انقلابی دولت سره د همکاریو په ژمنه ټینګاری کړ او یو ځل بیا یی د سپین ږیری عبدالواحد هغه شعرولوستچی دثور انقلاب په وياړ یی لیکلی و.

حاضرینو په پای کی دهیواد دترقی او پرمختګ لپاره دعاوکړه.

**ملگری کار مل :**

## زموږ خلک د تل لپاره له ظلم څخه خلاص شول

**دافغانستان د خلك دمو كراتيك گوند دمركزى كميټى عمومى منشى اود افغانستان دمو كرا تيك جمهوريت دانقلابى شورا رئيس ملگرى ببرك كار مل دانقلابى شورا پەمقر كى د۱۳۶۰ كال د حوت په ۱۳نيټه دجوز جان ولايت د پتمنو خلكو لەمشرانو ، سپين ږيرو او استا زو سره وكتل او له هغوى سره يى ددوستى او صميمت پەپاكه فضاكى خبرى وكړى .**

ملگری ببرک کارمل د خپلو خبروپه ترڅ کی وویل : موږ ا وتا سو ټولو ته د ستمگرانودوا کمنۍپه وخت کی دافغانستان خلکو دژوند حالات ښکاره اوڅرگنددی . ستاسو بچیانو و پتییله چیدتاسو دخلکوحالت ته تغییر ورکړی .

ملگری ببرک کارمل دافغانستا ن دخلکو دنوی ژوند درا تلونکی په باب څرگندونی وکړی زیا ته یی کړه دافغانستان دخلك دمو کراتیک گوند له خپلی اصولی کرنلاری

اوسرام سره سم تل هڅه کوی چه دافغانستان دزیار کښو خلکو لپاره نیکمرغه ډاډ ه‌او مصئو ن ژوندرا منځ ته کړ و او د لوی‌خدای په مرسته د. افغانستان دخلك دموکراتیک گوند او انقلابی دولت دغه ارمان ستاسی دکړیدلوورونو په همکا ری میسرا وحتمی دی خوتاسی په خپله پوهیږی هغه وخت چی امنیت په بشپړه توگه تأمین نشی په‌دغه لا ره کی به ستونزی وی ،د امپریا لیزم هژمونیزم اوار تجاع روزل شوی شیطا نی ځواکونه دخپلو امپریالیستی باد ارانو دلارښودنی له مخی‌ستاسودګټو پرضداوستاسو دآرامی او نیکمرغی برخلاف په هرډول ناوړو او انسانی ضد عملونو لاس پوری کوی پتمن او هیواد پال انسانان په بیشرمی سره وژنی عا مه شتمنی لوټوی جوماتونـــو ښوونځیو اومقدس ځایونو ته اورا چوی او زموږ په ګران هیواد کی ناراسی بیدا کړی او ویره اچوی خو په غوڅه‌توګه اوبشپړ ایمان وایم چی نور ددغو شیطانانو اولوټمار نولمن زموږ له هیواد څخه‌ټوله شوی اودکلکی ماتی سره مخامخ دی .

دغه راز ملګری ببرک کارمل څرګنده کړه چه اوس زموږ له خلکو سره دمترقـی نړی او بین المللی دوستانو په سر کی یی زموږ دپخوانی اوتاریخی دوست دشوراګانو دیستر هیواد پوره ملاتړاو ننګه شته له دی امله په‌ځلانده راتلونکی‌او دخپل هیواد د خلکو په‌پو ره‌نیکمرغه ژوندپه ډاډسره دازیری د رکوم‌چی انقلابی افغانستان‌دنړی‌مترقی اوسوله خو ښوونکو هیواد وپه لیکه کی د ریدلی اوزموږ خلک د تل لپاره ظالمانو له جغ نه خلاص شویدی دملګری کارمل دخبرو په پائی کی‌حاجی‌ایکم‌بردی او اکبر اسحق زی دجوزجان و لایت د پتمنوخلکو په نمایندګی له ببرک کارمل سره دکتلو له‌امله مننه وکړه اود ګوند اوانقلاب دلوړ و ارمانونو دتحقق په غرض یی‌دانقلا بی د و لت له مترقی‌هد فونوسره د ملا تړاو ننګی دڅرګند ولو په ترڅ کی د هرډول همکاری اوله ځا نه تیریدنی ژمنه وکړه.

۱

## دقومونو او قبایلو دچارو وزیر ملگری سلیمان لایق دهیواد په ولایاتو کی دخلکو سره خبری کوی

دافغانستان د دمو کرا تیـــکجمهو ریت دقـومـونو او قبا یلود چارو وزیر ملـگر ی سلیمان لایـقد ثور دبریالی انقلاب او په تیره بیا دهغه دنوی او بشپړ تیایی پـړاوڅخه وروسته دهیواد په ولایاتو او مرکز کی د هیواد د قومونو ،او قبایلو سره ډیری زیاتی جرگی او مرکی کړی دی چی موږ یی دننگرهارولایـت ، دکو نړ و لایت ، د لغمان ولایت ، د پکتیاو لایت پکتیکـــاولایت اود غزنی نورو ولایتونو د ۵۸ ـ ۵۹ او ۱۳۶۰ کلـو نـودتیرووبناو او جرگو مرکو څخه او پـه تیره بیا عسکر ی قطعاتو ، او یـــا گوندی غونډو ته دهغه له وینا و څخه تیرشو .

دلته موږ یوازی د ۱۳۶۱ کال دځینو ویناو لنډیز رااخلوچی زیاتی یی د هلمند ولایت قند هار ولا یت جوز جان ولایت ، سمنگان ولا یت او په کابل ولایت کی شریفو خلکوقومونو او قبایلو ته کړی دی ،لکه د ۱۳۶۱ کال د حمل په ٤ نیټه خان عبدا لولی خان ته په تور خم کی د هر کلی په وخت کی وینا ،د حمل ۱۶ نیټه داتما نخیلو شریفو خلـکو سره جرگه ، د حمل په ۲۲ نیټه دخوست دمندوزو د خلکوسره خبری دحمل په ۲۸ نیټه په تورخم کی دولی خان د بیرته تگ په وخت کی د شینوا رو او مومندو د خلکوسره خبری د حمل په ۲۹ نیټه دوزیرو او مداخیلو سره جرگه دثور په ٤ نیټه دبغلان د خلکو سره جرگه د ثور په ۵ نیټه بیا د مدا خیلو وزیرو سره جرگه ، د ثور په ۷ نیټه دننگرهار دجلال آباد د ښار په چوك کی ویناد ثور په ۸ نیټه د خان عبدا لغفا ر خان سره دمخه ښی په وخت کی په تورخم کی په داسی حال کی چی له پیښور څخه لږ ترلږه سل هـاز ر ه خـلـك ر ا غـــلـــی وه او همدغه شان له جلال آباد څخـــه گڼ شمیر خلك حاضر شوی ووینا

دثور په ١٤ نیټه دقندهار د ښا ردخرقی مبارکی په انګړ کی خلکوته وینا، د ثور په ١٥ نیټه دناد علیدولسوالی سپین ږیرو ته وینا د ثور په ١٧ نیټه دبوست په هو تل کی دهلمند ولایت شریفو خلکو ته وینا ،د ثور په ١٨ نیټهد هلمنــــدولایت په مرکز په یوستر میټینګ کی وینا ،د ثور په ٢٩ نیـــټه دسمنګان ولایت د دره صـــــوف د ولسوالی د جوړ یدو او فعا لیدوله‌امله په جوړ شوی میټینګ‌کی وینا دثور په ٣٠ نیټه د جوز جان ولایت‌دشبرغان د ښار په یو ستر میټنګ کی کار ګرو ته وینا ـ د جوزا پـه‌لومړی نیټه د دره صوف دولسوالی دخلکو سره جرګه ،دجوزا په ٣نیټه:بغلان ولایت د سپین ږیرو سر ه جرګه ، د جوزا په ٧ نیټه‌د قند هاردښار د شهیدانو په چوك‌کی یــو ستر میټینګ ته وینا د جوزا پـه‌٨ نیټه د قندهار ولایت د سپیــن بولدك اڅکزو او نوروقومونو تــه‌وینا، د جوزا په ٩ نیټه د قند هار ولایت په سالون کی بیلو بیلـــــوقومونو او خلکو ته وینا ، د جوزاپه ١١ نیټه په‌لشکر ګاه کی دناد علی‌مرجی ،ګرشك ، او د باباجی خلکو سره جرګه ، د جوزا په ١٨ نیټه په‌کابل کی د پکتیا دولایت خلکوسره خبری ،د جوزا په ١٩ نیټهد غزنی دموشکی دخلکو سره جرګه ، دسر طان په ٨نیټه دمداخیلو وزیروسره‌جرګه د سرطان په ١٢ نــیټــه د شینوارو سره جرګه دسر طان په‌٢٠نیټه‌د نور ستان د خلکو ســره جرګه دسرطان په ٢٧ نیټه د لوګردمشرانو سره‌جرګه،د اسد په ٢نیټه داحمد زیو وزیرو سره جرګه‌داسدپه ٧ نیټه د پلار وطنی ملی جبهی دمرکزی شورا په تالار کی دهیواددهزار ګانو سره جرګه او وینا په دغه وخت کی‌د پنجشیر شر یفوخـلکو تــه و یــنا ، د ا سد په‌١١ کټواز دشرنی دخلکو سره جـرګـه‌داسد په ١٦ نیټه د هوړ خیلوخلکو سره جرګه ، داسد په ١٨ نیټـه دهیواد د بیلو بیلو ځایونو یـــنوی پنځه سوه کسیزی ډلی‌کوچیانو ته‌وینا چی دلته له‌هغو څخه صر ف دیو څو ویناو لنډیز لوستو نکو ته‌وړاندی کوو .

## ملګری سلیمان لایق د هلمند خلکو ته په خپله وینا کې وویل:

...ګرانو ورونو! د هلمند پتمنو خلکو.

زه راغلی یم چې تاسې ته یو انقلابي والي چې ستاسې د خدمت لپاره مقرر شوی معرفي کړم. دغه والي ګل محمد کوشان په قام نورزائي دی چه والي مقرر شوی او تاسو ته راغلی دی. دې د پخوانیو والیانو څخه ډیر فرق لري. دد وی فرق دادی چې دی د خلګو خدمتګار دی دوی د خلکو د خدمت لپاره دلته راستول کیږي، که چیرې زموږ په والیانو او حاکمانو یعنې په ولسوالانو کې د اسې خلک پید اشي چې هغوی د خدمت څخه او ړه خالي کوي او په خلکو باندې د پخوا په څیر د کبر، نخرو او نازونو پېټی اچوي، نو تاسې پوه شئ چې هغه والیان خپل نه دي هغه ولسوالان خپل ندي هغه دوستان ندي بلکې د اد خلکو د ښمن دی، چې اوس یې په موږ کې ځای نیولی دی. ملګری ګل محمد کوشان یو باشرفه پاک لمنی، پاک خویه و پاک زړی سړی دی او حزبي دی په غورسره د سلها و نورو ځلمیا نوله منځه ددغه ولایت زوریدلو خلکو د خدمت لپاره راولیږه او داهیله یې وکړه چې دغه ځلمی به انشأالله تعالی په دې خپلو ښو اخلاقو، خصوصیاتو او په دې ښه پښتو نولی، په دې ښه انقلابي ځلمي وجدان باندې وکولای شي چې ددغه خلکو خدمت وکړي و ددوی توجه او د دوی مینه ځان ته راواړوي او په ګډه سره په دغو ځمکو باندې، په دغو د ښتو باندې د خدای د رحمت سوله راولي، و روري راولي او تل مینه بیا راژوندی کړي. زموږ په مبارک

دین کی چی زمو ږ سپیڅلی او پاك دین دی په هغه کی هم و الیان چی هغه و اقعاً په اسلامی شر ایطو باندی بر ابر وی ،هغه ځان دخلکو خدمتگار ان بو لی ـ هیڅ داسی فکر نه کوی چه خدای ناخو استه دی خلکو ته یو بادار ر ا لیږ ل شوی دی ، داسلام ددو هم خلیفه حضرت عمر (رض) کله چی خلافت ته و رسیده نو په ممبر باندی و در ید او خلکو ته یی و و یل :

زه په تاسی و الی شو م ، مگر په تاسی ښه نه یم که ما خطا کار کاو ه ما پو ه کړی ، ما ر ا واوری که ما ښه کار کاوه، عدالت می کاو ه دخلکو په سینځ کی او دخد ای په لار تلم نو زماشاته و در یږی و الیان دغسی وی او زمو ږ و الی هم تاسو ته دلته و ایی چی که چیری ماتاسو ته خدمت کاو ه ، که چیری ما سو له ـ غو ښته، که چیری ما دظلم لاس لنډ او ه ، که چیری ما دو طن نه دا جنبی خارجی قو تو نو یعنی دامریکا متحد و ایالاتو او نو ر و لاسو نه لنډ و ل ، که چیری ما وسله اخیستله او ددغه ځای اتفاق مو دخلکو په لاس جو ړ او ه ا و که چیری ما اشر ار ،غله او لار و هو نکی سی بندو ل او مصلحین او دقوم سپین ږ یری ا و خیر خو اهان سی درول نو تاسو په ما پسی و در یږی او که له ما بدکا ر پیښیده نو تاسی عز یز انو، تاسی و وا ی اخیر زه خو بنده یم،زه خو خدایی قدرت نه لر م نو ما پوه کړی،

پخپله سهوه می پوه کړی،په خپله اشتباه می پوه کړی، نو زه به حتماً تاسو سره داخبره و منم. دغه دی و الی صاحب هم دلته و لاړ دی، تاسو ته قو ل در کوی وی و الی هم و و یل.زه دخلکو سر ه په دغه لار ځم.

دقو مو نو او قبایلو دچار وو زیر سلیمان لایق ددغی و ینا په یو بل ځای کی وو یل.

ما دغه و لایت نه و لیدلی د از مال و مړی ځل دی ، چی دغه سبار ك و لایت ته چی خد ای دی لطف پری و کړی ښه لمر لری ، ښه خاو ره لری ، ښه لوی پر اخ سیندو نه ، ښی دښتی، ښه خلك لری ، دی و لایت ته ر ا غلم ، ددښمن دلاس و هنی له کبله او زمو ږ د خلکو دنا پو هی له کبله، سر ه له دی چی دو مره بانگه خلك دی ، باشر فه خلك دی ، بانا و سه خلك دی ،زحمت

کشی خلك دی میړنی دی ، مگر ساده خلك دی ، ساده داسی چی دجهان په پښیو خبر نه دی. ساده داسی چی دوست او دښمن له یو بل څخه بیلولی نه شی. ددښمن په اواز پسی روان شی دایو عیب لری او هغه داچی علم نه لری خدای پاك په قران کی و یلی دی چی ـ دعلم والا او بی علم سره برابر نه دی ، دا ملایان هم سنی موږ په خپله په دغه انقلاب کی دا وینو انقلاب راغی، مگر موږ چی علم نه لاره ، موږ څخه غلط شوه . دښمن ته موقع په لاس ورغله لاس راوغزید، راکتې یی راولیږه توپك یی راولیږه بم یی راولیږه او زموږ پښتون او افغان ورور دا فکر و نه کړ چی زه څوك وژنم او دابم دچا کورته اچوم ، دادتوپك ډز په چاکوم په مقابل کی استعمالیږم ، په دی راکټ باندی څوك وژنم، خپل زوی ، خپل ورور خپل خلك یی پری سره کړل . خپل پلر و نه یی ووژل ، دخپل وطن امنیت یی گډوډ او خراب کړ ، خپل مکتب او ښوونځی یی پروسیزه ، هغه مکتب چی په هغه کی یی علم وایه، تاسی وگوری ورونو چی زموږ دښمن زموږ سره څه کوی ، ؟ خدای تعالی وایی چه علم وکړی . پیغمبر دخدای (ج) وایی چی علم زده کړی . علم فرض دی پر هر نارینه او ښځه.

# سپین بو لدګ خلکوته

## ملګری سلیمان لایق وویل :

ګرانو ورونو، ډیرو محترمو درنو اشکزو، نورزو، اوتوخو هغه خلکو چی د لته په‌دی سیمه کی اوسیږی، زما لپاره ډیری خوشحالی ځای دی‌چی نن تاسی غیرتمنو خلکو ته‌را غلی یم‌چی هغوی دافغانستان دسپیڅلی خاوری، په ځنډه پراته دی، او ددی خاوری په ساتلو، د هغی دحیثیت، عزت آبرو اوناموس په خوندی کولو کی یی همیشه په‌زړورتیا برخه اخیستی ده.

ګرانو ورونو، زموږ اوستاسو نیکونو، اوددی ځای زړورو، قومونو، له‌وینوډک تاریخ په‌دی سیمه کی شاته پریښی دی.

البته ځینو ورونو اوزموږ ځینو عزیزانو ته‌به دخپلو پلرونو او غیرتمند ونیکونو تاریخ ورپه یادوی او که کوم ته ور په یاد نه‌وی نو هغوته به دا خبره عجیبه ښکاری

چې دا د ثور د بریالي انقلاب ښخه وروسته د دښمنانو له خوا جنا یتونه او دا جګړې چې دا اوس روانې دي څه رنګه پیدا شوې؟ حال دا چې زموږ د خلکو تاریخ، زموږ د میړنې ولس تاریخ، زموږ د درنو پر ګنو تاریخ او د دې باشرفه قومونو او قبایلو تاریخ، دانګریزانو، پرنګیانو سره په مقابله کې همیشه داسې ؤ چې په سل کاله یا پنځوس کاله کې یې یو ځل دوینو غسل کاوه.

د قومونو او قبایلو د وزارت وزیر سلیمان لایق په خپلو خبرو کې زیاته کړه:

ګرانو ورونو! د تاریخ په اوږدو کې انګریزانو، د شو پرنګیانو زموږ خلک، زموږ پر ګنې او زموږ پتمن ولس په کراره نه دی پریښی، یو واریې را باندې، دلا هو ر معاهده، بل واریې را باندې د ګندمک معاهده او بل واریې را باندې د یو رنګه معاهده راوتپله. زه له تاسې سپینږیرو او مشرانو ښخه، تاسې د سپین بولدک د درنو عزیزانو او باشرفه ولس ښخه پوښتنه کوم چې د یو رنګه خوک ؤ؟ تاسې ته خپلو مشرانو کیسې کړې دي چې د یو رنګه له کوم ځای ښخه را غلی ؤ، او زموږ او د هندوستان ترمنځ یې پوله او خط را ښکله.

ګرانو عزیزانو، زما خوږو ورونو!

زه به درته ووایم چې د یو رنګه خو یو انګریز ؤ. انګریزو چې زموږ ولسونه او خلک ئې سره بیل کړي او دلته یې را ته دغه خط را ښکله او س هم انګریزان غواړي امریکه غواړي د پاکستان پوځي واکداران غواړي، چې، پښتانه په خپلو کې وجنګوي او زموږ تاریخ ته دوینو غسل ورکړي خو سوږ جنګ طلب نه و، موږ د عالم اسلام ترمنځ د مسلمانو ورونو ترمینځ جنګ نه غواړو په موږ باندې د پاکستان خلک هم ګران دي پر موږ باندې د ایران خلک هم ګران دي پر موږ باندې ټول هغه خلک چې بشر دوسته دي ګران دي.

د پښتو متل دی وايي: ورورې به کوو خو حساب ترمنځ. موږ د چا کورته ورغلی یو؟ د چا دروازه مو را پشا کړې ده؟ د چا صندوق مو وهلی؟ د چا پلونه مو خراب کړي دي؟ زه له تاسې پښتنو ښخه پوښتنه کوم چې ورونو، وو ایاست موږ چا ته بد رسولي دي؟ تاسې

وگوری څه را باندی وشول هغه‌قوم ، هغه ولس او هغه خلک چی د خپل ځان په باب فکر نه کوی ، دخپل تاریخ په‌باب فکر نه کوی، هغه دخدای ښه‌نه‌ایسی.

دقومونو او قبایلو د چارو وزیر دسپین بولدک قومونو او خلکو ته دخپلی او ږدی وینا دیوی بلی برخی په‌ترڅ کی وویل:

داناا علام شوی جګړه ددین او مذهب جګړه نه‌ده ، ارتجاع پوهیږی چی په افغانستان کی غیرتی خلک په اسلام مین خلک دی ، راځه حکومت پـه کفـر ونیسه او خلک په غاړه کی وروا چوه او پـه دی ډول پښتانه تیر باسه او دغزا او د مسلمان ګڼلو او د غازیتوب پـه نامه یی رالیږی او ورته‌وایی چی‌لاړشه اڅکزی ووژنه ، نورزی ووژنه ، پلونه خـراب کړه مدرسی خرابی کړه ماشومان‌یتیمان کړه او که‌خدای کول مجاهد به‌شی . نوای ورونـو ، د مسلمان پر سرګ دوروړپه سرګ او د خپل قوم په وژلو کی ورونو ، غزا جهاد او مسلمانی شته؟ نه‌زه پوښتنه کوم چی ایادغه حضرت صاحب چی ورا نکـاری دلته رالیږی،ولی خپل یوورورپه‌دغه غزا کی نه دی رالیږلی، وایم چی پیغمبر دخدای (ج) به‌په هری غزا کی په خپله له‌ټولو څخه دمخه تللو زه دحضرت صاحب څخه پوښتنه کوم چه په‌دوولس‌ورونو کی کوم یودپښتنوسره‌غزاتدتللی‌دی‌نو ددښمن په‌خوله‌مه تیر وزی ,او د ولت حکومت په کفر مه نیسی د قومونو او قبایلو وزیر سلیمان لایق دخپلو خبرو په ترڅ کی وویل:

خدای له تاسی څخه پوښتنه کوی چی سترګی مودر کړی وی ، غوږونه مودر کړی وو ، عقل مـو در کـړی و، اڅکزیه ، نورزیه ، او ای د افغانستان خلکوله د غوږڅخه مو څه کار وا خیستـت ... ورونو په‌یوه مهمه معامله باندی غبر یرو هغه دا دچی مو ږ په انشاالله

تعالی ، په‌دی سیمه کښی‌داسی روغه راولوچی ستاسو په‌اسمان‌به‌الوتکه را نه شی، ستاسی پـه ځمکه به ټانګ را نی‌شی دچاکو رو نه به‌تالاشی نه‌شی او پدی سیمه کی‌به‌دتل لپاره داسی خبری ختمی شی مګر له تاسو څخه زموږ امید او هیله داده چی لکه داحمد شاه میر و یس زامن یاست لکه چی د احمـد شاه او میر و یس لښکر یاست لـکه چی ددی وطن اصلی خاوندان سیاست رښتیاچی هم یاست د خپلو ټولو یرو خاوندان اوسی او له هیوا د څخه په‌نره دفاع و کړی . (دغه و یناډیره او ږده‌او زیاته ده او دلته موږ ددغی و ینا چی په سپین بولدک کی غیرتمنو و رونوته شوي لنډي څو جملی راوا خستلی. )

## د ځادعلی دولسوالی خلکو ته

## ملګری سلیمان لایق په خپلو خبرو کی وویل :

«......تاسی ته په چاو یلی وی چی وزیر صاحب راغلی راځی چی خبری کوی، تاسی به هم چرت وهلی وی چی دابه څه وړ سړی وی ، څه به وایی، څه به کوی. عزیزانو موږ ستاسی په غمو نو ښه پوهیږو ، ستاسی غم زموږ غم دی ، ما تاسی ته وویل چی ستاسی غم زموږ غم دی ، خو کله کله د سړی لاس د ورور په وینو هم سره شی، دابه هم د خدای رضا وی ، خو موږ یی ازمایلو ، موږ په البته بدعملو نه کړی وی، او خدای به پری نیولی یو ، ما ډیر وغزیزانو ته چی کله کله به کلیو کی غریبیږو په سیمو کی غریبیږو ، زه ډیر ګرځم خو دلته نه یم راغلی ، قسمت به نه و ، دانه به سی نه وه خو ننګرهار ته او کونړ ته ،خوست ته، ګردیز ته ، سنګلو ته، دی خلکو ته ډیر ورغلی یم داوار زما قسمت و دلته راغلی یم، زه دا خلکو ته وایم چی ای خلکو موږ ځوانانو ، سرو نه تور وه ځلمیان و چرت به مو واهه چی خپلو کلو ته راغلو ، خبری به مو اوریدی، چی ښار ته به راغلو خبری به مو اوریدی، د څه خبری مو اوریدی ؟ نن مامور صاحب مالیه له فلانی څخه پنځه سوه روپی رشوت واخیست، مامور صاحب ګمرک

داو کړه، قوماندان صاحب دقتل په فقره کی شل زره روپۍ واخیستې و لسوال صاحب یو لك روپۍ واخیستې، غریب سړی به وه کورکی به یې دمو ږ ک لکی نه سپیره کید ه خوسبا به چیرته یوه سیمه کی په خلکو برابر شو، له هغی خوا به چی پیرته را تلونو کان به یې سره ؤ خوله به یې هم سره وه لکه دلیوه او بس. په کرارکرار دی خلکو به موږ ته ویل چی ظلم دی، غیر یې بی عدالتی ده رشوت خوړل او بډې اخیستل دی دا څه حال دی ؟

موږ به د احمد شاه بابا، دمیر ویس نیکه او د خپلو پلرونو دغیرت خبری په تاریخو کی هم و لوستلی، موږ به ولوستل چی میرویس نیکه ته خلك را غونډ شول و رته و یل چی په قندهار کی خود اګرګین ډیر سخت ظلم کوی او ډیر ظالم سړی دی نو هغه توره راو ویستله، خلك سپین ږیری او ځوانان یی په ځان راټول کړل او هغوی پسی و اخیستل، کسیه یی ډیره او ږده ده، موږ هم هلکان و، دافکر را سره پیدا شوچی را ځی یو توره خو و کړ و که نه نو رخه نه شو کولای را ځی دارشوت او بډ ی اخیستل خو و رك کړو موږ و یل دا حاکم خو ډیر بدسړی دی غاښونه یی تیره دی رشوت خو ری چی پل مو و رپسی و اخیست پل به دو الی صاحب په کورو رننوت، رشوت خو ر به هغه و و، دهغه پل مو و اخیست چی چا = را لیږلی دی. دو زیر صاحب په کو ر به و رننوت، رشوت خو ر په و زیر صاحب و، چی دو زیر پل به مو و اخیست په خپله دباچا کو رته به و رننوت. موږ د رشوت اصلی جرړ ی پیدا کړی، دظلم جرړی او منبع مو پید ا کړه.

سلګری لایق دو ینا په بله برخه کی و و یل :

موږ انقلاب و کړ، د کلو او و لسوالیو او و لایتونو ته چی و الیان، ولسوالان، علاقه داران راغلل داخو ك و و داخو له جرمنی څخه نه و را غلی، دانګلیس څخه نه ؤ را غلی بلکی ددی وطن ځوانان، سست هلکان زیات اتلس کلن او یا له هغه ښکته ؤ. هغوی هم ځنی خطاوی و کړی او تاسی هم و ر پسی راو اخیسته او و موو یل چی کفر دی و رته تینګیږ ه، حال دا چی کفر نه و، داداسلام لا روه چی موږ پری روان و و. موږ و یل و رونو ځمکی مو را پا تی

دی عز یز ان‌او تر برو نه مو دغلته په‌یو جر یب ځمکه پسی ړند یږی زمانه‌هیر یږی چی‌زمو ږ
ددو ستی یو سړی چی‌باز میر نو میږی ماته‌و یل لایق صاحب، چی‌یودری جر یب ځمکه می خپله
وی ، هغه‌و خت حکو مت زمو ږ په‌لاس کی‌نه‌و ،چی یو دری جر یبه ځمکه می‌و ر کړی وی ،
افسو س به‌سی‌و کړ او زمازړه به‌پری وسو ، او‌سابه و رته‌و یل انشاالله که‌و خت را غلی،
دادری جر یبه ځمکه به د رته پیدا کړ و.

په‌دو هم او په‌در یم کال به‌هم‌نه‌و منلی اخر به‌مو منلی‌وی مو نږ به‌تاسی ته‌و یلی‌وی چی
و رو ره ته په دغه لو ر رو پی مه‌اخله‌دغه غر یب افغانستان چه‌تاته ډیر غر یب ښکاری
نس‌ئی دسرو زرو ډ ک‌دی نس‌ئی ددپطر ولو ډ ک دی نس‌ئی دسپینو زرو ډ ک‌دی ، نن په
نس‌ددی خاوری کی هر څه شته را ځی چه‌هغی خو اته کلنگ و اخلو او راوی باسو داد
خو راولو ر غوښی مه‌خو ره تا به را سره منلی‌وی .

هغه خو ک دی هغه ستا سی و رو نه مو نږ خو داځمکه‌مو ورو ره نه په‌روسانو و یشلی‌نه
په‌بخاراپانو و و یشله نه‌مو په ایرانیانو و و یشله خو دادی له نو رزی څخه مو وا خیسته
نو رزی ته‌مو ور کړ ه له‌اڅکزی څخه مو اخیستله که‌تاسی‌وائی‌چی دا کار مو خلاف‌د شر عی
و.که سالکیت په‌اسلام کی محفوظ دی نو له‌تاسی سر ه خبری نه کو م زه له عالمانو او ملایا نو
سر ه حاضر یم‌چی قر ان‌او شر ع ته‌سره کښینو او د حضرت عمر صاحب و خت ته‌و روګرځو
چی هغه دا کار کړی او که‌نه‌ئی‌دی کړی؟ راغلو دی‌ته، تاسی داسی فکر و کړی چی هغی
کی‌هم زمو نږ سلګر و و رانی وکړ څر نگه و را نی و کړ را به غی‌یو سړی به‌په خپل کلی کی
سپین ږیری قام او و لس‌ئی و و هغه ته به‌ئی‌و و یل را شه‌ځمکه‌را کړ ه په‌دوی کی ډیر داسی
خلک‌و‌چی په‌ډیر خو شحالتیائی داځمکه و ر کو له په‌ډیر خو شحالتیائی و یل‌ئی دایو پتی
دی زمو نږ په‌شاستادی کو رو دانی‌وی چه‌لمائی اخلی ساخو دو سره غیر ت ونه کړ چی‌خپل
غریب تربره ته‌ئی و ر کړم ته‌ئی اخلی‌او و رکوی‌ئی کو رد آباد مگر ځمکه ئی‌هم ورکړ ه مو‌ږته

بەئی سړی هم را کړه یوه دعابەئی همو کړه مونږ بە بیار اغلوخه بە مو و کړل خلك بە راتول کړل دابزگر انچەو رتو کړی دی فیوډال دی سر دەبـاد فیو ډا ل مه پـر یږ دی او پە:ی پسیمو ډری شروع کړی قندهاریان ورتەډ ری وائی هغەبەسم سړی وه چی ماخه بد کړی څمکه دی رانەواخیستله ودی ویشله سړی همدر کړه د عاسی هم و کړ چەزه هم درسرەیم تخت او بختدی برقرار نوسپکوی سی ولی؟ خو پښتانه خو وائی سړ سی کړه خوسپکەوەسیمەډیر خلك دی چی پەډیر و شیانو نەخفه کیږیولی کەلاسدی و رواچاوه لنگوتی لە سره ولو ید وائی زه ئی سر تور کړی یم بس پە سړی بە ئی درسره پاکوی لەمونږ څخه داسوه هه وشوه ا شتباه مو و کړه او سهوی هم نەدی رانه شوی مونږ کی دغرض لاس یو دخیانت لاس پیدا شو پە هرشی کی چی دغبن او خیانت لاس پیداشی هغه پە سمه لارنه ځی پە مونږ کی یوسړی پیداشو یو پرانگه یو خاین یو آدم کش یو قاتل هغه تەبەئی حفیظالله امین وایه او داحفیظالله امین راولگیددوه دوه نیم لکه لشکرو، صاحب چی چابه سرور کاوه ویل بەئی توپ خانه مارش کړی بمبار مارش قندهار بمبار مارش منگل بمبار لښکری وجنگا وه مو ږ هم بیند یـــــــــــان شوسخالفت مو کاوه ځنی مړه شول حتی هغه سړی مړ کړچی ویلدا زماپلاردی تاسیبەاو ریدلوی‌چی تره کی زما پلاردی اوزه دده ډیر وفادار شاگردیم او پە دنیاکی کەکوم لوی سړی دی هغەدی ـ دی ده هغه مړ کړ.

موږ بەڅەگله ورځنی و کړ و دغیبیشرافته او بی شرمه دغسی خاین او جنایت کاره لشی مونږ بە لەهغەڅخه گلەوکړواوولسئی وجنگاوه دلښکرسره لښکرتەهغەلەدی خوازمونږ پکورکی چیداغم پیښشوموږسرەخویوبل غمهم شته زمونږدوطن څخه د باندی یو وطندی پاکستان ورتەوائی ۳۷ کاله وشوچی دیلەموره زیږیدلی دی یعنی تاسو

سپین ږیری هغه وخت چې هلکان وې هغه وخت پاکستان نه وو.

پاکستان چېرت وو اوس هغه چې پخوا یا ظاهرشاه یانورو پاچاهی کړې له خپلې چې چې کولی شو نږ سره ئې غرض نه کړاو دا هلکان والله که په هیڅ شی تر لی وی سبا به راشی چې موږ د احمدشاه بولو ته ځو خه به ورسره وایو نو غوږونه ئې وانګریز سره چې دده پلار یې زیږولی و هغه سره ئې نږدې کړل چې زه څه وکړم هغه وویل چې د مسلمانی توره ور پسې را او باسه زوی دې مړ شه دامان الله خان جبهه را په یاد کړه هغه مو پسې وانه خیست . او نا اعلان شوی جنګ پیل شو.

## دقندهاردښارخلکوته

### ملگری سلیمان لایق پخپله وینا کی وویل :

«گرانو ورونو ـ دقندهار دښار شریفو او سیدونکو !

تر هرڅه لوموړی له تاسی عزیزانو څخه غواړم چې خبر و ته غوږ ونیسی دوروٰ لیٰ خبری دادسینی اواخوت خبری دزړه په غوږ ونو وا وری اوسوچ پری وکړی راځی‌چی دچکچکو په‌ځای د لاسونو پړ کولو په ځای او د ژنده باد چغو وهلو په ځا ی یو څو تر خی خبری او یو څه حقیقتونه و اورو ـفکر پری وکړو او داد ورو وژ نی په‌جنگونو چې سونږ دیو بل دوژلو لپاره میدان ته راوستلی یو یو په هغو خبرو غږیږو درندو حاضرینو ! زه ډیر خوښ او خوشحاله یم چې دی مبارک ښارته راغلی یم هغه ښارته چې په هغه کی صوفیا ن ـخداپرستان وطن پرستان ـعالمان زړور پښتانه باپته افغانان اوسیدل او دافغانستان اوسنی وطن یی جوړ کړی او هغه یی افغانستان بللی‌دی داد افغانستان پایتخت و و دادننگونو او دجنگونو دا د میړونو داد پښتنو لیودا د اسلامیت او غیرت داد افغا نیت او پت او د انقلابونو ځانگو وه اوس چې سړی گوری چې ځینی ځا یونه رنگ شوی او دوروروژ نی په جگړو کی ځینی ځایونه خراب شویدی‌و رونو په‌تیاره کی دیو بل پسی چړی باسو یو بل ته‌بدوایو کله کله په‌تاریخ کی‌دغسی کیږی . خو هوښیار خلک‌څوک‌دی ؟ او هوښیاو ولسونه کوم دی ؟ هوښیار خلک هغه څوک دی چې په‌خپلو بدو باندی پیښیمانه

شی په خپلو بدو باندی پوه شی چی دا کار بدو کړو . هوښیار حکومتونه هم هغه دی چی په خپلو اشتباهاتو باندی پوه شی نو هغه تلافی کړی په هغه لار نه شی بلکی له هغی نه مخ واړوی .

دو رو رګلوی لاره دمحبت لاره . دمسلمانی لاره دپښتون ولی او قناعت لاره پیدا کوی . دقومونو او قبائلو دچارو و زیر دخپلی ویناپه یوه برخه کی زیاته کړه : موږ خو ویل چی د احمد شاه او میرویس او لاده دداخو زمونږ دپخوانیو دننګیالیو زامن دی دتوریالیو زامن دی داخو دښمن دی چی دوی یی خواره کړی د روزګار کړی دی مونږ په دوی ته روزګار پیدا کړو دوی به دغه وطن اباد کړی ځان به ا باد دکړی مونږ به اباد کړی کلی به اباد کړی لاری به جوړی کړی فابریکی به جوړی کړی دخدای په وچو ډاګونو چی دلته ډیری زیات دی او دلته سیندونه هم ډیر دی درحمت او به و بهوی بندونه به و تړوی نهر ونه به جوړ کړی . داقوم او لس به بیدار کړی او بیابه غښتلی او اباد افغانستان جوړ کړی زمونږ زړونو یعنی دحکومت په زړه کی خو داوه . چی ظلم به ورک کړ و وروروولی به راولو مګر څه پیښه شوه دښمن زمونږ نیک سرغی نه غوړی هغه دغه خوشحالی ابادی نشی زغملای . بیدار شی او دښمن و پیژنی!

سلګری سلیمان لایق دوینا په بله برخه کی زیاته کړه :

داد پیغمبر حدیث دی چی و ائی دهر چا سره دهغه دعقل په اندازه وغږیږه زمونږ قوام په امپر یالیزم دموکراتیک او سوسیالیزم نه پوهیدل او دښمن ورته په غوږ کی و ویل چه داخو کافران دی حکومت کافر دی هغه دی امپر یالیزم دکر کلمه یی و وېله حال دا چی عزیزانو داډیری ساده خبری دی ماپرون دی سپین ږیرو ته و یل چی امپر یالیزم لری سود خورته وایی یو کمکی سود خوروی چی په کلی کی په څه نفر و باندی پاسود پیسی لری او په دکاندارانو پسی دسود لری اول دوه زره دری زره او یاشپږ زره روپی په سود

ورکوی او چه کله حساب ته ورسره کښېني، صاحب هغه سړی غرق وي لوریي هم پکی وادهشی کور هم گروشي، دشپدو او شړو سو خوادهم لاړدشی او دا حساب نه خلاصیږی . بل لوی سود خواره دی هغه ملکونه له خپل سودلاندی را ولی دآزاد هیوادونو کانونه معدنونه شتمنی او ثروت لوټ کړی لوی سود خور امریکاده کله چی مونږ امپر یالیزم وایو نو مطلب مو دغه سودخوری ددنیا دریو برخو روپی د امریکا په جیب کی دی سود خور خو همدغه شی دی خدای "(ج) او دخدای (پیغمبر و یلی دی چی سود خور دخدای دښمن دی رحمان باباو ایی :

دینداری او مالداری د ه سره لری مالدار سړی دین دار لیدلی نه دی امریکا یعنی دامریکا

امپریالیزم د ټولــي نـړی دښمن دی او هـغه اوس زمونږ پښـتانه او

افغانان په خپل کورکی جنگوی ورونو دموکراتیک په معنی سو پوره کړم دموکراتیک یعنی عدل عادلانه ماناوری دایو نانی کلمه ده او ټولی دنیامنلی ده ددښمن په خوله کو تکونه مه را اخلی او خپل حکومت په کفر مه نیسی داجنگ دینی جنگ ندی سخکی مي درته و ویل چی لوی سودخور په غوسه شو یدی لوی سودخور خپلی گټی دلاسه ورکړی دی په افغانستان کــی مونږ په کرارونه پریږدی تاماته تکیه را نکړه ساده شوی او ددښمن په او ازپسی ولاړی ،دشاه له خوا دی په خنجرو وهلم ، سړکونه ورانوی ـ پلونه و رانون ، ملاهم وژنی ،جو ماتونه سیزی' هغه ملاچی دلته په جماعت کی وو ژل شو ستاسی شک را ځی چی هغه کافر ونه ورونو د خدای جنگ نه خو ښیږی او هغه وائی چی دخپلو ورونو ترمنځ سوله وکړی مونږ سوله کوو مونږ چی خپل ورو رسینی ته را نږدی کړ و هلته دښمن ناست دی هغه البته مولوی غلام نبی حضرت صاحب ،او نورکښینولی دی او خلك بی لاری کوی .

ملګري لايق زياته کړه :

ورونږ امريکايان ، انګريزان او د پاکستان پوځي واکداران چغې وهي چې افغا-
نستان نيول شوی هغوی دروغ وائي زمونږ وطن نيول شوی نه دی مونږ باغيرته ملت
يو مونږ باشرفه ملت يو د هغوی په خوله نه څوک راولو او نه څوک باسو چې زمونږ په
وطن کې ارامي راشي او خلک دوست او دښمن وپېژني نو خارجي قوتونه ، دو رو ر او دوست
هېواد پرېږديان به ځي او هغه به تم نه کړو هغوی په خپله هم خپلو سيمو ته ځي هغوی ته به
ووايو چې په ډېره ورځ مو لاس را کړی او که خدای وس را کړو نو مونږ باغيرته ملت يو
مونږ باشرفه ملت يو دا پوره به دره کې کړو دا دوروري او دتينګې دوستي حق به ادا کړو .

## به‌مردم شهر شبرغان:

رفیق سلیمان لایق در بیانیه خود در شهر شبرغان گفتند:

موسفیدان شرافتمند و مسلمان شجاع و غیرتمند ولایت جوزجان، حضرات معلمین، رفقای کارگران، برادران، و خواهران برای ما کمال افتخار است که امروز باشما مردم عذاب دیده، و بلا کشیده و رنجزده در این شهر یکه برای نخستین بار صدای اعتراض کارگران علیه نظام های سرنگون شده سلطنتی بالاشده ملاقات میکنیم. کمال افتخار داریم که امروز در شهر شما، در شهر کارگران تیل در شهر کارگران تفحصات گیس و در شهر دهقانهای که همیشه در زمین خدا تخم نیکی می کارند حاصل می بردارند و از دست رنجشان همهٔ ما و شمانان می خوریم، امروز در شهر آنها باشما برادران، فرزندان این سرزمین یك جا هستیم و با هم صحبت می کنیم و در مورد مسایل عمده و مهم مربوط انقلاب و سرنوشت مردم افغانستان تصمیم میگیریم.

مردم شریف جوزجان در سال ۱۳۴۷ نخستین بار کارگران که‌ما انها را طبقهٔ جوان کارگر میگوییم، معنی اش این که گویا عنعنات و رواج ها و رسم کارگری در کشور ما

خیلی جد ید و جـو ان است. آنها به خـاطـر حمایت از جنـبش کـا رگـری سا ل ۵۷ یك مارش ظفر نمون براه انداختند ما مارش کنندگان شبرغان را در نزدیك گو تل رو با تك ولایت سمنگا ن پذیر ائی کر دیم . به این خاطر این شهر با وصف اینکه شهر غربت زد ه است شهری است که همیشه حکمر ان و حا کمان گذشته براو تسلط داشتند و شیرهٔ جان مردم را می خو ردند، و لی باز هم او لین شهر بو د که بر ضد استبداد صدای کارگران بالا شد او از جنبش سال ۵۷ تا پیر و زی انقلاب خاموش نه شد، ما او ازی را که درسا ل ۱۳۵۷ از کارگرا ن شبر غان شنیده بو دیم که میگفتند زند ه باد طبقهٔ جوان کا رگر ! سر نگون باد ستمگر ان ! فر امو ش نه کر ده ایم .

رفیق سلیمان (لایق) در این شهر به مر دم شر یف جو زجا ن بیانیه انقلا بی را ایرا د نمود که در هر بخش آن مر دم انقلابی جو زجان احساسات خـو د را ا بر از می کر دند . رفیق سلیمان لا یق در این بیانیه به مر دم شر یف جو زجان دربارهٔ حزب دمو کر اتیک خلق افغانستان دربارهٔ تاریخچهٔ حزب ، دربارهٔ ثروت ملی کشو ر ، در بارهٔ انقـلا ب ثو ر ، در بارهٔ کار های ضد انقلاب و ضد اسلام اشر ار ، در بارهٔ امین خاین و در بارهٔ دست آو رد های انقلا ب ثو ر بیانیه طو یلی را ایر اد کر د که با احسا سات گر م مر دم و انقلابی جو زجا ن بدر قه شد .

رفیق سلیمان لایق د ر بخش بیانیه خو د افز و د : ما ملت باغیر ت هستیم حا لا رو ز به رو ز هو شیا رشده می رو یم خداو ند به ما یك از مایش آو ر د ما اگر غافل شدیم از هر بلا بلای بز رگتری وجو د دار د . اگر ما متحد شو یم ، ما وطن خو د را دفاع کنیم ما ملت باشر ف و باغیر ت هستیم ، ملتی که به ما د ست داده یعنی اتحا د شوروی قطعا ت محدو د آ نها به سر زمین های خو د

با زمیگردند، هر روز مادر اعلامیه های خود اعلام میکنیم و هم چنین لیو نید برژنف رهبر حزبی و دولتی اتحادشوروی اعـلام میکنند که اگر امنیت و صلح در افغانستان تامین و تضمین شود و از خارج دست نه زنند مانیرو ها را عقب میکشیم . ما سخن خود را کوتاه میکنیم گردن حکومت را که من نماینده آن هستم گردن حزب دموکراتیک خلق افغانستان و گردن رفیق ببرک کارمل را که این نهضت زیر نام او انکشاف کرده ، این گردن ها را از از بار ملامت خلاص می کنیم و با شما اهالی روی به روی در زیر این درخت ها ، که خدا او از ما را می شنود و جزئیات ما آگاه است مابرای تان میگیویم که ما مسلمان هستیم ، دولت ما ضد اسلام نیست این دشمن است که ما را به کفر گرفته است ما به ایمان امریکائی ایمان نداریم ما به دین ایمان داریم که پیغمبر خدا (ج) به ما آموخت، قران به ما آموخت ، سنت به ما آموخت ، شما سر بلند باشید، باشرف باشید فتح به طرف شما ست .

## به مردم هزاره

به‌مردم هزاره رفیق سلیمان لایق به‌۷ اسد ۱۳۶۱ در یک میتینگ گفتند:

«... طوریکه رهبر ما، رهبری حزبی و دولتی ما رفیق ارجمند و گرامی ببرک کارمل که‌می‌فرمایند ما هیچ چیزی را از مردم نمی‌خواهیم بپوشانیم، و هیچ وقت سیاست پوشیده ازمردم، سیاست شرافتمندانه و کامیاب نیست، همه چیز را باید با مردم درمیان گذاشت، و همه‌چیز را بامردم مشوره کرد، و مطابق به‌مصلحت، معتقدات، عنعنات‌دیانت، رسوم‌ورواج مردم به پیش رفت، بنابران‌صحبت‌امروزی مابه‌شمابرادران‌سر بلندوشرافتمندهزاره، که‌نسل به‌نسل از آزادی‌وشرف‌این کشوردرپهلوی‌اقوام‌وملیت های برادردیگرازبسوه، بسوه‌وبلست‌بلست‌ازاین خاک دفاع کردید، این صحبت ماباشماصحبت‌سروازاست‌وما کوشش‌خواهیم کرد که‌به‌شماحقایق را تشریح کنیم ....»

رفیق لایق دربخشی ازبیانیهٔ خود گفت: «برادران شریف هزاره حرفها زیاد است. دوسه حرف میخواهم وظیفتاً برای گردن خلاصی درباره حوادث بدی که در این کشور

گذشت و هنوز سی‌گذ رد بحضور شمابرادران محترم و رفقای ارجمند و وطنداران باعزت عرض بکنم. ما وقتیکه حزب خود را سی‌ساختیم، ماچند رفیق جمع‌شدیم، مانیت خوب داشتیم، فکر میکردیم که نظام های سلطنتی، برادری مابین مردم افغانستان و ملیت های افغانستان‌رارعایت نمی کنندمافکر میکردیم که‌این دربار به‌سود یك‌عده لا شخور ها که‌به‌خون وجان مردم چسپیده اند حکومت خود را استحکام می دهد. مافکر میکردیم که یك بخش وطنداران مارا به ذلت، سرنگونی و زبونی سی‌کشانند. وماعلناً سی‌دیدیم که‌یك ملیت‌رابه گردن سلیت‌دیگر یك قوم را به گردن قوم دیگری سی‌انداختند و به اصطلاح مشهورانگلیس که تفرقه‌بی‌انداز و حکومت کن، اینطورکارها را پیش میبرد ماجوان بودیم یکجا شدیم الهام‌ازجهان‌وازمبارزه جهان سی‌گرفتیم.ازمبارزین درایران،ازمبارزین درقارهٔ هندوستان‌وغیره که عدهٔ شان دولت‌راچطوراز بین‌بردند ما گرد همه جمع شدیم سوگندیاد کردیم که مادرین راه‌تاسرنگونی‌نظام، پیش‌سی‌رویم.سیاست‌ماخوب بود.انقلا ب‌آوردیم...امین یکی‌از آفت‌های بود، از بلاهای بود داد سی بد بختی‌بود، که درآغاز همینطور خونریزی‌و برادرکش کلان به‌حیث محرك ازاین‌واقعات‌قرارگرفت.دشمنان‌افغانستان‌آمدند و درینجااشك تمساح‌ریختندگفتند برادران دین شمادرخطراست، مابسیارکمك‌کرده نمی‌توانیم‌ولی یك بیست هزارتفنگ داده سی‌توانیم! دیگر کمك کرده نمی توانیم ولی چند دانه راکت ضد تانگ‌داده سی توانیم! آیا این هاواقعاً ازخاطر اسلام آمده اند؟ فکر بکنید در پهلوی شمایك همسایه شماایران است. درآنجایك مبارزمذ هبی امام خمینی به وجود آمد. نام جمهوری خودرا هم‌گفتند که این جمهوری اسلامی است. وتمام شیوخ هم ازتکیه خانه ها و مدارس کشید وزمام دولت را بدست آنهاداد. مگر این امریکا آیا به اوچه کرد؟ قبول کرد همان دولت اسلامی را؟ آنها نام خود راجمهوری دموکراتیك نه مانده؟ امام خونام جمهوری خودرا جمهوری اسلامی ایران گذاشت، چونرآ این کشور اسلامی ایران راقدم به قدم اذیت سی کنند و تمام بلاها

و شیاطین جهان را به جان آنها انداخته اند . چندی پیش تاچر به کمپ های نزدیک سرحدات افغانستان آمده بودند و می گفت و اشك می ریخت تاسف می کنم کشور اسلامی دین خود را از دست داد و یك عده کفار به آن مسلط شد . تعجب می کنیم مگر پدران شما علیه آن‌ها در بامیان در پنودره، در غوربند و دیگر جای ها نه جنگیدند ؟ مگر در غزنی به آنهـــا نه جنگیدند همین مردم جاغوری و مالستان به پشت خود نان های قاق کرده راتابه اهالی قلات و زابل نه کشیدند و راه این لشکر های انگلیس را با دیگر برادران قبایل پشتون یك جا نه گرفتند ؟ مگر عهد بستند که ما نمی خواهیم تا که اینها از این کشور نه برآیند ماهیت دشمن را بشناسید ،دشمن می خواست که ملیت هزاره رابنا بر شیعه بودن او تکفیر کنند و همیشه قبایل پشتون را علیه آنها تحریك کنند ،قبایل پشتون برادر قبایل هزاره هستند و تاریخ نشان خواهد داد که همینطور است ، چك‌چك ...»

## دري جرگې او د شوراگانو د هیواد آسیایي جمهوریتونه

د ا.د.ج د قومونو او قبایلو د وزارت لخوا تر اوسه پورې شوروي اتحاد ته د قومونو او قبایلو د سپین ږیرو، مشرانو، مخورو او بزگرانو دری جرگې استول شوي دي.

### لمړۍ جرگه:

د ۱۳۶۰ کال د اسد د میاشتې په شلمه نیټه یوه درنده قومي او قبایلي جرگه چې د هغې شمیر کابو (۵۸) تنو ته رسیده او د بیلابیلو ولایتونو څخه جوړه شوې وه د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د قومونو او قبایلو د چارو د وزارت له خوا د شوروي اتحاد د ازبکستان سوسیالیستي جمهوریت ته واستول شوه. دغه جرگه د تاشکند د ښار ازبکستان په ۱۸ - پوړیز هوټل کې ځای په ځای شوه او بیا له دغه ځای څخه د دوی مشاهدات او کتنې پیل شوې. دوی د ازبکستان په سوسیالیستي جمهوریت کې د خطاطانو د انستیتوت چې د امیر شیر علي نوایي په نامه یادیږي، د کارگرانو د صنفي اتحادیې مرکزي شورا، لینیزم کلخوزونه، ملي ننداړتون، د قزاقستان مذهبي مدرسه او د دغه ځای جامع جوماتونه، د سمرقند ولایت او د هغه ولایت د چیني جوړولو فابریکه او نورې فرهنگي

موسسي دالغ بيك ،رصدخانه ، دنما نسگانو ولايت داند يجان ولايت او ددغو ولايتونونو مربوط کلخوزونه ـتوليدي موسسي فرهنگي مرکزونه او نورو ليدل او د دغه ځاى داوسيدونکو سره له نژدي آشنا او بلد شول . او له ٥ ورځو سفر څخه وروسته يى لــه ځانه سره ښکلي خاطري راوړي .

## دوهمه جرگه :

د ١٣٦١ کال دحمل په ٢٨ نيټه ددوست شوروي اتحاد په دوستانه بلنه يوه بلهقومي اوقبايلي درنده جرگه چي دننگرهار ولايت دشينوارو ـاپريديو ـمومندو ،صافيو اتمانخيلو او نورو قومونو ددينی پلو او ـروحانيونو مشرانو او مخورو او دانقلاب دمدافيعينو څخه جوړه شوى وه دشوروي اتحاد ازبکستان دسوسيا لستي جمهوريت په لوررووانه شوه دوي دتا شکند د ښار بيلا بيل ځايونه لکه موزيم .د منځني آسياو قزاقستان داسلامي شونو اداره او دغه داسلا مي شوئونو داداري ته څيرمه دجامع مسجد او په هغه کي دلمونځ اداکول ،دولتي ستره کتابخانه دلاسي صنا يعو نندارتون ، مغازي ،دولتي صنا يعو نندارتون دکرني او صنعت ملي نندارتون کلخوزونه ـداز بکستان دکمسومولا نو مرکزي کميته ـدولتي پوهنتون ـدما شين جوړولو ستره فابريکه او ځيني نور ځايونه وليدل چي په دغو کتنو او مشا هداتو کي افغاني ميلمنو ته دروند هرکلي ويل شوى اوزياته ميلمه پالنه يي شويده .دغه جرگه دسمرقند د ښار بيلا بيــل ځايونه لکه توليدي موسسي ،فرهنگي او عملي مرکزونه ، کلخوزونه کانالونه ،ستيډيمو نه او دنورو ځايونو نندارهکړي او په همدي ډول داندي جان دښار دنساجي فابريکي او نور ځايو نه اولاپسي بيا دفرغاني ښارته تللي او هلته يي همدهغه ځاى دخلکو دراندهاستقبال سره مخامخ او دهغه ځاى دبزگرانو دميلمه پالني څخه ډيره **خوشحاله** راغلي او په زړه پوري خاطري له ځان سره راوړي دي .

دوی داز بکستان دخلکو مذهبی آزادی ئی له نږدی نه و لیدله دهغوی ترقی او پرمختګ او دهغوی دژوند دسطی لوړوالی په سترګو ولید .

## د ریمه جرګه

د ۱۳۶۱ کال دثور په شلمه نیټه دپکتیاولایت دبیلا بیلو قومونو اوقبائلو هغه ستره جرګه چی دقومونو اوقبایلو دوزارت لخوا دتا جکستان سوسیالیستی جمهوریت ته ولاړه په هغه کی کابو (۵۰) تنه شامل وو. دغه جرګه دد وشنبی دښار په هغه‌د ولتی هوټل کی‌ځای په‌ځای شوه‌چی‌هغه‌دتاجکستان‌دسوسیالیستی دجمهوریت دمشهور او انقلابی شاعرصدرالد ین عینی په واټ کی پروت دی .دغی جرګی چی دپکتیا ولایت بزګران دانقلاب دمدافیعنو دملی استازی قومی مشران اوسپین ږیری اومخور پکی شامل وو' دنړی ددوهمی عمومی جګړی دقربانیو دشیهدانو دهغه څلی له کتنی څخه وروسته‌چی په جګه‌غونډۍ پروت او دهمیشنی روڼ مشال رڼا پری خپره وه‌بیاځینی نور مشا هدات‌او کتنی پیل کړی چی ویلای شو دغه ځایونه دغی جرګی ولیدلی .دتا جکستان دسوسیالیستی جمهوریت داقتصا دی ودی ملی نندارتون دمشهور شاعرمیرزاتورسون زاده موزیم چه دهغه په کو رکی جوړه شوی و(صدرا لدین عینی مشهور شاعرموزیم‌چی‌په کورکی جوړو اوبیا دهغـــه دمـقـبری کـتـل ددوستی انجمن یعنی دشوروی ـ افغانستان ددوستی ټولنه‌دتاجکستا ن دسوسیالیستی جمهوریت دعلوموا کاډمی ـ مرکزی موزیـم دصنفی اتحادیو کلتوری مانی ددوشنبی دښار مرکزی کتا بخانه چی د فردوسی په نامه یادیږی 'دسلکی زده کړوښوونځی دلاهوتی تیاتر او د ډرام کتنه ـ سرکس کتنه دستن ګنډلو یوه سترموسسه دیعقوب چرخی جامع جومات ،دبدنی روزنی آموزش ښوونځی دلامبووهلو اوا کروبا تیک لوبو مرکزونه دفوټبال لوبه،داحصار ولسوالی دکلخوز ـ ونو اوسل خوزونو اودملد اری دفارم کتنه ـ ښوونی اوروزنی وزارت مربوط ښوونځی ،پوهنتون دنارك دبندد بریښنا اوتوربینوولیدنه دره ورزات اومغازی دکرنی‌اومالداری اودتأمیناتوموسسه دښارمغازی اونورځایونه چی البته دا ټول

ځایونه دګټوورځا یونهؤ په هره موسسه او هرځای کی افغانی جرګی ته دملیمه پالولخوا درو ند هر کلی و یل شو یدی او دافغا نی جرګی زیات قدرشوی – دپکتیاً و لایت دغی جرګی په‌ستر ګو دتاجکستان دخلکو ژوند له نژدی و لید ـ د هغوی دژ و ند سطحه یی او ددغه جمهوریت ترقی او دا کتو بر انقلاب ښیګنی له نږدی څخه مشاهده کړی هلته یی مذهبی آزادی و کتله او دخلکودفرهنګ او هنرسره پوره بلدشو. دوی ډیری ښکلی خاطری له ځانه سره راوړی او په افغانستان کی داشرارو او دنورو انقلاب ضدعناصرو بی ځایه پر و پاګندی و رته پوره معلوم شوچی څومره درو اغ له ځانه جوړوی او ددښمنانو په خو له خبره کوی .

## دملگری ببرک کارمل او خان عبدالولیخان خبری

د پښتنو مبارزه او ستر مشـــرخان عبدا لولی خان او دده میر من نسیم ولی چی د نشنل دموکراتیک گوند یوه مشره ده ، د (۱۳۶۱) کال د حمل په څلورمه نیټه دپښتنو دستر مشر خان عبدا لغفار خا ن سره د کتنی لپاره چی په کابل کی په روغتون کی تر تداوی لاندی و، کابل ته را غلل .

خان عبدا لولیخان په کابل کی ۲۳ شپی تیری کړی اود حمل په ۲۹ نیټه د جلال آباد د لـــــوری پیښور ته لاړ خـــان عبدالـولـی خان د خپلی استو گنی په دغه موده کی دا . خ .د . گ دمر کـــز ی کمیټی عمومی منشی اود انقـلا بی شورا رئیسس ملگری ببرک کار مل سره وکتل ، موږ گرانو لوستونکو ته هغه خبری چی د ملگری ببــرک کارمل اود خان عبدا لولی خان د کتنی په وخت شوی وړاندی کوو. او ورپسی د هغی مرکی متن چی په پیښور کی د بی بی سی داستاز ی سره د خان عبدا لولی خان له خوا نرسره شوی چاپوو .

**دا.خ.د.ګ د مرکزي کميټې عمومي منشي او دا.د.ج د انقلابي شورا رئيس ملګري ببرک کارمل د حمل په ۲۷ د پښتنو له مبارز او ستر مشر خان عبدالولي خان سره د انقلابي شورا په مقر کې په يوه پوره دوستانه فضا کې خبرې وکړې .**

ملګري ببرک کارمل پدې کتنه کې په داسې حال کې چې دا.خ.د.ګ د مرکزي کميټې دسياسي بيرو غړي ملګري ډاکتر نجيب او د ا.د.ج قومونو او قبايلو چارو وزير سليمان لايق هم حاضر و ديو لړ څرګندونو په ترڅ کې وويل: دا.د.ج. پلار وطنه ملي جبهه د ملي آزادۍ دموکراسۍ ټولنيز ترقي ملي حاکميت د ځمکې د تماميت او د هيواد د نوي ژوند د جوړولو دفاع په خاطر د ملي پراخه پيوستون په لاره کې د افغانستان د خلکو د اوږدې او مقدسې مبارزې د تاريخ وارث او د ا.د.ج. د ټولو دموکراتيکو او انقلابي طبقو او قشرونو د سياسي ټولنيز سازمان په توګه ده چې د کورنۍ توري ارتجاع او د نړيوال امپرياليزم د لاس وهنې پر ضد د سختې جګړې په جريان کې د ثور انقلاب د غوښتنو او ګټو د دفاع په خاطر جوړه شوې ده.

ملګري ببرک کارمل زياته کړه:

پلار وطنه ملي جبهه زموږ د هيواد د آزادۍ دوستو او ترقي غوښتونکو خلکو د يوالي ـ څرګندوي ده چې دا.د.ج د اصولو په پيروي يې په نه بې لارې کېدونکې توګه ټول ملي او دموکراتيک ځواکونه او د افغانستان ټول مليتونه قومونه او قبايل او د ټول ډول مذهبونو پيروان چې د هيواد د ترقي او پرمختګ لپاره مبارزه کوي په ځان پاندې راټول کړي دي د غه جبهه

بی له‌شکه دافغانستان دخلکود ډله یز ه ځواک دسیاسی اوټولنیزي ودي ا و دغه را ز د ملیتو نو قو مو نو او قبایلو تر منځ دملي یو والی د ټینګښت سره چې د پخوانی سلطنتي و راستـه نظام دبی اتفاقی اچو لو له امله یو له بل څخه لري پاتی شوي و وسره مرسته وکړی ملګري ببرک کارمل ز یاته کړه:

څر نګه چې زمو نږ انقلاب یو ملي او د دمو کر اتیک انقلاب دی زمو نږ حکو مت هم یو ملي او دمو کر اتیک حکو مت دي دثو رملي او د مو کر اتیک انقلاب دافغانستان دفیو ډالا نو ـ کمپراد و ر انو فاسد و بیر و کر اتانو او سو د خو ر و له ظا لیمانه تسلط څخه آ زاد کړ .

زمونږ هیو اد یو داسی د مو کر اتیک هیو اد دي چې دهغه دو دي لاره خلک ټاکی.

دثو ر انقلاب ددي زمینه بر ابر ه کړه چې زمو نږ هیو اد دمادي او فرهنګی نوي جو ړ ونه پیل کیږي انقلاب دخلکو ګټی ساتي ځکه او به چې زمو نږ دخلکودعاید اساسی منبع ده دبز ګر و په تو لید و و نکو پر ګنو پو ري اړه پیدا کړ یده.

دثو ر انقلاب ملی حاکمیت دافغانستان دو احد او نه تجزیه کیدو نکی هیو اد دټو لو ملیتو نو قو مو نو ا و قبایلو لپار ه اعلام کړ او د ټو لو اتباعو لپاره یی دټولنیز حاکمیت، ملیت، جنس، مذ هب .او نورو له په پام کی نیولوپر ته دحقو قو برابری تا مین کړ ه دهیواد دمسلمانانو د پار ه ددینی مر اسمو پو ره آزادی تضمین شو ه دو لت در و حانیو نو او د ینی عالمانو ملاتړ په غاړه و اخیست او د لو مړي ځل لپاره یی دهیو اد په تاریخ کی له نارینه و وسره د ښځو حقوق بر ابري اعلام کړ ه .

زمو نږ انقلاب له دي سره سره چې دامپر یا لیز م دسیمی ار تجاع او کو رنیو استثمار ګر و ځواکو نو له سختی دښمنی سر ه مخامخ شو یدي او نا اعلا م شوي وسله واله جګړ ه یی پرې تحمیل کړ ه دافغانستان ز یار ایستو نکو دا.خ.د.ګ دمشري په میړانه او بی ساری ثبات سر ه دهغه دفاع و کړ ه او د هغه سنګر و نه یی د پو لاد په څیر کلک کړ ل

سلگري ببرک کارمل دقومونو او قبایلو په ارتباط دافغانستان ددموکراتیک جمهوري حکومت سیاست بیان کړوي و یل: دپښتنو قومونو او قبایلو په باب دافغانستان دموکراتیک جمهوریت دحکومت سیاست په هیواد کې دملي مسالي په حل باندې ولاړ دي چې د هغه اساسي بنسټ دهیواد دوړونو . ملیتونو ترمینځ برابري و روري او مساوات دي.

انقلاب افغاني دودونو او د اسلام دمقدس دین داصولو په پام کې لرلو سره پښتنو قومونو او قبایلو ته دغه هدفونه طرح کوي.

دپښتنو قبایلو په مربوطو سیمو کې تنګښت او دسولې او آرامی ساتنه .

دقبایلي جرګو د کار فعالول

دقبایلو دهر وګړي دحیثیت ناموس ـژوند او شتمنی دفاع

ـقبایلو ته دژوند دشرایط ښه والي او دکار تامین .

دزده کړي په برخه کې او د تولنیزي او فرهنګي و دي دمسالو په برخه کې له کوچیانو سره هر اړخیزي مرستی ملګري ببرک کارمل دغه راز دهیواد دبهرني سیاست په باره کې زیاته کړه :دافغانستان بهرني سیاست دنړۍ له هیوادونو او ملیتونو سره ددوستي او متقابلې همکاری پر اصل ولاړدی د.ا.د.ج دسوله ایزګډ ژوند داصل له مخې پر له پسې هڅه کوي

چې دنړۍ له ټولو هیوادونو سره خپلې اړیکي دحقوقو د برابري دمتقابل احترام دیو بل په کورنیو چارو کې دنه لاس و هنې دخلکو دټولنیز او اقتصادي نظام په ټاکنه کې دهغوي حق ته ددرناوي په رعایه سره پراخه کړي .

افغانستان په بین المللي اړیکو کې له قوي څخه کارا خستیل محکوموي دسولې او خبرو له لیاري دمتنازع الفیه مسالو دحل پلوي دي. افغانستان دنړۍ له سوله دوستو او مترقي هیوادونو په تیره بیا دافغانستان له عنعنوي دوست دشوروي سوسیالیستي جمهوریتونو له اتحاد سره پیوستون ته زیات ارزښت ورکوي افغانستان دناپیلتوب دغورځنګ دیو وفادار غړي

په توګه دبین المللی سیاست په ډګرکښی ددغه غور ځنګ رول اودرنښت‌ته زیات اهمیت‌و رکوي‌او د هغه داسپر یالیستی ضداو استعماري ضد خصلت په ساتنه کی هلی ځلی کوي.
افغانستان تل په ټوله نړي کی دملی آزادي بخښونکو غورځنګونو پوره ملا تړ کړی او داستعمارنژ ادي‌تو پیر او پر دي واکمنی دټولو بڼو تر تسسلط‌لاندی خلکو په تیره بیادفلسطین له ورو نواوا تلو خلکوسره د هغوي په عاد لانه او بر حقو مبارزوکی غوخ ملاتړ کړي او کوي یی.

افغانستان د یو ودي په حال کښی‌هیواد په توګه له ټولو زیات سولی ته اړتیالري او د سولی دار مانونودتر سره کولو په لاره کی یی دافغانستان دشاوخو احالاتو داختلافونو دحل لپاره ګټو راو عملی ګامونه پورته کړیدی
ملګري ببرک کارمل وویل:

دا.د.ج دسی دم ۱ او د اګست دم ۲ ، ۱ علامیه‌دسیمی دسولی‌په ساتنه کی دا.د.ج. له صمیمیت‌نه ډه کی هیلی څرګند وي ده او له دپلوماتیکی سولیزي لاري څخه دافغانستان دشاوخو اقضیو دحل لپاره دافغانستان نرمی‌پکی څرګند ه‌ده.
افغانستان ددوستو هیواد وله هلو ځلو څخه دافغانستان او د هغه دګاونډ یانو پاکستان او ایران ترمینځ داختلافونو په حل کی هرکلی کړی‌اود غه‌راز د ملګر وملتودسرمنشی له ښو هلو ځلو څخه چی داوسنی څوکی له نیولو څخه مخکی یی دوه ځل افغانستان‌ته‌سفر وکړ نوزمونږ په سیاست او اصولی دریځ باندي پوره پوه دي قدردانی‌کوي او دملګرو ملتودسرمنشی داستازي په واسطه ددغو هلو ځلو دوام ته چی پدی وروستیو وختوکی‌یی افغانستان ته‌سفر کړي او یو ځل بیایی په سیمه کښی‌دسولی غوښتنی او له خپلوګاونډیو پاکستان او ایران سره دسوله ییزګډ ژوند په باب دافغانستان ددولت او حکومت کړ نلاري له‌ا مله ډاډ ترلاسه کړي دي زیات اهمیت ورکوي .

دا.د.ج. هیله من دي دملګرو ملتو دسر منشي نیکی هلی ځلی اوافغانستان ته دده داستازي د ښه نیت سفردد ائمی او ټینګی سولی په ټینګښت اودسیمی د هیوادو اود نړي دسولی په ګټه د کړ کیچ په لري کولو کی دمثبتی نتیجی سبب شی.

و ړیسی د پښتنو مشر خان عبدالولی خان دا.د.ج سیاست چی دملګري ببرک کارمل لخوا څرګند شو تائید کړ'وي و یل: مادا .د.ج. په سیاست با ندي چی ستاسی دافغانستان دخلکو دمشر له خوا بیان شو ډاډ پیدا کړ او باوري وکړ چی دافغانستان ملي او د دموکراتیک انقلاب له پیاوړی مشر او دسلیم عقل څخه برخو رداره دي.

ده وویل: دا.د.ج ۱۹۸۱ کال داګست د ۲۴ نیتی اعلامیه چی دافغانستان په باب دحالاتو حل او فصل ته متوجه ده د اختلافونو دحل لپاره دخبرو په میزباندې دافغانستان پاکستان او د ایران داسلامی جمهوریت د راتلو لیدو لپاره ډیر مساعد بنسټونه پیدا کړ یدي عبدالولی خان و ویل: امپر یالیستانو دافغانستان دانقلاب په باره کی حقایق بل ډول ښودلی او د هغه په باره کی له حقیقت نه لري او له دښمنی ډکی پرو پاګندي خپر وي.

خان عبدالولی خان و ویل دافغانستان او پاکستان ترمینځ دشخړ ی په دوام کی ددو اړو هیواد و خلک چی دتاریخی او دوررو رولی دخپل مینځی اړ یکو پلویا ن دي زیان وینی ده وویل زه ده یو پښتون په توګه نشم کولی چی د پښتنو ترمینځ دد وي دخاوزي په دننه کی دورورو ژنی دجګړي له اسله چی دامپر یالیزم او د سیمی دمر تجعینو له خوا ورته لمن وهل کیږي اندیښنه څرګنده نکړ م. دثورانقلاب دافغانستان دخلکو د نیکمر غه کولو هدف تعقیبوی دغه انقلاب د لوی غوښتنی هوسونه نلري او په رښتیا سره دنړي له ټولو هیوادو او په تیره بیا دافغانستان له ګاونډ یانو سره مقابلو ښو اړیکو غوښتونکی دي .

خان عبدالولیخان وویل پښتانه حق او وظیفه لري چی دخپلی خپلواکی آزادی او دخاوري دتما میت دفاع وکړي.

عبدالولي خان زیاته کړه: افغانستان یو داسې هیواد دی چې ډېر ملیتونه لري او د هغه د خلکو تاریخ په اوږدو کښې سره ګډ ژوند کړی دی. او باید هغوی ته له توپیر او ترجیح ورکولو نه پرته ژوند تامین شي.

خان ولیخان څرګنده کړه: باید زموږ سیمه د تفاهم سولې او همکارۍ سیمه وي. د سیمې د هیوادونو ترمینځ ستونزې کولی شو د سولې له لارې یو ځل بیا له لارې چې ډېره انساني، ډېره اسانه او په ډېره لنډه لاره حل کړو. زه د افغانستان له دموکراتیک جمهوریت څخه له ټولو هیلو سره ستنیږم هیله کوم سیاسي حالات د افغانستان د خلکو او پاکستان ترمینځ د همکارۍ او د دوستۍ د ټینګښت په ګټه حل شي او امپریالیستي ځواکونه چې د ا.د.ج. او د ګاونډیو هیوادو ترمینځ د اړیکو له خرابیدو څخه ګټه اخلي او د کړکیچ نوې جګړې د سختو الې پلوي دي رسوا او ناکام شي.

خان عبدالولي خان ملګري ببرک کارمل ته د خطاب په پای کې وویل

له تاسو جناب ببرک کارمل څخه چې یو ستر او پوه شخصیت یاست ستاسو د سوله ییزو انساني او عالیمانه نظریاتو د څرګندولو په خاطر او د هغې مننې په خاطر چې له ما سره مو وکړه مننه کوم او ډاډ درکوم چې د امکان تر حده پورې د تفاهم د مینځته راوړلو او زموږ د هیواد او افغانستان ترمینځ د اړیکو د ښه والي په لاره کښې هڅه وکړم.

عبدالولي خان څرګنده کړه چې په پای کې د خان لخوا او د خپلې مېرمن نسیمه ولي له خوا د باچا خان د روغتیا او پت په خاطر او د هغې صمیمانه او رورولۍ د میلمه پالنې په خاطر چې زما د استوګنې په وخت کې ما ته حکومت خلکو او په خپله تاسو جناب ببرک کارمل ته ژوره مننه وړاندې کړم.

## دبی‌بی‌سی له‌استازی سره‌دخان عبدالولیخان‌سرکه

دپښتنو مبارز (مشر خان عبدالولی خان په هغه‌سرکه کښې‌چې دثور په ۱۵ یی‌د(بی‌بی‌سی) له خبر یال سره په‌پاکستان کښې وکړه ځرگنده کړه :

دافغانستان دديموکراتيک جمهوريت مشران په ډير مينه سره دافغانستان‌د شاوخوا حالاتو دسیاسی حل غوښتون کی‌دی.لکه‌چی دغه‌هیلو دا.د.ج‌د ۱۹۸۱ کال داگست دمیاشتی په پیشنهاد و نوکی انعکاس مو ندلی دی چی دری سهمی برخی‌لری .

لو سړی ـدو اړه خو اوی دی دخبر و پرمیز موضوع گانی حل کړی او موافقی‌ته‌دی ورسیږی دو هم دافغانستان په‌چاروکی دبهرنی‌مد اخلی د نه‌کو لو لپاره لازم‌تضمینونه. دریم ددغه موضوع گانو په‌حل سره به‌خپل هیوادته‌دشوروی اتحاد محدود وقطعاتو د ستنیدو لپاره زمینه برابره شی.

ولی‌خان وویل: دجنرال ضیأ حکومت یوقانونی حکومت‌ندی او له‌دی‌ا مله‌ددغه‌رژیم له‌خوا ددغه یاهغه هیواد په‌رسمیت پیژندلو مسئله‌اصلاح اوسطرح کید ای نشی.خان‌عبدالولی خان دپولی په‌خواکی دافغانی فراریانو په‌باب د یوی پوښتنی په ځواب ځرگنده کړه :

په‌پاکستان کښې ټاکلی سیاسی ځواکونه دفغانستان دانقلاب ضد عناصر ومشران او دغه

ر ازد پاکستان عسکر خپل هیوادته دا فغانانو دتنگ خلو گر زی . یو ازی دافغانستان دانقلاب ضد

مشر ان دافغانی فر ار یانو کمپو نو ته دو ر تگ او تبلیغ اجازه لری په داسی حال کی چی د پاکستان سیمیز و گو ند و نو ته له افغا نی فرا ر یانو سره د تماس هیڅ ډو ل حق نه و ر کو ل کیږی. و لیخان پاکستان په کو رنیو چار و کی دافغا نستان دانقلا ب ضد کسا نو دلا س و هنو او د پاکستا ن دبهر نی سیاست دلو ری دتها کلو په باب څر گنده کړه چی دافغانستان انقلا ب ضد کسا ن د پاکستان په کو رنیو چار و کی په پر اخه تو گه لاس و هی د مثا ل په تو گه دپاکستان د و لت په داسی حال کی چی پو هنتو نو نو ته دسیمه ییز و گو ند و نو د و ر تگ په کلکه مخه نیسی خو د افغانستان دانقلا ب ضد کسانو ته یی داحق و ر کړ یدی چی په پو هنتو نو نو کی و یناوی و کړی او په لمسو نه لاس پوری کړی . و لیخا ن څر گنده کړه باید افغانی فرار یا نو ته په هیڅ ډو ل اجازه و رنکړی شی چی د پاکستان په سیا ست کی لا س و و هی.

خان عبدالو لیخان دافغانستان له انقلا ب ضد کسانو سره دامپر یا لیز م په تیره بیا دامر یکا امپر یالیز م دمر ستی او ملاتړ په باب و و یل: مو ږ چی په پو له کی ژ و ند کو و په ډاگه و ینو چی څو ک دافغانستان له انقلاب ضد کسانو سر ه مر سته کوی او هغوی ته پیسی او و سله و ر کوی لکه چی دمصر و ژ ل شوی رئیس پر دغه کار اعتر اف کړی ؤ و لیخان دسیمی د یر و خطر نا کو حالاتو داشاری په تړ ځ کی څر گنده کړه چی د پاکستان دا.د.ج.پر خلاف دلمسو ن له پاره دخپلی خاو ری په و ر کو لو سره دغه خطر ته لمن و هی که پاکستان له خبر و ا تر و څخه ډډه کوی او خپله خاو ره دتیری په یوی اډی باندی بدلوی د ډیر سخت عکس ا لعمل سر ه به مخامخ شی سو چ و کړی دغه مساله به دپاکستان لپاره څه عو اقب و لری .

و لیخان دپاکستان دداخلی مسالو په باب دخبر و په تړ څ کی و و یل دادجنر ال ضیا ء پوځی دیکتار تو ری ده چی دخپلو تبو لو ژ منو پر خلاف عمل کوی .

جنر ال ضیاً و اک ته له رسیدو نه و ر و سته ژ منه کړی وه چی په (۹۰) و رځو کی

به انتخاباتو کړی چی تر او سه لا هم ندی شوی دملنه و ړ داده چی جنر ال ضیا د خپل د غه عمل ملامتی د پاکستا ن دسیاسی گو ند و نو پر غاړه اچوی .

و لیخان و و یل د پاکستان خلك له خپلو ا کی نه (۳۰) کاله و روسته حتی له هغه لو مړ نیو حقو قو نه بی بر خی دی چی له خپلو ا کی څخه مخکی یی لرل . سیاسی گو ندو نه منعهٔ دی هغه حکو مت چی له پنځو کلو نو و ا کمنی و روسته دحالاتو دبی ثباتی په بلمه دانتخاباتو له کو لو نه او ړه خالی کوی ایادقدرت پر څو کی دپاته کیدو حق لری؟

خان عبدالولی خان :

## دافغانستان دخواوشا مساله دامریکا امپریالیزم، عربو دارتجاع او دچین او پاکستان په مرسته رامنځته شوې

کابل: دپښتنو مبارزمشرا او دپاکستان ، دنشنل عوامی پارتی یو رهبر خان عبدالولی خان دپاکستان دمسلم ورځپاڼی سره دیوی مرکی په ترڅ په دی وختوکی دافغانستان په هکله وویل :

مادمخه دپاکستان دحکومت سره دمتقابل تفاهم اه لاری مخامخ دوه اړخیزه خبری طرحه کړوی خودغه پیشنهاد دپاکستان دحکومت اخواو نه منل شو، په داسی حال کی چی دمیز شاته کښیناستل ددواړوخوا تر منځ کولای شی چی دافغانستان دخواو شا دمسالی دسیاسی حل لپاره مرسته وکړی. ولی خان زیاته کړه ،لکه څرنگه چه پاکستان نه غواړی د هغه په کورنیو چاروکی لاس ووهل شی، دافغانستان کورنی موضوع هم باید هغوی ته پریښودل شي ځکه چی ټول هیوادونه د ملی حاکمیت لرونکی او حق لری چی کورنی موضوعگانی په خپله حل کړی .

همدار نگه لەسر حد ښځه دهغه خواښخه رارسیدلی(رپوټونه وایيچەولی خان دافغانستان دخواوشاسسالی پەهکلەو ویل: چیدغەمساله دامر یکاداسپر یالیزم عربی ارتجاع او چین او پاکستان پەمرسته را منځ ته شوی ده .

ولی خان زیاته کړه چيپیشنهادونه، بیخیمعقول دی او دافغانستان مشران ،دافغانستان دخواشا دمسالی پەحل کی صادق دی. ولی خان د پاکستان خلکوته خبردا ری ورکړ کەچیري دپاکستان حکومت ،دافغانستان دخوا وشادمسالی مربوطی قضایا دمستقیمو خبرو لەلاری حل نەکړی ، او دپاکستان پەخلکو باندی دخپلو شخصي او پوځی گټولەخاطره تحمیل کړیشی ، ښەبەپەلاسو رنەشی.پاکستانځونورتیرو جگړ و ښځەتجر بەلری .

دپاکستان دولت باید ،دافغانستانلەمشرانوسره دمخامخ خبرو له حل لاری ولتهوی ځکه چید پاکستان خلك نه غواړيچی دافغانسنان دخلکو سره دښمنان شی .

ولی خان زیاته کړه په داسی حال کی چی دپاکتسان نظامی رژیم پنځه کالەدمخه قدرت دیوی پوځی کودتاپه ترڅ کی ترلاسه کړ خرنگه ځان ته حقور کوی چــی دافغانستان د دولت د پیژن گلو ی ښځه ډ ډه وکړی . دپاکستان پوځی رژیم لومړی دانتخاباتو لپاره نوی ورځی ژمنه وکړه او دادی پنځه کاله تیرشول خوتر اوسه انتخابات ونه شول .

په رپوټ کی زیاته شوی ده چی ولی خان دا شرارو په هکله وا یی هغوی حق لری چی دپاکستان په کورنی سیاست کی مداخله وکړی ،کە هغوی واقعاًمهاجر دی ،ولــی دپاکستان نورو ایالاتوته نه تقسیم کیږی،بلکیدهغوی تول فشار په پیښورا و بلوچستان کیدی .

ولی خان زیاته کړه: په کابل کی زمااستوگنی په وخت کی ولیدل چی خلك پــه خوښی او خوشحالی سره دښی راتلونکی په امیدژوندکوی ،او دلویدیځی نړی تبلیغات

بیخی پەدغه باره بی بنیاده دی 'ږیرښه مثال یی د ځمکی لکه لاری‌زما دتنگ او راتگه تامین دی.

ولی خان د می په لومړی ورځ چی د نړی د کارگرانو بین المللی ورځ ده وویل، دپاکستان له آزادی څخه دمخه او ورسته زموږ دهیواد کارگران دژوند دابتدای وسایلو څخه هم محروم دی ،اودغه توله ولږه اوبدبختی دطبقاتی مسلط اومنفور نظام له امله چی په بیلو بیلو بڼو راڅرگندیږی ده.

## دپښتنو سترمشرخان عبدالغفارخان پېښورته لاړ

لهخان عبدالغفارخان سره د ا .د .ج.قومونو او قبايلو وزير دننگرهار ديولسمي فرقې قوماندان دننگرهار دولايتي كميټې منشي دننگرهار والي او دننگرهار پهولايت كې دگوند او دولت يوگڼ شمير مامورين، اجمل خټك او په افغانستان كې او سيدونكي سرحدي پښتانه دسخه ښې لپاره تورخم تهتللي وو. خبرياتوي چې دتورخم دمزې پهدواړو خواو وكې پهزرگونو پښتنو او خان عبدالولي خان برسيره دنيشنل دموكراتيك پارټي د پاكستان نيشنل پارټي او دنشنل پروگرسيو پارټي مشران قبايلي مشران تولنيز سياسي شخصيتونه د كلتوركاركوونكي ژورنا ليستان او پر پښتنو برسيره دپاكستان نورو ملتونو په سلگونو استازي دبزگرانو كارگرانو، مشران او محصلان دپاچاخان هركلي تهورغلي وو.

پهتورخم كې دپاچاخان موټر د زرگونو هركلي كوونكو پهڅپو كې دخلكو داحترام دمننې په خاطر تم شو. پدې وخت كې دقومونو او قبايلو وزير براولرر پښتنو او ټولو هركلي كوونكو پهوړاندې وينا وكړه او پښتنو قبايلو ته دا .خ.د.گ او دولت له خوا بشپړ ملاتړ او همدردي ډاډ گيرنه وركړه .دتورخم په غونډه كې اجمل خټك هم خبرې وكړې .

خبرياتوي چې دغونډې په پاى كې د دواړو خواو و پښتنو پهگډه دغه شعا رورکاوه:
ژوندى دى وى دا فغانستان انقلاب .
تل دى وى دپښتنو ورورگلوى . ژوندى دى وى پاچا خان ، پياوړى دى وى انقلابي افغانستان

## دپښتنو سترمشر خان عبدالغفار خان کابل ته راغی

کابل :

د پښتنو ستر او مبارز مشر خان عبدالغفار خان د ۱۳۶۱ کال د سرطان په ۱۳ نیټه په داسی حال کی چی دقومونو او قبایلو دچارو وزیر سلیمان لایق ورسره ملګرتیا کوله، له جلال اباد څخه په الوتکه کی کابل ته راورسید.

د کابل په نړیوال هوایی ډګر کی ، دافغانستان دخلك دموکراتیک ګوند دمرکزی کمیټی دسیاسی بیرو غړی او د مخابراتو وزیر اسلم وطنجار، دګوند دمرکزی کمیټی منشی نیاز محمد مومند، دمرکزی بانک رئیس داکتر محراب الدین پکتیاوال دقومونو او قبایلو دوزارت معینانو او رئیسانو او په کابل کی یوشمیر اوسیدونکو قبایلی مشرانو خان عبدالغفارخان ته هرکلی ووایه

# ماخذونه او توضیحات

۱)غلام محمد غبار: افغانستان در مسیر تاریخ د کابل چاپ ۳۱۷مخ .

۲)پورتنی اثر ۳۱۸ مخ.

۳)قاضی عطاالله : دپښتو تاریخ لومړی جلد ۵۵مخ او افغانستان در مسیر تاریخ ۳۱۹ مخ.

۴) دانعامی مځکو ډیر ښه مثالونه دسوات په یوسفزو کی وه . دسوات مځکی له قدیم څخه دویش تر سیستم لاندی وی چی په تاکلو کلونو کی به تر دورانی ویش لاندی راتلی او په پچه به د هرچا برخه تاکل کیده.

په هندی گورگانیانو کی جلال الدین اکبر دخپل تسلط په وخت کی له دغو عامه او مشترکی مځکی څخه یوشمیر خانانو ته دانعام په نامه جاگیرونه ورکول.

دغسی جاگیرونه تر اوسه هم دانعامی مځکو په نامه یادیږی او مالکین یی انعام خواره بلل کیږی .دغه انعام خواره سره له دی چی ملاکان دی خو په قبیلوی سطح کی په درونډنظر نه کتل کیږی. په دی موضوع کی دزیاتو معلوماتو له پاره وگوری

(خیل او و یش) دابراهیم عطائی لیکنه په ۱۳٦۰ کال کی دافغانستان دعلو مو اکادیمی له‌خوا دکابل چاپ.

٥)دفیوډالی دربا رونوخصوصیت دهغه په هیر ارشی یعنی سلسلهٔ مراتب کی‌وی ـ په‌خا صه توګه کله‌چی په‌دربارکی دملاکی له‌قد رت څخه علاوه طا یفوی اغیزی هم موجودی وی نودغه هیرارشی ډیره‌څرګند یږی دتیمو رشاه په دربارکی ددرباری فیوډالانو تر اقتصادی قدرت طایفوی قدرت ډیر زیات ؤ نوځکه هیرارشی یی‌لومړی پرطایفوی اصل‌وه‌اوبیایی‌اقتصا دی قدر ت په نظرکی نیول کیدی. تیمورشاه‌غوښتل چی‌په‌دربار کی طایفوی قدرت داقتصادی قدرت تابع کړی خوځرنګه‌چی طا یفوی قدرت لاپه‌زور کی ؤ نوپه وس بی‌پوره نشوه. دده زوی شاه‌زمان دپلار پلا ن عملی کاوه او هغه مهال‌چی یی‌په‌دغه‌لارکی سردارپاینده‌خان اعدام کړ نوعکس العمل یی‌ډیرشدیدؤ په‌دغو دربارونوکی دطایفی په‌اعتبارخانان را تولیدل خوددوی ترمنځ به‌هغه خا ن وړا ندی ؤچی دطایفی له‌اعتبار سره دجاګیر داری اعتبار هم‌ولری .د تیمورشاه ددربارفیوډالی هیرارشی بیاهم طایفوی خصوصیت وساتی.

٦)دپښتنو تاریخ لومړی جلد دپښور چاپ ۱۴۰ مخ.

۷)پورتنی اثر ۱۴۸ مخ.

۸) اډوارډ الایسیس پیرس : عروج بارکزایی ترجمه دری ازطرف انجمن تاریخ چاپ کابل در۱۳۳۳ صفحهٔ ۹.

۹) دپښتنو تاریخ لومړی جلد۱۷۷ مخ .

۱۰) ظفر کاکاخیل:پښتانه دتاریخ په‌رنا کی‌دپیښور چاپ ۹۴۲مخ.

۱۱)عروج بارکزایی ۱۲۰ مخ.

۱۲)افغانستان درقرن ۱۹ـ د(س-ق-ر) لیکنه دکابل چاپ د۲۴مخ. پایلیک .

۱۳)اریانا مجله پرله‌پسی ګڼه ۲۱۸مخ ٥٦ .

۱۴) داحمدشاه بابادیوان غوره‌چاپ : دکتاب مقدمه دابراهیم عطائی لیکنه د پښتوڅېړنو دبین‌المللی مرکز له خوا د کابل چاپ ۶مخ.
۱۵) اریانا مجله پرله‌پسی گڼه ۲۷۶-مخ ۹۴د کابل چاپ.
۱۶) پورتنی اثر پورتنی مخ.
۱۷) عبدالحی حبیبی : تاریخ مختصر افغانستان جلددوم چاپ کابل۱۱۷-۱۱۸مخونه
۱۸) افغانشناسی دشوروی اتحاد دعلوسو اکاډیمی له‌خوا د مسکو چاپ ۵۰مخ.
۱۹) اریانا مجله پرله‌پسی گڼه ۲۶۹مخ۳۶۰.
۲۰) پورتنی اثر ۳۹ مخ.
(2) An account of the King-dom of Cabul Vol.1. P 387
۲۲) اریانا مجله پرله پسی گڼه ۲۷۱ مخ ۲۳.
۲۳) آریانا مجله پرله پسی گڼه ۲۶۹ مخ ۳۰
۲۴) اریانامجله پرله‌پسی گڼه ۲۷۰ مخ ۵۳
۲۵) دافغانستان دبین‌المللی روابطو تاریخ پښتو ترجمه دکابل چاپ لومړی جلد۱ ۲مخ
۲۶) پورتنی اثر ۲۲مخ.
۲۷) پورتنی اثر ۲۶ مخ
۲۸) پورتنی اثر ۲۷مخ
۲۹) نفت‌الله خالفین: انگلیستان بر ضد افغانستان چاپ مسکو صفحهٔ ۲۳ .
۳۰) پورتنی اثر ۳۵مخ.
۳۱) پورتنی‌اثر ۳۶مخ.
۳۲) پورتنی‌اثر ۳۷مخ.
۳۳) پورتنی‌اثر ۳۸مخ.
۳۴) پورتنی‌اثر ۳۸مخ.
۳۵) دافغانستان دبین‌المللی روابطو تاریخ لومړی جلد۳۶ مخ.

٣٦) انگلیستان بر ضد افغانستان صفحهٔ ٢٠ .

٣٧) پورتنی اثر ٧٦مخ.

٣٨) پورتنی اثر ١٠مخ.

٣٩) ابراهیم عطائی: دپښتونستان مسئله دحق خوداردیت په رڼا کی دکابل چاپ
١٢۴مخ.

۴٠) مسئله پښتونستان نویسنده (م-ف) چاپ کابل صفحهٔ ١۴

۴١) پورتنی اثر ١٩مخ.

۴٢) دافغانستان دبین‌المللی روابطو تاریخ لوسړی جلد ٦١ مخ.

۴٣) انگلستان‌بر ضدافغانستان ٩۴مخ.

۴۴) پورتنی‌اثر ٩٦مخ.

۴٥) افغانستان درمسیر تاریخ صفحه ٦١٥

۴٦) افغانستان‌درقرن ١٩ صفحه ٢٢

47) H Hensman: The Afghan war 1879-8. London P

۴٨) دپښتنو تاریخ ٣جلد ۴١٩

۴٨) پورتنی اثر ٣جلد ۴١٠ .

٥٠) پورتنی‌اثر ٣جلد ۴١٧ .

٥١) پورتنی اثر ٣جلد ۴٢٣ .

٥٢) دپښتنو تاریخ دریم‌جلد ۴۴٣مخ.

٥٣) پورتنی اثر .

54) the Afghan war 1879 -80 P24

٥٥) پورتنی‌اثر ۴٠مخ.

٥٦) پورتنی‌اثر ١٠۴مخ.

٥٧) دپښتنو تاریخ دریم‌جلد ۴٦٠مخ.

58) the Afghan war 1879-80 .P77

۵۹)پورتنی اثر ۱۳۱مخ.

۶۰)دپښتنو تاریخ ۳جلد۶۷۴مخ

61) the Afghan war 1879-80.P.195

۶۲)پورتنی اثر ۱۷۱مخ.

۶۳)دپښتنو تاریخ دریم جلد. ۱۴مخ.

۶۴) محمود : تاریخ روابط سیاسی ایران وانگلیس درقرن ۱۹ چاپ تهران صفحهٔ ۱۱۵۸

۶۵) پورتنی اثر دریم جلد ۱۱۸۱ مخ

۶۶)انگلیستان په خپلو اسنادو کی دمیوند ماتی دد غه رقابت څخه بولی خو حقیقت داسی نه دی بلکی افغانانو له انگلیس څخه دجگړی پر ډگر بری یوو ړ

۶۷)میس کاریز دمیوند دجگړی دډگر ۱۲ کیلو متری دجنوب خواته واقع دې و یخچال اوس دنهرسراج په نامه یادیږی .

۶۸)بندتیمور دمیوند جنوب ته پر ۱۶ کیلو متری دارغنداب دسیند جنوبی خوا ته واقع دی .

۶۹)سزره دکندهار دښار دشمال ۱۲ کیلو متری ته دارغنداب دسیند پر غاړه واقع یو کلی دی .

۷۰)دالیکنه د the second Afghan war، official Accaunt دهغی دری ترجمی څخه لیکل شویده چی قلمی نسخه یی محترم جلالی زما په دسترس کی ایښی وه

۷۱) مسئله پښتونستان نویسنده(م-ف) صفحه ۲۲ .

۷۲)پورتنی اثر ۲۲مخ.

۷۳)پورتنی اثر ۲۵مخ.

۷۵)تاریخ روابط سیاسی افغانستان از زمان امیر عبدالرحمن تااستقلال‌مترجم‌پوهاند زهما چاپ کابل صفحه ۱۴ .

۷۶)پورتنی‌اثر ۱۴مخ.

۷۷)پورتنی اثر ۲۴مخ.

۷۸)پورتنی اثر ۸۲مخ.

79) Fletcher: Afghanistan high way of longueat p 147

۸۰)دافغانستان په‌باره کی رښتیا ۳۲)مخ.

۸۱)روابط‌بین‌المللی افغانستان تالیف پوهاند دوکتور غلام سخی مصئون طبع کابل صفحه ۲۵ .

۸۲)افغانستان درمسیر تاریخ صفحهٔ۷۳۷ .

۸۳)پورتنی اثر ۷۳۵مخ.

۸۴)دافغانستان په‌باره کی رښتیا۳۳مخ.

۸۵)افغانستان درمسیر تاریخ ۷۱۸-۷۱۹ .

۸۶)تاریخ روابط سیاسی افغانستان از زمان امیر عبدالرحمن تااستقلال صفحه ۱۴۵.

۸۷)انگلیستان برضد افغانستان ۱۹۲مخ.

۸۸)پورتنی اثر ۱۹۵مخ.

۸۹)پورتنی اثر ۱۹۶ مخ.

۹۰)پوهاند حبیبی دافغانستان تاریخی پیښلیک دکابل چاپ ۲۳۱

۹۱)د افغانستان په‌باره کی رښتیا۳۲مخ.

۹۲)پورتنی اثر ۳۸ مخ.

۹۳)افغانستان درمسیر تاریخ ۸۱۶ .

۹۴)دافغانستان په باره کی رښتیا ۴۲.

۹۵)دحقیقت انقلاب ثور دجریدی د ۲۴۲۲ گنی ضمیمی تاریخ نوین افغانستان ۳مخ.

۹۶)پورتنی اثر پورتنیمخ.

۹۷)جریده آزاد افغانستان طبع پیښور .

۹۸)دافغانستان په باره کی رښتیا ۴۴-۴۵مخ نه.

۹۹)پورتنی اثر ۴۷مخ.

۱۰۰)افغانستان درمسیر تاریخ ۳۸۹مخ.

۱۰۱)پورینی اثر ۴۵۸مخ.

۱۰۲ برتانیکاانسیکلو پیډیا دیرلسم جلد.

۱۰۳)دفلیچر افغانستان انگلیسی ۲۲۴مخ.

PROPERTY OF ACKU 6383



د ا-د-ج-د توکمونو او قبایلو د چارو وزیر ملګري سلیمان لایق د جوزا په ۳ نېټه په سپین بولدک کې اڅکزو او د دغه
ځای نورو قومونو جرګې ته وینا کوي.



د ا.د.ج. د قومونو او قبایلو د چارو وزیر سلیمان لایق د جوزجان ولایت د شبرغان د ښار ښځو خلکو ته د وینا په حال کې.



د ا.د.ج. د قومونو او قبایلو د چارو وزیر ملګری سلیمان لایق هغه وخت چې د سمنګان ولایت د دره صوف د ولسوالي ته رسیږي
خلکو ته وینا کوي. او بیا یې وروسته د وزلوبې ننداره وکړه.





د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د قومونو او قبایلو د چارو وزیر ملګری سلیمان لایق د استقلال لیسې په تالار کې د پنجشیر ښاریو خلکو ته د وینا په حال کې.



دافغانستان د دموکراتیک جمهوریت د قومونو او قبایلو د چارو وزیر ملګری سلیمان لایق هغه وخت چې د کوچانو یوې پنځه سوه کسیزې جرګې ته د قومونو او قبایلو د چارو په وزارت کې د اسد په ۱۸ نېټه وینا کوی.



د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت د قومونو او قبایلو د چارو د وزارت معین ملګری مفتاح الدین صافی د لوېځ
زون د بېلا بېلو قومونو یوې درنې جرګې ته په جلال آباد کې وینا کوي .



په عکس کې د ننګرهار ولایت د شینوارو، اپریدیو، مومندو، صافیو، اتمانخیلو او د نورو قومونو د هغې جرګې
غړي لیدل کیږي چې د ۱۳۶۱ کال د حمل په ۲۸ نېټه د شوروي اتحاد د ازبکستان سوسیالیستي جمهوریت ته تللي وو.



په عکس کې د پکتیا ولایت د قومونو او قبایلو هغه ۴۰ کسیزه جرګه وینئ چې د ۱۳۶۱ کال د ثور په شلمه نیټه د شوروي اتحاد د
تاجکستان سوسیالیستي جمهوریت ته تللې وه.



د پښتنو مبارز او ستر مشر خان عبدالولي خان چې د ۱۳۶۱ کال د حمل په ۴ نېټه د تورخم له لارې افغانستان
راغی او په جلال آباد کې د دغه ښار شریفو خلکو له خوا ورته تود هرکلی ووییل شو.



ملګري ببرک کارمل دخان عبدالولي خان سره دکتنې په وخت کې.



په عکس کې د پښتنو ستر مشر خان عبدالغفار خان د کابل په هوائي ډګر کې هغه وخت ليدل کيږي
چې د قومونو او قبايلو د چارو وزير سليمان لايق په ملګرتيا له جلال آباد څخه کابل ته راغی.



د وطن ښځلي ځري سترګي تېښتي نه شوي
چې «شهيد» يې د وفا په وينو رنګ شو
د وطن د هور پېوني ته بد ګوري
د دښمنانو ته غيرت مې په غوږ ځنګ شو

شهيده! ستا د سرې سينې د پاسه
چې په کوم بيرغ دې خپله وينه توي کړه
سپين کفن په وينو سور د ربانډې خپور دی
هغه سور بيرغ خو ستا په قبر سور دی



د وطن او د ثور انقلاب د دښمنانو په خولو غولېدلي خلک ډلې، ډلې هېواد ته راځي او د ثور بریالي انقلاب او خپل وطن په دفاع کې
ودرېږي. په عکس کې هغه کډوال وینئ چې له پاکستان څخه خپل آزاد هېواد ته را روان دي .